وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآية)

۲

# زاد الخطباء

بیانات


مولانا اطیع اللہ صاحب

استاد الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن)، چمن


ترتیب وتخریج


مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب

فاضل دار العلوم کراچی

سابق استاد جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن





مکتبۃ الہاشمیہ

0310-4594038

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیہ)

# زاد الخطباء

## (بیانات)


مولوي اطيع الله صاحب
استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن


جلد : (۲)


ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ كليم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن



مکتبه سلطانيه الهاشميه
کانسی روڈ کوئٹہ

## د طباعت او کتابت حقوق محفوظ دي:

- د کتاب نوم:.........................زاد الخطباء
- تقارير:.........................مولانا اطيع الله صاحب
- ترتيب وتخريج:.........................حافظ کليم الله صاحب
- نظر ثاني:.........................مولوی عبدالشکور صاحب
- کمپوز:.........................عبدالوهاب "متعلّم"
- معاون:.........................طالب العلم موسى کليم
- تعداد:.........................۱۱۰۰
- ضخامت:.........................٦٢٠
- سنه طباعت:.........................۱۴۳۸هـ
- ناشر:.........................مکتبه سلطانيه الهاشميه

---

د ملاوېدو ځايونه:

۱. مکتبه محمديه:.................. اباسين روډ چمن
۲. اسلامي کتب خانه:.............. تاج مير خان روډ چمن
۳. مکتبه غفاريه:.................. ارګ بازار قندهار
۴. شکيوال کتب خانه:..................سپين بولدک
۵. جامع مسجد حاجي عبدالودود:..................چمن

# تقريظ

استاد المفسرين و المحدثين محدث العصر، نمونه اسلاف، جامع المعقول
والمنقول، شيخ الحديث حضرت مولانا **نظر محـــــمد** صاحب افغاني
دامت بركاتهم العاليه

لله الحمد رب السموات والارض رب العالمين.

والصلوة والسلام على قائد الغر المحجلين محمد و على آله و صحبه دعاة الحق وهداة الدين.

اما بعد: قد طالعت نبذًا يسيرًا من زاد الخطباء لاخينا في الله المولوي اطيع الله فكما قيل ان الثمرة تنبئ عن الشجرة والانموذج يخبر عن البيدر وجدته قد لخص فيه من مهمات الدعوة وضوابط الابلاغ مع ان قضية الدعوة لها اهمية كبيرة في نفسها فجزاه الله تعالى خيرًا و جعل مُصنفه نافع للخطباء وسائر من اراد. (آمـــين)

وانا عبد الفقير الى الله خادم الاحاديث النبوية.

# تقريظ

استاد المفسرين والمحدثين فقيه العصر قدوة العلماء شيخ الحديث حضرت مولانا

**عبد السلام** صاحب دامت بركاتهم العاليه

باني جامعه دار العلوم رحمانيه چمن

الحمد لله الواحد الرحمن، والصلوة والسلام على سيد الانام، وعلى اصحابه الذين قلعوا اثار الاصنام، وعلى التابعين الذين اجتهدوا في القرآن، لاسيما على امام الهمام الذى اوسع طريقة الاسلام، سيدنا الامام ابو حنيفة النعمان.

وبعد حمدا وثناء خداى پاک لره وايم چي په هر وقت او په هره زمانه كي يې حقاني علماء او حق پرسته خادمان د اسلام پيدا كړي دي لكه: جناب محترم خادم الاسلام حق بين و حق شناس حضرت مولانا الحاج جامع العلوم كا الشمس بين النجوم مولوي اطيع الله صاحب چي زاد الخطباء يې دپاره د اصلاح د عقائدو د مسلمانانو په خلاصه او مختصرو عباراتو تصنيف كړى دئ او دلائل حقه د قرآن حكيم او احاديث نبويه ﷺ يې په لنډو عباراتو او په ښه توګه بيان كړي دي الله تبارک وتعالیٰ دي د دې كتاب نفعه او بركت و ټولو مسلمانانو ته ورسوي او د مؤلف سعى دي په قبول حسن سره قبوله كي او د آئنده دپاره دي الله ﷻ د دغسي نورو خدمتو توفيق ور په نصيب كي آمين.

(مولوي عبد السلام القندهار مسكنه الاصلي والشمن مسكنه الفعلي)

# د خطبو اجمالي فهرست


| شماره | | صفحه | شماره | | صفحه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱. | د استقامت بیان:........ | ۳۱ | ۲. | د قرآني حاملینو بیان:.... | ۵۳ |
| ۳. | د علماء کرامو صفات:... | ۷۳ | ۴. | د صبر او قناعت بیان:.... | ۹۵ |
| ۵. | د شهات فضائل:......... | ۱۰۲ | ٦. | مرګ ته تیاري کول:...... | ۱۳۹ |
| ۷. | خپل آخرت یاد ساتل:.... | ۱۵۵ | ۸. | د صبر بیان:............. | ۱٦۹ |
| ۹. | د قبر د پاره تیاري:....... | ۱۸۹ | ۱۰. | د صحابه کرامو ﷺ قرباني:. | ۲۱۱ |
| ۱۱. | د علم فضیلت:........... | ۲۳۱ | ۱۲. | د استسقاء بیان:.......... | ۲۵۳ |
| ۱۳. | د توبې بیان:............. | ۲۷۳ | ۱۴. | د ترک دنیا بیان:......... | ۲۹۳ |
| ۱۵. | د سروز او رېدلو ګناه:..... | ۳۱۷ | ۱٦. | مرګ یقیني راتلونکی دئ:.. | ۳۳۹ |
| ۱۷. | د دنیا ژوند عارضي دئ:. | ۳٦۹ | ۱۸. | د جهاد بیان:............ | ۳۹۳ |
| ۱۹. | د حج فضیلت:........... | ۴۱۱ | ۲۰. | د بیت الله تاریخ:........ | ۴۳۵ |
| ۲۱. | د مدینې منورې فضائل:. | ۴۵۵ | ۲۲. | د ریاء کارۍ بیان:........ | ۴۸۵ |
| ۲۳. | شپږ نصیحتونه:........... | ۵۰۹ | ۲۴. | د شهداؤو مقام:......... | ۵۳۳ |
| ۲۵. | د زکوة بیان:............. | ۵۵۷ | ۲٦. | په دنیا کې زهد کول:..... | ۵۷۵ |
| ۲۷. | د مال او دنیا حیثیت:..... | ۵۹۷ | ۲۸. | | |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه:................................ | ۲٦ |
| | **﴿د استقامت بيان﴾** | |
| ۲. | تمهيد................................ | ۳۱ |
| ۳. | د استقامت معنى................................ | ۳۳ |
| ۴. | د درختي سره عجيبه مكالمه:................................ | ۳۴ |
| ۵. | نبي اكرم ﷺ ته د استقامت حكم:................................ | ۳٦ |
| ٦. | قرآن او عزت:................................ | ۳٦ |
| ۷. | صحابه كرام رضي الله عنهم او اسباب:................................ | ۳۷ |
| ۸. | د صحابه كرامو رضي الله عنهم لوى امتحان:................................ | ۳۷ |
| ۹. | د مهاجرو د طرفه اطمينان:................................ | ۳۸ |
| ۱۰. | د انصارو رايه پېشول:................................ | ۳۹ |
| ۱۱. | صفونه او د سواد ابن غزيه رضي الله عنه واقعه:................................ | ۳۹ |
| ۱۲. | د پيغمبر ﷺ بدن مسح كول:................................ | ۴۰ |
| ۱۳. | د جنګ ابتداء:................................ | ۴۱ |
| ۱۴. | د حضرت عبيده رضي الله عنه شهادت:................................ | ۴۳ |
| ۱۵. | د عبيده ابن سعيد بن عاص ميدان ته راتلل:................................ | ۴۳ |
| ۱٦. | نسبي قرابتونه په خپل مابين كي جنګېدل:................................ | ۴۵ |
| ۱۷. | د كائناتو عجيب منظر:................................ | ۴٦ |
| ۱۸. | مكې ته د قريشو تښتېدل:................................ | ۴۸ |
| ۱۹. | د ابو سفيان مكې ته رسېدل:................................ | ۴۹ |
| ۲۰. | د ابو لهب عبرت ناكه انجام:................................ | ۴۹ |
| | **﴿د قرآني حاملينو بيان﴾** | |
| ۲۱. | تمهيد:................................ | ۵۳ |
| ۲۲. | د قرآن جامعيت:................................ | ۵۴ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شمېره | | صفحه |
|---|---|---|
| .۲۳ | قرآن عالمي كتاب دئ: ........................ | ۵۵ |
| .۲۴ | د پېغمبر ﷺ عالمي نبوت: ........................ | ۵٦ |
| .۲۵ | د قرآن كريم پيغام رسول: ........................ | ۵٦ |
| .۲٦ | د قرآني حاملينو عزت: ........................ | ۵۸ |
| .۲۷ | د اسلام بيرغونه: ........................ | ۵۸ |
| .۲۸ | په قبر كي د قرآني حاملينو عزت: ........................ | ۵۹ |
| .۲۹ | د مولانا احمد علي لاهوري رحمة الله عليه واقعه: ........................ | ۵۹ |
| .۳۰ | د مولانا احمد علي لاهوري رحمة الله عليه قبر: ........................ | ٦۰ |
| .۳۱ | د شاه عبدالقادر محدث دهلوي رحمة الله عليه واقعه: ........................ | ٦۱ |
| .۳۲ | حاملين د قرآن په قيامت كي: ........................ | ٦۲ |
| .۳۳ | د قرآني حامل جنت: ........................ | ٦۲ |
| .۳۴ | د قرآن باطن جنت دئ: ........................ | ٦۴ |
| .۳۵ | تورات او ميدان حشر: ........................ | ٦۵ |
| .۳٦ | قرآن كريم او ميدان حشر: ........................ | ٦٦ |
| .۳۷ | په قيامت كي د فرښتې اعلان: ........................ | ٦۷ |
| .۳۸ | كامياب څوک او ناكام څوک؟: ........................ | ٦۸ |
| | ﴿د علماء كرامو صفات﴾ | |
| .۳۹ | تمهيد: ........................ | ۷۴ |
| .۴۰ | د عالم زندگي د نبي زندگي ده: ........................ | ۷۴ |
| .۴۱ | (۱۰۰۰) رحمتونه: ........................ | ۷٦ |
| .۴۲ | د عالم د اكرام ثمره: ........................ | ۷٦ |
| .۴۳ | د قيامت په ميدان كي د علماؤ اكرام: ........................ | ۷۷ |
| .۴۴ | د نبي اكرم ﷺ دعوت او مبلمستيا: ........................ | ۷۷ |
| .۴۵ | د عالم صفات: ........................ | ۷۸ |

د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| .۴٦ | د يوه صحابي واقعه: | ۸۰ |
| .۴۷ | د ابو بكر صديق ﷺ قول: | ۸۳ |
| .۴۸ | د پيغمبر ﷺ د كور حالت: | ۸۵ |
| .۴۹ | د عطاء ابن ابي رباح رحمة الله عليه استغناء: | ۸۷ |
| .۵۰ | د سالم بن عبد الله رحمة الله عليه د دنيا څخه رخصتېدل: | ۸۸ |
| .۵۱ | امام بخاري رحمة الله عليه او د علم قدر: | ۸۹ |
| .۵۲ | چمبېلي د ګل تعبير: | ۸۹ |
| .۵۳ | علماء د امت هنداري دي: | ۹۰ |
| .۵۴ | د علماء سوء او علماء حق كردار: | ۹۱ |
| .۵۵ | د علماء سوء د نس بدبويي: | ۹۲ |
| .۵٦ | د ګمراهۍ لاري: | ۹۲ |
| | ﴿د صبر او قناعت بيان﴾ | |
| .۵۷ | تمهيد: | ۹۵ |
| .۵۸ | غني څوك دئ؟ | ۹٦ |
| .۵۹ | د غنې دپاره د دوو شيانو ضرورت: | ۹۷ |
| .٦۰ | هر خواهش نه پوره كېدل: | ۹۸ |
| .٦۱ | د الله په فيصله راضي كېدل: | ۹۹ |
| .٦۲ | په جائزه او معتدله طريقه باندي مال پيدا كول: | ۱۰۰ |
| .٦۳ | مال او دولت د انسان خادم وي: | ۱۰۱ |
| .٦۴ | يو عبرت آموز واقعه: | ۱۰۱ |
| .٦۵ | د انسان نس د قبر خاوري ډكولای سي: | ۱۰۳ |
| .٦٦ | حرص او هوس پرېښول: | ۱۰۳ |
| .٦۷ | تر خپل ځان پورته انسان ته نه كتل: | ۱۰۴ |
| .٦۸ | د حضرت ابن عون رحمة الله عليه واقعه: | ۱۰۵ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شمېره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۶۹. | د انسان بې صبري:.............................. | ۱۰۵ |
| ۷۰. | د يو نوجوان واقعه:.............................. | ۱۰۸ |
| ۷۱. | د الله تعالى عظيم مخلوق:.............................. | ۱۰۹ |
| ۷۲. | د صحابه كرامو ﷺ قناعت:.............................. | ۱۱۰ |
| ۷۳. | د حضرت عمر ﷺ قناعت:.............................. | ۱۱۱ |
| ۷۴. | د حضرت عمر ﷺ وفات:.............................. | ۱۱۴ |
| ۷۵. | تجارت ته ترقي وركول د قناعت خلاف نه دي:.............................. | ۱۱۷ |
| | ﴿د شهادت فضائل﴾ | |
| ۷۶. | تمهيد:.............................. | ۱۲۱ |
| ۷۷. | شهادتونه د سلفو ميراث دي:.............................. | ۱۲۲ |
| ۷۸. | پر امام ابو حنيفه رحمة الله عليه باندي ظلم او ستم:.............................. | ۱۲۳ |
| ۷۹. | د امام مالک رحمة الله عليه بهادري:.............................. | ۱۲۳ |
| ۸۰. | پر امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه باندي ظلم او ستم:.............................. | ۱۲۴ |
| ۸۱. | مقصد ته اعاده:.............................. | ۱۲۶ |
| ۸۲. | د عبد الله ابن مبارک رحمة الله عليه علم:.............................. | ۱۲۷ |
| ۸۳. | د عبد الله ابن مبارک رحمة الله عليه جهاد:.............................. | ۱۲۸ |
| ۸۴. | د عبد الله ابن مبارک رحمة الله عليه اشعار:.............................. | ۱۲۹ |
| ۸۵. | د جهادي عمل ثواب:.............................. | ۱۳۱ |
| ۸۶. | د جهاد د لاري گرز:.............................. | ۱۳۱ |
| ۸۷. | د عبد الرحمن ابن عوف ﷺ غلامان ازادول:.............................. | ۱۳۲ |
| ۸۸. | د حضرت مرشد الغنمي ﷺ د پيري واقعه:.............................. | ۱۳۳ |
| ۸۹. | يو ساعت د الله په لاركي د درېدلو فضيلت:.............................. | ۱۳۵ |
| | ﴿مرگ ته تياري كول﴾ | |
| ۹۰. | ترجمه:.............................. | ۱۳۹ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| .۹۱ | مرګ يقيني راتلونکی دئ:........................ | ۱۴۰ |
| .۹۲ | د دنيا دوې اتفاقي خبرې:........................ | ۱۴۰ |
| .۹۳ | د مرګ څخه مخکې مړ کېدل:........................ | ۱۴۱ |
| .۹۴ | ماته يو ورځ مرګ ګوري:........................ | ۱۴۱ |
| .۹۵ | د دوو لويو نعمتو څخه غفلت:........................ | ۱۴۲ |
| .۹٦ | د بهلول دانا رحمة الله عليه واقعه:........................ | ۱۴۳ |
| .۹۷ | عقلمند څوک دئ؟........................ | ۱۴٦ |
| .۹۸ | نن پر موږ د بهلول قول صادق دئ:........................ | ۱۴۷ |
| .۹۹ | د آخرت د فكر كولو طريقه:........................ | ۱۴۸ |
| .۱۰۰ | د عبدالرحمن بن ابي انعم رحمة الله عليه واقعه:........................ | ۱۴۹ |
| .۱۰۱ | د الله د ملاقات شوق:........................ | ۱۵۰ |
| .۱۰۲ | د صحابه كرامو رضي الله عنهم حالات:........................ | ۱۵۱ |
| | ﴿خپل آخرت ياد ساتل﴾ | |
| .۱۰۳ | دنيا وطن اقامت دئ:........................ | ۱۵۵ |
| .۱۰۴ | د مرګ څکه:........................ | ۱۵٦ |
| .۱۰۵ | مرګ به كله راځي:........................ | ۱۵٦ |
| .۱۰٦ | د انسان دوكه:........................ | ۱۵۷ |
| .۱۰۷ | د ابن عمر رضي الله عنه فرمان:........................ | ۱۵۷ |
| .۱۰۸ | روزانه اعداد او شمار:........................ | ۱۵۸ |
| .۱۰۹ | د امام غزالي رحمة الله عليه فرمان:........................ | ۱۵۸ |
| .۱۱۰ | د دې امت اوسط عمر:........................ | ۱۵۹ |
| .۱۱۱ | د عذابونو درياب:........................ | ۱۵۹ |
| .۱۱۲ | د مرګ څخه ماتې خوړل:........................ | ۱٦۰ |
| .۱۱۳ | د هوښياری خبرې:........................ | ۱٦۱ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| صفحه | | شمېره |
|---|---|---|
| ۱۶۲ | د حضرت حسن بصري رحمة الله عليه توبه: | ۱۱۴. |
| ۱۶۳ | د مرګ څخه دفاع ناممکنه ده: | ۱۱۵. |
| ۱۶۴ | د انسان ناداني: | ۱۱۶. |
| ۱۶۵ | د وفا لائق: | ۱۱۷. |
| | **﴿د صبر بيان﴾** | |
| ۱۶۹ | تمهيد: | ۱۱۸. |
| ۱۷۰ | دري عالمه: | ۱۱۹. |
| ۱۷۱ | په غم کي د مسلمان عقيده: | ۱۲۰. |
| ۱۷۱ | اول قلم او دفتر: | ۱۲۱. |
| ۱۷۲ | دوهم قلم او دفتر: | ۱۲۲. |
| ۱۷۳ | دريم قلم او دفتر: | ۱۲۳. |
| ۱۷۳ | د مسلمان تسلي: | ۱۲۴. |
| ۱۷۵ | د الله د محبت علامه: | ۱۲۵. |
| ۱۷۶ | د صحابه کرامو رضي الله عنهم صبر: | ۱۲۶. |
| ۱۷۶ | د عيش او عشرت سوال: | ۱۲۷. |
| ۱۷۸ | پر مصيبت صبر کول: | ۱۲۸. |
| ۱۷۸ | صبر څه ته وايي: | ۱۲۹. |
| ۱۷۹ | د پيغمبر ﷺ د بچي واقعه: | ۱۳۰. |
| ۱۸۰ | بې صبري څه ده؟ | ۱۳۱. |
| ۱۸۱ | صبر د لوړو درجاتو سبب دئ: | ۱۳۲. |
| ۱۸۲ | د مريض اجر او ثواب: | ۱۳۳. |
| ۱۸۲ | د اوښکي توييولو بدله: | ۱۳۴. |
| ۱۸۳ | بې حسابه جنت ته داخلېدل: | ۱۳۵. |
| ۱۸۴ | د الله تعالی د طرفه معذرت: | ۱۳۶. |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شمله | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۳۷. | د يو بزرگ وينا: | ۱۸۴ |
| ۱۳۸. | پر بې صبرې باندې عذاب: | ۱۸۵ |
| ۱۳۹. | د صديق اكبر ﷺ فرمان: | ۱۸۵ |
| ۱۴۰. | د حضرت عمر ﷺ فرمان: | ۱۸۶ |
| ۱۴۱. | د حضرت عثمان ﷺ فرمان: | ۱۸۶ |
| | ﴿د قبر دپاره تياري﴾ | |
| ۱۴۲. | د قبر تنهائي: | ۱۸۹ |
| ۱۴۳. | د حضرت عثمان ﷺ ژړا: | ۱۹۰ |
| ۱۴۴. | د عذاب قبر دوې وجهې: | ۱۹۱ |
| ۱۴۵. | يوه عبرت ناكه واقعه: | ۱۹۱ |
| ۱۴۶. | د غافل انسان مثال: | ۱۹۴ |
| ۱۴۷. | د مرګه بعد د انسان پنځه حصې: | ۱۹۶ |
| ۱۴۸. | د حضرت علي ﷺ مړو او ژوندو ته وينا: | ۱۹۷ |
| ۱۴۹. | د دنيا د محبت انجام: | ۱۹۸ |
| ۱۵۰. | پر دوو انسانانو د مځكې تعجب: | ۱۹۹ |
| ۱۵۱. | د مرګ د تيارۍ مطلب: | ۲۰۰ |
| ۱۵۲. | الله ﷻ ته په زړه كې ځاى وركول: | ۲۰۰ |
| ۱۵۳. | د صديق اكبر ﷺ خشيت: | ۲۰۱ |
| ۱۵۴. | د صديق اكبر ﷺ صداقت: | ۲۰۲ |
| ۱۵۵. | د صديق اكبر ﷺ آخري وصيت: | ۲۰۵ |
| ۱۵۶. | د صديق اكبر ﷺ تدفين: | ۲۰۶ |
| | ﴿د صحابه كرامو ﷺ قرباني﴾ | |
| ۱۵۷. | تمهيد: | ۲۱۱ |
| ۱۵۸. | د پيغمبر ﷺ پر طريقه ژوند تېرول: | ۲۱۳ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۵۹. | د ژوند مشکلات:........................ | ۲۱۳ |
| ۱۶۰. | یو صحابي ته د پیغمبر ﷺ وینا:........................ | ۲۱۴ |
| ۱۶۱. | د الله جَلَّ جَلَالُهُ دنیا ته حکم:........................ | ۲۱۴ |
| ۱۶۲. | د صحابه وو رضي الله عنهم قرباني:........................ | ۲۱۵ |
| ۱۶۳. | د حبیب ابن زید رضي الله عنه شهادت:........................ | ۲۱۶ |
| ۱۶۴. | د عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه دردناکه شهادت:........................ | ۲۱۷ |
| ۱۶۵. | د صحابه کرامو ژوند دامتحاناتو داستان دئ:........................ | ۲۲۰ |
| ۱۶۶. | د قحطی په زمانه کي د هدیر رضي الله عنه واقعه:........................ | ۲۲۱ |
| ۱۶۷. | د صحابه وو رضي الله عنهم د بچیانو قرباني:........................ | ۲۲۲ |
| ۱۶۸. | د صحابه کرامو رضي الله عنهم شهادتونه:........................ | ۲۲۳ |
| ۱۶۹. | د حضرت جعفر رضي الله عنه شهادت:........................ | ۲۲۴ |
| ۱۷۰. | د جعفر رضي الله عنه کورته د رسول الله ﷺ راتګ:........................ | ۲۲۵ |
| ۱۷۱. | د عبدالله ابن رواحه رضي الله عنه شهادت:........................ | ۲۲۶ |
| | **﴿د علم فضیلت﴾** | |
| ۱۷۲. | تمهید:........................ | ۲۳۱ |
| ۱۷۳. | د طالب العلم فضیلت:........................ | ۲۳۵ |
| ۱۷۴. | د عالم فضیلت:........................ | ۲۳۶ |
| ۱۷۵. | د علماؤ خوب هم عبادت دئ:........................ | ۲۳۷ |
| ۱۷۶. | د عالم فضیلت پر شهید باندي:........................ | ۲۳۷ |
| ۱۷۷. | د قیامت په میدان کي د عالم فضیلت:........................ | ۲۳۹ |
| ۱۷۸. | د علمي سوال فضیلت:........................ | ۲۳۹ |
| ۱۷۹. | د خپلو بچیانو اصلاح:........................ | ۲۴۱ |
| ۱۸۰. | د حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه وقف کېدل:........................ | ۲۴۱ |
| ۱۸۱. | د حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه د الله جَلَّ جَلَالُهُ سره تعلق:........................ | ۲۴۳ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| صفحه | | شماره |
|---|---|---|
| ۲۴۵ | د بایزید بسطامي رحمة الله علیه وقف کېدل: | .۱۸۲ |
| ۲۴۶ | اصل کمال د مور دئ: | .۱۸۳ |
| ۲۴۶ | د قطب الدین بختیار کاکی رحمة الله علیه حفظ: | .۱۸۴ |
| ۲۴۷ | د قطب الدین بختیار کاکی رحمة الله علیه تربیت: | .۱۸۵ |
| | ﴿د استسقاء بیان﴾ | |
| ۲۵۳ | تمهید: | .۱۸٦ |
| ۲۵۴ | الله جل جلاله باران ولي بندوي: | .۱۸۷ |
| ۲۵۴ | د باران نه اورېدلو وجه: | .۱۸۸ |
| ۲۵۵ | د الله جل جلاله د رضا علامې: | .۱۸۹ |
| ۲۵٦ | د بنو امیه د منذر بادشاه د عدل واقعه: | .۱۹۰ |
| ۲۵۸ | د الله جل جلاله د ناراضګی علامې: | .۱۹۱ |
| ۲۵۸ | د چنګېزخان واقعه: | .۱۹۲ |
| ۲۵۹ | د ګناهو نقصان د باران بندېدل دي: | .۱۹۳ |
| ۲۵۹ | د ناجوړیو پیدا کېدل: | .۱۹۴ |
| ۲٦۰ | قتل او غارت ګري: | .۱۹۵ |
| ۲٦۱ | د قتلونو ختم کولو واحده لار: | .۱۹٦ |
| ۲٦۱ | د توبې شرائط: | .۱۹۷ |
| ۲٦۴ | د بني اسرائیلو د یو ګنهګار توبه: | .۱۹۸ |
| ۲٦٦ | د دې امت تېر دورونه: | .۱۹۹ |
| ۲٦٦ | د محمود غزنوي د عدل واقعه: | .۲۰۰ |
| ۲٦۸ | د قاضي د الله جل جلاله څخه ېېره: | .۲۰۱ |
| | ﴿د توبې بیان﴾ | |
| ۲۷۳ | د انسان زندګي د نفس او شیطان سره ده: | .۲۰۲ |
| ۲۷۴ | د الله جل جلاله قانون: | .۲۰۳ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شمېره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۰۴. | د ګناهو کولو څلور وجهې: | ۲۷۴ |
| ۲۰۵. | په قيامت کې څلور شاهدان: | ۲۷۶ |
| ۲۰۶. | بهترين ګنهګار: | ۲۷۹ |
| ۲۰۷. | د توبې شرائط: | ۲۸۱ |
| ۲۰۸. | د بني اسرائيلو د يو ګنهګار د توبې واقعه: | ۲۸۳ |
| ۲۰۹. | د غزوه احد واقعه: | ۲۸۵ |
| ۲۱۰. | د حضرت وحشي ﷺ ايمان راوړل: | ۲۸۶ |
| ۲۱۱. | د حضرت وحشي ﷺ سره احسان: | ۲۸۹ |
| | ﴿د ترک دنيا بيان﴾ | |
| ۲۱۲. | تمهيد: | ۲۹۳ |
| ۲۱۳. | دنيا انسان هلاکه وي: | ۲۹۴ |
| ۲۱۴. | د دنيا نقش او نګار د مار دئ: | ۲۹۶ |
| ۲۱۵. | د دنيا مثال: | ۲۹۶ |
| ۲۱۶. | د زندګۍ پنځه دوره: | ۲۹۸ |
| ۲۱۷. | د دنيا ژوند د آخرت په مقابله کې: | ۳۰۰ |
| ۲۱۸. | د انبياء کرامو دعوت: | ۳۰۱ |
| ۲۱۹. | د دنيا څخه د آخرت تو بنه پيدا کول: | ۳۰۱ |
| ۲۲۰. | د ابو درداء ﷺ قول: | ۳۰۱ |
| ۲۲۱. | د امام غزالي رحمة الله عليه په نزد د دنيا مثال: | ۳۰۲ |
| ۲۲۲. | د حضرت ابو بکر صديق ﷺ زُهد: | ۳۰۴ |
| ۲۲۳. | د حضرت عمر ﷺ زُهد: | ۳۰۵ |
| ۲۲۴. | د حضرت عمر ﷺ خلافت: | ۳۰۶ |
| ۲۲۵. | د حضرت عمر ﷺ حکمراني: | ۳۰۷ |
| ۲۲۶. | د حضرت عمر ﷺ د شپې ګرځېدل: | ۳۰۸ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شمېره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۲۷. | د حضرت عثمان ﷺ زُهد: | ۳۱۰ |
| ۲۲۸. | د حضرت عثمان ﷺ په جنت کي نکاح: | ۳۱۱ |
| ۲۲۹. | د حضرت عبدالرحمن ابن عوف ﷺ زُهد: | ۳۱۲ |
| ۲۳۰. | د صحابه کرامو ﷺ زُهد: | ۳۱۲ |
| | ﴿د سروز اوربدلو ګناه﴾ | |
| ۲۳۱. | تمهيد: | ۳۱۷ |
| ۲۳۲. | د سروزو په اړه د قرآن پيغام: | ۳۱۹ |
| ۲۳۳. | د پيغمبر ﷺ د بعثت مقصد: | ۳۲۰ |
| ۲۳۴. | بلا ارادي غزلي او سروزونه اوريدل: | ۳۲۲ |
| ۲۳۵. | د غزلو څخه خوند اخيستل: | ۳۲۲ |
| ۲۳۶. | د سروزو څخه منافقت پيدا کيږي: | ۳۲۳ |
| ۲۳۷. | په غوږو کي ويلي سرف تويدل: | ۳۲۴ |
| ۲۳۸. | د پيغمبر ﷺ بنرا: | ۳۲۵ |
| ۲۳۹. | د ډول په ذريعه د نکاح اعلان: | ۳۲۶ |
| ۲۴۰. | د روح غذا: | ۳۲۸ |
| ۲۴۱. | قوالي ويل او اوريدل: | ۳۲۸ |
| ۲۴۲. | د سلطان الاولياء رحمة الله عليه د قوالي څخه توبه: | ۳۲۹ |
| ۲۴۳. | د سروز په محفل کي شرکت: | ۳۳۵ |
| ۲۴۴. | په غزلو نه اوريدلو باندي ثواب: | ۳۳۵ |
| | ﴿مرګ يقيني راتلونکي دئ﴾ | |
| ۲۴۵. | د عبدالله ابن عمر ﷺ وينا: | ۳۳۹ |
| ۲۴۶. | د مرګ راتللو وقت: | ۳۴۰ |
| ۲۴۷. | د پنځو شيانو علم: | ۳۴۱ |
| ۲۴۸. | روزانه د مرګ اعداد او شمار: | ۳۴۲ |

# د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۲۴۹. | د قبر آواز: | ۳۴۳ |
| ۲۵۰. | د حضرت عثمان غني ﷺ ژړا: | ۳۴۴ |
| ۲۵۱. | د غافله انسان د شپې او ورځې مثال: | ۳۴۵ |
| ۲۵۲. | د عذابونو سمندر: | ۳۴۶ |
| ۲۵۳. | د مرګ د تيارۍ مطلب: | ۳۴۸ |
| ۲۵۴. | الله جل جلاله ته په زړه کې ځای ورکول: | ۳۴۸ |
| ۲۵۵. | د انسان د دنيا څخه تېرېدل: | ۳۵۰ |
| ۲۵۶. | د مرګ څخه ماتې خوړل: | ۳۵۰ |
| ۲۵۷. | د هوښيارۍ خبره: | ۳۵۱ |
| ۲۵۸. | د حسن بصري رحمة الله عليه د توبې واقعه: | ۳۵۲ |
| ۲۵۹. | د مرګ څخه خلاصېدل ممکن نه دي: | ۳۵۴ |
| ۲۶۰. | د مرګ څخه وروسته حالات: | ۳۵۵ |
| ۲۶۱. | د عاص ابن وائل واقعه: | ۳۵۷ |
| ۲۶۲. | قيامت به کله راځي: | ۳۵۷ |
| ۲۶۳. | د قيامت وقت مقرر دئ: | ۳۵۹ |
| ۲۶۴. | د قيامت په هکله د الله جل جلاله وينا: | ۳۶۱ |
| ۲۶۵. | نېک بخته او بد بخته: | ۳۶۱ |
| ۲۶۶. | اصلي کاميابي او ناکامي: | ۳۶۲ |
| ۲۶۷. | د امت خيرخواهان: | ۳۶۵ |
| | ﴿د دنيا ژوند عارضي دئ﴾ | |
| ۲۶۸. | تمهيد: | ۳۶۹ |
| ۲۶۹. | په بودا والي کې ګناه: | ۳۷۱ |
| ۲۷۰. | د ځوانۍ تلاش: | ۳۷۱ |
| ۲۷۱. | د آخرت د زندګۍ مثال: | ۳۷۲ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شمیره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۷۲. | د آخرت فکر: | ۳۷۳ |
| ۲۷۳. | د یو ماشوم د آخرت فکر: | ۳۷۳ |
| ۲۷۴. | د حبیب عجمي رحمة الله علیه د زکندن خوف: | ۳۷۵ |
| ۲۷۵. | د ابراهیم بن ادهم رحمة الله علیه د څلورو کارو فکر: | ۳۷٦ |
| ۲۷٦. | روزانه درې قرآن کریمه ختم کول: | ۳۷۸ |
| ۲۷۷. | د یو ځوان په زړه کې د الله جل جلاله عشق: | ۳۷۹ |
| ۲۷۸. | د عمر ابن عبدالعزیز رحمة الله علیه د آخرت فکر: | ۳۸۱ |
| ۲۷۹. | د عمر ابن عبدالعزیز رحمة الله علیه د قبر سره مکالمه: | ۳۸۲ |
| ۲۸۰. | د نادیده سودا عجیبه واقعه: | ۳۸۳ |
| ۲۸۱. | د یو نوجوان واقعه: | ۳۸٦ |
| | **﴿د جهاد بیان﴾** | |
| ۲۸۲. | تمهید: | ۳۹۳ |
| ۲۸۳. | جنة الفردوس الله جل جلاله په خپل قدرت سره جوړ کړی دی، | ۳۹٦ |
| ۲۸۴. | د جنة الفردوس جوړښت: | ۳۹٦ |
| ۲۸۵. | ای مسلمانه! ته د چا امتي یې: | ۳۹۸ |
| ۲۸٦. | په دنیا کې د مسلمانانو حالات: | ۴۰۰ |
| ۲۸۷. | د طارق ابن زیاد رحمة الله علیه واقعه: | ۴۰۲ |
| ۲۸۸. | د مسلمانانو عددي قوت او وسائل: | ۴۰۳ |
| ۲۸۹. | د صدیق اکبر رضي الله عنه وینا: | ۴۰۵ |
| ۲۹۰. | د مسلمانانو د ذلت سبب: | ۴۰۵ |
| | **﴿د حج فضیلت﴾** | |
| ۲۹۱. | تمهید: | ۴۱۱ |
| ۲۹۲. | د حج تعارف: | ۴۱۲ |
| ۲۹۳. | حج کله فرض سوی دی: | ۴۱۲ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۹۴. | حج پر چا فرض دئ: | ۴۱۳ |
| ۲۹۵. | پر حج نه کولو باندي وعید: | ۴۱۵ |
| ۲۹٦. | حج د مغفرت ذریعه ده: | ۴۱٦ |
| ۲۹۷. | بیت الله ته کتل لوی عبادت دئ: | ۴۲۲ |
| ۲۹۸. | د بیت الله د لمانځه فضیلت: | ۴۲۳ |
| ۲۹۹. | د حج په سفر کي د روژې ثواب: | ۴۲۴ |
| ۳۰۰. | د حج د پر لوی ثواب: | ۴۲۵ |
| ۳۰۱. | د حاجي د لبیک آواز: | ۴۲۷ |
| ۳۰۲. | د حج په دوران کي د بزرگانو واقعات: | ۴۲۸ |
| ۳۰۳. | د یو بزرگ واقعه: | ۴۲۸ |
| ۳۰۴. | د ابن موافق رحمة الله علیه واقعه: | ۴۳۰ |
| ۳۰۵. | د حاجي شفاعت قبول دئ: | ۴۳۲ |
| | **﴿د بیت الله تاریخ﴾** | |
| ۳۰٦. | تمهید: | ۴۳۵ |
| ۳۰۷. | د بیت المعمور تذکره: | ۴۳۷ |
| ۳۰۸. | د بیت الله اولنی تعمیر: | ۴۳۷ |
| ۳۰۹. | د بیت الله متعدد تعمیرونه: | ۴۳۸ |
| ۳۱۰. | د حضرت ابراهیم علیه السلام تعمیر: | ۴۳۹ |
| ۳۱۱. | د بیت الله فضیلت: | ۴۴۰ |
| ۳۱۲. | د بیت الله حدود: | ۴۴۱ |
| ۳۱۳. | د قریشو تعمیر: | ۴۴۳ |
| ۳۱۴. | د عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه تعیمر: | ۴۴۵ |
| ۳۱۵. | د حجاج ابن یوسف تعیمر: | ۴۴٦ |
| ۳۱٦. | د سلطان احمد ترکي تعمیر: | ۴۴۷ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست



| شمېره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۱۷. | مقامات مقدسه: | ۴۴۸ |
| ۳۱۸. | د دعاء د قبولیت ځایونه: | ۴۵۱ |
| ۳۱۹. | د حضرت حسن بصري رحمة الله علیه خط: | ۴۵۱ |
| | **(د مدینې منورې فضائل)** | |
| ۳۲۰. | تمهید: | ۴۵۵ |
| ۳۲۱. | د مدینې منورې محل وقوع: | ۴۵۶ |
| ۳۲۲. | د مدینې منورې نمونه: | ۴۵۷ |
| ۳۲۳. | د مدینې منورې عظمت او فضیلت: | ۴۵۸ |
| ۳۲۴. | د مدینې منورې د برکت دعاء: | ۴۵۹ |
| ۳۲۵. | د مدینې منورې قبائل: | ۴۶۰ |
| ۳۲۶. | په مدینه منوره کې د پیغمبر ﷺ د راتګ انتظار: | ۴۶۱ |
| ۳۲۷. | په مدینه منوره کې د اسلام ابتداء: | ۴۶۱ |
| ۳۲۸. | د انصارو اولنی بیعت: | ۴۶۲ |
| ۳۲۹. | د پیغمبر ﷺ مدینې منورې ته راتګ: | ۴۶۳ |
| ۳۳۰. | په دار الندوه کې د پیغمبر ﷺ د قتل مشوره: | ۴۶۳ |
| ۳۳۱. | د ابو بکر رضي الله عنه نېک بختي: | ۴۶۵ |
| ۳۳۲. | د تبع بادشاه مدینې ته راتګ: | ۴۶۶ |
| ۳۳۳. | د پیغمبر ﷺ دپاره مکان تیارول: | ۴۶۶ |
| ۳۳۴. | د خوشحالۍ اظهار: | ۴۶۷ |
| ۳۳۵. | د پیغمبر ﷺ په خپل مکان کې قیام کول: | ۴۶۹ |
| ۳۳۶. | د پیغمبر ﷺ په لاندې مکان کې استوګنه: | ۴۶۹ |
| ۳۳۷. | د پیغمبر ﷺ پیاز او وږه ناخوښه وه: | ۴۷۰ |
| ۳۳۸. | د مسجد نبوي بنیاد: | ۴۷۱ |
| ۳۳۹. | د ازواج مطهرات د حجرو بیان: | ۵۷۲ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شمېره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۴۰. | د تپولو څخه افضل ځای: | ۴۷۴ |
| ۳۴۱. | د يو اعرابي د مغفرت واقعه: | ۴۷۴ |
| ۳۴۲. | د مديني منورې حفاظت: | ۴۷۶ |
| ۳۴۳. | سلطان زنګي او د روضې حفاظت: | ۴۷۷ |
| ۳۴۴. | په خوب کې د پيغمبر ﷺ زيارت: | ۴۷۷ |
| ۳۴۵. | د سلطان نور الدين زنګي پرېشاني: | ۴۷۷ |
| ۳۴۶. | د اهل مديني دعوت: | ۴۷۸ |
| ۳۴۷. | د سلطان وينه جوشېدل: | ۴۷۹ |
| ۳۴۸. | خوف ناکه انکشاف: | ۴۷۹ |
| ۳۴۹. | د عبادت ګزارو په شکل بدترين لېوان: | ۴۸۰ |
| ۳۵۰. | د هغه ملعونانو انجام: | ۴۸۱ |
| ۳۵۱. | د روضه رسول د حفاظت انتظام: | ۴۸۱ |
| ۳۵۲. | شيخينو ته تکليف رسول او په مځکه ننوتل: | ۴۸۲ |
| | **﴿د رياء کارۍ بيان﴾** | |
| ۳۵۳. | د حديث ترجمه او مطلب: | ۴۸۵ |
| ۳۵۴. | د رياء کارۍ بنياد: | ۴۸۷ |
| ۳۵۵. | د رياء کارۍ اوله درجه: | ۴۸۷ |
| ۳۵۶. | د رياء کارۍ دوهمه درجه: | ۴۸۸ |
| ۳۵۷. | د رياء کارۍ دريمه درجه: | ۴۸۹ |
| ۳۵۸. | د رياء کارۍ څلورمه درجه: | ۴۹۰ |
| ۳۵۹. | د رياء کارۍ پنځمه درجه: | ۴۹۰ |
| ۳۶۰. | رياء په هر عبادت کې کېدای سي: | ۴۹۱ |
| ۳۶۱. | د ريا يوه بله خفي درجه: | ۴۹۲ |
| ۳۶۲. | د يو صحابي واقعه: | ۴۹۳ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۳٦۳. | د رياء په باره کې د پیغمبر ﷺ فرمان: | ۴۹۴ |
| ۳٦۴. | د رياء کارۍ علاج او د هغه مثال: | ۴۹۴ |
| ۳٦۵. | د صوفیاء کرامو اصطلاحات: | ۴۹۵ |
| ۳٦٦. | د منصور حلاج رحمة الله علیه واقعه: | ۴۹۸ |
| ۳٦۷. | د قید خانې حالات: | ۴۹۹ |
| ۳٦۸. | په قید خانه کې عبادت کول: | ۴۹۹ |
| ۳٦۹. | د قیدیانو خلاصول: | ۵۰۰ |
| ۳۷۰. | په درو باندې وهل کېدل: | ۵۰۰ |
| ۳۷۱. | وصیت کول: | ۵۰۱ |
| ۳۷۲. | پانسۍ ور کول: | ۵۰۱ |
| ۳۷۳. | د بزرګ شخه پوښتنه: | ۵۰۴ |
| ۳۷۴. | د حضرت شاه اسماعیل شهید رحمة الله علیه واقعه: | ۵۰۵ |
| ۳۷۵. | د الله د محبت پیدا کولو طریقه: | ۵۰٦ |
| | **(شپږ نصیحتونه)** | |
| ۳۷٦. | تمهید: | ۵۰۹ |
| ۳۷۷. | د حضور اقدس ﷺ سره اول ملاقات: | ۵۱۰ |
| ۳۷۸. | د سلام د جواب ور کولو طریقه: | ۵۱۱ |
| ۳۷۹. | پر دواړو جواب ور کول واجب دي: | ۵۱۱ |
| ۳۸۰. | په شریعت کې الفاظ هم مقصود دي: | ۵۱۲ |
| ۳۸۱. | د یو صحابي واقعه: | ۵۱۳ |
| ۳۸۲. | پر اتباع سنت باندې اجر او ثواب: | ۵۱۳ |
| ۳۸۳. | د ابو بکر او عمر رضي الله عنهما د تهجد واقعه: | ۵۱۴ |
| ۳۸۴. | د پیغمبر ﷺ پر طریقه عمل کول: | ۵۱۵ |
| ۳۸۵. | زه د رشتوني خدای رسول یم: | ۵۱٦ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۸۶. | د بزرګانو څخه نصیحت طلبول: | ۵۱۷ |
| ۳۸۷. | اولنی نصیحت: | ۵۱۸ |
| ۳۸۸. | د حضرت صدیق اکبر ﷺ واقعه: | ۵۱۹ |
| ۳۸۹. | پر دې نصیحت ټوله زندګي عمل کول: | ۵۱۹ |
| ۳۹۰. | د پیغمبر ﷺ سنت خپلول: | ۵۲۰ |
| ۳۹۱. | د یو حبشي صحابي د سنتو اتباع: | ۵۲۰ |
| ۳۹۲. | د دې نصیحت دوهم مطلب: | ۵۲۱ |
| ۳۹۳. | د شپانه عجیبه واقعه: | ۵۲۲ |
| ۳۹۴. | پسونه واپس کړه او بیا راسه: | ۵۲۴ |
| ۳۹۵. | جنة الفردوس ته ورسېدئ: | ۵۲۵ |
| ۳۹۶. | اعتبار خاتمې ته دئ: | ۵۲۵ |
| ۳۹۷. | د یو بزرګ نصیحت آموز واقعه: | ۵۲۶ |
| ۳۹۸. | د حکیم الامت غایت تواضع: | ۵۲۷ |
| ۳۹۹. | د حجاج ابن یوسف غیبت کول: | ۵۲۸ |
| ۴۰۰. | د انبیاء کرامو عادات: | ۵۲۹ |
| ۴۰۱. | د شاه اسماعیل شهید رحمة الله علیه واقعه: | ۵۲۹ |
| | ﴿د شهداؤ مقام﴾ | |
| ۴۰۲. | تمهید: | ۵۳۳ |
| ۴۰۳. | شهید ته د مړي نه ویلو وجه: | ۵۳۴ |
| ۴۰۴. | د شهید عجیب او غریب خصوصیت: | ۵۳۵ |
| ۴۰۵. | ترجمه: | ۵۳۵ |
| ۴۰۶. | خلاصه: | ۵۳۹ |
| ۴۰۷. | د قیامت په میدان کې د شهید عزت: | ۵۴۰ |
| ۴۰۸. | د شهید دپاره جنة الفردوس: | ۵۴۰ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۰۹. | د جنة الفردوس جوړښت:........................ | ۵۴۱ |
| ۴۱۰. | د جنة الفردوس د حورو خصوصيات:........................ | ۵۴۳ |
| ۴۱۱. | د جنة الفردوس د استوګني حالات:........................ | ۵۴۵ |
| ۴۱۲. | د جنة الفردوس زنانه او خاوند چي کله يو بل ته ګوري:........ | ۵۴۵ |
| ۴۱۳. | د جنة الفردوس د حوري ښائست:........................ | ۵۴۶ |
| ۴۱۴. | د جنت کورونه:........................ | ۵۴۸ |
| ۴۱۵. | د جنة الفردوس درخته:........................ | ۵۴۹ |
| ۴۱۶. | په دنيا کي دوکه سوی انسان:........................ | ۵۵۰ |
| ۴۱۷. | د شهيد د قربانو دپاره تسلي:........................ | ۵۵۰ |
| ۴۱۸. | د احد دميدان واقعه:........................ | ۵۵۱ |
| ۴۱۹. | قربانو ته تسلي:........................ | ۵۵۳ |
| | **﴿د زکٰوة بيان﴾** | |
| ۴۲۰. | تمهيد:........................ | ۵۵۷ |
| ۴۲۱. | د زکٰوة فرضيت:........................ | ۵۵۸ |
| ۴۲۲. | د زکٰوة د ادا کولو فضيلت:........................ | ۵۵۸ |
| ۴۲۳. | پر زکٰوة نه ادا کولو باندي وعيد:........................ | ۵۵۹ |
| ۴۲۴. | زکٰوة و خپل مصرف ته رسول:........................ | ۵۶۱ |
| ۴۲۵. | د زکٰوة اته مصارف:........................ | ۵۶۲ |
| ۴۲۶. | د زکٰوة دريم مصرف:........................ | ۵۶۴ |
| ۴۲۷. | د زکٰوة څلورم مصرف:........................ | ۵۶۵ |
| ۴۲۸. | د زکٰوة پنځم مصرف:........................ | ۵۶۶ |
| ۴۲۹. | د زکٰوة شپږم مصرف:........................ | ۵۶۷ |
| ۴۳۰. | د زکٰوة اووم مصرف:........................ | ۵۶۷ |
| ۴۳۱. | د زکٰوة اتم مصرف:........................ | ۵۶۸ |

| شمېره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۳۲. | د زکوٰة يو څو مسائل: | ۵٦۸ |
| ۴۳۳. | زکوٰة په روژه کې ادا کول: | ۵۷۰ |
| ۴۳۴. | زکوٰة پر کم مال واجب ګرځي: | ۵۷۰ |
| ۴۳۵. | پر زکوٰة نه ور کولو باندې وعيد : | ۵۷۱ |
| | ﴿په دنيا کې زُهد کول﴾ | |
| ۴۳٦. | د دنيا راحت پر دين موقوفه دئ: | ۵۷۵ |
| ۴۳۷. | د زُهد حقيقت: | ۵۷٦ |
| ۴۳۸. | د ګناهو بنياد د دنيا محبت دئ: | ۵۷٦ |
| ۴۳۹. | ما به ابوبکر ﷺ خپل محبوب جوړ کړی وای: | ۵۷۷ |
| ۴۴۰. | په زړه کې يو محبت راتلل: | ۵۷۸ |
| ۴۴۱. | په دنيا کې يم خو د دنيا طلب نه کوم: | ۵۷۹ |
| ۴۴۲. | د دنيا مثال: | ۵۸۰ |
| ۴۴۳. | دوه محبته نسې جمع کېدای: | ۵۸۱ |
| ۴۴۴. | د دنيا ژوند دوکه ده: | ۵۸۱ |
| ۴۴۵. | د شيخ فريد الدين عطار رحمة الله عليه واقعه: | ۵۸۱ |
| ۴۴٦. | د حضرت ابراهيم بن ادهم رحمة الله عليه واقعه: | ۵۸۴ |
| ۴۴۷. | د دې واقعې څخه سبق اخيستل: | ۵۸۴ |
| ۴۴۸. | دنيا ذليله راځي: | ۵۸۵ |
| ۴۴۹. | د بحرين څخه مال راتلل: | ۵۸٦ |
| ۴۵۰. | پر تاسو د فقر په سبب انديښنه نه کوم: | ۵۸۷ |
| ۴۵۱. | دنيا د غوماشې د وزر قدر نه لري: | ۵۸۸ |
| ۴۵۲. | د دنيا هيڅ حيثيت نسته: | ۵۸۹ |
| ۴۵۳. | دنيا د صحابه کرامو ﷺ پښو ته راغله: | ۵۸۹ |
| ۴۵۴. | د حضرت ابو عبيده بن جراح ﷺ حالت: | ۵۹۰ |

| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۵۵. | د حضرت ابو عبيده بن جراح كور: | ۵۹۱ |
| ۴۵۶. | د فاروق اعظم او ښكي تويول: | ۵۹۲ |
| ۴۵۷. | يوه ورځ مرګ راځي: | ۵۹۳ |
| ۴۵۸. | دنيا دوكه ده: | ۵۹۴ |
| ۴۵۹. | زُهد به انسان څنګه پيدا كوي: | ۵۹۴ |
| | **﴿د مال او دنيا هيثيت﴾** | |
| ۴۶۰. | تمهيد: | ۵۹۷ |
| ۴۶۱. | يوه غلط فهمي: | ۵۹۷ |
| ۴۶۲. | په قرآن كريم او احاديثو كي د دنيا مذمت: | ۵۹۸ |
| ۴۶۳. | د دنيا فضيلت او ښه والى: | ۵۹۹ |
| ۴۶۴. | د آخرت د پاره د دنيا د پرېښو لو ضرورت نسته: | ۶۰۰ |
| ۴۶۵. | دنيا د آخرت د پاره يوه ځينه ده: | ۶۰۱ |
| ۴۶۶. | دنيا دين جوړېدلاى سي: | ۶۰۲ |
| ۴۶۷. | قارون ته نصيحت: | ۶۰۲ |
| ۴۶۸. | آيا انسان به ټول مال صدقه كوي؟ | ۶۰۳ |
| ۴۶۹. | په مځكه كي د فساد سبب: | ۶۰۴ |
| ۴۷۰. | مال او دولت عين دين دئ: | ۶۰۶ |
| ۴۷۱. | د صحابه كرامو ﷺ مال او دولت: | ۶۰۶ |
| ۴۷۲. | د غزوه احد په واقعه باندي يوه شبهه او د هغې جواب: | ۶۰۶ |
| ۴۷۳. | طلب د دنيا دوه قسمه دئ: | ۶۰۸ |
| ۴۷۴. | د علامه جامي او خواجه عبيدالله احرار واقعه: | ۶۰۹ |
| ۴۷۵. | مال او دولت د الله ﷻ د خزانې څخه وي: | ۶۱۱ |
| ۴۷۶. | د دنيا څخه د دين جوړولو طريقه: | ۶۱۲ |

# سریزه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ خَيْرِ الْهُدٰى وَعَلٰى آلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ نُجُوْمُ الْاِقْتِدٰى.

امابعد: بنده ناچیز د ډیري زماني څخه د جمعې د لمانځه د امامت کولو او د هغه څخه مخکي د تقریر کولو مصروفیت او شغل لرم.

چي غالبًا اوس يې پنځلس کاله پوره سول، چونکه په اصل کي د بنده سره د تقریر کولو استعداد ډېر کم وو، نو د مجبورۍ په وجه به په هره کتب خانه کي د خپلو استاذانو او د بعضو نورو بزرگانو علماؤ لیکل سوي او چاپ سوي د تقریر کتابونه چي په عامه توگه هغه د خطباتو په نامه باندي شائع کېدل د هغه کتابو طلب او لټون مي پیل کړ.

د هغه طلب او لټون په نتیجه کي دا رنګه یوه لویه ذخیره را سره جمع سوه، بیا به مي د هري جمعې د تقریر دپاره د موضوع انتخاب کوئ او د هغه موضوع په طبق به مي په کتابو کي مواد د قرآني آیاتو، احادیثو، واقعاتو او امثالو په بڼه را جمعه کول.

دغه مواد و ته به مي ترتیب ور کوئ او د تقریر په شکل به مي د جمعې د لمانځه څخه مخکي عمومًا د یوه ساعت وخت په دوران کي د خلکو ومخ ته وړاندي کوئ.

چونکه په تقریر کي به ګله د بنده د ډېر تتبع په خاطر ډېر بهترین او کافي مواد د احادیثو، او حکایاتو، د بعضو بزرگانو د حالاتو په شکل کي را جمعه کېدل، نو سامعینو حضراتو به په شوق سره اورېدل او په عامه توګه هغه ته ډېر زیات متوجه کېدل.

په دې دوران کي د بعضو علماؤ او طلباء چي د بنده د اندیوالانو یا شاګردانو په کتار کي وه او په جُمعه کي به شریکېدله د هغو له طرفه پر دې خبره زیات اصرار وو چي دا مواد باید را جمعه سوي وای ممکنه ده چي د دې څخه یو چا فائده اخستې وای.

خدای سته زما هم دې طرفته څه میلان وو، لیکن د بیمارۍ په خاطر ما دې طرفته هیڅ قدم نه سو پورته کولای.
آخر زما یو ملګري امیر محمد د دې تقریرو په ډېر اهتمام سره په ټیپ ریکارډ کي محفوظ کول شروع کړه، چي په هغه وخت کي د هغه سره زیات تقریرونه په ټیپ ریکارډ کي محفوظ سوه بیا د بنده څه شاګردانو لکه: مفتي عبدالمنان صاحب، ملا محمد سلیم او ملا نقیب الله آخند د ټیپ ریکارډ څخه پر بیاض را نقل کړل، چي کله د کمپوز وخت راغلئ په منځ کي یې څه تعطیلات راغلل، خو د هغه تعطیلاتو باوجود کار تر کمپوز ووتئ، په آخره مرحله کي دي الله ﷻ و قاري خلیل الرحمن صاحب عرف (مسلم اغا) ته جزاء خیر ور کړي چي هغه د ترتیب او تزئین آخره مرحله په ډېر اخلاص سره سرته ورسول.
د دې کتاب د مطالعې په وخت کي باید دا خبره د مطالعه کونکو په ذهن کي پرته وي چي دا څه با قاعده تصنیف نه دئ بلکه د لیکل سوو تقریرو یوه خلاصه ده، چي د کیسټو (فیتو) څخه را اخستل سوې ده.
نو په هم دغه وجه په اول او دوهم چاپ کي د حوالو او تخریج څه خاص اهتمام نه وو الله ﷻ دي جزاء خیر ور کړي ذکي فاضل مفتي حافظ کلیم الله صاحب چي هغه د تخریج محنت ور باندي وکړئ او یو څه یې د خطبو اضافه هم ور سره وکړه. او دریم ځل یې چاپ ته تیار کړئ.
نو د دې کتاب طریقه تحریري نه ده بلکه تقریري او خطابي ده، که چیري یو مسلمان د دې څخه فائده واخلي دا محض د الله ﷻ کرم او مهرباني ده چي پر دې باندي به زه بنده د الله ﷻ شکر ادا کوم.
او که یو خبره په دې تقریرو کي غیر محتاطه او غیره مفیده وي نو یقینا دا به زما د غلطۍ او کوتاهۍ په وجه وي، ځکه زه په دې خبره اقرار کوم چي په ما کي ډېري کمزورياني دي، شاید هغه کمزورياني به په دې تقریرو کي هم راغلي وي.
لیکن بیا هم زه د احبابو علماء کرامو او طلباء عظامو څخه درد مندانه خواهش کوم چي یوه قاعده ده: ﴿مَا لَا يُدْرَكُ كُلُّهُ لَا يُتْرَكُ كُلُّهُ﴾.

کېدلای سي چې په دې موادو کې ستاسو په کار یو شی درسي نو تاسو په خیر او خوبي په دې کې نظر وکړئ، او د کمزوریانو څخه یې خپل نظر را وګرځوئ. ﴿وَالْعَفْوُ عِنْدَ كِرَامِ النَّاسِ مَأْمُوْلٌ﴾ لېکن الحمد لله دا ویلای سم چې د دې تقریرو مقصد صرف تقریر برای تقریر نه دئ بلکه د دې مقصد د ټولو څخه مخکې خپل ځان او بیا سامعین د خپل نفس و اصلاح ته متوجه کول دي.

لکه: استاد محترم فرمایلي دي:

نه به حرف ساخته سر خوشم ....... نه به نقش بسته مشوشم

نفس بیاد تو میزنم ........... چه عبارت وچه معانیم

الله ﷻ دي په خپل فضل او کرم سره دا یو څو مختصر تقریرونه خپله زما بنده او د ټولو ویونکو دپاره د اصلاح ذریعه وګرځوي، او زموږ د ټولو دپاره دي الله ﷻ د آخرت ذخیره جوړه کړي، او چې کومو کسانو د دې تقریرو په برابرولو کې هر قسم خدمت کړی دئ، الله ﷻ دي دوی ته د خپل خدمت بهترینه صله او بدله ور کړي.

﴿وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ﴾

آمین یا رب العالمین

و صلی الله علی خیر خلقه محمد و آله و صحبه اجمعین

اطیع الله عفي عنه

بن حاجي ملا عبد العزیز (مرحوم)

استاد جامعه اسلامیه (علامه تاون) چمن

ربیع الثاني ۱۴۳۷ هجري بمطابق ۲۰۱٦

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د استقامت بیان

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صـاحب |
| مـقــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | خلـــــــــورم |
| تـاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

قال الله تبارک وتعالٰی: ﴿إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ (۳۰) نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ﴾(۱).

وقال رسول اللهﷺ: «إِنَّ الدِّينَ النَّصِيحَةُ، إِنَّ الدِّينَ النَّصِيحَةُ، إِنَّ الدِّينَ النَّصِيحَةُ» قَالُوا: لِمَنْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ قَالَ: «لِلّٰهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ، وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ»(۲).

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمِ، وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو سامعینو! الله تعالٰی انسان ته په دنیا کې زندګي ور کړې ده او انسان د دنیا په زندګۍ کې په دې امر سوی دئ، چې دی به دا خپل ژوند د سنت او شریعت موافق تېروي.

انسان چې کله د شریعت او سنت پر لار باندې خپل ژوند روان کړي، نو عموماً د انسان و مخته ډېر قسمه موانع او رکاوټونه راځي.

د ټولو څخه مخکې د انسان خپل نفس د انسان و مخته مانع جوړسي، د انسان نفس دا غواړي چې زما دې هر خواهش پوره وي.

---

(۱)حٰم سجده آیت ۳۰

(۲)رواه النسائي حدیث نمبر: ۴۱۹۲

لکه يو ماشوم بچی چي د هر خواهش پوره کېدل غواړي، دارنګه د انسان نفس هم په هر کار کي خپلي ټولي تمناوي پر ځای کول غواړي.

د پيغمبر ﷺ حديث مبارک دئ: ﴿أَنْ أَعْدَى عَدُوِّكَ نَفْسُكَ الَّتِي بَيْنَ جَنْبَيْكَ وَقَدْ خُلِقَتْ أَمَّارَةً بِالسُّوءِ مَيَّالَةً إِلَى الشَّرِّ فَرَّارَةً مِنَ الْخَيْرِ﴾[1].

د انسان د ټولو څخه لوی دښمن د انسان نفس دئ، چي هغه د خير څخه تښتېدونکی او د شر و طرفته ميلان کونکی او په ګناه امر کونکی دئ.

د نفس کار د انسان په دماغ کي د ګناه فکرونه او وسوسې پيدا کول دي.

دوهم مانع او رکاوټ د شيطان د طرفه څخه وي، هغه هم انسان د نېکی د لاري څخه اړونکی او د ګناه پر لار د برابرولو کوشش کوي.

او د شيطان کار دا دئ چي ګناه په ډېر ښائسته شکل انسان ته پېشوي، چنانچه د رشوت اخيستلو والا په زړه کي دا خبره ور اچوي، چي آخر د بچيانو نفقه خو فرض ده، که رشوت وا نه خلې، نو څنګه به يې پوره کوې، ګويا هغه د انسان و مخته ګناه په ډېر سپک شکل پېشوي.

انسان درواغ وايي مګر شيطان د انسان په ذهن کي دا ور اچوي چي تا خو "مصلحتًا" درواغ وويل. د دغه انسان د "مصلحتًا" درواغ ويلو څخه درواغ ويل عادت سي.

تر دې حده پوري چي يو وخت داسي راسي، چي د دې بنده نوم الله تعالی د درواغجنو په دفتر کي وليکي، نو د شيطان هر مکر د هغه موقع سره مناسب او برابروي.

امام غزالي رحمه الله عليه فرمايي: شيطان يو داسي دښمن دئ، چي نه خو رشوت قبلوي او نه سفارش قبلوي، داسي هيڅکله نسي کېدای چي يو سړی په رشوت ورکولو د شيطانه څخه ځان خلاص کړي. او شيطان انسان ته ډېر قريب دئ.

[1] احياء العلوم باب المقام الاول من المرابطه ص ۴۱٦

ځکه پيغمبر ﷺ فرمايي: ﴿إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِيْ مِن ابْنِ آدَمَ مَجْرَى الدَّمِ﴾(١)
چې شيطان د انسان په بدن کې د ويني پر ځای چليږي.
دريم مانع او رکاوټ د انسانانو د طرفه وي، کله کله قريبان د دين په لار کې انسان ته مانع او رکاوټ جوړيږي او کله د خپلې کورنۍ انسانان د انسان په مخ کې د دين کولو څخه مانع وي. ډېر نوجوانان داسې دي چې وايي: مور به د سنتو مطابق خپله چهره جوړوو، مګر د هغه زنانه د هغه و مخته مانع وي.
ډېر ځله مور او پلار دا نه غواړي چې په کور کې دي "ټي وي" او "وي سي آر وي" ليکن بچيان يې مجبوره کوي.
دا انسان ګويا په ظاهر انسان ته ډېر قريب وي، د انسان د زړه ټکړه وي او د انسان د سترګو يخوالی وي، ليکن په حقيقت کې د انسانه سره دښمني کوي؛ ځکه د شريعت په خلاف پر يو عمل باندې انسان اماده کوي.
ځکه پيغمبر ﷺ وايي: ﴿إِنَّ الْوَلَدَ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ﴾(٢)
يعني اولاد انسان و بُخل او بزدلۍ ته مجبوره کوي.
د دې درو موانعو او رکاوټو مقابله کول او د دې په مقابل کې پر شريعت باندې کلک درېدل، دې ته استقامت او مجاهده وايي. او دا استقامت او مجاهده د مؤمن څخه په ټوله زندګۍ کې کېدل غواړي.

## د استقامت معنی:

پر يو خبره باندې کلک درېدل او پر يو خبره باندې ځان ټينګول دې ته وايي استقامت. د الله رب العزت استقامت ډېر خوښ دئ.
استقامت دا دئ چې کله يو انسان د يو عمله څخه توبه وکاږي بيا پر هغه باندې خپل ځان دائمي وچلوي. مثلا يو سړي دا اراده وکړي، چې زه به د دې څخه بعد

(١)جامع الاصول حديث ١٢٨
(٢)الجامع الصغير حديث ١٩٨٩

درواغ نه وایم، اوس به دا سړی هر مصلحت یو طرفته کوي او پر درواغو نه ویلو به ځان کلک دروي.

شیطان به دا وایي چې مصلحت دئ، نو ته درواغ ووایه! او په دې کې به دا فائده وي، لیکن چې کله الله تعالی دا وعده کړې ده: ﴿إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ، وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ، وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ﴾(۱).

یعنې رشتیا ویل نیکي ده او نیکي انسان جنت ته رسوي، او درواغ ویل بدي ده او بدي انسان جهنم ته رسوي.

نو د الله په دې وعده عمل کول او پر رشتیا ویلو کلک دریدل دې ته ویل کیږي استقامت.

نو استقامت په ژوند کې انسان د لویو مشکلاتو څخه خلاصوي او د کامیابیو سره یې مخامخ کوي.

## د درختې سره عجیبه مکالمه:

یو ځل حضرت سري سقطي رحمة الله علیه په یو لاره کې روان دئ، د غرمې وخت راغلي، نو ده ته خوب ورغلئ د قیلولې په نیت باندې تر یو درختې لاندې بیده سو. دیبدیدو څخه څه زمانه وروسته چې یې سترګې را رونې کړې، نو په غوږ کې یې یو آواز راځي.

دی چې زیات ورته متوجه سو، نو دا ور معلومه سوه چې آواز د دغه درختې څخه را وځي، چې تر کومه درخته لاندې دی بیده دئ.

الله تعالی چې کله وغواړي، نو د اولیاؤ د کرامت په خاطر داسې واقعات ښکاره کوي.

---

(۱) جامع الاصول حدیث ۴٦۴۱

هغه درخته و ده ته وایي: ﴿یَا سِرِيُّ كُنْ مِثْلِيْ﴾ ای سري! زما غوندي سه! ده چي کله دا آواز واورېدئ، نو حیران سو. او دا معلومات ورته وسو چي دا آواز خو د درختي څخه را وځي.

نو ده د درختي څخه دستي پوښتنه و کړه:

- ﴿کَیْفَ اَکُوْنُ مِثْلَکَ﴾ څنګه ستا غوندي سم؟
- هغه درخته په جواب کي ورته وایي: ﴿اِنَّ الَّذِیْنَ یَرْمُوْنَنِيْ بِالْاَحْجَارِ فَاَرْمِیْهِمْ بِالْاَثْمَارِ﴾ چي کم خلک ما په کاڼو ولي، نو زه پر هغوی باندي مېوې را تویوم. په دې وجه در ته وایم چي ته زما غوندي جوړ سه!

حضرت سري سقطي رحمة الله علیه چي کله دا خبره واورېدل، نو نور هم ډېر حیران سو، مګر د الله جل جلاله و نیکو بندګانو ته یو قسم فراست ور کول سوی وي، نو د ده په دماغ کي دستي دا خیال راغلئ، کچیري دا درخته دومره ښه وي، چي د خلګو د کاڼي جواب په مېوه سره ور کوي، نو بیا ولي الله رب العزت درخته د اور خوراک جوړوي.

نو ځکه حضرت سري سقطي رحمة الله علیه پوښتنه ځني و کړه:

- چي کله ته دومره نېک عمله یې، ﴿فَکَیْفَ مَصِیْرُکَ اِلَی النَّارِ﴾ نو دا راته ووایه چي آخر انجام دي ولي په اور باندي سوځل دي؟
- هغه درخته په جواب کي ورته وایي: ای سري! په ما کي ډېر ښه صفات دي، مګر د هغه صفاتو سره په ما کي یوه لویه خامي ده، چي هغه خامی زما پر دې ټولو ښو صفاتو باندي اوبه تیري کړي دي. زما هغه خامي د الله جل جلاله ډېره ناخوښه ده، نو ځکه الله تعالی زه د اور خوراک جوړه کړې یم.

د حضرت سري سقطي پر پوښتنه هغه درخته خپله خامي دا رنګه بیانوي: زما خامي دا ده: ﴿فَاَمَلَيْتُ بِالْهَوَا هَكَذَا وَ هَكَذَا﴾ چي د کمي خوا هوا راغله زه د هغې سره کړېږم. يعني په ما کي د استقامت صفت نسته.(١)

## نبي اکرمﷺ ته د استقامت حکم:

چنانچه د الله تعالٰی قرآني فیصله ده: ﴿إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ﴾(٢).

چي کم خلګ دا وايي چي زموږ رب الله جل جلاله دئ بيا پر دې خپله خبره کلک ودرېږي، نو الله تعالٰی به د مرګ په وخت کي دوی ته ملائکي را استوي، هغه به دوی د غم او بيري څخه ساتي او د جنت زيری به ور کوي.

دغه رنګه الله تعالٰی خپل محبوب حضرت محمد مصطفٰیﷺ ته د استقامت ښوونه کړې ده او ور ته فرمايلي يې دي:

﴿فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ﴾(٣).

ته پر دې خبره کلک ودرېږه چي د کمي خبري الله تعالٰی تا ته حکم کړی دئ او خپل مؤمنان هم پر دې خبره کلک ودروه!

## قرآن او عزت:

چي کم بنده په استقامت سره د الله تعالٰی په حکمونو باندي د عمل کولو په خاطر کلک ودرېږي، نو الله تعالٰی د ده پشت باني او مدد کوي.

---

(١) خطبات فقیر ج ٨ ص ١٨۴

(٢) حٰم سجده آیت ٣٠

(٣) الهود آیت ١١٢

قرآن عظیم الشان زموږ د عزت او غلبې دپاره دنیا ته را استول سوی دئ، چي کم سړی پر قرآن مجید عمل کوي، هغه به عزت پیدا کوي او چي کم جماعت پر قرآن کریم باندي استقامت کوي، هغه به د عزتونو سره مخامخ کیږي.

## صحابه کرام رضي الله عنهم او اسباب:

صحابه کرامو رضي الله عنهم سره به د اسبابو په لحاظ ډېر معمولي څه وو، مګر ډېره د تعجب خبره دا وه چي هغه به د دښمن سره د مقابلې کولو دپاره تیار وو.

## د صحابه کرامو رضي الله عنهم لوی امتحان:

پر صحابه کرامو باندي لوی امتحان د "بدر غزا" په شکل راغلئ، د بدر په میدان کي درې سوه دیارلس (۳۱۳) صحابه کرام د (۱۰۰۰) کسانو په مقابله کي دریږي، حالانکي چي کله د "مدینې منورې" څخه را روانیږي صرف اراده یې دا ده چي د قریشو قافله به راګرځوي. الله تعالیٰ عالم الغیب و الشهادة دئ، مګر دا نه ورته وایي چي ای زما نبي! د "ابو جهل" سره مقابله ده او د لوی لښکر سره مقابله ده، ته تیاري وکړه بیا ورسه!

صرف درې سوه دیارلس (۳۱۳) صحابه کرام رضي الله عنهم دي، د هغوی سره یو څو دانې توري دي د چا لرګي په لاس کي او د چا کاڼي په لاس کي چي د "بدر میدان" ته را ورسېدل، نو که ګوري مخته "ابوجهل" ودرېدئ او د هغه سره زر (۱۰۰۰) کسان مسلح دي. چي په هغه کي درې سوه (۳۰۰) کسان پر آسانو سپاره دي او د اووسوو (۷۰۰) کسانو سره توري ورسره دي او د نورو سره نېزې دي.

د دوی په مقابله د پیغمبر ﷺ لښکر ودرېدئ، چي هغه په ذهني طور د جنګ په نیت نه دي راوتلي او په ذهني طور جنګ ته تیار هم نه دي.

او د دوی په لښکر کي صرف اته دانې (۸) توري دي.

او دوه (۲) کسان پر آسانو سپاره دي.

او شپيته (٦٠) داني اوښان ور سره دي.
نو په دې وخت کې د اتو (٨) تورو مقابله د اوو سوو (٧٠٠) تورو سره راځي.
او د دوو (٢) آسونو مقابله د درو سوو (٣٠٠) آسانو سره راځي.
صحابه کرام حيران دي، نه د جنګ کولو همت سته او نه د پيغمبر ﷺ د حکمه ځخه د پرشا کېدلو همت سته.
او په دې وخت کې د دوی د ايمان امتحان دئ، يو طرفته خپله زنانه او بچي په نظر راځي او بل طرفته د الله ﷻ نبي په نظر راځي، يو طرفته پر خپل کور باندې نظر دئ او بل طرفته د الله تعالی پر امر باندې نظر دئ.
پيغمبر ﷺ د صحابه کرامو ﷺ ځخه مشوره اخلي چې ای صحابه وو! موږ خو په دې نه وو خبر چې د دومره لوی لښکر سره به مقابله راځي. نو اوس خو لښکر ته مخامخ ودرېدو ستاسو څه رايه ده، ايا مقابله کوو که پرشا ځو؟
پيغمبر ﷺ دا خپله خبره دوه درې ځله مکرره کړه.

## د مهاجرو د طرفه اطمنان:

په مهاجرو کې مقداد بن اسود ﷺ ولاړ سو او ورته وايي: ای د الله رسوله! ستا پر موږ باندې د بني اسرائيلو خيال دئ، چې د سختۍ ځای به راغلئ، نو دوی به موسی علیه السلام ته ويل: ﴿اِذْهَبْ اَنْتَ وَ رَبُّكَ فَقَاتِلَا اِنَّا هٰهُنَا قَاعِدُوْن﴾ تا وستا رب ورسئ مقابله وکړئ، موږ به دلته درته ناست يو.
بلکې موږ تا ته دا وايو ﴿اِذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا اِنَّا مَعَكُمَا مُقَاتِلُوْن﴾ ای د الله رسوله! ته درځه موږ به ستا مخته او ستا شاته، او ستا راسته او چپه طرفته ځو.
په خدای قسم چې پر کم ځای باندې ستا خوله تويېږي، پر هغه ځای به زموږ د وينو ولې وبهيږي.
چې کله د مهاجرو د طرفه تسلي راغله، نو د پيغمبر ﷺ مخ مبارک د خوشحالۍ ځخه سور والی ښکاره کړئ.

د انصارو د رأيي معلوملو دپاره دوه درې ځله بیا وایي: ستاسو څه رایه ده؟

## د انصارو رایه پېشول:

نو په انصارو کي سعد بن معاذ ﷛ ولاړ سو، ورته وایي: ای د الله رسوله! چي ته زموږ د رأیي امتحان اخلې، نو ﴿سَالِمِ مَنْ شِئْتَ﴾ چي د چا سره صلح کوې، زموږ اختیار ستا دئ ﴿اَقْطَعْ حِبَالَ مَنْ شِئْتَ﴾ چي د چا سره یې ختموې، هم زموږ اختیار ستا دئ، ﴿حَارِبْ مَنْ شِئْتَ﴾ چي د چا سره جنګېږې، هم زموږ اختیار ستا دئ.

﴿آمَنَّا بِکَ وَصَدَّقْنَاکَ﴾ موږ پر تا ایمان راوړئ دئ او ستا د اسماني خبرو تصدیق مو کړی دئ.

﴿وَاللهِ لَوْ أَمَرْتَنَا أَنْ نُخِيضَهَا الْبَحْرَ لَأَخَضْنَاهَا وَ لَمْ يَتَخَلَّفْ عَنَّا رَجُلٌ وَاحِدٌ﴾ په خدای قسم که ته موږ ته دا ووایې چي خپل آسان په دریابو نو ګډ کړئ موږ به یو هم انکار و نه کړو.

او که ته دا راته ووایې چي په اورو باندي ور ګډ سی، هم به انکار و نه کو.

او که ته راته وایې چي پر شاه ځی، نو تر "یمن" پوري به خپلي سوارلیاني پر شاه وځغلوو.

نو ای د الله رسوله! پر تا باندي مو مرګ قبول دئ، لیکن د جنګ څخه تېښته مو پر تا نه دي منظور.

چي کله د انصارو تسلي هم راغله، نو پیغمبر ﷺ صحابه کرامو ته وایي: اوس جنګ ته درمخته سئ! ستاسو دپاره دا خوشخبري ده چي الله تعالی موږ ته فتح را کوي او د الله تعالی زموږ سره دا وعده ده.

## صفونه او د سواد ابن غزیه ﷛ واقعه:

د جنګ شروع کېدو څخه مخکي پیغمبر ﷺ د یو نېزې په ذریعه سره د صحابه کرامو ﷡ صفونه سیده کوي، حضرت سواد ابن غزیه ﷛ د صفه څخه یو څه

وتلی دئ، نو پیغمبر ﷺ يې په نېزه سره مسح کوي او ورته وايي: ای سواده! د صفه څخه مه وزه، په صف کي سیده ودرېږه!

سواد په جواب کي ورته وايي:

- ای د الله رسوله! ما ته دي په دې نېزه باندي تکلیف راکړئ، الله تعالی خو ته په حقه او په انصاف سره راستولی يې، نو ما ته خپله بدله را که.
- پیغمبر ﷺ فوراً خپل قمیص مبارک د خپل بدنه څخه لیري کړئ او ورته وايي: راسه خپله بدله واخله!

حضرت سواد ؓ را وړاندي سو، خپل بدن يې د پیغمبر ﷺ پر بدن پوري و مونښئ، د پیغمبر ﷺ سینه مبارکه يې مچ کړه او پر شاه ولاړئ.

پیغمبر ﷺ ورته وايي:

- ای سواده! داسي دي ولي وکړه؟
- سواد په جواب کي ورته وايي: ای د الله رسوله! جنګ مخامخ دئ او دا مي د ژوندګی آخرنی شېبې دي، زړه مي دا غوښتل چي په دې وخت کي مي يو ځل بدن ستا د بدن مبارک سره و مونښلي.

پیغمبر ﷺ چي دا واورېدل، نو حضرت سواد ته يې دعا وکړه(۱).

## د پیغمبر ﷺ بدن مسح کول:

په يو روایت کي راځي چي د کم مسلمان جسم د نبي اکرم ﷺ د جسم مبارک سره و مونښلي، نو هغه جسم بیا اور نه سوځي.

په يو بل روایت کي داسي هم راځي چي کم شی د پیغمبر ﷺ د بدنه سره ولګېدئ، نو هغه بیا د جهنم اور نه سوځي.

(۱) تاریخ الطبري الباب ذکر وقعة بدر الکبری جزء ۲ صفحه ۴۴۶.

**د جنګ ابتداء:**

چې کله صفونه سره رانږدې کیږي، نو یو طرفته "ابو جهل" دئ، هغه خپل صفونه برابر کړه او بل طرفته پیغمبر ﷺ خپل صفونه سموي، په دې وخت کې د مشرکانو د لښکره څخه درې کسان مصلح پر آسانو باندې را وځي.

١. عتبه ابن ربیعه.
٢. شیبه ابن ربیعه.
٣. ولید ابن عتبه.

چې دوه ورونه دي او یو د عتبه زوی دئ. دوی درې سره د تورو سره راغلل او په میدان کې ودرېدل.

د مسلمانانو د لښکره څخه هم درې کسان را وځي.

١. حضرت عوف ﷜.
٢. حضرت معاذ ﷜.
٣. حضرت معوذ ﷜.

دادرې سره ورونه دي او د دوی د مور نوم "عفراء" وه.

او دواړه صفونه په میدان جنګ کې د دې خپلو شاه سوارانو ننداره کوي.

عبته په میدان جنګ کې پوښتنه څني کوي:

﴿مَنْ اَنْتُمْ﴾.

- تاسو څوک یاست؟
- نو هغه درې ورونه په جواب کې ورته وايي: ﴿رَهْطٌ مِّنَ الْأَنْصَارِ﴾ موږ انصار یو.
- عتبه ورته وايي: ﴿مَالَنَا بِكُمْ مِّنْ حَاجَةٍ﴾ زموږ ستاسو سره خبره نه ده او نه موږ ستاسو سره جنګیږو، تاسو بیرته پر شاه ولاړ سی.

بیا عتبه نعرې کړې، یا محمد ﴿اَخْرِجْ اِلَيْنَا اَكْفَاءَنَا مِنْ قَوْمِنَا﴾ ای محمده! زموږ د خپل قوم خلک مقابلې ته را واستوه!

پیغمبر ﷺ انصارو صحابه کرامو ته وایي: تاسو واپس صف ته راسئ! او د دوی یې تعریف و کړئ او دوی ته یې شاباښی ور کړئ.

پیغمبر ﷺ راغلئ د صف و مخته آواز کوي.

ای عبیده! را ووځه!

حمزه ته هم را ووځه!

علي ته هم را ووځه!

دا دري سره مبارکان مصلح نقاب پوش میدانِ جنګ ته د صفو څخه را ووتل او په میدان جنګ کي د "عتبه" و مخته ودرېدل.

عتبه پوښتنه ځني کوي:

- تاسو څوک یاست؟
- عبیده ورته وایي: زه عبیده یم، حضرت حمزه ﷺ ورته وایي زه حمزه یم او حضرت علي ﷺ ورته وایي زه علي یم.

عتبه ورته وایي: ﴿لِعَمَ أكفَاءٌ كِرَامٌ﴾ یقینًا تاسو زموږ بهترینه جوړه یاست.

حضرت عبیده ابن حارث ﷺ دا د زیات عمر وو او بوډا وو، د ده مقابله د "عتبه ابن ربیعه" سره شروع سوه.

حضرت حمزه ﷺ "شیبه" ته د وار کولو موقعه ور نه کړه او د توري په اول وار سره یې د هغه کار ور تمام کړئ.

دارنګه حضرت علي ﷺ په اول وار سره د "ولید" کار ور خلاص کړئ.

البته د عبیده ﷺ او د "عتبه" په مابین کي د توري وارونه شروع دي، تر دې حده پوري چي دواړه زخمیان سوه. او حضرت "حمزه" او حضرت "علي" چي د خپلو مقابلینو څخه فارغ سو، نو دواړه راغله د "عتبه" کار یې ور تمام کړئ او زخمي "عبیده" یې را واخیستئ او په صفونو کي یې د پیغمبر ﷺ و مخته کښېښوئ(۱).

---

(۱) تاریخ الطبري الباب ذکر وقعه بدر الکبری.

**د حضرت عبیده ﷺ شهادت:**

حضرت ابوعبیده پیغمبر ﷺ ته وایي:

- ﴿أَلَسْتُ شَهِيدًا﴾ آیا زه به نه شهید کېږم؟
- پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وایي: ﴿بَلٰى أَنَا عَلٰى ذَالِكَ شَهِيدٌ﴾ هو زه پر دې ګواه یم، چي الله تعالی به تا ته شهادت در کوي.

بیا د "صفراء" پر مقام باندي حضرت ابوعبیده شهید سو او هلته یې دفن کړئ(۱).

**د عبیده ابن سعید بن عاص میدان ته راوتل:**

د دې څخه وروسته د قریشو د صفونو څخه "عبیده ابن سعید بن عاص" د قریشو پهلوان په اوسپنه کي پیچلی چي صرف د هغه سترګي ښکاره وې، میدانِ جنګ ته را ووتئ او اعلان یې وکړئ، چي زما مقابل دې را وړاندې سي!

حضرت زبیر ﷺ چي د ټوله لښکر پر میمنه باندي جنډه په لاس کي ولاړ وو، نو هغه خپله جنډه په مځکه کي ښخه کړه او په ډېره تېزي سره میدان جنګ ته را ووتئ.

حضرت زبیر ﷺ چي کله "حبشې" ته هجرت کړی وو، نو د حبشو دا فن وو چي د لیري څخه به یې په برچه باندي وار کوئ.

حضرت زبیر ﷺ دا فن په "حبشه" کي زده کړی وو، نو د لیري څخه یې د برچې واری پر عبیده ابن سعید بن عاص باندي وکړئ، چي هغه برچه سیده ورغله او د هغه په دې سترګه کي ولګېده او د سر تر کوپړی یې ووته، هغه غوځار سو او صحابه کرامو ﷺ په لوړ آواز د الله اکبر نعره وکړه.

او دا اول ځل وو چي صحابه کرامو ﷺ په چیغه سره د الله اکبر نعره بلنده کړه.

---

(۱) تاریخ الطبري الباب ذکر وقعه بدر الکبری.

حضرت زبیر ﷺ په منډه ورغلی، د هغه پر سینه باندي کښېنستئ او هغه برچه یې را کش کړه، چي د هغه د سره څخه یې را کښله نو هغه برچه کړه سوه او صف ته یې را وړله.

پیغمبر ﷺ هغه برچه د حضرت زبیر ﷺ څخه وغوښتله چي دا ما ته په هدیه کي راکه.

د پیغمبر ﷺ څخه وروسته هغه برچه د "خلفاء راشدینو" سره را منتقله کېدله او تر ډېره وخته هغه برچه د خلفاء راشدینو سره موجوده وه.

د دې څخه وروسته "ابوجهل" د عامي حملې حکم وکئ او جنګ سره ګډ سو.

پیغمبر ﷺ دوه رکعته لمونځ وکړئ، او پر سجده پرېوتئ او دا دعاء یې شروع کړه:

﴿اللهُمَّ أَنجِز لِي مَا وَعَدْتَنِي، اللهُمَّ آتِ مَا وَعَدْتَنِي، اللهُمَّ إِنْ تُهْلِكْ هَذِهِ الْعِصَابَةَ مِنْ أَهْلِ الْإِسْلَامِ لَا تُعْبَدْ فِي الْأَرْضِ﴾(۱)

ای الله! تا زما سره وعده کړې ده، ته خپله وعده پوره که! کچیري د مسلمانانو دا جماعت هلاک سي، نو بیا به پر مځکه ستا عبادت نه وي.

دومره لویه ګواهي د دې درې سوه دیارلس (۳۱۳) صحابه وو څخه ماسوا د بل هیڅ چا د پاره نه ده راغلې.

پیغمبر ﷺ په دعا کي تر ډېره پوري لاسونه غوړولي دي او بار بار دا وایي: یا الله! که دا جماعت هلاک سي، نو بیا به پر مځکه ستا عبادت څوک کوي؟

په دغه حالت کي د پیغمبر ﷺ د وږو مبارکو څخه پټو ایله سو او حضرت ابو بکر ﷺ د میدان جنګه څخه را ووتئ او د ده پټو مبارک یې بیرته پر وږو ور واچوئ.

(۱) صحیح مسلم حدیث نمبر: ۵۸

د بخاري شریف روایت دئ، چي حضرت ابوبکر ﷺ تر لاس ونیوئ او دا یې ورته ویل: ﴿حَسْبُكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَدْ أَلْحَحْتَ عَلَى رَبِّكَ وَهُوَ فِي الدِّرْعِ﴾(۱).

بس دئ ای نبي! د الله و دربار ته دي ډېره ژړا او زاري وکړې.

او د ترمذي شریف روایت دئ چي ابو بکر ﷺ ورته وایي: ﴿يَا نَبِيَّ اللَّهِ كَفَاكَ مُنَاشَدَتُكَ رَبَّكَ، إِنَّهُ سَيُنْجِزُ لَكَ مَا وَعَدَكَ﴾(۲).

ای پیغمبره ﷺ! خپل رب ته دي کافي ژړا وکړه، الله تعالی به ستا سره کړې وعده ضرور پوره کوي.

د ابن اسحاق یو روایت دئ چي پیغمبر ﷺ د دعا او ژړا په حالت کي پر سجده پرې وتئ او په داغه حالت کي الله تعالی پر ده د خوب پرده را وستل، ابوبکر ﷺ را پورته کړئ، چي کله یې "ابو بکر" ته وکتل، نو ورته وایي: ﴿أَبْشِرْ يَا أَبَابَكْر أَتَاكَ نَصْرُاللهِ هَذَا جِبْرِيلُ آخِذٌ بِعِنَانِ فَرَسِهِ يَقُودُهُ عَلَى ثَنَايَاهُ الْغُبَارُ﴾(۳).

ای ابوبکره! زېری دي وي، چي "جبرائیل امین" د فرشتو سره را ورسېدئ او پر غاښو یې د جنګ ګردونه پراته دي.

## نسبي قرابتونه په خپل مابین کي:

عجیبه جنګ دئ! "ابو عبیده" د خپل پلار په حق کي دا کوشش کوي، چي زما توره د خپل پلار ه سره په ټکر کي نسي او پلار بیا د "ابو عبیده" تلاښ کوي.

چي کله د پلار او د بچي توري سره مخامخ کېږي، نو د ابو عبیده توره پر خپل پلار ولګېده او په اول واري سره یې د پلار سر د بدنه څخه جلا کړئ.

پیغمبر ﷺ به ویل: ﴿لِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِينٌ، وَأَمِينُ هَذِهِ الأُمَّةِ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ﴾(۴)

---

(۱) بخاري شریف حدیث ۲۹۱۵
(۲) سنن ترمذي حدیث ۳۰۸۱
(۳) فتح الباري ج ۷ ص ۲۴۲
(۴) بخاري شریف حدیث ۴۳۸۲

د هر امت دپاره يو امين وي او د دې امت امين الله تعالی "ابو عبيده" جوړ کړی دی.

حضرت عمر ﷺ د خپل ماما په تلاښ کي دی او په اول وار سره يې د خپل ماما سر د بدنه څخه په توره باندي په هوا کړی.

او عبدالرحمن ابن ابي بکر ﷺ د اسلام راوړلو څخه وروسته خپل پلار ته وايي: ای پلاره! د بدر په ميدان کي ډېر ځله زما تر توري لاندي راغلې، ليکن پلارني قرابت وو چي توره مي ستا څخه پورته ساتله.

او پلار ورته وايي: بچيه! که ته زما تر توره لاندي راغلی وای په خدای قسم د تولو څخه مخکي به ما ستا سر د بدنه جلا کړی وای.

## د کائناتو عجيبه منظر:

د کائناتو عجيبه منظر وو، چي خوني او نسبي قرابتونه د الله تعالی د دين دپاره په خپل مابين کي سره جنګېدل.

يو طرفته ابو حذيفه ﷺ...... او د ده په مقابله کي "عتبه" چي د ده پلار وو د کفارو په صف کي ولاړ وو.

يو طرفته ابو حذيفه ﷺ......او بل طرفته "وليد" چي اکا او وراره وو.

يو طرفته ابو حذيفه ﷺ......او بل طرفته "شيبه" چي بيا اکا او وراره وو.

يو طرفته عياش ابن ابي ربيع ﷺ...... او بل طرفته "ابو جهل" چي مورني وروڼه وه.

يو طرفته ابوبکر ﷺ چي پلار دی ......او بل طرفته "عبدالرحمن" چي هغه بچی دی.

يو طرفته طلحه ابن عبيدالله......او بل طرفته "عمير ابن عثمان" چي سکه اکا او وراره وو.

یو طرفته مصعب ابن عمیر...... او بل طرفته "ابو عزیز ابن عمیر" چي دواړه سره وروڼه وه.
یو طرفته عمر ابن خطاب ﷺ....... او بل طرفته "عاص ابن هشام" چي خوریي او ماما وو.
یو طرفته علي ﷺ دئ......او بل طرفته "عقیل".
یو طرفته حمزه ﷺ دئ...... او بل طرفته عباس ﷺ.
یو طرفته د الله رسول ﷺ دئ او بل طرفته عباس ﷺ دئ.
د دې ځخه وروسته الله تعالٰی د فرشتو جماعتونه را استوي چي د مسلمانانو فوج په هغو سره تقویه کیږي.
او شیطان د "سراقه ابن مالک" په شکل راغلئ، د حارث لاس یې و نیوئ او ورته وایي: ﴿لاغالِبَ لَكُم مِّنَ النّاسِ وَ إِنِّي جَارٌ لَّكُمْ﴾. هیڅ څوک غلبه کونکی نشته پر تاسو باندي او زه ستاسو ملګری یم.
چي کله حضرت "جبرائیل" او "میکائیل" د خپل جماعت د فرشتو سره میدان جنګ ته راغلل، نو شیطان د "حارثه" ځخه لاس خلاص کړئ او منډه یې واخیسته، او د بدنه ځخه یې بادونه جاري وه، او "حارث" پسې نعرې کړې چي چیري ځې؟ ده په جواب کي ورته وویل: ﴿إِنِّي أَرَىٰ مَا لَاتَرَوْنَ﴾ چي زه څه وینم هغه ته نه وینې، په منډه ولاړئ او په دریاب کي غوټه سو.
د سترګو د رف مقدار نه وو تېر سوی چي اویا(۷۰) قریشان قتل سوه او اویا(۷۰) کسان قیدیان سول.
د پیغمبر ﷺ اکا حضرت عباس ﷺ عجیب خلقت والا انسان وو.
چي کله به دی پر آس باندي سپور سو، نو د ده پښې به پر مځکه ورسره ځکېدلې او د ده آواز به اته میله تلی.
او ډېر ځله به د ده د نعرې ځخه د زنانو حمل ساقطېدئ.

نو به هغه څنګه انسان وو، لیکن په میدان جنګ کي يو کوچني قد والا انصاري صحابي "ابو اليسر ﷺ" لاسونه تر شاه ور تړلي دي، را روان کړی يې دئ او د پیغمبر ﷺ و مخته يې ودروئ.

او پیغمبر ﷺ ته وايي: ای د الله رسوله! عباس خو مي لاس تړلی درته ر وستئ. حضرت عباس ﷺ شرمنده سو، ورته وايي: ای وراره! دې سړي نه يې تړلی، د مځکي او اسمان په مابين کي يو بل مخلوق وو، په ځان نه سوم پوه چي هغه وتړلم.

ابو اليسر ﷺ صحابي پیغمبر ﷺ ته وايي: دَی خلاف وايي، ما تړلی دئ پیغمبر ﷺ ورته وايي: ﴿أَسكُتْ فَقَدْ اَيّدَكَ اللهُ بِمَلَكٍ كَرِيمٍ﴾ چپ سه؟ ستا كومك الله تعالیٰ په يو ملائکه سره و کئ(¹).

## مکې ته د قریشو تښتېدل:

د ټولو څخه مخکي چي مکې ته په تېښته ورسېدئ، حسيمان بن حارث الخزاعي وو، په مکه کي يې شور جوړ کئ چي ابو الحکم قتل سو، عتبه قتل سو، وليد قتل سو، شيبه قتل سو او عبيده قتل سو.

نو صفوان ابن اميه د مکې مکرمې په حطيم شريف کي ناست وو، نعرې يې کړې چي دا لېوني سوی دئ. تاسو زما پوښتنه څني وکئ، چي صفوان څنګه دئ، چي د ده لېوتوب په خپله ښکاره سي. چي کله ذوی د صفوان پوښتنه څني و کړه، نو هغه ورته وايي: چي هغه خو هغه دئ په حطيم کي ناست دئ.

هو د ده پلار اميه ما قتل سوی وليدئ، چي راتلم.

او د ده ورور هم ما په قتل سوو قريشو کي ليدلی دئ.

(¹) البداية و النهاية الباب غزوة بدر العظمى الجزء ۳ صفحه ۲۷۸

## د ابو سفيان مکې ته را رسېدل:

د ده څخه وروسته سفيان مکې ته راغلئ او مکې والاوو ته وايي: موږ ته طعنه او پېغور مه راکوئ، هغه يو بل مخلوق وو، چې موږ يې قتل کړو.
موږ ته د راتښتېدلو پېغور مه را کوئ!
ابو لهب چې په دې وخت کې په ډېر کمزوري حالت کې وو، چې کله يې د ابو سفيان د خولې څخه دا واورېدل، چې هغه يو بل مخلوق وو، نو د حضرت عباس ﷺ غلام ابو رافع چې ناست وو، هغه دا وويل: چې دا مخلوق ضرور فرشتې دي، چې د دې انسانانو د کومک دپاره راغلي دي. ابو لهب ابو رافع په بدترينه طريقه باندې ووهی، چې ته هم داسې غلطې خبرې کوې چې دا اسماني مخلوق دئ.

## د ابو لهب عبرت ناکه انجام:

نو ام فضل د ابو لهب پر سر باندې د لرګي وار وکړئ، چې ابو لهب زخمي سو او درې ورځې په داسې تکليف کې مبتلا وو، چې څوک نزدې نه سو ورته راتلای او درې ورځې بعد مړ سو، او پر لرګيو يې پورته کئ تر قبره يې ورسوئ او انجام يې داسې سو چې د ده بچيان د ده بدن ته نه نزدې کېدل.
نو صحابه کرامو زندګي په داسې استقامت کې تېره کړه، چې کله به ميدان جنګ راغلئ، نو صحابه کرام ﷺ وايي: موږ به هغه منظر داسې محسوسوئ.
﴿كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنظُرُونَ﴾(۱).
چې موږ به خپل مرګ په سترګو ليدئ، ليکن چې کله به صحابه وو د استقامت لار خپله کړه، نو الله تعالی به د دوی مدد په اسماني فرشتو سره کوئ.

---
(۱) الانفال آيت ٦

نو الله تعالی دي موږ او تاسو ته استقامت را نصيب کړي. او الله تعالی دي مو
د دنيا په ټولو مشکلاتو کي د غيبو څخه مدد و کړي. او الله تعالی دي دا ځو
خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمين يارب العالمين)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْن.

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآيه)

# د قرآن كريم د حاملينو بيان

(بيان)

مولوي اطيع الله صاحب
استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

ترتيب وتخريج:
مفتي حافظ كليم الله صاحب (فاضل دار العلوم كراچی)
استاذ جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

مكتبه سلطانيه الهاشميه

كانسی روډ كوئټه

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطیع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ کلیم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | ثلورم |
| تاریخ | یکم ربیع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق یکم مي ۲۰۱۸ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

إنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا﴾(١).

وقال رسول الله ﷺ ﴿يَا أَبَا هُرَيْرَة تَعَلَّم الْقرآن وَ عَلِّمْهُ النَّاسَ وَلَاتَزَالُ كَذَالِکَ حَتّٰى يَأْتِيَکَ الْمَوْتُ فَإِنْ أَتَاکَ الْمَوتُ وَ أَنْتَ كَذَالِکَ زَارَتِ الْمَلَائِكَةُ قَبْرَکَ كَمَا تَزُوْرُ الْبَيْتَ الْعَتِيْق﴾(٢).

اٰمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم، وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو مشرانو! قرآن کريم د الله تعالی آسماني کتاب، د الله تعالی آسماني پيغام او د الله تعالی آسماني وينا ده.

څه څومره آسماني کتابونه دې دنيا ته راغلي دي، د قرآن کريم په برخه چې کم فضيلت دئ د نورو آسماني کتابو په برخه هغه فضيلت نه دئ راغلی.

---

(١) الاسراء آیت ۹

(٢) مواعظ ابراهيمي صفحه: ۲۰۹ ، الخطيب و ابو نعيم والسيوطي عن ابي هريره ﷺ.

ځکه په روایاتو کي راځي چي د حضرت آدم علیه السلام د پیدائش څخه پنځوس زره (۵۰۰۰۰) کاله مخکي الله تعالی د دې قرآن کریم تلاوت و کړئ.
او د حضرت آدم علیه السلام د پیدائش څخه دوه زره (۲۰۰۰) کاله مخکي یې د قرآن کریم کتابت پر لوح محفوظ و کړئ(۱).
او بیا د لیلة القدر په مبارکه شپه باندي د "جبرائیل امین" په واسطه الله تعالی "سماء الدنیا" ته را واستوئ، او په درویشت (۲۳) کاله په نبوي زندګۍ کي الله تعالی پر پیغمبر ﷺ باندي را نازل کړئ.

## د قرآن جامعیت:

چي څومره آسماني کتابونه دي په دې ټولو کي جامع کتاب قرآن کریم دئ؛ ځکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دئ چي دی مبارک فرمایي: ﴿أوتِيتُ المَثَانِيَ مَكَانَ التَّوْرَاةِ﴾ الله تعالی ما ته د "تورات" په بدله کي "سورة الفاتحة" را کړې ده.
"تورات" الله تعالی په خپله لیکلی او نازل کړی کتاب دئ؛ ځکه الله تعالی فرمایي: ﴿كَتَبْتُ التَّوْرَاةَ بِيَدِيْ﴾ د "تورات" دغه فضیلت دئ چي الله تعالی په خپله لیکلی دئ، نو ځکه الله تعالی د "تورات" په بدله کي خپل محبوب ﷺ ته سورة فاتحة ور کړې ده.
﴿وَالمَائِدَةُ مَكَانَ الإِنْجِيْلِ﴾ او د انجیل غوندي لوی کتاب په بدله کي الله تعالی ما ته "سورة المائدة" را کړې ده.
﴿وَ الحَوَامِيْمُ مَكَانَ الزَّبُوْرِ﴾ او د زبور په بدله کي الله تعالی ما ته د "حوامیم" سورتونه را کړي دي، چي دا هغه اوه سورته دي چي په "حٰمٓ" سره شروع کیږي.
﴿وَفُضِّلْتُ بِالمُفَصَّلَاتِ﴾ او د نورو سورتو "مفصلو" په ذریعه سره الله تعالی ما ته پر نورو انبیاؤ فضیلت را کړی دئ(۲).

(۱) الذکر اپارہ ص ۹۵
(۲) صحیح الترغیب و الترهیب حدیث نمبر ۱۴۵۷

## قرآن عالمي کتاب دئ:

په ټولو آسماني کتابو کي قرآن کریم عالمي کتاب دئ؛ ځکه د قرآن کریم تعلق د پيغمبر ﷺ د نبوت سره دئ.

او چونکه د پيغمبر ﷺ نبوت عالمي نبوت دئ؛ ځکه پيغمبر ﷺ فرمايي:

﴿مَثَلِي وَ مَثَلُ الأَنبِيَاءِ مِن قَبلِي كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنى بَيتًا فَأحسَنَهُ وَ أجمَلَهُ إلا مَوضِعُ لَبِنَةٍ في الزَّاوِيَةِ أنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لا نَبِيَّ بَعدِيْ وَ أنتُم خَاتَمُ الأُمَمِ لا أُمَّةَ بَعدَكُم﴾(1).

زما او د نورو انبياوُ مثال داسي دئ لکه يو سړی چي يو ښائسته خونه جوړه کړي، نوره ټوله مکمله وي صرف په يو کُنج کي د يوې خښتي ځای پاته وي.

نو د نبوت خونه مکمله وه، يوه خښته پاته وه، چي کله زه راغلم، نو هغه خښته زه سوم، نو دا نبوت مکمل سو.

زه آخرنی نبي يم تر قيامته پوري ټولو انسانانو ته زما نبوت دئ او تاسو آخرنی امت ياست يا تر قيامته پوري بل امت نه راځي.

نو د پيغمبر ﷺ نبوت عالمي نبوت دئ، ځکه قرآن کريم د پيغمبر عليه السلام د نبوت متعلق دا اعلان کوي: ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا﴾ (2). نو دغه رنګه قرآن کريم هم عالمي کتاب دئ؛ ځکه قرآن کريم په خپله دا اعلان کوي:

﴿تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا﴾ (3)

چي الله هغه مبارک ذات دئ چي قرآن کريم يې په خپل بنده باندي را نازل کړئ، د پاره د دې چي دا قرآن کريم به ټوله عالم ته نذير (وېرونکی) وي.

---

(1) بخاري شريف حديث نمبر، ۳۵۳۵

(2) الاعراف آيت ۱۵۸

(3) الفرقان آيت ۱

## د پيغمبر ﷺ عالمي نبوت:

د پيغمبر ﷺ نبوت په داسې شکل باندي عالمي وو چي د هغه نبوت صرف انسانانو ته نه وو، بلکي جِنات هم په دې پوهېدل چي دا نبي دئ. ﴿وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ﴾(١)

صرف جناتو ته نه، بلکي د پيغمبر ﷺ نبوت حيوانَاتو او جماداتو ته هم وو.
لکه حضرت جابر ﷺ چي فرمايي: کله چي به د پيغمبر ﷺ سره د مديني په لارو کي تلم: ﴿مَاأَسْمَعُ شَجَرٌ وَلَا حَجَرٌ إِلَا وَ يَقُوْلُ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ اللهِ﴾.
د هري درختي او کاڼي څخه به مي د صلوٰة او سلام نعري اورېدلې.
او حيوانان هم په دې پوهېدل چي دا د الله نبي دئ.
لکه د "حجة الوداع" په موقع باندي پيغمبر ﷺ د اوښانو قرباني کوي حضرت علي ﷺ سل اوښان د "يمن" څخه را وستلي دي او نور هم زيات اوښان پيغمبر ﷺ قرباني کوي، نو هغه اوښان چي کله پيغمبر ﷺ ويني، د ډېره زوره څخه رسۍ شکوي، پيغمبر ﷺ ته را وړاندي کيږي او د پيغمبر ﷺ و چاړه ته خپله غاړه ايږدي.
هغه اوښان په دې پوه دي چي کم اوښ ور وړاندي سو، نو د هغه پر غاړه چاړه تېره سوه.
ليکن چونکه چاړه د پيغمبر ﷺ د لاس ده، نو ځکه اوښان په ډېره بې تابۍ سره خپله غاړه ورته ايږدي.

## د قرآن پيغام رسول:

اوس سوال دا دئ چي يو طرف ته د پيغمبر ﷺ عالمي نبوت دئ او قرآن کريم هم عالمي پيغام دئ او بل طرف ته الله تعالیٰ د درويشت کاله نبوي زندگي څخه

(١)الاحقاف آيت ٢٩

وروسته پیغمبرﷺ د دنیا څخه رخصت کړئ، نو دا عالمي پیغام به د دنیا کونجونو ته او را روانو قومونو ته څنګه رسیږي؟ د دې دپاره د امت په هره طبقه کي الله تعالی د قرآني پیغام رسولو دپاره د چند انسانانو انتخاب کوي، چي هغه د قرآن کریم حاملین بلل کیږي.

د علماء په شکل، د حافظانو په شکل، د قرآني قاریانو په شکل، د قرآن د دفاع کونکو مجاهدینو په شکل او د قرآني مبلغینو په شکل، چي دا انسانان به د پیغمبرﷺ د وارثینو په شکل دا قرآني پیغام د دنیا و اطرافو ته او را روانو قومونو ته رسوي.

او دوی ته د قرآن حاملین ویل کیږي. او په ټوله معاشره کي دا د عزت خاوندان بلل کیږي.

ځکه الله تعالی په دنیا کي د عزت معیار د قرآن کریم تحمیل ګرځولی دئ، چي په څومره اندازه کي یو انسان د قرآن کریم حامل وي، په هغه اندازه کي هغه د عزت مالک دئ.

یو زموږ علم دئ، زموږ علم دا راته وایي چي په دنیا کي مال او دولت، منصب او حکومت د عزت معیار دي.

لیکن یو د الله تعالی فیصله ده، هغه دا چي مال او منصب، حکومت او دولت دا د عزت معیار نه، بلکي د عزت معیار د قرآن کریم تحمیل دئ. او د قرآن کریم حاملین د ټولي معاشرې اشراف خلک بلل کیږئ.

ځکه د پیغمبرﷺ فرمان دئ: ﴿أشرَافُ أمّتِي حَمَلَةُ القرآن وَأصحَابُ اللّيلِ﴾(۱)

چي کم خلک د قرآن حاملین دي او د شپې عبادت کونکي دي، هغه زما د امت اشراف خلک دي.

---

(۱) رواه البیهقي في شعب الایمان حدیث ۱۲۳۹

## د قرآن د حاملینو عزت:

د قرآن د حاملینو عزت پیغمبرﷺ د قرآن او خپل ځان عزت بللی دئ، لکه حدیث شریف کي راځي: ﴿أَكْرِمُوْا حَمَلَةَ الْقرآن فَمَنْ أَكْرَمَهُمْ فَقَدْ أَكْرَمَنِيْ﴾(١).
تاسو د قرآن د حاملینو اکرام او عزت کوئ چي کم چا د قرآن د حاملینو اکرام او عزت و کړئ، نو پیغمبرﷺ فرمایلي دي چي دا په حقیقت کي زما اکرام او عزت دئ.

## د اسلام بیرغونه:

د قرآن حاملین په حقیقت کي د مځکي پر مخ د اسلام د جنډو او بیرغو ورونکي دي؛ ځکه پیغمبرﷺ فرمایي: ﴿حَامِلُ الْقرآن حَامِلُ رَايَةِ الإِسْلَامِ، مَنْ أَكْرَمَهُ فَقَدْ أَكْرَمَ الله وَمَنْ أَهَانَهُ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ﴾(٢).
د قرآن حاملین دا د اسلام د جنډو ورونکی دي، چي کم څوک دوی ته د اکرام په نظر ګوري، نو هغه د الله و ذات ته د اکرام په نظر ګوري او چي کم څوک و دې حاملینو د قرآن ته د اهانت او استخفاف په نظر ګوري، نو پر هغوی به د الله تعالی لعنت وي. نو حاملینو د قرآن ته د استخفاف په نظر کتل دا د الله تعالی د لعنت سبب ګرځي.
نو د مځکي پر مخ چي څومره انسانان ګرځي د الله فیصله دا ده، چي په دې ټولو انسانانو کي اشراف خلګ او د عزت او د اکرام خاوندان خلګ د قرآن حاملین دي. او دا په حقیقت کي د مځکي پر مخ د اسلام بیرغ او جنډه ورونکي دي.

(١)جامع الصغیر حدیث ۱۱۳۵
(٢)جامع الصغیر حدیث ۲٦۷۵

## په قبر کي د قرآني حاملینو عزت:

د قرآن حاملین چي کله د مځکي د مخه څخه رخصت سي، نو و قبر ته ولاړ سي. د قرآن د حاملینو قبر د خاورو یو کوړه نه، بلکي په حقیقت کي د ملائکو طوافګاه او زیارتګاه بلل کیږي. د دې قبر د زیارت او طواف دپاره د کائناتو د اطرافو څخه ملائکي راځي.

څکه پیغمبر ﷺ حضرت ابو هریره رضی الله عنه ته دا وصیت کوي: ﴿يَا أَبَا هُرَيْرَة تَعَلَّم الْقرآنَ وَ عَلِّمْهُ النَّاسَ وَلَاتَزَالُ كَذَالِكَ حَتّٰى يَأْتِيَكَ الْمَوْتُ فَإِنْ آتَاكَ الْمَوْتُ وَ أَنْتَ كَذَالِكَ زَارَتِ الْمَلَائِكَةُ قَبْرَكَ كَمَا تَزُوْرُ الْبَيْتَ الْعَتِيْقَ﴾(١).

ای ابوهریره رضی الله عنه! د قرآن کریم تَعلیم او تَعَلّم کوه! یعني په خپله یې هم زده کوه او نورو خلګو ته یې هم تعلیم کوه!

او تر مرګه پوري ژوند د قرآن کریم په مشغله کي تېر کړه! کچیري مرګ راغلئ او ته د قرآن کریم په مشغله کي وې، نو ستا د قبر د زیارت دپاره به د اطرافو د عالم څخه ملائکي راځي او ستا پر قبر باندي به طواف کوي، لکه د بیت الله د زیارت او طواف دپاره چي د اطرافو د عالم څخه انسانان راځي.

نو د قرآن د حامل قبر په حقیقت کي د ملائکو طواف ګاه او زیارت ګاه ده.

## د مولانا احمد علي لاهوري رحمة الله علیه واقعه:

زموږ په دې نزدې زمانه کي لوی ولي حضرت مولانا احمد علي لاهوري رحمة الله علیه تېر سوی دئ، چي دی ډېر لوی صاحبِ کشف بزرګ وو، چي ټوله زندګي یې د قرآن کریم په شغل کي تېره کړه، ده په خپل "درس قرآن" کي یو واقعه لیکلې ده: چي سهار د قرآن د ترجمې څخه وروسته زه د لاهور ښار ته را ووتم، نو یو "سفید پوش" یعني سپین ږیری بزرګ په مخه راغلئ ما ته وایي:

(١)مواعظ ابراهیمي ۲۰۹

- ای احمد علي! انسانان چيري دي؟
- ما ورته وويل: حضرت! دا ټوله ښار د انسانانو ډک دئ.
- ده راته وويل: نه، انسانان غواړم انسانان چيري دي؟
- ما يبا هغه جواب ور کړئ.
- ده راته وويل: ته راسه! زما تر دې لاس لاندي دي انسانانو ته وګوره!

حضرت احمد علي لاهوري رحمة الله عليه ليکلي دي، چي ما کله د ده تر بغل لاندي دې انسانانو ته وکتل په خدای قسم چي ټوله انسانان ما ته يا د بيزوګانو يا د خنزيرانو او يا د سپيانو په شکل معلومېدل؛ ځکه چي په کم چا کي کم عادت وي، نو الله تعالی يې په عالم الامثال کي په هغه شکل کړي. لکه په يو چا کي چي بې حيايي زياته وي، نو الله تعالی يې د خنزير په شکل کړي، صرف ما او تا ته انسانان را ښکاره کېږي. نو احمد علي لاهوري رحمة الله عليه الله جل جلاله د کشف او کرامت مالک ګرځولی وو.

## د احمد علي لاهوري رحمة الله عليه قبر:

احمد علي لاهوري رحمة الله عليه چي کله وفات سو، نو بيا يې قبر د لاهور په "چوبرجي" قبرستان کي جوړ سو، چي تر ډېره وخته يې د قبر د خاورو څخه خوشبويي راتلله. يو د احمد علي لاهوري رحمة الله عليه دا کرامت وو او د امام بخاري رحمة الله عليه په حق کي هم داسي راځي.

بيا علماء را ټول سوه او دا دعا يې و کړه، چي الله جل جلاله دا کرامت يې ختم کړي، ځکه چي د دې څخه فتنه جوړه نسي، نو د علماؤ په دعا سره يې د قبر خوشبويي ختم سوه.

چي په کمه هديره کي دَی ښخ سو، په هغه هديره کي ښخ يو سړی خپل ماما په خوب کي ويني او پوښتنه څني کوي، چي الله تعالی څه در سره و کړه؟ هغه په جواب کي ورته وايي: چي د کمه وخته څخه احمد علي لاهوري رحمة الله عليه د لاهور

په قبرستان کي ښخ سوی دئ، نو الله تعالیٰ د ده په برکت د لاهور و ټوله قبرستان ته مغفرت و کړئ.
نو دا د حاملینو د قرآن په قبر کي عزت او اکرام دئ.

## د شاه عبدالقادر محدث دهلوي واقعه:

شاه عبدالقادر محدث دهلوي رحمة الله علیه د ېرش کاله مسلسل د قرآن کریم درس و کړئ او پر یو ځای یې د قرآن کریم ترجمه مکمله کړه. او ټوله زندګي یې د قرآن کریم په شغل کي تېره کړه.
چي کله وفات سو، نو د ده په زمانه کي مشهور صاحبِ کشف بزرګ حضرت شاه فضل الرحمن ګنج مراد آبادي رحمة الله علیه وو، نو یو چا د ګنج مراد آبادي رحمة الله علیه څخه د ده متعلق پوښتنه و کړه، چي الله تعالیٰ د حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه سره په قبر کي څه و کړه؟
حضرت ګنج مراد آبادي رحمة الله علیه ورته وایي: چي په کمه مځکه کي د حضرت شاه صاحب قبر جوړ سو، نو الله تعالیٰ د ده د اکرام په خاطر د ده د قبر څخه پر هر طرف د څوارلس میله مځکي څخه عذاب پورته کړئ.
د دې مثال داسي دئ، لکه یو مېلمه چي راسي د هغه د اکرام په خاطر هغه ته خلګ پنکه و لګوي، لیکن د هغه مېلمه سره سره یې فایده نورو ته هم رسیږي.
په دې وجه باندي که هر څو مره لوی ولي وي، که هر څو مره لوی عالم وي چي کله وفات سي، نو د هغه د تدفین دپاره عام قبرستان بهتر بلل سوی دئ.
یا به دَی نېک وي، نو د ده په خاطر به الله جلّ جلاله د نورو انسانانو سره اسانی و کړي، یا به د نورو په خاطر الله جلّ جلاله د ده سره اسانی و کړي.(١)
نو حاملین د قرآن کریم په قبر کي هم د زیات شرافت، اکرام او اعزاز مالکان وي.

---

(١)دعوات حق ج ٢ ص ٢٧٨

## حاملین د قرآن په قیامت کي:

چي کله د قیامت میدان جوړ سي، نو هلته هم د قرآن کریم حاملین د زیاتو اکراماتو مستحق وي.

ځکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دئ چي د قیامت په میدان کي به عام خلګ د حساب او کتاب ور کولو په حالت کي د ګرمۍ په عالم کي غرق او مستغرق وي، لیکن د قرآن حاملین به د الله تعالی د عرش تر سایه لاندي د انبیاء، صلحاء او شهداء په صفو کي ناست وي.

لکه پیغمبر ﷺ چي فرمایي: ﴿فَإِنَّ حَمَلَةَ الْقرآنِ فِيْ ظِلِّ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ مَعَ أَنْبِيَائِهِ وَأَصْفِيَائِهِ﴾ (۱)

چي حامل د قرآن کریم به د قیامت په میدان کي د عرش په سایه کي د انبیاء، شهداء او صلحاء سره ناست وي.

نو د قیامت په میدان کي به هم د ده اکرام او اعزاز د هر چا څخه زیات وي.

## د قرآن کریم د حامل جنت:

هسي خو چي په کمه سینه کي قرآن کریم محفوظ سي، نو هغه سینه الله تعالی پر جهنم باندي حراموي.

د قرآن کریم حامل که هر څومره بد عمله سي، لیکن د قرآن کریم الفاظ که صرف په سینه کي محفوظ سي، نو د هغوی دا برکت دئ چي بیا یې جهنم نه سوځي.

کچیري دا انسان ګنهګاره وي، نو الله تعالی به په نورو طریقو سره سزا ور کړي، لیکن چي د جهنم کمه خاص سزا چي د اور د سوځلو په شکل ده، هغه د قرآن کریمو حاملِ ته نه ور کول کیږي.

(۱) الجامع الصغیر حدیث ۲۵۱

د پیغمبر ﷺ حدیث: ﴿إنّ في الجنة نهرًا إسمُهُ ريّانٌ عليه مدينةٌ مرجانٍ لهُ سبعون ألف بابًا من ذهبٍ وفضةٍ لحامل القرآن﴾(١).

په جنت کي یو نهر دئ، چي د هغه نوم ریان دئ، په هغه کي اویا زره (۷۰۰۰۰) دروازې دي، چي د سرو او د سپینو زرو څخه دي، او دا د قرآن کریم د حامل دپاره دي.

دلته په حدیث شریف کي د حافظ پر ځای حامل راغلی دئ، چي په هغه کي علماء، قاریان او حافظان چي کم څوک د قرآن کریم خدمت کوي هغه ټول پکښي داخل دي.

بیا چي کله فرشتې د قرآن کریم حامل و دې محل ته داخلوي، نو چي کله اوله دروازه خلاصه کړي، نو په هغه کي اویا زره (۷۰۰۰۰) فرشتې د استقبال او ښه راغلي دپاره ولاړي وي، د الله تعالی د طرفه سلام وايي او هر فرشته و ده ته خپله هدیه پېشوي.

چي کله په دوهمه دروازه ننوزي، نو بیا یو لک وو څلوېښت زره (۱۴۰۰۰۰) ملائکي ولاړي دي، د الله د طرفه سلام او هدیه پېشوي.

چي کله په دریمه دروازه ننوزي، نو دوه لکه اتیا زره (۲۸۰۰۰۰) فرشتې ولاړي وي او د الله د طرفه سلام او هدیه پېشوي.

په څلورمه دروازه کي پنځه لکه شپېته زره (۵۶۰۰۰۰) فرشتې وي.

بیا چي کله پنځمه دروازه خلاصیږي، نو بیا د دې څخه دوچنده فرشتې وي. بیا چي دی په دې اویا زره دروازو ننوزي، نو په اربونو فرشتې په دروازو کي د هدایاوو سره سلام د الله ﷻ د طرفه پېشوي.

دا د هغه چا قدر او قیمت دئ چي ژوند یې د قرآن په تحمیل کي تېر سي. په دنیا کي خو خلک دا وايي چي دا بېچاره خو د مسجد امام دئ، یا د مسجد مؤذن او طالب دئ، چي ټوله زندګي یې د بل پر ساړه ټوک او څیره باندي تېره سوه.

(١) کنز العمال حدیث نمبر: ۲۴۶۳

## د قرآن باطن جنت دئ:

د بعضو حدیثو د مضمون څخه معلومیږي چي په قرآن کریم کي څومره آیتونه راغلي دي په جنت کي دغومره درجې دي. یو قرآن ویونکي ته به وویل سي:
﴿اقْرَأْ وَارْقَ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا فَإِنَّ مَنْزِلَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا﴾[1]
د قرآن کریم په ترتیل سره تلاوت کوه! لکه څنګه چي به تا په دنیا کي کوئ او د جنت په درجو کي خېژه چي د قرآن کریم د آخري آیت د تلاوت سره به ته خپل منزل ته ورسېږې.
لیکن په بعضو احادیثو کي راغلي دي چي دا آیتونه د قرآن کریم خپله د جنت درجې دي، صرف په دې قرآن کریم کي الله تعالیٰ داسي صناعي او کاریګري کړې ده، چي کله پر دې قرآن کریم باندي د دنیا هوا لګیږي، نو دَی بیا د ویلو او تلاوت کولو شی دئ او د انسانانو دپاره د علم او د عرفان یوه خزانه ده، لیکن چي کله د آخرت هوا ور باندي ولګیږي، نو بیا به دا غه حروف او الفاظ د جنت باغچې او دا به د جنت نهرونه او د جنت ګلونه وي.
نو په دنیا کي چي کم قرآن کریم د حامل په سینه کي محفوظ دئ، نو هغوی په دنیا کي په خپله سینه کي جنت محفوظ کړئ.
زه دا ویلای سم، چي نور قومونه پر خپلو کتابو او رسالو باندي ایمان را وړي او د قیامته څخه وروسته د جنت د داخلېدو امید لري، لیکن د مسلمان قوم قرآني حاملینو په دنیا کي لاهم جنت په خپلو سینو کي رانغښتی دئ؛ ځکه کم مسلمان چي پوره قرآن کریم حفظ کړی دئ، نو ګواکي هغوی پوره جنت په خپله سینه کي محفوظ کړی دئ.
چي کله په عالم آخرت کي د دې حروفو او الفاظو څخه د جنت نعمتونه او باغونه وغوړېږي، نو حافظ د قرآن به وایي: دا خو هغه قرآن کریم دئ چي ما په سینه کي محفوظ کړی وو او اوس د هغه څخه جنت جوړ سو.

---
[1] رواه احمد والترمذي و ابوداؤد والنسائي

## تورات او میدان حشر:

چنانچه په حدیث شریف کي راځي چي کله په میدان حشر کي اقوام د عالم سره را جمع سي، نو د ټولو څخه مخکي به الله تعالی د لوح محفوظ څخه پوښتنه وکړي، چي "تورات" ما په تا کي ایښی وو، هغه څه سو؟

لوح محفوظ به په جواب کي ورته ووایي: "تورات" حضرت جبرائیل علیه السلام پورته کړئ.

دوهم سوال به الله تعالی د حضرت جبرائیل علیه السلام څخه وکړي، چي "تورات" څه سو؟ نو حضرت جبرائیل علیه السلام په جواب کي ورته ووایي: "تورات" ما د حضرت موسی علیه السلام پر زړه باندي نازل کړئ.

حضرت موسی علیه السلام به را طلب سي او الله تعالی به پوښتنه څني و کړي، چي "تورات" څه سو؟ حضرت موسی علیه السلام به په جواب کي ورته ووایي: "تورات" ما خپل امت ته ورسوئ.

الله تعالی به ورته ووایي چي ای موسی! هغه "تورات" اوس خپل امت ته واوروه! نو حضرت موسی علیه السلام به منبر ته را پورته سي او د تورات تلاوت به شروع کړي.

نو په دنیا کي خو تورات د الفاظو او د حروفو او د جملو په شکل وو او د قیامت په میدان کي به تورات د عظیم باغ په شکل چي د هغه د لیدو څخه به د انسانانو پر زړو باندي عجیب او غریب کیفیات طاري سي. نو د حضرت موسی علیه السلام امت به هلته ډېر زیات افسوس او حسرت کوي، چي کاشکي په دنیا کي د تورات په دې حقیقت باندي موږ خبر وای، نو هر څومره به موږ د تورات قدر کړی وای!!!

## قرآن کریم او میدان حشر:

داغه رنګه به الله تعالی د لوح محفوظ څخه پوښتنه وکړي چي قرآن کریم څ
سو؟ نو لوح محفوظ به په جواب کي ورته ووايي: قرآن کریم خو "جبرائیل
امین" پورته کړئ.

نو دوهم سوال به د جبرائیل امین علیه السلام څخه وسي، چی ای جبرائیله! قرآن کریم
څه سو؟ نو هغه به ورته ووايي: ما د "رسول الله مبارک" پر زړه باندي نازل
کړئ.

نو چي کله د حضور اقدس ﷺ څخه پوښتنه وسي، نو هغه به دا تصدیق وکړي
چي هو "جبرائیل امین" تر ما پوري قرآن کریم را رسولی وو او ما و خپل امت ته
قرآن کریم د تلاوت او تعلیم په ذریعه سره رسولی وو.

د الله تعالی د طرفه به امر وسي چي ﴿يَا حَبِيبِيْ يَا مُحَمَّد تَعَال وَ ارْقِ الْمِنبَر﴾ ای حبیبه
ای محمده! ته منبر ته را پورته سه او د قرآن کریم تلاوت و کړه چي د عالم ټول
اقوام د قرآن کریم په حقیقت باندي خبر سي.

حدیث شریف کي راځي چي د حضور اکرم ﷺ دپاره به منبر کښېښوول سي، د
مبارک به پر منبر باندي کښېني او د قرآن کریم تلاوت به د "الٓمٓ" څخه شروع
کړي او پر "والناس" باندي به يې ودروي. هلته به قرآن کریم د يو داسي باغ په
شکل راځي چي پر پوره عالم باندي به يې احاطه کړې وي. د هغه سورتونه به د
باغو په شکل وي، د هغه آیتونه به د نهرو په شکل وي او د هغه حروف او نقاط
به د حورو او غلمانو په شکل وي.

د الله تعالی د ذات په موجودګی کي تمام انبیاء کرام، تمام ملائکه او تمام
امتونه چي کله د قرآن دا مجسم حقیقت ويني، نو د حیرانتیا به عجیب حالت
وي! ټوله انسانان به د یو ګړي دپاره ګونګ سي.

د حضرت آدم علیه السلام څخه ونیسې بیا تر پیغمبر ﷺ پوري چي کمو قومو ته قرآن
کریم نه وي رسېدلی هغه به دا حسرت او افسوس کوي، چي دا عجیب او غریب

کتاب کاشکي په دنیا کي موږ ته را رسېدلی وای! او د قرآن کریم دا حقیقت چي کله د دې امت انسانان ووېني، نو ډېر به حیران سي، چي د قرآن کریم د غه رُخ خو موږ تر اوسه پوري نه وو لیدلی، کاشکي موږ په دنیا کي د قرآن کریم د دې حقیقته څخه خبر وای، نو موږ به د دې قرآن کریم په ښه طریقه سره قدر کړی وای.(۱)

## په قیامت کي د فرښتې اعلان:

لیکن چي کله د قیامت ورځ سي، نو یو فرښته به اعلان کوي:
﴿أَيْنَ الأَئِمَّةُ﴾ د مسجدانو امامان چیري دي؟
﴿أَيْنَ الْفُقَهَاءُ﴾ علماء چیري دي؟
﴿أَيْنَ الْمُؤَذِّنُونَ﴾ د مسجدانو مؤذنان چیري دي؟
زموږ په معاشره کي چي کم څوک د کښتي درجې والا وي، هغه په مسجد کي آذان کوي او چې کم څوک په سود او رشوت باندي زندگي تېروي هغه هم و ده ته غوسه کوي، چي تا تر اوسه لا آذان نه دئ کړی؟ حالانکي د دې خلکو غوندي انسانانو څخه که ټوله دنیا ډکه سي، د مؤذن د پښې د خاوري سره نسي برابرېدای،
مؤذن چي کم قبر ته ورسي، نو د قبر خاوره د مؤذن بدن نه خوري.
د الله تعالی د طرفه به یوه فرښته اعلان و کړي: ﴿الْمُؤَذِّنُونَ أَطْوَلُ النَّاسِ أَعنَاقاً يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾(۲).
د قیامت په میدان کي به د ټولو څخه زیات د دې خلکو غاړي اوږدې وي.

(۱)مأخوذ از خطبات حکیم الاسلام ج۲ ص۳۷/۳۸/۳۹
(۲)الاذکار للنووي حدیث ۹۵

يو ځل پيغمبرﷺ په مسجد نبوي کي د آذان فضائل بيانول، نو حض
عمرﷺ ورته وايي:
- اى د الله رسوله! داسي معلوميږي چي ستا ځخه وروسته به موږ د
پر کولو په تورو سره جنګيږو؟
- پيغمبرﷺ ورته وايي: اى عمره! زما په امت کي به داسي زمانه را
چي خلک به آذان د کښته درجو په انسانانو باندي کوي.
د "قادسيې" په جنګ کي مؤذن زخمي سو، نو د عربو سردرانو په خپل مينځ
توري سره را واخيستې، چي يوه ويل: زه به آذان کوم او دوهم ويل: زه ب
کوم.
حضرت سعدﷺ د دوى په مينځ کي "قرعه اندازي" هسکه و کړه چي د ک
نوم را وختئ، نو هغه به آذان کوي.

## کامياب څوک او ناکام څوک؟

د قيامت په ميدان کي چي کله اعلان و سي، نو دري طبقات به د عامو انسا
ځخه را ووځي، د دوى دپاره به منبرونه کښېښول سي، دوى به پر منبرو با
کښېنول سي او دا ټول د وخت زمين داران، تاجران او حاکمان به په لينو کي
وي او خپل حساب او کتاب به پېشوي.
او دا دري طبقي انسانان به د ملغلرو پر منبرونو باندي ناست وي او يوه فر
به اعلان کوي:
﴿اِنَّكُمْ جَعَلْتُمْ نَسَبًا وَّ جَعَلْتُ نَسَبِي﴾ يوه نسب نامه ستاسو وه او يوه نسب نامه زما
﴿جَعَلْتُ اَكْرَمَكُمْ اَتْقٰكُمْ﴾ زما نسب نامه دا وه، چي په تاسو کي تقوا داره د ع
مالک دئ.
﴿وَلٰكِنْ اَبَيْتُمْ وَ قُلْتُمْ اِنَّ فُلَانًا خَيْرٌ مِّنْ فُلَانٍ﴾ ليکن تاسو زما نسب نامه وغورځوله
خپله نسب نامه مو مرتبه کړه. او تاسو به دا ويل چي تقوٰى هيڅ شى نه ده، بل

فلانکی خو ډېر مالداره دئ، دا تر ټولو ښه دئ. او فلانکی لوی منصب دار دئ، دا تر ټولو ښه دئ.

﴿اَلْيَوْمَ اَضَعُ نَسَبَكُم وَاَرْفَعُ نَسَبِي﴾ نن به ستاسو نسب نامه خواره، ذلیله او کښته وي او زما نسب نامه به عزت منده وي او تر ټولو به لوړه وي.

په آخر کي به فرشته نعره کړي:

﴿اَيْنَ الْمُتَّقُوْن﴾ متقیان انسانان چیري دي؟

نو الله تعالی دي موږ او تاسو ته توفیق را کړي، چي زندګي د قرآن کریم په تحمیل کي تېره کړو.

او الله تعالی دي زموږ تر مرګه پوري زموږ لاس د قرآن کریم د شغله څخه نه کاږي.

او الله تعالی دي مرګ په داسي حالت کي را ولي چي د قرآن کریم په شغل کي مصروف یو او عزرائیل عليه السلام راته راسي.

الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمین یارب العالمین)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْن.

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَۚ اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۚ
لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ ؕ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ
وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗٓ
اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۚ
وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖٓ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ
وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ
وَلَا يَئُوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ
وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ۝٢٥٥

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د علماء کرامو صفات

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حافـظ كليم الله صاحب |
| مقـــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعت | ثلـــــــــــورم |
| تـاريـــخ | يكم ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تـعـــداد | (١١٠٠) |

إنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سَاجِدًا وَقَائِمًا يَحْذَرُ الْآخِرَةَ وَيَرْجُو رَحْمَةَ رَبِّهِ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾(۱).

وقال رسول اللهﷺ ﴿وَإِنَّ الْمُؤْمِنَ الْعَالِمَ لَأَعْظَمُ أَجْرًا مِنَ الصَّائِمِ الْقَائِمِ الْغَازِي فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَإِذَا مَاتَ الْعَالِمُ انْثَلَمَتْ فِي الْإِسْلَامِ ثُلْمَةٌ لَا يَسُدُّهَا شَيْءٌ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾(۲).

وقال رسول اللهﷺ ﴿يَشْفَعُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَةٌ: الْأَنْبِيَاءُ، ثُمَّ الْعُلَمَاءُ، ثُمَّ الشُّهَدَاءُ﴾(۳).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم، وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

یک شخص بود رسه آمد ز خانقاه... که بشکست عهد اهل طریق را
بدو گفتم کیان عالم و عابد چه فرق بود... که کردی اختیار از آن این طریق را
گفت این گلیم خویش میبرد ز موج... وآن جهد میکند که بگیرد غریق را

(۱) الزمر آیت ۹
(۲) الجامع الاخلاق حدیث نمبر، ۳۴۷
(۳) ابن ماجه حدیث نمبر، ۴۳۱۳

**تمهید:**

محترمو سامعینو! د جامعه هذا د دستارِ فضیلت پروګرام دئ، مشران علماء کرام به راځي او هغه به د علم او علماء پر فضائلو باندي تفصیلي وینا ګاني کوي. زه صرف د دې خپلو فاضلانو دپاره یو څو د توصیې خبري کوم، الله تعالی دي یې قبولي او مقبولي وګرځوي.

محترمو فاضلانو! ستاسو د دستارِ فضیلت وخت را رسېدلی دئ او ستاسو پر سرباندي نن د فضیلت دستار او بګړۍ تړل کیږي.

او د نن د بګړۍ تړلو سره تاسو د علماؤ په صف کي شامل سو است! او تاسو ته نن د عالم نوم او د عالم لقب درکول کیږي.

**د عالم ژوندکي د نبي ژوندکي ده:**

زموږ په دې امت کي د عالم د ژوند مثال د نبي دئ. او د عالم مرګ د نبي مرګ دئ. او په دې امت کي د عالم ذمه واري د نبي ذمه واري ده.

د نبي اکرم ﷺ د زندګۍ مقصد او غرض په معاشره کي د انسانانو اصلاح کول او انسانان د فساده څخه د نېکیو و طرفته را ګرځول دي.

نو د عالم د زندګۍ مقصد هم د معاشرې اصلاح کول او د معاشرې توجه د فساداتو څخه د نیکو اعمالو و طرفته را ګرځول دي.

چي کله عالم د خپلي زندګۍ غرض او مقصد په ښه طریقه سره ادا کړي او خپله زندګي د محمد ﷺ پر نقش قدم تېره کړي او د پېغمبر ﷺ د زندګۍ مقصد د خپلي زندګۍ مقصد وبولي، نو الله تعالی په معاشره کي دې عالم ته ډېر لوړ مقام ور کوي.

اول خو چي کله دَی په طلب د علم کي وي، نو هم د ده ډېره مبارکه زندګي وي.

حضرت انس ابن مالک رضي الله عنه د پېغمبر ﷺ یو حدیث مبارک را نقل کوي چي پېغمبر ﷺ به فرمایل: ﴿مَنْ اَحَبَّ اَنْ يَنظُرَ إِلَى عُتَقَاءِ اللّٰهِ مِنَ النَّارِ، فَلْيَنظُرْ إِلَى الْمُتَعَلِّمِينَ،

﴿فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، مَا مِنْ مُتَعَلِّمٍ يَخْتَلِفُ إِلَى بَابِ الْعَالِمِ إِلَّا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ بِكُلِّ حَرْفٍ وَبِكُلِّ قَدَمٍ، عِبَادَةَ سَنَةٍ، وَبَنَى لَهُ بِكُلِّ قَدَمٍ مَدِينَةً فِي الْجَنَّةِ، وَيَمْشِي عَلَى الْأَرْضِ وَالْأَرْضُ تَسْتَغْفِرُ لَهُ، وَيُمْسِي وَيُصْبِحُ مَغْفُورًا لَهُ، وَشَهِدَتْ لَهُ الْمَلَائِكَةُ وَيَقُولُونَ هَؤُلَاءِ عُتَقَاءُ اللَّهِ مِنَ النَّارِ﴾(١).

کچیري په دنیا کي هغه خلکو ته کتل غواړئ چي کم خلک الله تعالی د جهنم څخه آزاد کړي دي، نو تاسو د علم طالبانو ته وګورئ!

د خدای ﷻ په ذات دي مي قسم وي چي کم طالب د علم حاصلولو په نیت د یو عالم دروازې ته ورځي هغه ته پر هر حرف او پر هر قدم باندي الله تعالی د یو کال عبادت ثواب ور کوي او د ده دپاره په جنت کي یو ښار اباد وي.

او پر کمه مځکه چي د ده قدم لګیږي، نو هغه مځکه د ده دپاره مغفرت غواړي.

او سهار او ماښام فرښتې د ده د مغفرت اعلان کوي، چي دا هغه خلک دي چي کم خلک الله تعالی د جهنمه څخه آزاد کړي دي.

او پیغمبر ﷺ د طالب العلم متعلق دا وینا هم کوي: ﴿طَلَبُ الْعِلْمِ أَفْضَلُ عِنْدَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ مِنَ الصَّلَاةِ وَالصِّيَامِ وَالْحَجِّ وَالْجِهَادِ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ﴾(٢).

چي طلب د علم کول د الله ﷻ په نزد د نفلي لمانځه، نفلي روژې، نفلي حج او د جهاد في سبیل الله څخه افضل دئ.

خو نور څه کوې، چي طالب العلم ته الله تعالی کمه زندګي ور کړې وي، حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه فرمایي: کچیري د طالب نیت د الله ﷻ د رضا دپاره سي، نو بیا د مځکي پر مخ د انبیاء څخه را کښته بهترینه زندګي د طالب العلم ده.

نو دا غه رنګه صاحب د "ابن ماجه" د پیغمبر ﷺ یو حدیث را نقل کړی دئ: ﴿مَا مِنْ خَارِجٍ خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ، إِلَّا وَضَعَتْ لَهُ الْمَلَائِكَةُ أَجْنِحَتَهَا رِضًا بِمَا يَصْنَعُ﴾(٣).

(١) تنبیه الغافلین حدیث نمبر ٦٦٧
(٢) رواه صاحب المسند الفردوس عن ابن عباس حدیث نمبر: ٣٩١٠
(٣) سنن ابن ماجه حدیث ٢٢٦

طالب العلم چې کله پر مځکه تګ کوي، نو د الله تعالی فرشتې د برکت حاصلولو دپاره د ده تر پښو لاندې وزر غوړوي.
نو د الله تعالی په حضور کې چې کله یو طالبِ علم د طالبی په دوران کې وي، ډېر لوی قدر لري.
بعضو احادیثو کې دا هم راځي: چې کم انسان د علم په طلب کې ځي د ده پر بدن باندې چې کم ګرد او غبار راځي، د جهنم دود یا د جهنم اور د دې ګرده سره نسي یو ځای کېدلای.

## زر رحمته:

چې کله تاسو د طالبِ علمی د سرحدهٔ څخه د علماؤ و طرف ته را واوښتاست، نو ستاسو هم ډېره مبارکه زندګي ده. علماؤ لیکلي دي، چې روزانه د الله تعالی زر رحمته پر مځکه را نازلېږي، په هغوی کې نه سوه نه نیوي (۹۹۹) علماؤ او طلباؤ ته ورکول کېږي او یو رحمت پر ټولو عوامو باندې سره تقسیمېږي.
په دې وجه پیغمبرﷺ فرمايي: ﴿اغد عَالِمًا أَوْ مُتَعَلِّمًا أَوْ مُسْتَمِعًا أَوْ مُحِبًّا وَلَا تَكُنِ الْخَامِسَة فَتَهْلِكَ﴾.
ته عالم جوړ سه! یا طالب جوړ سه! یا صرف د دوی خبرو ته غوږ و نیسه! یا د دوی سره محبت کوه! او د ځانه پنځم مه جوړه وه ورنه ته به هلاک سې(۱).

## د عالم د اکرام ثمره:

یو روایت کې راځي چې کله انسان یو عالم ته کومک ور کړي، بیمار وي، بوډا وي، کمزوری وي، یا ستړی وي، نو الله تعالی د هر قدم په بدله کې د یو غلام ازادولو ثواب ور کوي.

(۱)رواه صاحب المسند الفردوس عن ابوبكره حديث نمبر ۱۷۵۲

او که چیري یو سړی د محبت او عقیدت په وجه یو عالم پر سر باندي مچ کړي، نو الله رب العزت د هر ورېښته په بدل کي ده ته نېکي او اجر ور کوي(١).

## د قیامت په میدان کي د علماؤ اکرام؟

په دې وجه په یو روایت کي راځي چي د قیامت په ورځ به د پیغمبر ﷺ امت د خپل پیغمبر ﷺ تر بیرغ لاندي جمع وي، او په دوی کي چي کم خلک تږي وي، نو د حوض کوثره څخه به د نبي ﷺ په حکم فرشتې د اوبو ډکي پیالې ور کوي. لیکن چي د امت کم علماء دي، نو الله رب العزت به د خپل محبوب ﷺ په لاس سره د حوض کوثره څخه د اوبو جامونه ور کوي؛ ځکه چي دا د پیغمبر ﷺ وارثین دي(٢).

## د نبي اکرم ﷺ دعوت او مېلمستیا:

حضرت توکل شاه امبالوي رحمة الله علیه ډېر لوی بزرگ تېر سوی دئ، الله تعالی ده ته ظاهري مال او دولت ور کړی وو، د ده دستر خوان به ډېر فراخ وو.
او ده به دا اعلان کوئ، چي کم سړی غریب وي، مسافر وي، نادار ه وي، لاچاره او بېوسه وي، نو هغه دي د ده پر دستر خوان باندي خوراک کوي، نو روزانه به په سوو کسان د ده پر دستر خوان باندي نفقه خوړله او د ډیري زمانې څخه د ده دا معمول وو.
یو ځل په خوب کي الله تعالی د پیغمبر ﷺ زیارت ور نصیب کړئ، د پیغمبر ﷺ په زیارت کولو ډَی ډېر خوشحاله وو، مګر پیغمبر ﷺ ورته وویل: ای توکل شاه! ته د الله تعالی مېلمستیا همېشه کوې او زما دي یو ورځ مېلمستیا نه وکړه.

(١)خطبات فقیر ج ۵ ص ۲۰۲
(٢)خطبات فقیر ج ۵ ص ۲۰۲

چي کله يې ستركي را روڼې سوې، نو ډېر پرېشانه وو. يو څو ورځې يې د الله تعالٰی په دربار کې ژړا و کړه، چي يا الله! د پيغمبرﷺ د دې خبري مقصد نه را معلومېږي.
بالاخر الله تعالٰی په زړه کي دا خبره د الهام په شکل ور واچوله، چي تا کم دسترخوان د الله د مخلوق دپاره خلاص کړی دئ، نو دا خو ته د الله ﷻ د مخلوق مېلمستيا د الله تعالٰی په نسبت کوې، نو دا ګويا داسي ده، لکه ته چي د الله ﷻ مېلمستيا کوې.
ليکن د نبي اکرمﷺ ورثه هغه علماء، حافظان او قاريان دي، تا هغوی ته دعوت نه دئ کړی، په دې وجه پيغمبرﷺ ګيله کوي. چنانچه ده د پوره ښار د علماوو، حافظانو او قاريانو دعوت و کړئ، نو ګويا دا د پيغمبرﷺ دعوت سو(۱).

## د عالم صفات:

يو علم دئ د هغه معرفت انسان ته د علم د تعريفه څخه کيږي، يو علماء دي، د هغه معرفت انسان ته د علامو او د خارجي قرائنو څخه کيږي. چي کم علماء د دې دومره اوصافو مستحق بلل کيږي، هغوی په حقه د پيغمبرﷺ وارثان بلل کيږي او هغوی د پيغمبرﷺ پر حقيقي ګدۍ او (کمبله) باندي ناست دي.
او هغه د قرآن حقيقي حاملين دي، هغوی حقيقي د قرآن پيغام رسونکي انسانان دي او د دې دومره فضائلو مستحق بلل کيږي، د هغوی به علامې او صفات څه وي؟ د هغوی به ورځ څنګه وي؟ د هغوی به شپه څنګه وي؟ او د هغوی ژوند به په دې معاشره کي په کم شکل تېرېږي؟

(۱)خطبات فقير ج۵ ص۲۰۳

تاسو د دې امت د فقیه حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه پوښتنه و کړئ، چي هغه د عالم صفات څنګه بیانوي؟ او بیا موږ او تاسو په دې خپل کړیوان کي و ګورو چي د عالم صفات پر موږ باندي په څومره اندازه کي تطبیق خوري.

فقیه ابولیث سمرقندي رحمة الله علیه په تنبیه الغافلین کي په "باب فضل القرآن" کي د حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ په ژبه د قرآن د حاملینو صفات داسي بیان کړي دي: ﴿قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: يَنْبَغِي لِحَامِلِ الْقُرْآنِ أَنْ يُعْرَفَ بِلَيْلِهِ، إِذَا النَّاسُ نَائِمُونَ﴾(١).

د قرآن کریم د حامل امتیاز او جدائي به د عامو انسانانو څخه د شپې په حالاتو کي وي، چي د عامو انسانانو شپه به په خوبو او راحتو کي تېرېږي، لیکن د حامل د قرآن کریم شپه به په عبادت او د الله جل جلاله سره په راز او نیاز کي تیرېږي. ځکه دی د پیغمبر ﷺ وارث دئ او پیغمبر ﷺ ته الله تعالی فرمایي: ﴿وَمِنَ اللَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهُ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيلًا﴾(٢).

ای پیغمبره! ته به د شپې عبادت کوې، سجدې به کوي او شپه به د عامو انسانانو غوندي نه تېروې.

لکه په بل ځای کي الله تعالی پیغمبر ﷺ ته فرمایي: ﴿فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ (٧) وَإِلَى رَبِّكَ فَارْغَبْ﴾(٣)

چي کله ته د نورو کارو څخه فارغ سوې، نو پر عبادت ودرېږه او د خپل رب طرفته توجه را وګرځوه!

او علماء د صحابه کرامو وارثان دي، تاسو د صحابه کرامو شپه و ګورئ چي په کم شکل تېرېږي او قرآن کریم د هغوی څنګه بیان کوي: ﴿يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا

(١) الزهد لاحمد بن حنبل حديث نمبر ٨٩٢
(٢) الدهر آيت ٢٦
(٣) سورة الم نشرح آيت ٧، ٨

وَقِیَامًا﴾(۱) چي د هغوی شپه به د سجدې او قیامي یعني د عبادت په شکل تېرېدله.

## د یو صحابي واقعه:

په مدینه منوره کي د "اصحاب صفه وو" یو نوجوان صحابي دئ، د شپ عبادت کوي، د سجدې په حالت کي په ډېر خوف سره ژړا کوي او دا وایي ﴿اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِيْ مِنَ النَّارِ، اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِيْ مِنَ النَّارِ﴾ یا الله! د جهنمه څخه پناه غواړم، ټوله شپه یې په دا غه مناجات کي تېره سوه.
سهار چي کله پیغمبر ﷺ د سهار د لمانځه څخه سلام وګرځوئ، نو هغه صحاب مبارک په صف کي ناست دئ، پیغمبر ﷺ ورته فرمایي: ای سړیه! په شپه ک دي دومره وژړل چي ستا پر ژړا باندي په خدای قسم د الله جل جلاله د عرش ملائک درسره په ژړا سوې(۲).
نو د عالم به شپه په داسي عبادت او ژړا کي تیرېږي، چي د هغوی پر ژړا باند به د الله تعالی د عرش ملائکي په ژړا کي راځي.
﴿وَنَهَارِهٖ یَصُوْمُ اِذَا النَّاسُ مُفْطِرُوْنَ﴾(۳).
د عالم ورځ به په روژه باندي ترېږي، په داسي حال کي چي عام خلک به خوراک کوي او د زندګی څخه به نفع اخلي.
ځکه د عالم و مخته د پیغمبر ﷺ یو حدیث مبارک وي، چي په هغه کي پیغمبر ﷺ فرمایي: ﴿لَو اَنَّ رَجُلًا صَامَ یَوْمًا تَطَوُّعًا ثُمَّ اُعْطِيَ مِلْءُ الْاَرْضِ ذَهَبًا لَمْ یَسْتَوْفِ ثَوَابَهُ دُوْنَ یَوْمِ الْحِسَابِ﴾.

---

(۱) الفرقان آیت ۶۴
(۲) بیانات جمیل صفحه ۲۷۲
(۳) الزهد لاحمد بن حنبل حدیث نمبر ۸۹۲

کچیري یو سړی یوه ورځ نفلي روژه ونیسي او دې سړي ته د ځمکي مخ ټول د سرو زرو ډک ور کول سي، لا هم د دې روژې ثواب د قیامت د میدانه څخه مخکي نسي پوره کېدای(۱).

هم دغه رنګه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دئ: ﴿مَنْ صَامَ يَوْماً تَطَوُّعاً لَمْ يَطَّلِعْ عَلَيْهِ أَحَدٌ لَمْ يَرْضَ اللهُ لَهُ بِثَوَابٍ دُوْنَ الْجَنَّةِ﴾(۲).

چي یو سړی په داسي شکل روژه ونیسي چي هیڅ څوک په ده خبر نسي؛ نو الله تعالیٰ و ده ته د جنت ور کولو بغیر نه راضي کیږي.

﴿وَيحْزَنه إذَا النَّاسُ يَفْرَحُونَ﴾(۳). او د عالم دریمه علامه به دا وي چي د هغه ژوند به په غم کي تیریږي، په داسي حال کي چي خلګ به د خوشحالۍ زندګي تېروي.

که د ځمکي په هر کونج کي پر مسلمانانو تکلیف وي، نو د عالم سره به د هغه فکر او غم ورسره وي.

بیا خاص کر په دې اوس حالاتو کي عالم خو څه کوي، د نفس مسلمان زړه به څنګه خوشحالي و کړي؛ ځکه هر څوکویني چي نن په دنیا کي مسلمان د کمو حالاتو سره مخامخ دئ.

نن تا ته معلومه ده چي په دنیا کي څومره مسلماناني زناني د کافرانو په قیدخانو کي د ظلم او وحشت په حالاتو کي ژوند سبا کوي. ډیري مسلماني خویندي کفري وحشیانو ظالمانو ونیولې ویې وهلې بیا یې شهیداني کړې او ویې غورځولې.

عبدالله ابن مبارک د دي حالاتو په باره کي یو دوه شعرونه وایي:

كَيْفَ الْقَرَارُ وَكَيْفَ يَهْدَأُ مُسْلِمٌ ..... وَالْمُسْلِمَاتُ مَعَ الْعَدُوِّ الْمُعْتَدِي

الضَّارِبَاتُ خُدُودَهُنَّ بِرَنَّةٍ..... الدَّاعِيَاتُ نَبِيَّهُنَّ مُحَمَّدًا

(۱)الترغیب والترهیب حدیث ۱۴۵۷
(۲) جامع الصغیر حدیث نمبر ۵۶۵۲
(۳) الزهد لاحمد بن حنبل حدیث نمبر ۸۹۲

اَلقَـائِلَاتُ إِذَا خَشِـيـنَ فَضِيـحَةً ..... جهـدل مقالـة يَـا لَيتَنـى لـمَ تُولَـ
مَـا تَسـتَطِيعُ وَ مَالَهَـا مِـن حِيلَـةٍ ..... إِلاالتَّصَـعُّر مِنـهُ بِـيَـا الیَـ

دې حالاتو کې به الله تعالىٰ مسلمانانو ته څنګه ارام ور کړي، چې د مسلما
زناني د هغه وحشي درندګانو په جېلو کې د "وا محمدا" نعرې وهي. چ
رسوائی په حالت کې هغوی خپلو مخانو ته د افسوس څپېړې ور کوي او وا
چې کاشکې په دنیا کې میندو نه وای زېږولي!

چې کله وحشي درنده ور باندې را مخته سي او دا سر توره د جېل په پنجر
ناسته وي، نو د هغو وحشیانو څخه د خپلې بې وسۍ په خاطر د خپل
خوندي کولو د پاره نور طاقت نه لري، نو دا لاس و مخته ونیسي او په لاس
د خپل مخ پرده کوي.

نارینه خو څه کوې، نن د مسلمانانو هغه صنفِ نازک چې زنانه دي هغوی
داسې حالاتو کې شپې او ورځې تېروي، نو په دې حالاتو کې به عالم خو
کوې، د نفس مسلمان زړه به څنګه د غمه څخه خالي سي.

﴿وَبُكَائِهِ إِذَا النَّاسُ يَضحَكُونَ﴾(۲). او د عالم بله علامه به دا وي چې د هغه پر مخ
همېشه د ژړا اثر ښکاره وي، په داسې حال کې چې عام خلګ به په خندا او
ژوند تېروي.

ځکه د عالم و مخته د پيغمبرﷺ حديث مبارک دئ: ﴿مَن بَكَى فِي اشتِيَاقِ المَولَى
خَشيَةِ اللهِ فَلَه جَنَّةُ المَأوىٰ﴾(۳).

چې کم چا د الله تعالىٰ په عشق کې ژړا و کړه، نو ده ته به الله تعالىٰ په ج
المأوىٰ کې ځای ور کې.

(۱) کتاب الجهاد لعبد الله ابن مبارک صفحه: ۱۰۰
(۲) الزهد لاحمد بن حنبل حدیث نمبر ۸۹۲
(۳) خطبات فقیر ج ۴ ص ۱۹۰

د حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ فرمان دئ چي پیغمبر ﷺ به فرمایل: ﴿تضرعوا وابكوا فإن السموات والأرض والشمس والقمر والنجوم يبكون من خشية الله﴾(۱)
تاسي تضرع او ژړا کوئ! ځکه چي اسمانونه، مځکي، لمر او سپوږمۍ هم د الله تعالٰی د خشیت څخه ژړا کوي.
نو د عالم پر مخ به ځکه د ژړا آثار ښکاره وي.
او دا یو دوې علامې موږ هم ورسره ملګري کوو. چي د عالم بله علامه به داوي:
﴿وبخلوصه إذالناس يراؤون﴾(۲). عام خلګ به ریا کاري کوي او د عالم هر عمل به په اخلاص باندي وي.
ځکه چي هر عمل په اخلاص او د الله تعالٰی د رضا دپاره وي، نو هغه د انسان دپاره د نجات ذریعه او سبب ګرځي.

## د حضرت ابو بکر صدیق ﷺ قول:

په حیات صحابه کي لیکلي دي: یزید ابن هارون د حضرت ابوبکر ﷺ شاګرد دئ، هغه بیان کوي چي حضرت ابوبکر ﷺ به ویل: د قیامت په میدان کي به یو سړی راوستل سي هغه ته به الله تعالٰی هر څه ور کړي وي، روغ صحت، مال، دولت او په ښو نعمتو به یې نازولي وي، نو د قیامت په میدان کي د ټولو اقوامو د عالم په درمیان کي به ودرول سي، الله تعالٰی به ورته ووایي: ما خو تا ته هر څه در کړي وه، د نن ورځي دپاره دي څه کړي دي؟
دی به خپل هر عمل را پیش کړي، خو په هغه کي به د اخلاص او د الله جل جلاله د رضا دپاره د کولو فقدان وي، نو الله تعالٰی به یې دېر شرمنده کړي، تر دې حده پوري چي د بدن ټولي او ښکي به یې تر ستر ګو توی سي.

---

(۱)خطبات فقیر ج۴ ص۱۷۴
(۲)الزهد لاحمد بن حنبل حدیث نمبر ۸۹۲

نو دوهم ځل به یې الله تعالی شرمنده کړي، چې د اوښکو پر ځای به یې د بدن ټولي ويني تر سترګو توی سي.
او دريم ځل به يې الله تعالی ډېر شرمنده کي، چې ډَی به دا خپل لاس تر څنګلي پوري په غاښو وژووي.
او څلرم ځل به يې الله تعالی ډېر شرمنده کړي، چې دا سترګي به يې پر مخ باندي را توی سي، او دا هره سترګه به په "طول" او "عرض" باندي دري ميله په دري ميله کي و ټولو اقوامو د عالم ته ښکاره کيږي.
او ډَی به دا چيغي وهي:
- يا الله! پر ما رحم و که!
- الله تعالی به ورته ووايي: څه رحم در باندي و کړم؟
- نو ډَی به ورته ووايي: يا الله! زما په قسمت کي جهنم دئ، ما جهنم ته واستوه! د قيامت د ميدان رسوائي نوره نسم برداشتولای، جهنم ته استول به ستا زما سره رحم وي.

نو کم څوک چي په اعمالو کي اخلاص او د الله تعالی رضا نه لري، نو هغه خو به بيا جهنم د ځان دپاره د الله ﷻ رحم بولي.
نو د عالم هر قول، فعل او عمل به په اخلاص او د الله ﷻ د رضا دپاره وي.
﴿وَبِصَمْتِهِ إِذَا النَّاسُ يَنْطِقُونَ﴾(۱). او بله علامه يې دا ده چي پر عامو خلګو چي کله مسکنت او مشکل راسي، نو هغوی خپل لاسونه د خلګو و مخته اوږدوي، مګر عالم بايد داسي نه وي؛ ځکه چي د هغه دا عقيده وي چي دا مسکنت، لوږي او تندي د پيغمبر ﷺ په کور مبارک کي تېر سوي دي، نو چونکه ډَی خپل ژوند د پيغمبر ﷺ پر نقش قدم باندي تېرول غواړي، نو ځکه ډَی به هم دا حالات په ورين تندي باندي برداشوي.

(۱) الزهد لاحمد بن حنبل حديث نمبر ۸۹۲

**د پیغمبر ﷺ د کور حالات:**

حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها ناجوړه ده، پیغمبر ﷺ د دې د پوښتنې دپاره د دې کور ته راځي، د قریشو سردار حضرت "عمران ابن حصین" هم ورسره دئ.
چې کله دروازې ته راغلئ، نو آواز ور کوي، چې بچیه! موږ ستا پوښتنې ته راځو، یو بل سړی راسره دئ، نو ته لږ پرده وکه!
حضرت فاطمة الزهراء د کوره څخه حال ور ته را استوي، چې ای د الله ﷺ رسوله! زما په کور کې دونه کپړه نسته چې په هغې باندې د ځان پرده وکم.
زموږ په علم کې به دا څومره خوار او سټړی کور وو، چې د هغه کور د زنانې د سر پټولو دپاره پرده نه وي او د هغوی د بچیانو نفقه نه وي، لیکن زموږ علم عین جهالت دئ. د الله په علم کې دا هغه عزت مند کور وو، چې د هغه زنانه د جنت د ټولو زنانو سرداره وه، د هغوی بچیان د جنت د نوجوانانو سرداران وه او د هغوی د خاوند په باره کې الله تعالی پر عرش دا فیصله لیکلې وه: ﴿علیّ اسد الله و اسد رسوله﴾ چې علي به د الله جل جلاله او د الله جل جلاله د رسول ﷺ زمری وي.
آخر پیغمبر ﷺ د خپلې اوږې پټو او څادر ور استوي او ورته وایي: بچیه! ته په دې کې یو ځل کښېنه او خپله پرده وکه، چې موږ ستا پوښتنې ته راسو.
حضرت فاطمة الزهراء د خونې په یو کونج کې د پیغمبر ﷺ په پټو کې پرله پیچلې کښېنسته او پیغمبر ﷺ د "عمران ابن حصین" سره پوښتنې ته راغلئ.
چې کله پیغمبر ﷺ کښېنستئ، نو حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها ډېره ژاړي، نو پیغمبر ﷺ ورته وایي:

- بچیه! ولې ژاړې؟
- دا ورته وایي: ای پلاره په کور کې مسکنت دئ، بچې د لوږې څخه ژاړي، نفقه نسته او په کور کې بیماري ده، د دوا بندوبست نسته. خو دا ټوله اسانه دي، نن ستاسو غوندې مېلمانه زما کور ته راغلاست او زما په کور کې دونه څه نسته چې زه یې ستاسو و خدمت ته پېش کړم.

پیغمبر ﷺ حضرت فاطمة الزهراء په غېږ پوري و نیوله او د هغې پر ژړا باندي پیغمبر ﷺ هم ورسره ژاړي.
چي کله پر پیغمبر ﷺ باندي د طائف په شله کي د کاڼو او ډبرو باران وو، نو هلته د پیغمبر ﷺ ژړا نه ده ثابته، لیکن دلته چي کله د حضرت فاطمې حالویني، نو د هغې پر ژړا باندي ور سره ژاړي.
آخر ورته وایي: ای بچیه! که ستا پر کور لوږه او مسکنت دئ ﴿وَالذِي بَعَثَ اَبَاکَ بِالْحَقِ مَا ذُقْتُ مُذْ ثَلَاثَةَ اَیَامٍ فَوَاقًا﴾ زما دي په هغه ذات قسم وي، چي ستا پلار ته یې نبوت ور کړی دئ، نن دریمه ورځ ده چي زما نس ته هم یوه ګوله نه ده راغلې.
بیا ورته وایي: ﴿اِبِي عَلَيَّ رَبِّيْ لِیَجْعَلَ مَابَیْنَ الْمَکَّةِ وَالْمَدِینَةِ ذَهَبًا﴾ زما رب ما ته دا را پیش کړه چي ای پیغمبره! که ته غواړې، نو د مکې او مدینې مابین به ټول درته سره زر کړم او ته به خپل ضرورت په پوره کوې، لیکن ما انکار و کړئ او و مي ویل: چي ﴿یَا رَبِّيْ اَجُوْعُ یَوْمًا وَ اَشْبَعُ یَوْمًا اِذَا جُعْتُ تَضَرَّعْتُ اِلَیْکَ وَذَکَرْتُکَ وَ اِذَا شَبِعْتُ حَمِدْتُکَ وَ شَکَرْتُکَ﴾(۱) یا الله! زه دا غواړم چي یوه ورځ وږئ یم او یوه ورځ موړ یم، چي په کمه ورځ وږی یم تا ته به خپله عاجزي ښکاره کوم او تا به یادوم. او چي په کمه ورځ موړ یم، نو په هغه ورځ به ستا حمد او شکر ادا کوم.
ځکه چي زما د امت اکثره انسانان به فقیران وي او د هغوی دپاره زما زندګي تسلي وي. کچیري د هغوی په کور کي د نفقې بندوبست نه وي، نو دوی به وایي: چي دا حالات زموږ د نبي ﷺ په کور کي هم تېر سوي دي، کچیري د هغوی د بچیانو د دوا بندوبست نه وي، نو هغوی به وایي: چي د پیغمبر ﷺ د محبوبي لور د دوا بندوبست هم نه وو. کچیري د هغوی د جامې ضرورت نه پوره کیږي، نو د هغوی به دا تسلي وي، چي دا د جامې ضرورت نه پوره کېدل د پیغمبر ﷺ په کور کي هم وو.

(۱) روح البیان سورة الفرقان آیت ۸ تا ۱۰

بیا خاصکر عالم چي کله پر هغه باندي دا مشکلات راسي، هغه چونکه د پیغمبر ﷺ حقیقي وارث دئ، نو هغه خو به دا حالات په ډېر ورین تندي برداشوي.

او د دې حالاتو په وجه ذ خلګو و مخته خپل مسکنت ښکاره کولو پر ځای به د صبر او قناعت څخه برخمند وي.

کچیري الله تعالی یو عالم ته دا صفات ور کړي، نو بیا هغه عالم په حقه سره د پیغمبر ﷺ وارث دئ او د دې دین صحیح ترجمان دئ. نو هغه عالم باید د دې خپل علم قدر و کړي او دا خپل علم د دنیوي ضروریاتو پوره کولو دپاره خوار او ذلیل نه کړي.

## د عطاء ابن ابي رباح رحمة الله علیه استغنی:

حضرت عطاء ابن ابي رباح رحمة الله علیه د خپل وخت ډېر لوی عالم وو، د ده په وخت کي سلیمان ابن عبدالملک د وخت ډېر جابر خلیفه وو، چي د خپل وخت ډېر لوی لوی سرداران او غوندي سپه سالاران ده قتل کړه. د ده زوی ایوب د عطاء ابن ابي رباح رحمة الله علیه مجلس ته راغلئ، چي ولي عهد هم وو.

یو شاګرد حضرت عطاء رحمة الله علیه ته وایي: چي ایوب د سلیمان زوی چي د وخت ولي عهد دئ، راغلئ. ایوب هغه سړی وو چي کله دَی مړ سو ،نو د ده پر ځای باندي عمر ابن عبدالعزیز رحمة الله علیه خلیفه جوړ سو.

حضرت عطاء رحمة الله علیه ورته وایي: چي ماته ښه معلومه ده، چي د سلیمان زوی راغلی دئ، لیکن زه و دوی ته دا وربنیم: ﴿لِيَعْلَم هُوَ وَ اَبُوْهُ اِنَّ لِلّٰهِ عِبَادًا يَزْهَدُوْنَ فِيْهِم وَ فِيْمَا اَيْدِيْهِم﴾ چي په دنیا کي داسي خلګ سته، نه دوی ضرورت لري او نه چي کم د دوی سره دولت او حکومت دئ، د هغه طلبګاره دي(۱).

(۱) شاهکار تقاریر صفحه ۲۰۲

## د سالم ابن عبدالله د دنیا څخه بې رغبتي:

حضرت سالم بن عبدالله بن عمر ﷺ د بیت الله طواف کوئ، نو د بنو امیه خلیفه هشام بن عبدالملک د ده سره طواف کوئ. هشام ورته وایي:

- ای سالمه! کچیري د شي حاجت وي، نو راته ووایه!
- هغه په جواب کي ورته وایي: ﴿اتَّقِ اللهَ﴾ د الله ﷻ څخه و بېرېږه! د الله ﷻ په کور کي د الله ﷻ څخه ماسوا د بل چا څخه غوښتل څومره د شرم خبره ده!!!

هشام خاموش سو. چي کله طواف ختم سو او دواړه دباندي را ووته، نو بیا هشام ورته وایي:

- ای سالمه! اوس خو خپل حاجت راته ووایه!
- سالم رحمة الله علیه ورته وایي: چي د دنیا حاجت او که د آخرت حاجت؟
- هشام ورته وایي: د آخرت حاجت خو زه نه سم پوره کولای، د دنیا حاجت راته ووایه!
- حضرت سالم رحمة الله علیه ورته وایي: ﴿مَاسَئَلْتُ مَن يَمْلِكُهَا فَكَيْفَ مَن لَا يَمْلِكُهَا﴾(1) دنیا خو ما تر اوسه د دنیا جوړونکي څخه لا نه ده غوښتي، نو چي کم چا دنیا نه ده جوړه کړې د هغه څخه به یې څنګه وغواړم.

نو چي کم چا ته الله ﷻ علم په نصیب ور کړی وي، نو هغه د خپل حاجت پوره کولو دپاره چا ته لاس نه غځوي.

او عبدالله ابن مسعود ﷺ دا هم فرمایي:

﴿وَيَنْبَغِي لِحَامِلِ الْقُرْآنِ أَنْ يَكُونَ بَاكِيًا، حَزِينًا، حَلِيمًا، سَكِينًا، لَيِّنًا، وَلَا يَنْبَغِي لِحَامِلِ الْقُرْآنِ، أَنْ يَكُونَ جَافِيًا، وَلَا غَافِلًا، وَلَا صَبَّاحًا ، وَلَا حَدِيدًا﴾(2).

عالم او حامل د قرآن باید ژړا کونکی، غمجن، صبر ناکه، نرم او بردباره وي.

---

(1) شاهکار تقاریر صفحه ۲۰۳

(2) الزهد لاحمد بن حنبل حدیث نمبر ۸۹۲

او د حامل د قرآن دپاره دا مناسب نه وي، چي سخت دله، غافله صياح او منظري کونکی وي.

## امام بخاري رحمة الله عليه او د علم قدر:

امام بخاري رحمة الله عليه به د خپل علم ډېر قدر کوئ، چي الله تعالى کم علم ده ته ور کړی وو، هغه به يې د دنيوي ضروریاتو پوره کولو دپاره نه استعمالوئ.
د وخت حاکم ورته وويل چي زما کور ته به راځې او زما بچيانو ته به علم ور زده کوې، ده په جواب کي ورته وويل: دا د علم توهين دئ او زه د علم توهين نه سم کولای.
نو هغه حاکم ورته وويل: بيا به دا ښار پرېږدې.
نو هغه ښار يې پرېښوی، مګر د علم توهين يې و نه کړئ(۱).
تاسو و ګورئ! تر ننه پوري الله تعالى و هغوی ته د علم په ذريعه کم قسم عزت ور کړی دئ.

## د چمبېلي د ګل تعبير:

يو سړي ابن سيرين رحمة الله عليه ته راغلئ خپل خوب ورته بيانوي، چي حضرت ما په خوب کي دا ليدل چي يو کوتره ده د چمبېلي ګل خوري. ده په جواب کي ورته وويل: د دې تعبير دا دئ چي چند علماء به ډېر ژر د مځکي څخه رخصت سي.
چنانچه په را روانو څو ورځو کي شل علماء الله تعالى د دنيا څخه رخصت کړل.
نو په خوب کي د چمبېلي ګل ليدل د هغه تعبير په علماء سره سوی دئ(۲).
نو ځکه د علماؤ خپل شان وي.

---

(۱) خطبات فقير جلد ۵ صفحه ۲۰۵
(۲) خطبات فقير جلد ۵ صفحه ۲۰۶

نو باید د علماؤ په زړه کې دا یقین وي، چې زما ضروریات الله تعالیٰ د غیبو څخه پوره کوي او د خپلو ضروریاتو پوره کولو دپاره خپل علم خوار نه کړي.

## د عالم او جاهل فرق:

فقهاؤ کرامو دا مسئله لیکلې ده، کچیرې یو عالم او جاهل دواړه په یو وخت کې سره گرفتار سي او یو سړي ته حکومت دا اختیار ور کړي چې په دوی دواړو کې یو آزاد که، نو د هغه دپاره دا ضروري ده چې جاهل آزاد کړي.

په دې وجه چې په عالم کې د دین په خاطر د تکلیفو برداشولو زیاته ملکه وي او پر الله تعالیٰ یې زیات توکل وي، نو هغه د تکلیفو په وخت کې غلطه کلمه تر خوله نه راباسي.

او جاهل چونکه د تکلیفو برداش نه لري، نو د هغه سره دا خطره ده، چې د هغه تر خوله دې داسې کلمه را ووځي چې د هغې په وجه بې ایمانه سي.

مگر دوهمه مسئله فقهاؤ دا لیکلې ده، کچیرې په حمام کې یو عالم او جاهل دواړه لمبیږي او یو سړي جامې ځني غلا کړې، نو اوس خو د دواړو پر بدن جامې نسته، لیکن د یو بل سړي سره یوه جامه ده، نو هغه باید دغه جامه اول هغه عالم ته ور کړي چې په هغه سره هغه عالم خپل عورت خوندي کړي.

په دې وجه چې د عالم نظر د شریعت او سنت په وجه د جاهل پر جسم باندې نه لگیږي، لیکن د جاهل نظر د عالم پر جسم باندې لگیږي(۱).

نو د علم دا تقاضا او د شریعت دا توقع ده چې علماء د دې امت صحیح راهنمائي وکړي.

---

(۱) خطبات فقیر جلد ۵ صفحه ۲۰۶

## علماء د امت هنداري دي:

هارون رشيد بادشاه د علماؤ ډېر قدردان وو، يو ځل علماء هم ناست دي چي شقيق بلخي رحمة الله عليه هارون رشيد ته نصيحت کوي او ورته فرمايي:
ګوره! د درياب اوبه کچيرې صافي وي، نو په نهرو کي صافي اوبه راځي او که د درياب اوبه ګنده سوې، نو بيا به په نهرو کي هم ګنده اوبه راځي.
کچيري د علماؤ په زړو کي د دين جذبه وه، نو د عوامو زړو ته به هم دا جذبه منتقله کيږي او کچيري د علماؤ په زړو کي دنيا ځای ونيوئ، نو د عوامُ الناس څخه د ګيلې کولو بيا څه فائده نه وي(۱).

## د علماءِ سوء او علماءِ حق کردار:

د امام مالک رحمة الله عليه څخه يو چا پوښتنه وکړه، چي حضرت! پر دې امت چي کله هم زوال راغلی دئ هغه په څه وجه سره؟
نو امام مالک رحمة الله عليه ورته وويل: د علماؤ په وجه.
دوهمه پوښتنه ئې کوي، چي کله د دې امت کښتۍ ډوبه سوې ده، يعني امت د غرقېدو سره مخامخ سوی دئ، نو د هغه د بچاو بندوبست چا کړی دئ؟ امام مالک رحمة الله عليه ورته وايي: علماؤ.
هغه سړی ورته وايي: آيا دا څنګه خبره ده، چي د امت کښتۍ ډوبيږي هم د علماؤ په وجه او نجات يې هم د علماؤ په وجه دئ؟
امام مالک رحمة الله عليه ورته فرمايي: چي کم "علماء سوء" وي، هغه د دې امت د ډوبېدو سبب جوړيږي او چي کم "علماء حق" وي، هغه به د دې امت د نجات ذريعه ګرځي.

(۱) خطبات فقير جلد ۵ صفحه ۲۰۷

"علماء سوء" چونکه دوی خپل علم د دنیا د راحت او آرام دپاره استعمالوي، نو الله تعالٰی په ټولو انسانانو کي دوی ته بدترینه سزا ور کوي(١).

## د علماء سوء د نس بد بويي:

په يو روايت کي راځي چي د جهنم فرښتي به الله ﷻ ته شکايت کوي چي يا الله ﷻ! د دوو شيانو بدبويۍ موږ ډېر پرېشانه کړي يو.
يو د کفارو د بدنه ځخه چي کمه بد بويي راځي او دوهم د "علماء سوء" د نسونو ځخه چي کمه بدبويي ده، د هغه ځخه موږ ډېر پرېشانه يو(٢).

## د ګمراهۍ لاري:

نو په دې وجه باندي "علماء حق" هغه څوک دي چي هغوی په خپل علم باندي عمل کوي؛ ځکه چي د علم په وجه انسان ته د حق لاره ور ښکاره کيږي. ځکه د قرآن فرمان دئ: ﴿وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَى وَالْبَصِيرُ وَلَا الظُّلُمَاتُ وَلَا النُّورُ﴾(٣).
امام غزالي رحمة الله عليه فرمايي: چي د اعمٰی ځخه مراد جاهل او د بصير ځخه مراد عالم دئ. الله تعالٰی دي موږ په حقاني علماؤ کي شمار کړي. او الله تعالٰی دي مو دا علم د جهنم سبب نه ګرځوي. او الله تعالٰی دي د امت د صحيح راهنمائۍ کولو توفيق را کړي.
او الله تعالٰی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.
(آمين يا رب العالمين)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَ أَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْن.

---

(١) خطبات فقير جلد ۵ صفحه ۲۰۵
(٢) خطبات فقير جلد ۵ صفحه ۲۰٦
(٣) الفاطر آيت ۲۰/۱۹

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الایہ)

# د صبر او قناعت بیان

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب و تخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطیع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ کلیم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | خلورم |
| تاریخ | یکم ربیع الثاني ١۴٣٩ بمطابق یکم مي ٢٠١٨ |
| تعداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُورُ﴾(۱).

وقال رسول الله ﷺ ﴿وَارْضَ بِمَا قَسَمَ اللّٰهُ لَكَ تَكُنْ أَغْنَى النَّاسِ﴾(۲).

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم، وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهید:**

محترمو مشرانو! ستاسي په مخ کي ما د پیغمبر ﷺ یو حدیث مبارک پیش کړی، د دې حدیث راوي حضرت ابو هریره رضی الله عنه دئ.

دی مبارک فرمایي: چي پیغمبر ﷺ "اصحاب صفه" ته یو حدیث مبارک پیش کړی او دا یې و فرمایل: زما یو څو خبري دي هغه به کم څوک وي چي دا خبري یادي وساتي، عمل په وکړي او بیا یې تر نورو انسانانو پوري و رسوي.

حضرت ابو هریره رضی الله عنه وایي: ما په جواب کي ورته وویل: ﴿أَنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ﴾! یعني زه به دا خبري یادي وساتم، عمل به په وکړم او نورو ته به یې ورسوم.

نو حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایي: چي په هغه خبرو کي یوه خبره پیغمبر علیه السلام ماته دا وکړه: ﴿وَارْضَ بِمَا قَسَمَ اللّٰهُ لَكَ تَكُنْ أَغْنَى النَّاسِ﴾(۳) یعني الله جل جلاله چي ستا په

(۱) سورة الفاطر، (الآية، ۵)
(۲) سنن ترمذي حديث، ۲۳۰۵
(۳) سنن ترمذي حديث، ۲۳۰۵

قسمت کې څه ليکلي وي په هغه باندې راضي اوسه! که چيرې ته په خپل قسمت باندې راضي سې، نو ته به د دنيا په خلکو کې زيات "غني" جوړ سې.

د ټولو څخه مخکې په دې خبره سر خلاصول چې د "غنٰي" معنٰى عام طور زموږ په عرف او اصطلاح کې په مالدار او دولتمند سره کيږي. چې د کم چا سره پيسه او دولت زيات وي، هغه ته خلک "غني" وايي.

ليکن په حقيقت کې د "غني" معنٰى دولتمند او مالداره نه ده، بلکې غني هغه چا ته وايي چې يو سړی د بل چا محتاجه نه وي.

چونکې د کم چا سره چې دولت وي، پيسه وي او مال وي، نو هغه هم د چا و مختـه لاس نه غځوي او د چا څخه د غوښتني ضرورت نه لري. په دې وجه سره وده ته هم "غني" وايي.

ور نه د "غنٰي" معنٰى مالداري نه ده، بلکې د دې اصلي معنٰى د حاجته څخه بې نيازه کېدل دي. يعني چې يو سړی د بل چا محتاجه نه وي، نو هغه غني دئ.

## غني څوک دئ؟

په يو حديث مبارک کې پيغمبر عليه السلام فرمايي: ﴿لَيسَ الغِنَى عَنْ كَثْرَةِ العَرَضِ، وَلَكِنْ الغِنَى غنى النَّفسِ﴾(¹).

په اصل کې "غنٰي" د پيسو او د سامان په کثرت سره نه وي، بلکې "غنٰي" "غنٰي" د نفس وي.

چې انسان په خپل زړه کې د الله تعالٰی پر ور کول سوي رزق باندې او د الله تعالٰی پر تقدير باندې قناعت او صبر و کړي، او د نورو خلکو څخه خپل ځان مستغني او بې نيازه کړي. او و وايي: بس کم رزق چې ما ته الله جل جلاله را کړی دئ هغه زما د پاره کافي دئ.

---

(¹) صحيح بخاري حديث: ۲۳۷۲

د انسان په زړه کي چي کله دا خیال پیدا سي، نو هغه انسان غني دئ. ځکه چي پیسه خو بالذات هیڅ شی نه ده. آیا پیسه د لوږي په وخت کي څوک خوړلای سي؟ آیا د لڅ والي په وخت کي پیسه څوک اغوستلای سي؟ نه، بلکي د پیسو مقصد دا وي چي انسان د تنګدستۍ په وخت کي خپل ضرورت په پوره کړي او د نورو خلګو محتاجه نسي.

اوس که چیري د یو سړي سره ډیري پیسې، ډېر جائدادونه وي، لیکن د دې ټولو باوجود په دې سړي کي بې نیازي را نه سي، د نورو خلګو حاجتمند وي او د خپل حاجت پوره کولو دپاره د خلګو سره کښېنه او پورته کیږي، نو دې سړي ته حقیقتًا "غنٰی" حاصله نه ده.

لیکن یو بل سړی دئ چي د هغه آمدني ډېره کمه وي او د شمار او حساب په لحاظ د هغه پیسې ډیري لږ وي.

لیکن هغه سړی د نورو خلګو څخه بې نیازه وي، هغه د خپل حاجت پوره کولو لپاره و چا ته نه ګوري، نه د چا و مخته لاس غځوي او نه د چا سره کښېنه او پوره ته کیږي، دا سړی "غني" دئ او ده ته حقیقتًا "غنٰی" حاصله ده.

نو اصل "غنٰی" د زړه "غنٰی" ده، چي په زړه کي انسان د نورو خلګو څخه مستغني او بې نیازه سي.

## د غني دپاره د دوو شیانو ضرورت:

بهر حال! په دې جمله کي پیغمبر علیه السلام ډېر اهمه خبره کړې ده. الله تعالٰی دي موږ ټولو ته پر دې خبره د عمل کولو توفیق را کړي "آمین".

هغه دا چي په دنیا کي په خپل قسمت راضي کېدل د ټولو څخه لویه "غنٰی" ده.

په دې حدیث مبارک کي پیغمبر علیه السلام د دوو خبرو تلقین کړی دئ یو "قناعت" دوهم "رضا بالقضاء" یعني په تقدیر باندي راضي کېدل.

که چیري دغه دوې خبري انسان په خپل زړه کي کښېنوي، نو د ټولو انسانانو څخه به زيات "غني" سي.

اول: د "قناعت" معنی ده په جائز او مناسب تدبير سره او په درمیانه کوشش سره او په حلاله طريقه سره چي کم مقدار رزق زما په نصيب سو هغه زما دپاره کافي دئ، زه د دې څخه زيات د نور مال هوس او حرص نه لرم. د دې نوم دئ قناعت. او قناعت ډېر اهم صفت دئ چي د هر مؤمن د شان سره لائق دئ.

او په خپله حضور اقدس ﷺ د دې غوښتنه کړې ده او داسي يې فرمايلي دي:

﴿اَللّٰهُمَّ قَنِّعْنِیْ بِمَا رَزَقْتَنِیْ﴾(١).

ترجمه: ای الله! چي کم رزق تا ما ته راکړی دئ، ما ته پر هغه باندي په دنیا کي قناعت را نصيب که!

د دغه قناعته بغير انسان ته راحت او سکون نه سي حاصلېدلای.

## هر خواهش نسي پوره کېدای:

د قناعت حاصلولو دپاره بايد دا فکر وسي چي خواهشات خو د انسان په زړه کي بې شماره پيدا کيږي چي زه داسي جوړ سم، ماته دومره دولت په لاس راسي، ماته دا رنګه کور پيدا سي او په داسي شکل دي مي سوارلي وي.

ليکن پر روی زمين باندي داسي انسان الله تعالی نه دئ پيدا کړئ چي د هغه هر خواهش پوره وي. که هر څومره لوی بادشاه وي، که هر څومره لوی ولي وي، او که هر څومره لوی بزرګ او صوفي وي، ځکه چي د ټولو خواهشاتو پوره کېدلو ځای الله تعالی جنت پيدا کړی دئ.

دا دنيا الله تعالی داسي جوړه کړې ده چي په دې کي به د انسان يو څه خواهشات پوره وي او يو څه به يې مانده وي.

(١) تفسير المراغي، جز نمبر ۱۴ صفحه نمبر ۱۳۹

نو اوس د انسان و مخته دوې لارې دي: يا به ټوله زندګي د خواهشاتو پوره کولو په طلب پسې ګرځي او دا شکوې او شکايتونه به کوي چې زما فلانی خواهش نه دئ پوره او زه فلانی شی غواړم چې ماته ورسيږي. نو ټوله زندګي به يې په حسرت او افسوس کي تېره سي.

ولي چي د تقدير څخه زيات انسان ته شی نه رسيږي. که انسان هر څومره ژړا و کړي، هر څومره فرياد و کړي، او د خلکو و مخته هر څومره شکايتونه و کړي، چي څه يې په تقدير کي ليکلي وي هغه به ورده ته رسيږي نور به نه وي.

## د الله پر فيصله باندي راضي کېدل:

دوهمه لار داده چي انسان ته څه ورسيږي هغه په خندا او خوشحالي سره قبول کړي او د الله پر فيصله باندي راضي سي او پر خپل رزق باندي قناعت او صبر اختيار کړي.

بس دغه دوه صورته دي. لهذا د الله جل شانه پر تقدير او د هغه پر تقسيم باندي راضي سه! چي څه الله تعالی در کړي دي هغه ستا دپاره مناسب دي.

البته په جائزه او حلاله طريقه سره د رزق حاصلولو تدبير کول په شريعت کي څه منع نه دئ.

ليکن د تدبير څخه وروسته چي څه رزق الله تعالی انسان ته ور کړي په هغه باندي خوشحاله کېدل چي زما نصيب او قسمت دغومره دئ چي الله ماته را کړی دئ.

اوس د دې څخه زيات د مال او دولت په هوس کي خپل ځان مبتلا کول خپل ځان پرېشانه کول او نور خلک د پرېشانۍ سره مخامخ کول، او د مال او دولت په طلب کي روا او ناروا طريقې استعمالول دا هغه مصيبت دئ چي ټوله انسانان په دې کي مبتلا دي.

او پیغمبر ﷺ د دې حدیث مبارک په برکت سره د انسانانو د دې مصیبت څخه د بچاوولو کوشش کړی دی.

## په جائز او معتدله طریقه سره مال پیدا کول:

اوله خبره داده چې د دولت او مال حاصلولو دپاره طریقه حرامه او ناجائزه باید نه وي، بلکې په کمه طریقه سره چې انسان مال او دولت پیدا کوي، هغه باید حلاله او جائزه وي. او چې الله تعالی انسان ته کم مال او دولت ورکړي پر هغه باندې باید قناعت او صبر وکړي.

دوهمه خبره دأده چې په جائزه او حلاله طریقه کې هم په اعتدال سره کوشش کول مناسب دي.

دا نه چې د سهار څخه ونیستې تر ماښامه پورې په مال پیدا کولو کې انسان مشغول وي او د دنیا په منډو او ترنډو کې لګیا وي. د هر څومره مال پیدا کولو سره سره دا خواهش وي چې مال دې مې نور هم زیات سي.

او د دنیا حرص او هوس دومره زیات سي چې هر وخت د انسان په زړه او دماغ باندې د دنیا فکر او سوچ وي. دا د یو مؤمن د شانه سره مناسب نه وي.

نو د جائزو او حلالو طریقو سره د دنیا په پیدا کولو کې اعتدال مناسب وي. دا نه چې د دنیا فکر د انسان په دماغ کې داسې کښېني چې اوس په خوب هم انسان ته د دنیا کټلو طریقې راځي.

بقول شخصي د یو سړي په قول چې د کم تاجر په دماغ کې دنیا ځای نیولی وي هغه چې د شپې پر بستره پرېوزي، نو د آسمان ستورو ته چې ګوري نو هغه هم ده ته په خپل درمیان کې تجارت کونکي او سودا کونکي په نظر ورځي، حالانکې دا د مسلمان دپاره ښه خبره نه ده.

## مال او دولت د انسان خادم وي:

مال او دولت الله تعالی د انسان دپاره خدمت کونکي پیدا کړي دي، چې دا به د انسان خدمت کوي. خبره داسې نه ده چې انسان به د مال او دولت خادم وي.
لېکن اوس انسانانو ځانونه د مال او دولت دپاره خادمان جوړ کړي دي، چې څنګه به مال او دولت پیدا کوم، څنګه به یې خوندي کوم، په کم ځای کې به یې خرڅوم او څنګه به مال او دولت ډېروم.
نو نن سبا انسانانو معامله بر عکس کړې ده، هغه مال او دولت چې د انسان خادم وو، انسانانو ځان د هغه خادم جوړ کړی دئ. د مال او دولت حاصلولو دپاره خپل ځان هم په ستړیا او تکالیفو کې اچوي، خپل صحت هم خرابوي، دین هم خرابوي او د خلکو سره یې تعلقات هم خرابیږي. شپه او ورځ د ده سره د مال فکر وي.

## یو عبرت آموزه واقعه:

شیخ سعدي رحمة الله علیه په "ګلستان" کې خپله یوه واقعه لیکلې ده، چې زما یو ځل د سفر په دوران کې د ښار د یو تاجر په کور کې شپه سوه. هغه ډېر لوی تاجر وو. او ډېر بهترین کور یې وو، چې په هغه کې د دنیا هرڅه موجود وو. چې کله و سترخان ته د خوراک کولو دپاره کښېنستو، نو مجلس شروع سو. د هغه تاجر تقریبا اویا ۷۰ کاله عمر وو. ما و هغه تاجر ته وویل:

- الله تعالی خو ته په ډېر مال او دولت سره نازولی یې ایا د دې بعده دې د څه کولو اراده ده؟
- دې تاجر ماته په جواب کې وویل چې زه په ټوله دنیا کې ګرځېدلی یم، او الله تعالی ما ته ډېر څه راکړي دي. لیکن په زړه کې مې یو سوچ او فکر سته، چې زه به آخرنی تجارتي سفر کوم، د هغه څخه وروسته به خپل باقي ژوند پر کور تېروم.

- ما پوښتنه ځني وکړه چې هغه آخرنی سفر به د کم ځای وي؟
- هغه تاجر د خپل سفر تفصیل را ته شروع کړی او ویې ویل: د "ایران" څخه به "پمبه" رانیسم او "چین" له به راځم، او د هغه ځایه څخه به بیا "چیني لوښي" رانیسم، هغه "چیني لوښي" به "روم" ته رسوم او په "روم" کي به یې خرڅوم، او د "روم" څخه به "وریښم" رانیسم او په "هندوستان" کي به یې خرڅوم، او د "هندوستانه" څخه به "اوسپني" رانیسم او په "حلب" کي به یې خرڅوم، اود "حلب" "هنداري" به "یمن" ته را رسوم او په "یمن" کي به یې خرڅوم، او د "یمن" "پټوګان" به راوړم او په "ایران" کي به یې خرڅوم، او د دې څخه وروسته به سفر پرېږدم، پر یو دوکان به کښېنم او باقي ژوند به پر کور تېروم.

د دې وروسته راته وایي: چې زما د سفر اراده دي واورېدله د دې متعلق ته څه وایې؟ حضرت سعدي رحمة الله علیه وایي چې ما په جواب کي ورته دا دوه شعرونه واوره!

آن شنید ستی که در صحرای غور ... بار سالاری بیفتاد از ستور

گفت چشم تنگ دنیادار را ...... یا قناعت پر کند یا خاک گور

ترجمه: تا دا قیصه اورېدلې ده چې د "غور" په صحراء کي یو تاجر پر قچره باندي خپل مال بار کړئ وو د قچري څخه ایله سو، نو ده غریب نه بار پورته کولای سو او نه ځني تللای سو او په هغه ځای کي د لوږي او تندي څخه مړ ؤ.

او د مرګ په حالت کي یې پر کاڼي یا پر خاوري باندي داسي لیکلي وه: د دنیا داره دا تنګي حرص کونکي سترګي یا قناعت ډکولای سي یا یې د قبر توري خاوري. د دې ماسوا د هغه د سترګو ډکولو بله لاره نسته(۱).

---

(۱) ګلستان سعدي صفحه نمبر ۱۲۰

## د انسان نس د قبر خاوري ډکولای سي:

د شیخ سعدي رحمة الله علیه دا اشعار په حقیقت د پیغمبر علیه السلام د یو حدیث مضمون او معنٰی ده چي په هغه کي پیغمبر علیه السلام فرمایي ﴿لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيَانِ مِنْ مَالٍ لَابْتَغَى وَادِيًا ثَالِثًا، وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ﴾[1].

که چیري انسان ته د سرو زرو څخه ډکه یوه دره ور کول سي، نو دَی به دا غواړي چي زما سره دي د سرو زرو دوې درې وي. او که دوې درې ور کول سي، نو د ده زړه دا غواړي چي دریمه دره هم زما لاس ته راسي. او د انسان دا حارص مند نس د تورو خاورو بغیر په بل شي نه ډکیږي.

د ده نس هر وخت خالي وي او د ده زړه دا غواړي چي زما و نس ته دي نور څه راسي، نور څه راسي، او د ده نس به هلته ډکیږي چي د قبر توري کندي ته ورسیږي او د قبر توري خاوري په دې نس کي ولویږي، نو دا نس به ډک سي. د دې څخه مخکي دَی قناعت او صبر نه سي پیدا کولای.

## حرص او هوس پرېښول:

په دې وجه حضور اقدس صلی الله علیه وسلم فرمایي که انسان په دنیا کي راحت غواړي، نو دي په زړه کي دي قناعت پیدا کړي.

هغه داسي چي په جائزه او حلاله طریقه سره ما ته کم شی ملاویږي هغه الحمدلله زما دپاره یو نعمت دئ. او ما ته د دې څخه زیات د نورو شیانو هوس او خواهش نسته.

یو ډېره لویه فتنه چي د همېشه څخه ده، او په اوسنی زمانه کي یې ډېر رواج پیدا کړی دئ هغه حرص او هوس دئ. مثلاً دا حرص دئ، چي د فلانکي کور دئ زما دي هم هغسي کور وي. چي د فلانکي سره څنګه سوارلي ده، زما سره دي هم

[1] صحیح مسلم، جزء نمبر ۲، صفحه نمبر ۷۲۵

هغــي سوارلي وي. چي د فلانكي سره څنگه كار خانه ده، زما سره دي هم هغــي كار خانه وي.
بلكي زه دي د ده څخه په دې شيانو كي مخته سم. بس د مخكي كېدو مسابقه روانه ده. ته يې فرض كه، كه چيري په دې منسابقه كي د انسان سره د حلالو او د حرامو فكر هم وي، لا هم د انسان د زړه سكون او اطمنان د دې مسابقې په نتيجه كي پر خپل حال نسي پاته كېدلای. بس دا فكر دئ چي زما سره نور مال او دولت وي، او نور مال او دولت وي.

## تر خپل ځان پورته انسان ته نه كتل:

اوس سوال دا دئ چي قناعت به انسان څنگه پيدا كوي؟ د دې په باره كي طريقه دا ده چي د دنيا په معاملاتو كي د خپل ځان څخه پورته چا ته بايد انسان و نه گوري، بلكي د خپل ځانه څخه پر كښته انسان بايد نظر و كړي. كه چيري انسان د خپل ځانه څخه پورته چا ته گوري، نو هر وخت به يې په زړه كي دا حسرت وي، چي د دې انسان غوندي سوارلي كاشكي زما سره هم وای! د دې انسان چي كم كور دئ بايد زما هم داسي كور وای. د دې آخره نتيجه دا وي چي ورځ په ورځ د انسان په زړه كي د دنيا حرص او هوس زياتېږي.
ليكن چي ته كله تر خپل ځان كښته انسان ته گورې، نو په دې صورت كي د انسان په زړه كي د شكر جذبات پيدا كيږي، انسان به دا سوچ او فكر كوي چي دا هم زما غوندي د غوښو او پوسته څخه جوړ انسان دئ او په دې حالت كي زندگي تېروي، زه خو الله تعالى ډېر ښه نازولی يم، زما دپاره د هغه شكر ادا كول مناسب دي.
په دې سوچ او فكر سره د انسان په زړه كي قناعت پيدا كيږي. لهذا د خپل ځانه څخه كمزوري انسان ته كتل مناسب دي.

## د حضرت ابن عون رحمة الله علیه واقعه:

حضرت ابن عون رحمة الله علیه په محدثینو کي یو بزرګ تېر سوی دئ، هغه فرمایي: چي په اولنۍ زندګي کي زما ناسته او ولاړه د دولت مندانو او مالدارانو سره وه، د هغه نتیجه داوه ﴿فَلَم أَرَ أَكثَرَ هَمًّا مِنِّي﴾ یعني زما څخه زیات غمجن هیڅ څوک نه ؤ.

په دې وجه چي هر سړي ته به مي کتل د هغه جامه به زما د جامې څخه ښه وه، د هغه خوراک به زما د خوراک څخه ښه وو، د هغه کور به زما د کور څخه ښه وو، د هغه سوارلي به زما د سوارلي څخه ښه وه، نو په دې وجه باندي به په هر وخت کي زما زړه پرېشانه او غمګین وو.

بیا وروسته ما د غریبانو او فقیرانو سره ناسته او ولاړه شروع کړه، نو ﴿فَاسْتَرَحْتُ﴾ زه په راحت سوم. ځکه چي زه اوس وینم هر سړی په مالي اعتبار سره تر ما کم دئ. او زه دا وینم چي زما کور د هغو کورو څخه ښه دئ او زما جامه د هغو د جامو څخه ښه ده.

اوس زه پر دې خپل حالت باندي د الله تعالی شکر ادا کوم، چي الله تعالی د دوی ټولو په مقابله کي ما ته ښه حالت را نصیب کړی دئ(۱).

## د انسان بې صبري:

کله کله د انسان په زړه او دماغ کي دا خیال راسي چي الله تعالی به هم د دې انسانانو پر حالت باندي تعجب کوي، چي زما بندګان څنګه دي چي زما قدرت دومره کمزوری بولي.

او د دوی دا عقیده ده، چي زما رب ما ته د دوکان کولو بغیر او د شپې او ورځي یو کولو بغیر او منډو او ترړلو بغیر دودۍ او نفقه نسي راکولای، او د نوکرۍ کولو بغیر زه د بچیانو نفقه نه سم پیدا کولای. حالانکي الله تعالی فرمایي

(۱) اصلاحي خطبات جلد ۱۶ صفحه: ۱۱۵

حديث قدوسي دئ: ﴿يَابْنَ آدَمَ مَنْ اَوْصَلَ إِلَيْکَ غِذَاء وَ اَنْتَ جَنِيْنٌ فِيْ بَطْنِ اُمِّکَ﴾ اې زما بنده ته هغه وخت در ياد که چي ته کله د مور په نس کي وې او تا ته خوراکه در رسېدله، هلته ستا کمه دوکانداري او محنت وو چي تا ته يې رزق در رسوئ؟ ﴿ثُمَ اَزَلَ اُدَبِّرُ فِيکَ تَدبِيراً﴾ بيا ما ستا په باره کي خپل تدبير نافذ کړئ او ستا په باره کي زما تدبير وچلېدئ چي ته مي آهسته آهسته د وجود و مراحلو ته راوستې.

څلوېښت شپې د مور په نس کي د نطفې په شکل وې، بيا څلوېښت شپې د وينې په شکل وې او دريمه څلوېښتي د مضغې او غوښې په شکل سوې. الله تعالى فرمايي: ﴿فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنْشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ﴾(۱) بيا انسان ته هډوکي ور کول سول، پر هډوکو سر بېره غوښه راغله، پر غوښه سربېره پوست راغلئ او د انسان خلقت مکمل سو.

﴿عَلَّمْتُکَ الْجُلُوسَ فِي بَطْنِ اُمِّکَ﴾ او بيا مي د مور په نس کي د ناستي شکل در ښوئ، ﴿هَلْ يَقْدِرُ عَلَى ذٰلِکَ اَحَدٌ غَيْرِيْ﴾ آيا پر دې باندي زما بغير بل څوک قادر دئ؟

﴿ثُمَّ اَوْصَيْتُ اِلَى مَلِکِ مَلُوکِ الاَرْحَامِ اَنْ اَخرِجْ﴾ بيا مي جبرائيل امين ته وصيت وکړئ، چي زما دغه بنده د مور د نسه څخه دنيا ته راوله! ﴿فَخَرَجْتَ عَلَى رِيْشَةٍ مِنْ جَنَاحِه﴾ بيا د جبرائيل امين د وزر پر پانه د مور د نسه څخه را ووتې.

په دې وخت کي ﴿لَا لَکَ سِنٌّ تَقْطَعُ﴾ نه ستا په خوله کي غاښ وو چي تا شی په خوړلی وای.

﴿وَ لَا لَکَ يَدٌ تَبْطِشُ﴾ نه ستا په لاس کي طاقت وو، چي تا يو شی په زانيولی وای.

﴿وَ لَا لَکَ رِجْلٌ تَمْشِيْ﴾ نه ستا په پښو کي طاقت وو، چي ته يو طرف ته پر تللی وای. اې کم نصيبه انسانه! د داسي کمزورۍ په وخت کي وې، چي په دې حالت کي ما تا ته رزق در ورسوئ، نو د لوی والي په حالت کي هم ستا د رزق کفيل او ضامن زه يم.

(۱)سورة المؤمنون (۱۴)

د اسمانه څخه ستا رزق راتلئ د مور پر سينه باندي. ﴿لَمْ اسلتُ لکَ عرقين رَقيقَين نَبهَانِ لکَ لَبَنًا خالِصًا حاراً فِي الشتاءِ بارداً فِي الصَّيفِ﴾. بيا زما امر د اسمانه څخه راغلئ او فرشتې ستا د مور د سينې څخه د شيدو چشمې جاري کړې، چې د گرمۍ په موسم کې تا ته يخې شيدې او د يخنۍ په موسم تا ته گرمې شيدې در کولې. آيا اوس به نو زه تا د رزق څخه هېروم؟

﴿يَابنَ آدَم خَلَقْتُ السَماوَات وَالارْض وَلَمْ اَعْيَا خلقهُنَّ﴾ اى زما بنده ما اسمانونه پيدا کړي دي او اوه مځکې مې پيدا کړې دي او زه د هغوى په پيدا کولو نه يم ستړى سوئ ﴿اَفَاَعيَ بِخَلْقِ رَغِيفَةٍ اَصِلُ اِلَيْکَ﴾ آيا ستا په دې يوه ډوډۍ باندې به زه ستړى سم؟ چې کله د مځکې او اسمانو په جوړولو نه يم ستړى سوى، نو ستا په دې يوه ډوډۍ پيدا کولو هم نه ستړى کېږم.

نو ته څنگه دا سوچ او فکر کوې، چې که زما دوکانداري نه وي او زه شپه او ورځ يوه نه کړم، نو زما رزق به د کمې خوا څخه پيدا کېږي.

په آخر کې الله تعالى خپل بنده ته فرمايي: ﴿يَا بنَ آدَم لَم اَطلُبکَ عَن عَمَلِ غَدٍ فَلَا تَسئَلنِي عَن رِزقِ غَدٍ﴾ زما يو دستور دئ ته يې واوره ما ته د سبا ورځې په عمل نه يې مکلف کړى، چې زما څه امر دئ هغه نن دئ، د سبا دا نسته څکه د سبا معلومات تا ته نسته. ﴿کَم مِن مُستَقبِل غَدٍ لايُدرِکُهُ﴾ ډېر خلک داسي وي، چې د سبا ورځې د لمر راختو انتظار کوي.

ليکن د هغوى په نصيب او قسمت کې د سبا ورځې لمر ليدل نه وي ليکل سوي.

﴿کَم مِن مُؤَمِلٍ يَوْمٍ لايُکمِلُهُ﴾ ډېر داسي انسانان وي، چې د نن ورځ لمر ته گوري ليکن د هغوى په مقدر کې د نن ورځ د لمر غروب ليدل نه وي ليکلى.

د لمر لوېدو څخه مخکې دَى د دنيا څخه رخصت سي. او ډېر داسي وي چې د سبا انتظار خو کوي ليکن پر دوى هيڅ کله سبا نه راځي او دوى په قبر کې کښېښول سي.

نو ما ته د سبا ورځي په عبادت نه یې مکلف کړی ﴿فَلَا تَسْئَلْنِيْ عَنْ رِزْقِ غَدٍ﴾ نو ته د سبا ورځي روزي زما څخه مه غواړه.
﴿فَاِنِّيْ لَمْ اَنْسَ مَنْ عَصَانِيْ فَكَيْفَ لِمَنْ اَطَعَنِيْ﴾(١) ای زما بنده! زه نا فرمانان د رزق څخه نه هېروم، نو کم انسانان چي زما فرمانبرداره وي هغه به څنګه هېر کړم؟.
نو دا خبره زړه ته شوه کول او دا خبره په زړه باندي منل ضروري دي، چي الله تعالی د هر شي مالک دئ او د هر شي خالق دئ، او د دنیا ټوله کائنات د ده په قبضه او قدرت کي دي. او چي چا ته یې اراده وسي هغه ته رزق ور کوي او چي چا ته یې اراده وسي د هغه څخه رزق اخلي، پر هر شي باندي د الله غلبه ده.
او ځواني هم د الله په قدرت کي ده او د بوډا بوډاوالی هم د الله په قدرت کي دئ.
لیکن د انسان ډېره لویه ناداني ده، چي د الله تعالی پر ور کول سوي مال باندي.
یا په خپل حسن او ځواني باندي پر انسانانو باندي فخر او تکبر کوي.
ځکه الله تعالی کولای سي چي ډېر ژر د انسانه څخه مال او دولت او ځواني واخلي.

## د یو نوجوان واقعه:

د نجران په علاقه کي ډېر ښائسته او بلند قد والا نوجوان مسجد ته راغلئ. ده چي کله و کتل، نو په مسجد کي یو بزرګ ناست دئ هغه و ده ته ډېر ګوري.
نو هغه نوجوان ورته وایي: ای بوډا څه ته ګوري؟ هغه بزرګ ورته وایي: ستا دې خوبصورت او ښائسته ځواني ته ګورم. هغه نوجوان د فخر او تکبر په شکل ورته وایي: زما خو داسي ځواني ده چي زما پر ځواني به الله تعالی هم حیران وي (نعوذ بالله).

(١) ماخوذ از خطبات جمیل صفحه: ۱۷۷

بس داغه خبره وه چي د هغه ځوان د قد کوچنی والی شروع سو او کمېدئ کمېدئ چي یوه لوېشته قد ته راوسېدئ. د هغه شپږ ګته بدن شپږ انچه ته را ورسېدئ.

او د کور والا انسانان یې راغله او په لاس کي یې پورته کړی او لکه خاوري چي تریو ځایه رسوي تر کوره پوري یې ورسوئ.

د الله تعالی غیرت په جوش کي راغلئ چي زما پر درکول سوي ځواني باندي ته دا وایې، چي الله تعالی به زما و ځوانی ته حیران وي (العیاذ بالله).

## د الله تعالی عظیم مخلوق:

د الله ﷻ بعض مخلوقات داسي دي چي په یو روایت کي راځي: که چیري د میکائیل علیه السلام پر سر باندي د مځکي د مخ دا اوه دریابه اوبه واچوې، نو یوه قطره او ځاځکی به مځکي ته نه ورسیږي، نو ستا د ځواني به څه حیثیت وي.

الله تعالی دومره لوی فرښتې پیدا کړي دي: ﴿وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَانِيَةٌ﴾(١).

د عرش نیونکي اته فرښتې دي. د غوږ څخه ونیسې یې تر دې ځایه پوري (چي په لاس سره اشاره وکړه) دا فاصله د اته سوه کاله مسافت دئ. د الله تعالی په خزانو کي کمی نسته.

د الله تعالی عجیب کائنات دي، چي پر کمه مځکه باندي موږ او تاسو اوسېږو دا یوه سیاره ده د دې سیارې غوندي نوري سیارې چي په دې کائناتو کي ګرځي که یو انسان ته الله تعالی څوارلس کهربه کاله عمر ور کي صرف پر دې سیارو نمونه ایږدي او بیا یې شماري، نو په دې عمر کي یې پای ته نسي رسولای.

بیا خاص چي پر کمه مځکه موږ او تاسو اوسیږو چي په دې کي کم عجائبات د قدرت دي، چي په هغه کي ټلیفون او نیټ هم پیدا سول او انسانان سپوږمی ته

(١) سورة الحاقه الاية ١٧

ورسېدل بیا هم د انسان عقل صرف درې فیصده ته رسېدلی دئ، اوه نیوي فیصده د انسانانو څخه پوشیده دي.
نو ځکه الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا﴾ چي انسان ډېره ناخبره او ډېر د جهالت په کندو کي پروت دئ.
که د کتابو د کتني یا د حالاتو څخه څه علم انسان پیدا کړی وي، د هغه په باره کي الله تعالی فرمایي: ﴿وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا﴾ ای انسانه تا ته ډېر کم علم در کول سوی دئ.(1)
نو انسان باید د الله تعالی پر قدرت باندي یقین وساتي چي الله تعالی یقینا زما د رزق بندوبست کوي.
نو په حلاله او روا طریقه او په معتدل او درمیانه کوشش چي کم رزق الله تعالی ده ته ور کړي دئ باید پر هغه باندي قناعت او صبرو کړي.
او د زیات مال او دولت پیدا کولو حرص او هوس د دماغه څخه لیري کړي.

## د صحابه کرامو ﷺ قناعت:

چي کله د فتوحاتو دروازې خلاصي سوې او په دوویشت لکه (۲۲۰۰۰۰۰)مربع میله مځکه کي اسلام سره وغوړېدئ او د دنیا د قومونو خزانې د مالِ غنیمت په شکل مدینې ته را ورسېدئ.
د کسرٰی تخت راغلی یو سل او اویا (۱۷۰) لاسه یې طول او یو سل او لس (۱۱۰) لاسه یې عرض ؤ. درو پنځوس منه او درویشت سېره پر هغه سره زر یعني سونا لګېلې وه، او دوولس سوه دیارلس (۱۲۱۳) منه پر هغه باندي سپین زر لګلېدلي وه.

(1)مأخوذ از خطبات جمیل ص ۱۷۸

د هغه دوه نیم منه د سرو زرو وزني تاج چي هغه به په ځنځیر راځړېدئ چي دَی به کله پر تخت ناست وو، نو د ده سر به په هغه تاج کي ور کول کېدئ. په دغه رقم په سوونو مالونه مدیني منورې ته د غنیمت په شکل راغلل(۱).
درې زره یو سل او څلور شپېته (۳۱٦۴) کاله د "ساسان" حکومت وو او د "ایران" حکومت ؤ دا ټولي خزانې مدیني ته را ورسېدې. د "روم" خزانې هم راغلې.
د دې ټولو خزانو د مالک کېدولو باوجود حضرت عمر ﷺ چي د وخت امیر المؤمنین ؤ، د ده په جامو کي به څوارلس پیونده او پینې وې، او په میاشته کي به یې یو ځل د غوښو خوراک کوئ، او د شپې به د مدینې په کوڅو کي ګرځېدئ چي د خپل د رعیت حال ځان ته معلوم کړي.

## د حضرت عمر ﷺ قناعت؛

د حضرت عمر ﷺ په باره کي صحابه کرامو ﷺ مشوره وکړه چي حضرت عمر اوس بوډا او سپین ږیری سو، فتوحات وسوه او په مدینه منوره کي د مال او دولت فراواني ده او د بیت المال خزانې ټولي د مالونو ډکي دي.
نو د امیر المؤمنین حضرت عمر ﷺ دپاره دا مناسب ده چي دی مبارک نرم لباس واغوندي او ښه خوراکه وخوري. او د دې کارونو دپاره خادم د بیت المال څخه مقرر سي چي د ده د خوراکي لباس او ارام خیال وساتي.
حضرت علي ﷺ. حضرت عبدالرحمن ابن عوف ﷺ. حضرت عثمان ﷺ.
حضرت طلحه ﷺ. حضرت زبیر ﷺ. حضرت سعد ﷺ.
دا شپږو لویو صحابه کرامو ﷺ په خپل منځ کي دا مشوره وکړه.

(۱) الله جل کې راضي ہوا صفحہ ۲۷.

اوس به حضرت عمر ﷺ ته دا خبره څوک پېشوي، نو په مشوره کي دا خبره وسوه، چي موږ به حضرت حفصې ﷺ ته وایو چي د ده لور او د ټولو مؤمنانو مور ده، هغه به امیر المؤمنین ته دا خبره پېش کړي.

دا صحابه کرام ﷺ راغله او ام المؤمنین حضرت حفصې ﷺ ته یې خپله مشوره پیش کړه چي د امیر المؤمنین دپاره دومره سخته ګذاره باید ختمه سي، او د ده په لباس کي نرمي راسي، او د ده خوراکه برابره سي، او د ده د ضروریاتو دپاره باید د بیت الماله څخه خادم مقرر سي.

او حضرت حفصې مبارکي ته وایي: چي ته امیر المؤمنین ته دا خبره ور پېش که، که دَی دا خبره ومني، نو زموږ نومونه ور وښیه او کچیري د دې خبرو منلو ته تیار نه وي، نو زموږ نومونه مه ورته ښکاره کوه!

چي کله حضرت عمر ﷺ راغلئ، نو حضرت حفصې مبارکې هغه مشوره ورته پېش کړه چي ای اباجانه! ته اوس سپین ږیری سوې او د ضعف پر طرف روان یې که د خپلو ضروریاتو د لباس او خوراکې دپاره خادم مقرر کړې دا به ډېره ښه خبره وي. ځکه ستا حضور ته د ډیرو لیرو علاقو څخه مختلف وفدونه راځي او ستا ملاقات کوي، که ته لږ ارام و کړې، نو دا به مناسبه او ښه خبره وي. چي کله حضرت عمر ﷺ دا خبره واورېده، نو ورته وایي:

- ای حفصې! دا خبره تا ته چا په لاس در کړې ده؟
- حضرت حفصه مبارکه ورته وایي: ته ما ته دمخه دا ښکاره کړه، چي ته دا زما خبره منې که نه؟
- حضرت عمر ﷺ په جواب کي ورته وایي: چي منل خو څه کوې که زه چیري په دې خلکو خبر سم او د هغوی نومونه ما ته ښکاره سي، نو زه به هغوی په خپلو ویښو ورنګوم.

د هغه څخه وروسته حضرت عمر ﷺ و حضرت حفصې مبارکي ته وایي: چي ای حفصې! ته د پیغمبر ﷺ د کور زنانه یې او ﴿صاحِبُ البیتِ أدرى بما فيه﴾ د کور

خاوند د کور په حالاتو ښه خبر وي. او ته د پیغمبرﷺ د کور په حالاتو تر هر چا ښه خبره یې.

آیا تا ته دا یاد نه دي چي پیغمبرﷺ د دنیا څخه تشریف یوړئ او په داسي حال کي ولاړئ چي په ټوله ژوند کي یې په ماړه نس باندي ډوډۍ نه وخوړله؟

او ای حفصې! تا ته دا یاده نه ده چي تا پر یو کوچني مېز باندي د پیغمبرﷺ دپاره خوراک ایښي ؤ او چي کله پیغمبرﷺ کور ته راغلئ، نو د ده مبارک د مخ رنګ بدل سو او تا ته یې وفرمایل: ما ته خوراک پر مځکه کښېږده! زه پر مېز باندي خوراک نه کوم. بیا تا خوراک پر مځکه ور ته کښېښوئ او ده وخوړئ؟

ای حفصې! تا ته یاد نه دي چي د پیغمبرﷺ سره د جامو یوه جوړه وه چي کله به د لمانځه وخت سو او حضرت بلالؓ به راغلئ او د حجرې مخته به یې نعره کړه. ﴿یا رَسُولَ الله! اَلصَّلوة اَلصَّلوة﴾ او ده به انتظار کوئ تر دې حده چي هغه جامه به وچه سوه بیا به یې اغوسته او دباندي به راوتئ؟

او ای حفصې! تا ته یاد نه دي چي ستاسو په کور کي یو ټاټ وو، چي نیم به تاسو لاندي هواروئ او نیم به مو پر ځان اچوئ، یو ورځ تا ټاټ غبرګ هوار کړی وو، د پیغمبرﷺ د ارام په خاطر چي دده مبارک شپه په ارام تېره سي، نو د سهار په وخت کي ده مبارک وویل: ای حفصې! ټاټ غبرګ مه هواروه؛ ځکه د شپې ما ته د دې بسترې څخه په را ولاړېدو کي تکلیف وي؟

ای حفصې! تا ته یاد نه دي چي یوې زناني پیغمبرﷺ ته دوه چادره په هدیه کي را استولي وه، یو چادر یې دمخه را استولی ؤ او دوهم چادر یې لږ په ځنډ را واستوئ، او د پیغمبرﷺ سره دومره جامه نه وه، بیا یې هغه چادر پر ځان وپېچی او لمانځه ته را ووتئ؟

ای حفصې! د کور والا د کور په حالاتو ښه خبر وي. او بیا حضرت عمرؓ ژړا شروع کړه. او د هغه پر ژړا د حضرت حفصې اوښکي را توییږي او پلار او لور دواړه مبارکان سره ژاړي.

او بيا ورته وايي: اى حفصې دا واوره! چي زما او زما د ملګرو مثال داسي د
چي موږ درې مسافر او د دريو لارو او درې سره مسافر به يو منزل ته ځان رسو
يو مسافر خو پر لار ولاړ او تلى تلى منزل مقصود ته ورسېدئ، بيا دو
مسافر روان سو او پر لار باندي يې تګ و کړئ هغه هم منزل مقصود ته ځ
ورسوئ. اوس د دريم واري دئ. او زه هغه دريم يم په خداى دي مي قسم وي چ
زه به خپل نفس په مشقت کي اچوم او د دنيا د لذتو څخه به ليري ژوند تېروم،
هغه وخته پوري چي د خپلو ملګرو سره يو ځاى کېږم.
که چيري ما خپله لار جلا کړه او د هغوى په نقش قدم مي ژوند تېر نه کړئ، نو
خپلو ملګرو سره نه سم يو ځاى کېداى.

## د حضرت عمر ﷺ وفات:

او په آخر کي الله تعالى دا ښکاره کړه چي حضرت عمر ﷺ د خپلو ملګرو يعنې
محمد رسول الله ﷺ او ابو بکر صديق ﷺ سره يو ځاى سو.
چي کله "ابو لؤلؤ مجوسي" حضرت عمر ﷺ په خنجر ووهلى دى راغو ځار
او د نس د ګلمو د پرې کېدو په وجه يې وينه ډېره ولاړه، صحابه کرامو ﷺ
شيدې ور کړې، نو هغه د ده نس د زخمو څخه د باندي را ووتې. نو ټول صحاب
کرام ﷺ په دې پوه سول چي د حضرت عمر ﷺ د وفات وخت نزدې دئ ا
حضرت عمر ﷺ پخپله هم په خپل ځان پوه سو چي د زندګى اخيرنى شېب
دي.
خپل بچي حضرت عبد الله ﷺ يې را طلب کړئ او ورته ويې ويل: اى عبد الله
ولاړ سه، حضرت عائشې ﷺ ته ور سه او اجازت ځني واخله چي امير
المؤمنين د خپلو ملګرو حضور اقدس ﷺ او ابوبکر صديق ﷺ په اړخ کي
ښخېدل غواړي.
حضرت عبد الله ﷺ د عائشې ﷺ کور ته راغلى او دې مبارکي ته يې وويل:

- امیر المؤمنین د خپلو ملګرو په اړخ کې د دفن کېدو اجازت غواړي.
- حضرت عائشې مبارکې و ژړل او ورته وېې ویل: ای عبدالله! دا ځای خو ما د خپل ځان د دفن کېدو دپاره ساتلی ؤ، لیکن زه امیر المؤمنین ﷺ ته پر خپل ځان ترجیح ور کوم، ور سه عمر ﷺ دې ځای ته راوړئ!

حضرت عبدالله ﷺ واپس راغلی او عرض یې وکړئ: ای اباجانه! زیری قبول کړه د خپلو ملګرو په اړخ کې د دفن کېدو اجازت درته وسو.

حضرت عمر ﷺ په جواب کې ورته وایي: بچیه! داسي نه چې زما د دبدبې په وجه باندي یا زما د امارت په وجه باندي حضرت عائشې مبارکې اجازه در کړې وي.

نو چې کله زه مړ سم، زما جنازه به واخلی او د حجرې مبارکې دروازې ته به یې کښېږدې، دوباره به اجازت طلب کړې.

کچیري اجازه در کول سوه، نو ما به په حجره کې دفن کړې او که چیري اجازه نه سوه در ته ملاو، نو ما به د عامو مسلمانانو په قبرستان (جنة البقیع) کې ښخ کړې.

چې کله د مرګ وخت را قریب سو، نو بچې حضرت عبدالله ﷺ د خپل پلار حضرت عمر ﷺ سر په غېږ کې نیولی دئ، دی ورته وایي: بچیه! زما سر پر خاورو باندي کښېږده! حضرت عبدالله ﷺ د خپل پلار په خبره باندي نه پوهیږي چې پلار څه راته وایي. حضرت عمر ﷺ دوباره بیا ورته وایي: بچیه زما سر پر خاورو باندي کښېږده! چې کله د حضرت عبدالله ﷺ په فهم کې خبره نه راځي.

نو حضرت عمر ﷺ په غصه کې ورته وایي: ﴿تَرِبَتْ يَدَاكَ﴾ یا داسي ورته وایي: ﴿ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ﴾ ستا مور دې تا وژړوي یا ستا لاسونه دې مات سي ما پر مځکه باندي واچوه! چې زه خپل مخ په خاورو باندي ککړ کړم، چې زما د رب پر ما

باندي رحم راسي. دا هغه عمر وو چي د هغه په باره کي به پیغمبر ﷺ فرمایل: که چیري زما څخه وروسته نبي وای، نو هغه به حضرت عمر رضی الله عنه وای.

چي کله وفات سو، نو د جنازې لمونځ حضرت شعیب رضی الله عنه ور کړئ. جنازه یې راوړله د حجرې مبارکې مخته ته یې کښېښوله او حضرت عبدالله رضی الله عنه نعرې کړې ﴿یَا اُمَّ الْمُؤْمِنِیْنَ اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْنَ بِالْبَابِ﴾ ای د مسلمانانو موري! امیر المؤمنین په دروازه کي دئ، د دننه راتلو اجازت غواړي.

حضرت عائشه رضی الله عنها په جواب کي ورته وایي: ﴿مَرْحَبًا بِاَمِیْرِ الْمُؤْمِنِیْنَ، مَرْحَبًا بِاَمِیْرِ الْمُؤْمِنِیْنَ﴾ بېشکه امیر المؤمنین ته د دننه راتلو اجازت دئ(۱).

الله تعالی ټولو انسانانو ته دا ور ښکاره کړه چي کم انسان د نبي پر نقش قدم زندګي تېره کي، زه داسي هغه د نبي سره یو ځای کوم. چنانچه حضرت عائشې مبارکي خپل سامان را واخستی دباندي را ووتله او حضرت عمر رضی الله عنه د حضور اقدس ﷺ په اړخ کي دفن سو.

پیغمبر ﷺ به فرمایل: د قیامت په ورځ چي زه را پورته کېږم، زما راسته طرف ته به ابو بکر رضی الله عنه او چپه طرف ته به حضرت عمر رضی الله عنه وي. او زما مخته به حضرت بلال حبشي رضی الله عنه د اذان کولو په حالت کي روان وي. نو د صحابه کرامو رضی الله عنهم د اسبابو د کثرت سره سره د مال او دولت باوجود داسي د قناعت او د صبر زندګي وه.

نو مسلمان که د دنیا په ژوند کي سکون آرام او راحت غواړي، نو د قناعت څخه ماسوا بله لار نسته؛ ځکه پیغمبر ﷺ فرمایي: ﴿وَارْضَ بِمَا قَسَمَ اللّٰهُ لَكَ تَكُنْ اَغْنَى النَّاسِ﴾ چي انسان په خپل قسمت سره راضي سي، دا د دنیا لوی غني دہ.

(۱) ماخوذ از خطبات جمیل، صفحه، ۵۴، ۵۵، ٥٦، ۵۷

## تجارت ته ترقي ور کول د قناعت خلاف نه ده:

په آخر کي زه د يو خبري وضاحت کوم هغه دا چي بعض اوقات خلک د قناعت مطلب دا اخلي او د دې ټولو خبرو نتيجه دا راباسي چي کم سړی په تجارت کي دئ هغه و خپل تجارت ته بايد ترقي ور نه کړي. حالانکه دا د قناعت مقصد او معنٰی نه ده، بلکي ما په خپلو خبرو کي درې الفاظ استعمال کړل.

١. د مال د ګټلو طريقه بايد روا، حلاله او جائز وي.

٢. مال به هم حلال وي.

٣. طلب به د اعتدال په شکل وي؛ ځکه پيغمبر ﷺ فرمايي: ﴿فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَجْمِلُوا فِي الطَّلَبِ، خُذُوا مَا حَلَّ، وَدَعُوا مَا حَرُمَ﴾(١).

نو لهذا د اعتدال مطلب دادئ چي د دنيا کار وبار پر دماغ نه سپرول او ځان د دنيا خادم نه جوړول. اوس که يو سړی په جائزه طريقه سره او په درميانه کوشش سره خپل تجارت ته ترقي ور کوي، نو د شريعت له طرفه پر دې هيڅ پابندي نسته او نه دا عمل د قناعته سره منافي دئ.

ليکن که يو سړی خپل کاروبار په ناجائزه طريقه سره او په حرامه طريقه سره پر مخ بيا يي، نو هغه خو بالکل حرام دئ. او دوهم دا که څه هم د ناجائزو ارتکاب نه کوي، ليکن د اعتدال څخه وتلی وي په دې وجه چي سهار او ماښام د پيسو ګټلو څخه علاوه بل فکر نه لري، يا د کاروبار په نتيجه کي د نورو حقوق ضائع کوي، نو دا هم د اعتدال څخه وتل دي.

يا سړی داسي په کاروبار کي مشغول سي، چي اوس و ده ته د ديني مجلس ور تللو فرصت نسته او د دين د خبري ازده کولو وخت ور سره نسته، يا د الله د يو نيک بنده سره د کښېنستلو وخت نه لري، دا هم د اعتدال څخه وتلي او د قناعت خلاف ده. به هر حال په اعتدال او په جائزه طريقه سره مال ګټل او د هغه په نتيجه کي چي څه په نصيب راسي په هغه راضي کېدل بس د دې نوم قناعت دئ.

---

(١)ابن ماجه حديث نمبر ٢١۴۴

په دې دنيا کې د قناعت څخه علاوه د راحت حاصلولو بله هيڅ طريقه نسته.
الله تعالى دي په خپل فضل او کرم سره د قناعت دولت را نصيب کړي. او الله تعالى دي پر دا څو خبرو د عمل کولو توفيق را کړي. او الله تعالى دي دا څو خبري په خپل دربار کې قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمين).

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجمَعِيْن

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الایه)

# د شهادت فضائل

(بیان)

مولوي اطيع الله صاحب
استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

ترتيب وتخريج:
مفتي حافظ كليم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

مكتبه سلطانيه الهاشميه

كانسي روډ كوئټه

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطیع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ کلیم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | ثخلورم |
| تاریخ | یکم ربیع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق یکم مي ۲۰۱۸ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ﴾(۱).

وقال رسول الله ﷺ ﴿إِنَّ السَّيْفَ مَحَّاءٌ لِلْخَطَايَا﴾(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو مشرانو! د یو څو مبارکو او مظلومو شهیدانو د فاتحې مراسم دي. د بعض ملګرو په تمنی او اصرار باندې یو څو د دین مختصرې خبرې کوو، الله تعالٰی دې قبولې او مقبولې وګرځوي.

عام طور فاتحې دوه قسمه وي: یو د عامو مړګانو فاتحې وي، او بل د الله ﷻ پر دین باندې د سر ښندونکو شهیدانو فاتحې وي.

د عامو مړګانو د فاتحو مقصد دا وي چې انسان د مړه و قریبانو ته تسلي ور کړي، د هغو سره غمرازي و کړي او د خپل قریب پر مرګ چې دوی ته کم غم او

(۱) سورت آل عمران ۱۶۹ آیت

(۲) مسند ابي داؤد طیالسي حدیث نمبر ۱۳۶۳

تکلیف رسېدلی دئ د هغه د سپک والي کوشش و کړي. نو دا د عامو مردګانو د فاتحو غرض او مقصد وي.
لیکن یو د شهید فاتحه وي، د هغې قطعًا دا مقصد نه وي چي سړی د شهید و قربانو ته تسلي ور کړي او د هغوی سره غمرازي و کړي.
بلکي د شهید د فاتحې غرض او مقصد دا وي چي د هغه شهید و قربانو ته "داد" او آفرین ور کړي، چي ستاسو دي پر هغه سرشت باندي آفرین وي چي په دې پُر فِتن دور کي ستاسو د خاندان یو بچي څوار لس سوه کاله بعد د محمد ﷺ او صحابه کرامو پر نقش قدم باندي خپل قدم کښېښوئ او د دین د دفاع په خاطر یې د محمد ﷺ پر ناموس خپل نفس قربان کړئ.

## شهادتونه د سلفو میراث دئ:

دا شهادتونه او دا جېلونه او دا زخمونه او د دین دفاع او د محمد ﷺ د ناموس د حفاظت دپاره خپلي وینې تویول دا زموږ د سلفو او اکابرو میراث دئ. او دا موږ ته د صحابه وو څخه را پاته مورثه ده.
نو چي کم بچی د خپلو اکابرو، سلفو او صحابه کرامو پر نقش قدم خپل قدم کښېږدي او د هغوی پر لاره ولاړ سي او د هغو په مثل ددې فتنو په زمانه کي د دین دفاع او د محمد ﷺ د ناموس د حفاظت دپاره خپل نفس قربان کړي، نو د هغه قربان د تسلی او غمرازی مستحق نه دي.
بلکي باید هغوی ته د خپل خاندان د شهید بچي پر غیرت او شجاعت او شهادت باندي آفرین وویل سي.
چي تاسي نېک بخته خلک یاست چي الله ﷻ ستاسو د کورنی بچی د خپل دین د دفاع په خاطر د یو عظیم شهید په شکل خپل دربار ته ور طلب کړئ. الله تعالی

دي ستاسو د دې بچي قرباني قبوله کړي. او الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته د قيامت په ميدان کي د دې بچي شفاعت را نصيب کړي.

## پر امام ابو حنيفه رحمة الله عليه ظلم او ستم:

ما تاسو ته مخکي هم وويل چي دا شهادتونه او دا غمونه موږ ته د اکابرو ميراث راپاته سوی دئ.

زموږ د مسلک لوی امام امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه د بوډا والي په زمانه کي وو چي د هغه مبارک جنازه د جېل د تورو کوټو څخه ووته، چي کله يې د وخت د حاکم د ظلمونو خلاف فتوی پېش کړه، نو هغه يې په جېل کي واچوئ. او د هغه مبارک نفس په داسي وخت کي الوزي چي د هغه په لاسو او پښو کي د جېل زولنې تړلي دي.

او د هغه د لاسو او پښو څخه د جېل زولنې د مرګه بعد خلاصيږي او د جېل د تورو سنګلاخو څخه د هغه جنازه را ايستل کيږي(۱).

## د امام مالک رحمة الله عليه جرأت:

د امام مالک رحمة الله عليه څخه چي کله د وخت حاکمانو فتوی و غوښته او ده مبارک د دې حاکمانو د مرضی مطابق فتوی ور نه کړه.

نو د سزا ور کولو په خاطر يې پر خره سپور کړئ، مخ يې ور تور کړئ او په ټوله مدينه يې وګرځوئ.

حالانکه په دې وخت کي د ټوله اهلِ مدينې پر دې اتفاق دئ چي په ټوله مدينه کي د امام مالک غوندي بل فقيه او عالم نسته. ليکن بل طرفته د وخت حاکمان د هغه سره دا سلوک کوي، چي په تور مخ پر خره سپور يې په مدينه کي ګرځوي.

(۱) خطبات فقير جلد ۸ صفحه ۱۶۹

ليکن تاسو د امام مالک رحمة الله علیه جرأت ته ګورئ چي کم ځای خلک پر را ټول سي، نو ورته وايي: ای خلکو! چي کم څوک ما پېژني چي زه امام مالک يم، نو هغه خو مي پېژني.
او چي مي نه پېژني دا واورئ زه مالک ابن انس يم. ﴿وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَائِمٍ﴾ د دين په معامله کي د ملامت کونکو د ملامتيا هيڅ فروا نه لرم(¹).

## پر امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه باندي ظلم او ستم:

د دوو کسانو په باره کي تاريخ دا ګواهي ور کوي که چيري دا دوه کسان نه واى، نو به اسلام هم نه واى.
ځکه تاريخ دا ليکلي دي: ﴿لَوْ لَا اَبُوْبَكْرٍ لَمَا عُبِدَاللهِ﴾ که چيري ابو بکر ﷺ نه واى، نو نن به د الله جل جلاله عبادت نه واى. ﴿او لَوْ لَا اَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ لما عُبِدَ الله﴾ که چيري احمد بن حنبل رحمة الله علیه نه واى، نو نن به د مځکي پر مخ باندي صحيح اسلام نه واى.
د قرآن په باره کي يو ډېره لويه فتنه را پورته سوه هغه دا چي ﴿اَلْقُرآنُ مَخْلُوْقٌ اَوْ غَيْرَ مَخْلُوْقٍ﴾ نو ټوله علماء د خپل ځان د خلاصولو دپاره پټ سوه. څه علماء جلا وطنه سوه، چي خپل وطنونه يې پرېښول.
ليکن امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه کلک ودرېدئ او دا يې وويل: که ما څوک وژني هم به زما د ژبي څخه د حق څخه سوا بله کلمه څوک نه واوري.
آخر دی ونيول سو او درې ورځي مسلسله مناظره وسوه او درې سره واره معتزله فرقې چي يو باطله فرقه وه، هغه به په مناظره کي ماته خوړله.
آخر امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه په جېل کي واچول سو او هره ورځ به په داسي کوړو وهل کېدئ چي يو چشم ديد ګواه دا ليکي: که چيري هغه کوړې د يو فيل پر بدن لګېداى، نو هغه به غلبلې کښلي واى.

(¹)خطبات فقير جلد ۸ صفحه ۱۶۹

لیکن امام احمد ابن حنبل رحمة الله علیه په ډېر استقامت سره هغه بر داشتولې. د ده پر بدن باندې پر کم ځای چې به کوړه ولګېده، د ده غوښې به مړې سوې هغوی به یې بیا په غچې ځنې پرې کولې. هغه د دین د حفاظت دپاره په داسې استقامت سره ولاړ وو.

یو ځل یې درې میاشتې مسلسل په جېل کې تیرې کړې او درې میاشتې په روژه باندې وو او هره ورځ به په کوړو وهل کېدئ. درې میاشتې بعد یې مناظرې ته د جېل څخه را و ایستئ او په ډېر نحیف او کمزوري شکل باندې د مناظرې میدان ته راغلئ.

دَی مبارک په خپله فرمایي: چې زما دا خیال سو چې نن خو به په مناظره کې ما ته داسې کوړې او دورې را کول کیږي، نن به زه تباه کېږم، نو په زړه کې دا سوچ او فکر راغلئ چې زه خو سپین ږیری یم او کمزوری یم او د بنو عباسیه کوړې او دورې نه سم برداشتولای، نو زه په حالت د اضطرار کې یم.

نو د خپل ځان د خلاصولو دپاره که زه د کفر کلمه ووایم، نو شریعت ما ته اجازت را کړی دئ، چې زه خپل ځان نن خلاص کړم.

نو په دې خیال او فکر د مناظرې په میدان کې ودرېدم، چې یو دم یو سړی د مجمعې څخه را پورته سو او په تېزی سره راغلی او ما ته په غوږ کې وایې:

- ای احمد! ته ما پېژنې؟
- ما ورته وویل: نه، زه تا نه پېژنم.
- ده راته وویل: زما نوم ابو الهیثم دئ، د بغداد مشهوره غل یم. ما د دې بنو عباسیه کوړې او دورې خوړلي دي، د هغه د ېیرې څخه ما غلا نه ده پرې ایښې، هسې نه چې ته د بنو عباسیه وو د کوړو او درو د بیرې څخه د حق وینا پرېږدې. که دې د حق وینا پرېښوله، نو ټوله امت به د تباهۍ سره مخامخ کړې نو ما په خپل زړه کې دا فیصله وکړه چې هرڅه کیږي د حق وینا به نه پرېږدم.

امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه ته چي به کله په ياد ورغلئ، نو دستي به يې دا دعا کوله: ﴿رَحِمَ اللهُ اَبَالْهَيْثَم﴾ الله تعالى دي پر ابو هيثم رحم وکړي چي هغه په ډېر نازک حالت کي زه د حق و وينا ته کلک ودرولم، چي په هغه وخت کي زما دا عقيده سوه چي که چيري مي بدن ټکري ټکري کيږي لا به هم د حق وينا نه پرېږدم.

چي کله د مناظرې په ميدان کي شپېته کوړې ووهل سو، د غوښو ټکري يې د ډوري سره الوتې او په وينو کي رنګ برنګ سو. چي کم د ده مقابل معتزلي مناظر وو، د هغه نوم هم احمد وو.

نو هغه معتزلي نژدې ورته راغلئ او ورته وېې ويل: چي اى احمد! که اوس ته دا خبره ومنې چي قرآن مخلوق دئ، نو زه به د خليفه د غذابه څخه تا خلاص کړم.

امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه د بېهوښى په حالت کي ورته وايي: چي اى احمده! که ته اوس هم دا ومنې چي قرآن د الله کلام دئ او غير مخلوق دئ، نو زه به تا د الله جل جلاله د عذابه څخه خلاص کړم(۱).

## مقصد ته اعاده:

نو مقصود مي دا دئ چي شهادتونه، زخمونه، جېلونه او دا د کونډو او يتيمانو ژړاوي د دې امت ميراث او مورثه ده.

نو چي کمو بچيانو د خپلو اکابرو ميراث او مورثه خوندي کړه، د هغوى قربان د تسلى نه، بلکي د آفرين ويلو لائق او مستحق بلل کيږي.

بيا خاص په دې اوس حالاتو کي چي کفارو د مسلمانانو پر ملکو يرغل کړى دئ او د هغوى جېلونه د مسلمانانو نارينه خو څه کوې د مسلمانانو په زنانو باندي ډک دي.

---

(۱) هماري مسائل کا حل صفحه: ۱۲۲

او د مسلمانانو ناموس تار په تار سو او د مسلمانانو عزتونه لوټ سوه او د مسلمانانو حرمت در په دره سو، نو په دې حالاتو کې چې د مسلمان قوم د حالاتو د دفاع دپاره کم بچي خپل ځان قربان کړي، نو هغه ډېر مبارک بچي بلل کيږي.

په موجوده حالاتو کې که چيري يو سړی د دنيا ټوله مخ د مدرسو ډک کړي او د دنيا ټول علوم په خپله سينه کې را ټول کړي، لا هم د يو مجاهد او د يو سربندونکي مدافع درجه نسي پيدا کولای.

تر عبدالله ابن مبارک رحمة الله عليه به څوک لوی عالم او محدث وو؟ تاسو د هغه حالات خو لږ مطالعه کړئ، چي هغه جهاد في سبيل الله د خپل ځان دپاره په کم شکل ضروري عمل بللئ وو.

## د عبدالله ابن مبارک رحمة الله عليه علم:

عبدالله ابن مبارک رحمة الله عليه ته الله تعالى داسي علم ور کړئ وو او د خپل وخت داسي عظيم محدث وو.

چي د هغه په يوه درسِ حديث کي به يوولس سوه (۱۱۰۰) مکبرين وو، چي هغوی به د ده د حديثو آواز د مجمع تر پايه رسوئ.

او په يوه درسِ حديث کي څلوېښت زره (۴۰۰۰۰) د رنګ چيښې د حديثو د ليکلو دپاره شمار سوې. نو د ده د حديثو په درس کي به داسي لويه مجمع موجوده وه.

او الله تعالى په عوامو کي داسي مقبوليت ور کړی وو، چي يو ځل "هارون رشيد" بادشاه د خپل کور د زناني "زبيده خاتون" سره د شاهي محل پر تخت ناست وو، نو د ښار په يو کونج کي ږوږ او ازانګه پورته سوه.

د هارون رشید بادشاه سره اندېښنه پیدا سوه چي هسي نه چي د ښار پر یو طرف باندي دښمن حمله کړې وي، نو دستي یې یو نوکر د دې ږوږ د حال معلومولو دپاره د ښار هغه کونج ته ور واستوئ، چي ته ورسه دا ږوږ د څه شي پورته سو؟ عسکر چي واپس راغلئ ورته وایي: چي بادشاه سلامت، عبدالله ابن مبارک رحمة الله علیه په سفر تللی وو، نن واپس ښار ته راغلئ. د ده د استقبال دپاره دومره مجمع را وتلې وه چي ده و نوږل (ویې پرچل) او "الحمد الله" یې وویل، د هغه په جواب کي ټولي مجمعې "یرحمک الله" وویل، دا د هغه "یرحمک الله" ویلو ږوږ وو.

"زبیده خاتون" چي کله دا اوري، نو "هارون رشید" بادشاه ته وایي: چي ای بادشاه! سلامت، ته هم وایې چي زما بادشاهي ده، حقیقي بادشاهي الله تعالی دې خلکو ته په نصیب ور کړې ده، چي د انسانانو پر زړو باندي حکومت او بادشاهي کوي.

## د عبدالله ابن مبارک جهاد:

حبان ابن موسی د حضرت عبدالله ابن مبارک رحمة الله علیه یو شاګرد دئ، دی وایي: چي موږ د عبد الله ابن مبارک سره جهاد ته ولاړو.

د شام په طرف کي هر کله چي هلته موږ هغه مجاهدین ولیدل او د هغوی پر مخونو باندي مو د جهاد ستړیاوي او پراته ګرځونه ولیدل.

نو حضرت عبدالله ابن مبارک رحمة الله علیه به په ډېر افسوس سره دا ډېر ویل: ﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾. حبان ابن موسی وایي: چي د ده د ترجیع کلمه ډېر په افسوس وه، نو ما پوښتنه ځني وکړه:

- چي حضرت پر څه باندي دونه ډېر افسوس کوې؟
- ده راته وویل: پر هغه شپو او ورځو چي موږ د جنت په تلاښ کي تیري کړې ﴿فِيْ مَسَائِلِ الْخَلِيَّةِ وَالْبَرِيَّةِ﴾ د نکاح او طلاق په مسائلو کي چي جنت به

هلته وي. حالانكي ﴿وَ اَبْوَابُ الْجَنَّةِ مَفْتُوحَةٌ هٰهُنَا﴾ او د جنت دروازې دلته د كار و زار په ميدان كي يعني د جهاد په ميدان كي خلاصي ولاړي دي([1]).

## د عبدالله ابن مبارك رحمته الله عليه اشعار:

مشهور محدث او مجاهد عبدالله ابن مبارك رحمته الله عليه چي د امام ابو حنيفه رحمته الله عليه شاګرد دئ او د امام بخاري استاذ دئ.
و يو مشهور صوفي او عابد "فضيل ابن عياض" ته چي د بيت الله په حرم شريف كي شپه او ورځ په عبادت كي مشغول وو، د جهاد د ميدانه څخه دا شعرونه په يو خط كي ليكي او وراستوي يې:

يَا عَابِدَالْحَرَمَيْنِ لَوْ اَبْصَرْتَنَا... لَعَلِمْتَ اَنَّكَ فِي الْعِبَادَةِ تَلْعَبُ

اى د حرمينو شريفينو عابده! كه ته زموږ حال ووينې، نو ستا به يقين سي چي ته په عبادت سره هسي بازى كوې.

مَن كَانَ يَخْضِبُ خَدَّهُ بِدُمُوعِهِ ... فَنُحُورُنَا بِدِمَائِنَا تَتَخَضَّبُ

عبادت كونكى په خپلو اوښكو سره خپل مخ لوندوي، دا دي د دوى مبارك شي زموږ سينې په خپلو وينو سره رنګيږي.

أو كَانَ يُتْعِبُ خَيْلَهُ فِي بَاطِلٍ ... فَخُيُولَنَا يَومَ الصَّبِيْحَةِ تُتْعَبُ

يا كوم سړى چي خپل آسونه په عبث كي ستړي كوي هغه دي داسي كوي، زموږ آسونه د جهاد په ميدان كي ستړي كيږي.

رِيحُ الْعَبِيْرِ لَكُمْ وَ نَحْنُ عَبِيْرُنَا ... رَهْجُ السَّنَابِكِ وَالْغُبَارُ الْأَطْيَبُ

د مشك او عنبر خوشبويي دي ستاسو مبارك سي، زموږ خوشبويي د آسونو د نالونو دوړه او د جهاد پاكه خاوره ده.

وَلَقَدْ اَتَانَا مِنْ مُقَالِ نَبِيِّنَا ... قَوْلٌ صَحِيْحٌ صَادِقٌ لَايُكْذَبُ

---

([1]) الحق بالقافله لشيخ عزام شهيد رحمه الله.

مورته خود خپل خوږ نبي ږښتینی او نا قابل تکذیب داسي فرمان راغلی دئ:

لَا يَجْتَمِعُ وَ غُبَارُ خيلِ اللهِ فِي ... أَنْفِ امْرِءٍ وَدُخَانُ نَارٍ تَلْهَبُ

چي د الله ﷻ د لاري د آسونو دوړه او لمبې کونکی اور د مجاهد پر بدن نسي جمع کیدای.

هَذا كِتَابُ اللهُ يَنْطِقُ بَيْنَنَا ... لَيْسَ الشَّهِيْدُ بِمَيِّتٍ لَا يُكَذَّبُ

دا د الله ﷻ کتاب دئ چي زموږ په مینځ کي ناقابل تردید اعلان کوي چي شهید ژوندی دئ، مړ نه دئ.

محمد بن ابراهیم وایي: چي ما کله دا خط و "فضیل بن عیاض" ته په حرم شریف کي ور کړئ، نو ده ووایه، ډېر یې وژړل او ویې ویل: ﴿صَدَقَ أَبُوْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ وَنَصَحَنِي﴾ واقعًا رشتیا یې ویلي دي او زما خیر خواهي یې کړې ده.

او راته ویې ویل: چي زما د طرفه څخه دا حدیث شریف ورته په جواب کي ولیکه:

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ عَلِّمْنِي عَمَلًا أَنَالُ بِهِ ثَوَابَ الْمُجَاهِدِيْنَ فِي سَبِيلِ الله فَقَالَ: هَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تُصَلِّي فَلَا تَفْتُر وَتَصُوْمَ فَلَا تُفْطِرَ؟ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ، أَنَا أَضْعَفُ مِنْ أَنْ أَسْتَطِيعَ ذَلِكَ، ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَوالَّذِي نَفْسِي بِيَدِه لَوْ طُقْتَ ذَلِكَ مَا بلغت الْمُجَاهِدِيْنَ فِي سَبِيلِ اللهِ أَوَمَا عَلِمتَ أَنَّ الْفَرَسَ الْمُجَاهِدَ لَيَسْتَنُّ فِي طِوَله فَيُكْتَبُ لَهُ بِذَلِكَ الْحَسَنَاتُ﴾[1].

حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي: چي یو سړی و نبي ﷺ ته وویل: و ما ته داسي عمل را وښیه چي زه په هغه سره د مجاهد في سبیل الله ثواب پیدا کړم.

نبي ﷺ ورته وویل: چي آیا ته دا طاقت لرې چي همېشه لمونځونه کوې او نه ستړی کېږې او همېشه روژې نیسې او نه یې خورې؟ هغه وویل: زه د دې نه عاجزه یم.

(۱)تفسیر ابن کثیر جلد ا صفحه ۵۹۳

نبي ﷺ ورته وويل: که تا ته د دې طاقت هم در کول سي (ته وله شپه لمونځونه کوې او ته وله عمر روژې نيسې) بيا به هم ته د مجاهدينو ثواب ته نه رسېږې.
آيا تا ته معلومه نه ده چې د مجاهد آس که چيرې په خپله رسۍ کې ته وپونه وهي او قدمونه اخلي د دې ثوابونه هم د مجاهد دپاره ليکل کېږي.

## د جهادي عمل ثواب:

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمة الله عليه په خپله مشهوره فتاوٰى کې په دې باندې د علماء اجماع نقل کړې ده.
چې د يو کس رباط في سبيل الله (يعني جهاد في سبيل الله او د اسلامي سر حدونو د حفاظت د پاره قيام کول) د مکې شريفې، د مدينې منورې او د بيت المقدس د قيام کولو څخه بهتر دئ([1]).
سبحان الله د جهاد څومره لوی شان دئ چې د بيت الله، مسجد نبوي او د بيت المقدس عبادت هم نه دئ ورسره برابر او مسلمانان د دې څخه غافله دي.
بيت الله ته خو تلل ډېر ګران دي، ډيرې پيسې غواړي هغه هم لږ وخت دپاره او دلته تا ته د خپل کور سره د هغه څخه زيات ثواب ميلاوېږي، ای کم نصيبه انسانه! نور لا ته څه غواړې او د څه انتظار کوې.

## د جهاد د لارې ثواب:

نو چه کله مسلمان د جهاد په لار کې د ګرځېدلو په حالت کې قدم ايږدي، پر هر قدم د جنت څومره درجې پيدا کوي.
دا هغه لار ده چې د دې لارې ګرد او غبار هم د جنت خوشبويي جوړېږي. نو د دې لارې د اعمالو به د الله ﷻ په دربار کې څومره قدر او قيمت وي.

---

([1]) مجموع الفتاوٰى ۵ج ۲۸

که یو دنیا داره سړی د دنیا هر څومره مال او دولت صدقه کړي خو د مجاهد درجه بغیر د جهاد د لاري څخه هیڅ کله نسي پیدا کولای.

یو صحابي راغلئ حضور اقدس ﷺ ته فرمايي: ﴿يَا رَسُولَ اللهِ كَيفَ لِي أَن أَنفِقَ مِن مَالِي حَتى أَبلُغَ بِهِ دَرَجَةَ المُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ﴾ ای د الله رسوله! کچیري زه خپل مال او دولت د الله جل جلاله پر نام صدقه کړم، آیا د مجاهد درجې ته ځان رسولای سم؟

حضور اقدس ﷺ پو بښتنه ځني کوي ﴿وَ مَا مَالُكَ﴾ څومره مال او دولت لري چي د الله په لار کي يې صدقه کړې؟

دَی په جواب کي ورته وايي: ﴿سِتَّةُ آلَافِ دِرهَمٍ﴾ شپږ زره دراهم دي، چي زه يې د صدقه کولو اراده لرم.

پیغمبر علیه السلام ورته فرمايي: ﴿لَو تَصَدَّقتَ بِهَا مَا كَانَ عَدلَ نَومَةِ الغَازِي فِي سَبِيلِ اللهِ﴾(١) که ته خپل مال او دولت ټول صدقه کړې، نو ستا په مقابله کي چي کم سړی د جهاد په لار کي روان دئ هیڅ عمل هم نه کوي صرف ویده دئ چي هغه ته الله جل جلاله پر خوب څومره ثواب ور کوي، تا ته هغه ثواب په دې ټول مال او دولت صدقه کولو کي نه ملاویږي.

نو چي د خوب دومره اجر دئ، چي کله یو سړی پیره کوي ټوله شپه په ویښه تېروي یا د تعرض او اقدام په حالت کي وي، نو هغه ته به الله تعالی کم اجر ور کوي.

## د عبد الرحمن ابن عوف غلامان ازادول:

یو حدیث مبارک کي راځي چي حضرت عبدالرحمن ابن عوف رضی الله عنه یو مالدار صحابي دئ، هغه دېرش غلامان ازاد کړل.

او د یو غلام پر ازادېدو باندي د دوزخ څخه د نجات وعده ده.

---

(١) تنبیه الغافلین حدیث: ۷۸۹

یو غریب صحابي په ډېر حیرت سره ورته ګوري، چي الله تعالی به عبدالرحمن ابن عوف ﷺ ته کمه درجه ور کړي.
حضرت عبدالرحمن ابن عوف د ده حیرت محسوس کړئ آخر ورته وایي: ﴿أَوَ لَا أُخْبِرُكَ بِأَفْضَلِ مِمَّا صَنَعْتُ﴾ آیا زه و تا ته تر دې لوی عمل در وښیم چي په هغه کي الله تعالی انسان ته هغه اجر ور کوي، چي ما ته یې په دې ډېرشو غلامانو ازادولو کي نه زا کوي.
هغه غریب صحابي ورته وایي: ضرور یې را وښیه! دَی ورته وایي: ﴿بَيْنَمَا رَجُلٌ يَسِيْرُ عَلَىٰ دَابَّتِهِ﴾ د الله په لار کي یو سړی پر دابه (آس، خره یا اوښ) باندي سپور دئ.
او د هغه سړي په لاس کي توره یا نېزه ده، نو د تګ په حالت کي دې سړي ته خوب ورغلئ او د لاسه څخه یې هغه شی ایله سو، او د ایله کېدو په حالت کي دَی ور سره وغورځېدئ چي پر دې غورځېدلو الله تعالی کم ثواب ور کوي، نو ما ته یې د ډېرشو غلامانو په آزادولو کي هم نه راکوي(۱).
نو جهاد کول ډېر لوی عمل او د جهاد په عمل سره الله تعالی انسان د لو ی اجر لائق او مستحق جوړوي، چي په نورو اعمالو کي هغه اجر د انسان نه نصیب کېږي.

## د حضرت مرشد الغنمي ﷺ د پیرې واقعه:

د حنین په موقع باندي پیغمبر ﷺ وویل: چي صحابه کرام ټول ستړي دي، نن شپه به پیره څوک وکړي؟ نو حضرت انس ابن مرشد الغنمي ﷺ په جواب کي ورته وایي: چي نن به زه پیره کوم.

---
(۱)خطبات جمیل ص ۱۱٦

پیغمبر ﷺ ورته فرمایي: چي ولاړ سه، د هغې غونډی پر سر باندي ودرېږه! کچیري دښمن حمله کوله، نو موږ ته خبر را کوه!
حضرت انس ابن مرشد الغنمي ﷛ ولاړئ او د هغې غونډی پر سر باندي یې توله شپه په پیره کي تېره کړه.
پیغمبر ﷺ چي کله د سهار لمونځ و کړئ او سلام یې و ګرځوئ، نو د سلام ګرځولو وروسته یې پوښتنه و کړه، چي هغه زموږ پیره دار څه سو.
صحابه کرامو په جواب کي ورته وایي: چي تر اوسه لا نه دئ راغلی. او په دې وخت کي لیري ګرد او غبار پورته کېږي، نو پیغمبر ﷺ وایي: هغه دئ زموږ پیره دار راغلئ.
تر دې وخته پیغمبر ﷺ د مصلې څخه لا نه دئ ولاړ سوی چي حضرت مرشد غنمي ﷛ د پیغمبر ﷺ و مخته پر آس سپور ودرېدئ او سلام یې ورته ووایه.
پیغمبر ﷺ پوښتنه څني کوي او ورته وایي:

- سرېه! شپه څنګه تېره سوه؟
- هغه په جواب کي ورته وایي: توله شپه په پیره باندي تېره سوه.
- پیغمبر ﷺ ورته وایي: د شپې د آس څخه کښته سوی یې او که نه؟
- نو دی په جواب کي ورته وایي: صرف د لمانځه او قضائ حاجت دپاره شوه سوی یم، ددې څخه علاوه نه یم شوه سوی.
- پیغمبر ﷺ هغه خپله مشهوره جمله ورته پېشوي او ورته وایي: ﴿مَا عَلَيْكَ أَن لَا تَعْمَلَ بَعْدَهُ﴾ ای سرېه! د نن څخه بعد که ته یو عمل نه و کړې ستا دپاره جنت واجب سو. د یوې شپې په پیره کولو سره ته جنتي سوې.

که چیري یو سړی توله زندګي په خپل کور کي په عبادت کي تېره کړي، د دې څخه د ده دپاره د جنت واجب کېدلو خوشخبري نسته.

لیکن د الله ﷻ په لار کې که یو سړی یوه شپه پیره و کړي، نو د ټولې زندګۍ دپاره جنت واجیبږي(۱).

## یو ساعت دالله ﷻ په لار کې، د درېدلو فضیلت:

په یو حدیث شریف کې راځي: ﴿مَوْقِفُ سَاعَةٍ فِي سَبِيلِ اللهِ، خَيْرٌ مِنْ قِيَامِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ عِنْدَ الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ﴾(۲) یو ګړی د الله ﷻ په لار کې درېدل یعني چې سړی د الله ﷻ په لار کې یو ګړی محنت وکړي.

لیکن د ده په مقابل کې یو بل سړی د بیت الله شریفې په حرم کې د حجر اسود و مخته ولاړ وي او شپه ټوله په نفلو کې تېروي او شپه هم د لیلة القدر وي. په بیت الله کې یوه شپه عبادت کول د یو لک شپو عبادت کولو سره برابره ده.

او هغه یوه شپه بیا د لیلة القدر په وجه سره تر زر میاشتې عبادت بهتره ده. نو دلته چې یو لک ته په زرو کې ضرب ورکړې، نو د الله ﷻ په لار کې یو ګړی درېدل تر لس کروړه میاشتې عبادت زیاته ده.

په یو بل حدیث شریف کې داسې الفاظ راځي: ﴿لَمَوْقِفُ سَاعَةٍ فِيْ سَبِيلِ الله خَيْرٌ مِنْ قِيَامِ عُمْرِهِ﴾ یو ګړی د الله ﷻ په لار کې درېدل د ټولې زندګۍ د عبادت څخه بهتره دي.

په یو بل روایت کې لا داسې الفاظ هم راځي: ﴿لَمَوْقِفُ سَاعَةٍ فِيْ سَبِيلِ الله خَيْرٌ مِنْ قِيَامِ سِتِّيْنَ عَامًا﴾ یو ګړی د الله ﷻ په لار کې درېدل دا غوره دي د اویا کاله عبادت څخه.

نو چې کم چا ټوله زندګي د الله ﷻ په لار کې تېره کړه، نو هغوی ته به الله تعالی کم اجر او ثواب ور په نصیب کړي؟؟؟

(۱) خطبات جمیل ص ۱۱۷
(۲) شعب الایمان ۳۹۸۱

یا خاص چي د جهادي زندګی په آخر کي الله تعالٰی انسان ته د شهادت مرګ ور نصیب کړي، نو د الله په حضور کي به د ډیرو لوړو درجو مستحق او لائق وي.
نو الله تعالٰی دي د دې شهیدانو شهادتونه قبول کړي. او الله تعالٰی دي په خپل دربار کي لوړي درجې ور نصیب کړي. او الله تعالٰی دي په جنة الفردوس کي استوګن ځای ور کړي.
او الله تعالٰی دي د دوی قریبانو ته صبرِ جمیل، اجرِ جزیل او بهترین خلف ور په نصیب کړي. او الله تعالٰی دي دا ځو خبري قبولي او مقبولي وګرځوي.

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الايه)

# هرڅه ته تياري کول

(بيان)

مولوي اطيع الله صاحب
استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

ترتيب وتخريج:
مفتي حافظ کليم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچي)
استاذ جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانيه الهاشميه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطیع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ کلیم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | څلورم |
| تاریخ | یکم ربیع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق یکم مي ۲۰۱۸ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ﴾(۱).

وقال رسول الله ﷺ ﴿مُوْتُوْا قَبْلَ أَنْ تَمُوْتُوْا وَ حَاسِبُوا قَبْلَ أَنْ تُحَاسَبُوا﴾(۲).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰه رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**ترجمه:**

محترمو سامعينو! ستاسو په مخ كي ما د پيغمبر عليه السلام يو حديث مبارک پيش كړئ.

چي د هغه لفظي ترجمه دا ده چي د حقيقي مرګ راتلو څخه مخكي تاسو مړه سئ! او د قيامت په ورځ چي ستاسو څخه حساب او كتاب اخستل كيږي، د هغه څخه مخكي خپل حساب او كتاب د ځانه سره و كړئ!

(۱) عنكبوت آيت نمبر ۵۷

(۲) كشف الخفاء ۲، ۲۰۲

## مرګ يقيني راتلونکی دئ:

مرګ يقيني راتلونکی دئ. د مرګ په راتلو کي شک او شبهه نشته. او د مرګ په مسئله کي تر اوسه چا اختلاف نه دی کړی او نه چا د مرګ د راتلو څخه انکار کړی دئ.
انکارکونکو "نعوذ بالله" د خدای د وجوده څخه انکار کړی دئ، چي موږ خدای نه منو. او د رسولانو څخه يې انکار کړی دئ، مګر د مرګه څخه هيڅ څوک هم انکار نسي کولای.
هر سړی دا خبره مني چي کم چا ته په دنيا کي الله ﷻ ژوند ور کړی دئ، هغه به يو ورځ نه يو ورځ ضرور د مرګ غيږي ته ور ځي.

## د دنيا دوې اتفاقي خبري:

نو يو خو د مرګ پر را تللو باندي د ټولي دنيا اتفاق دئ، دوهم پر دې خبره باندي هم د ټولي دنيا اتفاق دئ چي د مرګ وقت نه دئ معلوم، کېدای سي چي اوس مرګ راسي، دقيقه بعد مرګ راسي، يو ساعت بعد راسي، يوه ورځ بعد راسي، يوه هفته بعد راسي، يوه مياشت بعد راسي، يا يو کال بعد راسي، دا هيڅ معلومه نه ده.
نن د "سائنس" تحقيقات د کم ځای څخه تر کمه ځايه ورسېدل، چي هغه په اسمانو کي خبري کوي او د لمر او سپوږمی حالات بيانوي.
ليکن که ته د هر څومره لوی "سائنسدان" څخه پوښتنه وکړې چي د دې سړي مرګ به کله راځي، نو په دې وخت کي بيا د ده "سائنس" فېل او ناکام دئ، دَی د چا د مرګ معلومات نه سي ېښولای.

## د مرګه مخکي مړه کېدل:

لِهذا د دنيا په اتفاقي خبرو کي يوه دا ده چي مرګ ضرور راځي او دوهمه اتفاقي خبره داده چي د مرګ وخت نه دئ معلوم.

خداى نخواسته که انسان دغسي د غفلت په حالت کي د دنيا څخه رخصت سي او د الله جَلَّ جَلَالُهُ حضور ته پيش سي، هسي نه چي د الله جَلَّ جَلَالُهُ د غضب او عذاب سره مخامخ سي.

نو په دې وجه حضور اقدس ﷺ فرمايي: چي د حقيقي مرګ راتلو څخه مخکي تاسو مړه سئ!

د حقيقي مرګ څخه مخکي مړه کېدل، د دې مطلب علماء کرامو دوه قسمه بيان کړى دئ:

اول دا چي اى انسانه! د حقيقي مرګ د راتلو څخه مخکي چي په تا کي کم نفساني خواهشات دي، چي هغه د الله ﷻ د حکم سره معارض او مقابل دي او ستا په زړه کي د ګناه کولو کمي داعيې او تقاضې دي، هغه مړې که! او هغه ختم او فناه که!

## ما ته يو ورځ مرګ ګوري:

دوهم مطلب علماؤ دا بيان کړى دئ، چي د حقيقي مرګ راتلو څخه مخکي د مرګ سوچ او فکر کول.

کله کله انسان بايد دا سوچ او فکر و کړي چي يو ورځ د دې دنيا څخه ځم او د دې دنيا څخه به خالي لاس رخصتېږم، نه به پيسې راسره ځي او نه به اولاد راسره ځي، نه به کور او بنګلې راسره ځي او نه به دوستان او احباب را سره ځي. بلکي يوازي به ځم، د قبر په توره کنده کي به ښخېږم. او په سونو او زرونو کلونه عمر به يوازي هلته تېروم.

دا يو واقعه او حقيقت دئ چي په دې دنيا کي چي د انسانه څخه څومره ظلم او نافرماني کيږي، د هغوی د ټولو څخه لوی سبب دا دئ چي د انسانه څخه خپل مرگ هېر وي.

چي تر څو پوري د انسان په جسم کي صحت او قوت وي، لاس او پښې يې حرکت کوي، نو د انسان په دماغ کي دا وي چي "ہم چون ما دیگری نیست" چي زما غونډي هيڅ څوک نسته. په دې وخت کي انسان تکبر هم کوي، پر نورو ظلم هم کوي او د نورو حقوق هم ضائع کوي. د ځواني او صحت په حالت کي دا ټوله کارو نه د انسان څخه کيږي. او دا سوچ و فکر انسان ته نه راځي چي زه به يو ورځ مرم او زه به يو ورځ د دنيا څخه رخصتېږم. په خپلو لاسو به مي خپل قريبان او خپل دوستان پر جنازه وړي او تر خاورو به مي لاندي کوي.

ليکن د دې ټولو باوجود د ده کم نصيبه دا سوچ او فکر وي، چي دا د مرگ واقعه بل ته ور پېښيږي، زه به هغه وړم او تر خاورو به يې لاندي کوم او زه به واپس راځم د خپل کور او بچيانو سره به زندگي تېروم.

دغه رنگه د غفلت په حالاتو کي انسان ژوند او زندگي تېروي او د مرگ دپاره يو څه بندو بست او تياری نه کوي.

## د دوو لوی نعمتو څخه غفلت:

په يو حديث کي پيغمبر ﷺ ډېره ښائسته جمله فرمايي: ﴿نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ: الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ﴾(۱).

يعني د الله تعالی دوه نعمته داسي دي چي د هغو د وجهي څخه ډېر انسانان په دوکه کي پراته دي. يو د "صحت" نعمت دئ او بل د "فراغت" نعمت دئ.

يعني چي تر څو پوري انسان ته د "صحت" نعمت حاصل وي، تر هغه وخته انسان په دوکه کي وي، چي دا د "صحت" نعمت به همېشه وي. او د صحت په

(۱) صحيح بخاري حديث نمبر ۶۴۱۲

حالت کي نېک اعمال و شاته کوي، چي دا نېک عمل به سبا و کم او یا به یې بل سبا و کم، لیکن آخر یو داسي زمانه راسي، چي هغه د صحت وخت ځني تېر سي او دَی هغه نېک عمل نه و کړي.

دوهم نعمت "فراغت" دئ. یعني اوس دې انسان ته د نېکو اعمالو فرصت سته او وخت ورته مهیا دئ، لیکن انسان نېک اعمال په دې فکر و شا ته کوي، چي اوس خو لا وخت سته، سبا به یې و کم، او اوس مي ځواني ده.

حالانکي دَی د ځوانی په حالت کي بهترین عبادات، ریاضات، مجاهدات او د خلګو خدمت کولای سي او خپله عمل نامه د نېکو اعمالو ډکولای سي.

لیکن د ده غریب پر دماغ دا خبره پرته ده چي زه خو اوس ځوان یم، لړ به د زندګی خوند واخلم، د عبادت او نیکو کارو دپاره خو ما ته ډېر عمر نور هم ګوري.

په دغه شکل دَی دا نېک اعمال و شا ته کوي، تر دې حده چي ځواني هم تېره سي دَی په ځان پوه نسي او صحت هم خراب سي او ده ته هیڅ درک و نه لګیږي. نو بیا وروسته دَی ارمان کوي، په داسي حال کي چي هیڅ په لاس نه ورځي.

دا ټولي خبري په دې وجه پیدا سوي دي چي انسان د خپل مرګه څخه غافل دئ.

کچیري روزانه سهار او ماښام خپل مرګ په یاد وساتي چي یو ورځ به زه مرم او د مرګ څخه مخکي ما ته دا کار کول ګوري.

نو بیا د مرګ یاد او د هغه سوچ او فکر انسان د ګناهو څخه ساتي او د نیکو اعمالو پر لار یې را ولي. په دې وجه پیغمبر علیه السلام فرمایي: چي تاسو د مرګه څخه مخکي مړه سئ!

## د حضرت بهلول رحمة الله علیه واقعه:

په تیره زمانه کي یو بزرګ تېر سوی دئ، حضرت بهلول مجذوب رحمة الله علیه چي یو مجذوب قسم بزرګ وو، د "هارون رشید" باچا زمانه وه، هارون رشید باچا به پر دې بزرګ باندي مسخري کولې او د ده سره به یې خپل طبیعت اراسته کوئ.

بهلول رحمة الله علیه که څه هم په ظاهر کي مجذوب او لېوني ښکارېدئ، لیکن په باطن کي به هغه ډېري د حکمته څخه ډکي خبري کولې.
هارون رشید پادشاه خپلو پېره دارانو ته دا ویلي وه چي کله بهلول زما دروازې او ملاقات ته راسي، نو تاسو به دی نه ګرځوئ. د هارون رشید بادشاه زړه دا غوښته چي بهلول همېشه زما دربار ته راځي.
یو ورځ حضرت بهلول رحمة الله علیه دربار ته راغلئ هارون رشید بادشاه مېوه خوري او د هغه په لاس کي یو چاړه ده، هارون رشید و بهلول ته وایي او پر ده باندي خپل طبیعت سموي:

- ای بهلوله! زما ستا څخه یو درخواست دئ.
- بهلول ورته وایي هغه څه دئ؟
- هارون رشید په جواب کي ورته وایي: چي دا چاړه بطورِ امانت در سره واخله، چي په دنیا کي دي تر ځان لوی لېونی پیدا کړئ دا چاړه زما د طرفه و هغه ته په هدیه کي ورکه!
- بهلول ورته وایي: چي بادشاه سلامت، ډېره ښه ده او هغه چاړه یې په خپل کچکول کي واچوله.

هارون رشید خو صرف د ده سره مذاق او مسخره کوله او د هارون رشید مقصد دا وو چي په دنیا کي خو تر تا لوی لېونی نسته، نو په دې خاطر یې دا چاړه بهلول ته ور کړه.
بهلول هغه چاړه د ځانه سره واخیستله او د درباره څخه ولاړئ.
د دې واقعې څو کلونه تېر سول، یو ورځ په ځنګله کي بهلول دانا ته یو څوک وایي: ای بهلوله هغه ستا دوست هارون رشید ډېر سخت بیمار دئ او ته یو ورځ پوښتني ته لا نه ورغلې، ډېر بې وفا یې.
بهلول دانا په منډه د هارون رشید دربار ته د هارون رشید د پوښتني دپاره راغلئ او پوښتنه پر کوي، چي امیر المؤمنین څنګه حال دئ.

هارون رشيد په جواب کي ورته وايي:

- څه حال مي پوښتې لوی سفر مي مخته دئ او ډېر ورته وار خطا يم.
- بهلول دانا پوښتنه ځني کوي، چي د کم ځای سفر دئ؟
- هارون رشيد په جواب کي ورته وايي: چي د آخرت سفر دئ، اوس به د دنيا څخه رخصتېږم.
- بهلول دانا پوښتنه ځني کوي، چي بادشاه سلامت، څو ورځي بعد به راځې؟
- هارون په جواب کي ورته وايي: چي دا د آخرت سفر دئ د دې څخه څوک واپس نسي راتلای.
- بهلول دانا ورته وايي: چي بادشاه سلامت، چي دومره اوږد سفر دئ چي څوک واپس نه ځني راځي.

نو تا د دې سفر د راحت او آرام دپاره او د سفر د انتظاماتو دپاره څومره لښکر او فوجيان مخته استولي دي؟

- هارون رشيد ورته وايي: ای بهلول دانا! ته خو هغــي لېونی يې او د لېونيانو خبري کوې، دا د اخرت سفر دئ، په دې کي نه څوک د چا سره ځي او نه لښکر او نه فوج او نه عسکر د انسانه سره ځي، بلکي انسان به هلته يکي تنها سفر کوي.
- بهلول دانا ورته وايي: بادشاه سلامت، چي دومره اوږد سفر دئ چي انسان واپس هم نه راځي، ليکن د هغه د انتظاماتو دپاره دي هيڅ عسکر او سفاهيان هم نه دي استولي.

حالانکي د دې څخه مخکي به ډېر مختصر سفر وو، د هغه دپاره به تا ډېر لوی بندوبست کوئ.

او اوس دا په خپله خوله وايي چي ډېر لوی سفر دئ او د هغه دپاره مي هيڅ بند و بست نه دئ کړی، نه مي لښکر استولی دئ او نه مي انتظام کړی دئ.

- نو بادشاه سلامت، ستا یو امانت د ډیري زمانې څخه زما سره وو -هغه چاړه ده- او تا ما ته ویلي وه چي تر ځان لوی لېوني پیدا کړې، نو زما د طرفه يې و هغه ته په هدیه کي ور که، زه خو ډېر وګرځېدم، نو تر ځان لوی لېوني په دنیا کي ته راته ښکاره سوې، نو دا چاړه او امانت دي ستا مبارک وي.

په دې وجه چي ما به لیدل په دنیا کي به دي د درو ورځو سفر وو، نو تا به په میاشتو میاشتو مخکي د هغه دپاره تیاري کوله، د خوړکې سامان، خېمې او لښکرونه به دي مخکي استول او بیا به ته ورتلې.

لیکن اوس په خپله دا وايې چي دا ډېر اوږد سفر دئ، انسان د دې سفره واپس بیا نه راځي اود دې دپاره دي هیڅ تیاري نه ده نیولې، نو ته ما ته تر خپل ځان لېوني ښکاره سوې، نو ځکه هغه امانت بیرته تا ته سپارم.

- هارون رشید چي کله دا واورېدل، نو ویې ژړل او دا یې وویل: بهلوله! په دنیا کي تا رشتیا خبره و کړه، ټول عمر به موږ ته لېوني بللې، لیکن حقیقت دا دئ چي د حکمت خبره نن تا و کړه.

واقعًا موږ خپل ټوله عمر ضائع او عبث کړئ او د اخرت د سفر دپاره مو هیڅ تیاري ونه کړه.(۱)

## عقل مند څوک دئ؟

په حقیقت کي بهلول دانا چي کمه خبره و کړه هغه د پیغمبر عليه السلام حدیث مبارک هم دئ، چي حضور اقدس ﷺ فرمایي: ﴿اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَ عَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ﴾ (۲)عقلمند سړی هغه وي چي خپل ځان و پېژني او د مرګ څخه وروسته ژوند د پاره تیاری و کړي.

(۱) اصلاحي خطبات ج ۷ ص ۲۷۶

(۲)ترمذي باب صفة القیامه نمبر ۲۶

نن په دنيا کي عقل مند هغه سړي ته ويل کيږي چي د مال ګټل يې ښه زده وي، د پيسو څخه پيسې ډېرولای سي او انسانان ښه دوکه کولای سي.
ليکن په دې حديث مبارک کي پيغمبر ﷺ دا فرمايلي دي: چي عقل مند انسان هغه دئ چي خپل نفس قابو کړي او د نفس په خواهشاتو پسي نه ځي، بلکي خپل نفس د الله د رضا تابع کړي او د مرګه څخه وروسته ژندګۍ دپاره تياري و کړي.
او کچيري دا کار و نه کړي، نو هغه سړی بې عقل دئ. هغه ټوله عمر ضائع کړئ چي په کم ځای کي همېشه استوګنه ورته ګوري، د هغه ځای دپاره يې هيڅ تياري و نه کړه.

## نن پر موږ د بهلول قول صادق دئ:

چي کمه خبره بهلون دانا هارون رشيد ته و کړه، که په خپل ګرېوان کي وګورو پر موږ هر يوه هغه خبره صادقه ده؛ ځکه چي زموږ هر سړی چي په دنيا کي استوګنه کوي، نو د ده په دماغ کي دا سوچ پروت وي، چي کور به چيري جوړوم، څه رنګه به يې جوړوم او په هغه کي به کم او کم د راحت اسباب جمع کوم.
او که په دنيا کي په يو معمولي سفر باندي ځي، نو څو ورځي د مخه لا بندوبست کوي او د هغه سفر دپاره تياري شروع وي. چي کم ځای ته ورځي، نو يار مخکي د ځان دپاره د استوګني بندوبست کوي بيا وروسته ور روانيږي. او سفر وي صرف د چند ورځو.
ليکن چي په کم ځای کي همېشه تر همېشه استوګنه ده، چي هلته د ژوند هيڅ انتهاء نسته د هغه دپاره هيڅ فکر نه وي، چي هلته به کور څنګه جوړوم او هلته به د راحت اسباب څنګه جمع کوم.
نو ځکه حضور اقدس ﷺ فرمايي: عقل مند سړی هغه دئ چي د مرګه څخه وروستني ژوند دپاره تياري و کړي او که يې نه و کړي، نو هغه سړی بې عقل او نادان دئ، که څه هم هر څومره لوی مالدار او حاکم وي.

نو د آخرت د تیاري لار دا ده چي د مرګه څخه مخکي د مرګ فکر کول چي زه به یو ورځ د دې دنیا څخه رخصتېږم.(١)

## د آخرت د فکر کولو طریقه:

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي قدس الله سره فرمایلي دي: د انسان دپاره باید دا وي چي په ورځ کي یو څه وخت د تنهایي په شکل تېر کړي. بیا په دې وخت کي د ځانه سره دا فکر او تصور کوي چي زما آخرنی وخت را ورسېدئ، فرشته د روح قبض کولو دپاره ما ته راغله، هغې زما روح قبض کړئ. عزیزانو قریبانو زما بدن را واخیستی او د غسل پر تخته یې کېښنولم.
او د کلي ملا او طالب راغلئ چي زما پر بدن جامې څیري او بدن را لڅوي. او بیا ما ته غسل را کوي، په سپین کفن کي مي پېچي او پر جنازه مي هدیرې ته اخلي.
د جنازې د لمانځه څخه وروسته ما په یو توره کنده کي ایږدي، هغه راپسي بندوي، سر بېره په منو منو خاوره را پسي اچوي او قریبان را څخه رخصتېږي. او په دې حال کي زما د سوال او جواب دپاره فرشتې راځي، هغه زما څخه د تیري زندګی سوال او جواب کوي.
د دې څخه بعد د آخرت تصور کول، چي زه به دوباره د قبر څخه راپورته کېږم، میدان حشر به قائم وي، ټوله انسانان به په میدان حشر کي راجمع وي، تېزه ګرمي به وي، لمر به سر ته نژدې وي، د هر سړي خوله به بهېږي او انسانان به د پرېشاني په حالت کي وي.
او خلګ به انبیاؤ ته ورځغلي او دا درخواست به ځني کوي چي تاسو د الله ﷻ په دربار کي سفارش و کړئ چي زموږ سره حساب او کتاب شروع سي.

(١) ماخوذ از اصلاحي خطبات ج٧ ص٢٧٨

د هغه څخه وروسته د حساب او كتاب، پل صراط او د جنت او جهنم فكر او تصور كول.
روزانه د سهار د لمانځه څخه وروسته تلاوت، مناجات مقبول او د خپل ذكر اذكاره څخه د فراغت وروسته فقط يو لس (۱۰) دقيقې دا تصور په خپل دماغ كې راګرځول چې دا وخت خو پر ما راتلونكى دئ او هيڅ معلومه نه ده، چې نن به راسي، سبا به راسي او كه بل سبا به راسي. د دې تصور كولو څخه وروسته دعا كول چې يا الله! زه د دنيا د كار و بار دپاره وزم هسې نه چې زما څخه داسې كار وسي چې د اخرت په اعتبار سره زما د هلاكت باعث وي.
روزانه دا تصور كول چې كله يو ځل د مرګ سوچ او فكر د انسان په زړه كې كښېني، نو انشاء الله د خپل اصلاح و طرفته د انسان سوچ او فكر راګرځي.

## عبدالرحمٰن ابن ابي نُعَم رحمة الله عليه:

په تېره زمانه كې يو مشهور بزرګ او محدث حضرت عبدالرحمن ابن ابي نعم رحمة الله عليه تېر سوى دئ.
د ده په زمانه كې د يو سړي په زړه كې دا خيال راغلئ چې زه به د مختلفو محدثينو، علماؤ، فقهاؤ او د دين د بزرګانو څخه دا سوال كوم كچيرې تاسو ته دا معلومه سي چې زما د ژوند آخرنى ورځ ده، نو تاسو به دغه ورځ په كمو اعمالو كې تېره كړئ.
د دې سوال كولو مقصد دا وو چې د دې سوال په جواب به لوى لوى محدثين، علماء او فقهاء د نيكو اعمالو ذكر و كړي او دوى به دا ورځ په نيكو اعمالو كې تېره كړي.
او په دې شكل به و ماته د نيكو اعمالو معلومات وسي او زه به په راروانه زندګي كې خپل ژوند په نيكو اعمالو كې تېر كړم. نو ده په دې خيال سره د ډېرو

بزرګانو څخه سوال او پوښتنه و کړه. د ده د دې سوال په جواب کې چا يو څه وويل او چا بل څه وويل. چا يو عمل ياد کړی او چا بل عمل.
چې کله دا سړی حضرت عبد الرحمن ابن ابي نعم رحمة الله عليه ته راغلئ او خپل سوال يې د هغه و مخته کېښوئ.
نو حضرت عبدالرحمن ابن ابي نعم رحمة الله عليه په جواب کې ورته وايي: چې زه به هغه څه و کړم چې هره ورځ څه کوم. په دې وجه چې ما د اولې ورځې څخه د خپل ژوند نظام الاوقات او خپل معمولات په داسې شکل مرتب کړي دي چې هره ورځ زه دا وايم چې شاهد دا به زما د زندګۍ آخره ورځ وي او نن به ما ته مرګ راځي.
په دې نظام الاوقات کې دومره ګنجائش نسته چې زه په دې کې د بل عمل اضافه و کړم. نو په آخري ورځ به هم د عامو ورځو غوندې اعمال کوم.
دا په حقيقت کې د دې حديث مصداق دئ، چې حضور اقدس ﷺ فرمايلي دي: ﴿مُوتُوا قَبلَ اَن تَمُوتُوا﴾ دوی د خپل مرګ خيال، سوچ او فکر او د خپل مرګ استحضار د خپلې زندګۍ سره داسې ملګرې کړی وو، چې هر وخت د مرګ دپاره تيار ناست وه، چې کله مرګ راځي، را دې سي.

## د الله تعالی د ملاقات شوق:

چې کم زړونه د الله تعالی په عشق باندې "لبريز" وي، هغه د الله جل جلاله نېک بندګان په دې پوهيږي چې د مرګه څخه وروسته د الله تعالی ديدار او ملاقات دئ. هغوی چې کله د مرګ خبر واوري، نو هغه خوشحاله کيږي.
حضرت خواجه باقي بالله رحمة الله عليه ته چې به څوک راغلئ او ورته و به يې ويل: چې فلانکی سړی مړ سو، نو ده به ويل چې "الحمد لله" د دنيا د تکليفو څخه يې ځان خلاص کړئ.

"سبحان الله" د الله نیک بندګان په دې پوهیږي چې په دنیا کي هره ورځ د امتحان ورځ وي. په دا وجه باندي د مرګ پر وخت د دوی د ژبي څخه دا وینا را وځي: ﴿فُزتُ وَرَبِّ الكَعبَة﴾ زما دي په رب د کعبې قسم وي چي زه کامیابه سوم. "سبحان الله" ګویا هغه خلګ د مرګ په انتظار وي.

او هغه خلګ په دې پوهیږي چي ﴿اَلمَوتُ جِسرٌ يُوصِلُ الحَبِيبَ الى الحَبِيبِ﴾(١) مرګ یو "پُل" دئ چي یو دوست د بل دوسته سره وصل کوي.

او د دوی و مخته دا خبره همېشه وي چي ﴿اَلمَوتُ تُحفَةُ المؤمِنِ﴾(٢) مرګ د مؤمن یو تحفه ده. په دې وجه باندي د مؤمن دپاره مرګ د خوشحالۍ ورځ ده.

## د صحابه کرامو حالات:

په دې باره کي یو حدیث شریف راځي: ﴿مَن اَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ اَحَبَّ اللهُ لِقَائَهُ﴾(٣).

چي کم سړی د الله ملاقات خوښوي، نو الله تعالیٰ هم د ده د ملاقات شوق لري.

هسي خو هر وخت مؤمن د مرګ په انتظار باندي ناست دي او په زبان حال سره دا وایي: لکه صحابه کرامو چي به ویل:

﴿غَدًا نَلقِي الأَحِبَّة ،،، مُحَمَّدًا وَ حِزبَهُ﴾(٤)

سبا به د خپلو دوستانو سره یعني د محمد ﷺ او د هغه د صحابه کرامو سره زموږ ملاقات وي.

د دغه مرګ د سوچ او فکر په نتیجه کي د انسان ژوند د شریعت او اتباع سنت په چوکاټ کي راځي او انسان د خپل مرګ دپاره تیاریږي.

بهر حال د زندګۍ څخه یو څه وخت را ایستل او په هغه کي د مرګ سوچ او فکر کول چي مرګ خو راتلونکی دئ آیا ما د دې مرګ دپاره څه تیاري کړې ده.

(١) العاقبة في ذكر الموت الباب الثاني و العشرون ذكر الخلود صفحه ٣٢

(٢) كنز العمال حديث نمبر ٤٢١٣٨

(٣) بخاري شريف حديث نمبر ٦٥٠٧

(٤) كنز العمال حديث نمبر ٢٨٠٠٩

الله تعالی دي زموږ او ستاسو په زړو کي د مرگ فکر او تصور را ولي.او الله تعالی دي مو زندگي او ژوند د شريعت په اتباع کي او د محمد رسول الله ﷺ په نقش قدم کي را نصيب کړي. او الله تعالی دي دا ټو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وگرځوي. (آمين يا رب العالمين)

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْن.

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآيه)

# خپل آخرت یاد ساتل

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | ثلورم |
| تاريخ | يكم ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تعداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ وَنَبْلُوكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ﴾(١).

وقال رسول الله ﷺ ﴿الدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ﴾(٢).

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم، وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## دنیا وطنِ اقامت دئ:

محترمو سامعینو! په کمه دنیا کي چي موږ او تاسو اوسیږو دا دنیا زموږ دپاره وطن اصلي نه، بلکي وطن اقامت دئ. وطن اصلي د ټولو دپاره آخرت دئ هلته بیا جنت یا دوږخ دئ.

په دنیا کي الله تعالی د ازمائش او امتحان دپاره یو څه مختصره زندګي را کړې ده.

نو په دنیا کي موږ مسافر یو او د زندګۍ سفر هر وخت جاري او روان دئ. که ویده یو او که ویښ یو، زموږ سره احساس وي او که نه وي، پر موږ باندي د ګرمۍ زمانه وي او که د یخنۍ زمانه وي، که موسم د بهار وي او که د خزان وي او زموږ ژوند په وطن کي وي او که د وطنه څخه لیري وي، زموږ سفر هر وخت جاري او ساري دئ، موږ روزانه خپل مرګ ته قریب او نزدې کیږو.

(١)الانبیاء آیت نمبر ۳۵

(٢)مسند الحمیدي حدیث نمبر ۸۵۹

افسوس پر دې دئ، چې موږ او تاسو په دنیا کې ډېر اوږده امیدونه ساتلي دي، حالانکې مرګ ډېر نژدې راته ولاړ دئ او زموږ پر امیدو باندې حیرت کوي او خاندي. زموږ پر عقلو باندې داسې پرده غوړېدلې ده چې زموږ د دماغو څخه مرګ بالکل وتلی دئ.

## د مرګ څکه:

حالانکې د الله رب العزت فرمان مبارک دئ: ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ﴾ هر نفس یعنې ذي روح به د مرګ څکه کوي.

اوس د مرګ څکه به ترخه وي او که به خوږه وي، چې کم چا په دنیا کې زندګي د الله تعالی پر احکامو او د پیغمبر علیه السلام پر نقش قدم تېره کړله، هغوی ته به د مرګ پیاله په ډېر خواږه شکل باندې محسوسیږي.

او چې کم چا زندګي د غفلت په حالت کې تېره کړه، د هغه دپاره به د مرګ پیاله ډېره ترخه وي، چې د هغې چیښل به ورته مشکل وي، خو بیا هم چار و ناچار به یې خامخا چیښي.

## مرګ به کله راځي:

پیغمبر ﷺ د خپلو دوستانو څخه پوښتنه وکړه، چې تاسو د مرګ په باره کې څه وایاست؟ یو صحابي په جواب کې ورته وایي: ای د الله رسول ﷺ! چې کله سهار راکښېنم، نو دا مې یقین نه وي چې شپه به د ژوند په حالت کې را باندې راسي.

د دوهم صحابي څخه پیغمبر علیه السلام پوښتنه کوي، چې ستا د مرګ په باره کې څه رایه ده؟ هغه هم ورته وایي: ای د الله رسول ﷺ! چې کله د څلور رکعته لمانځه نیت وتړم، ما ته دا یقین نه وي چې زه به سلام ګرځوم او زه به ژوندی یم.

په آخر کي حضور اکرم ﷺ خپل حال ورته ښکاره کوي چي زما دا حال دئ چي زه کله پر لمانځه باندي ودرېږم، پر یو طرف سلام و ګرځوم، نو ما ته دا یقین نه وي چي پر دوهم طرف دي سلام ګرځوم او زه دي ژوندی یم(۱).
نو یقیناً د انسان په ژندګی د سترګو د رپ په مقدار بروسه او باور نسته او مرګ پر انسان باندي هر وخت راتلای سي.

## د انسان دوکه:

عجیبه خبره ده چي نن موږ د قرآن او د حدیث څخه د مرګ خبري اورو، داغه رنګه د خلګو جنازې، مړګونه او قبرونه وینو او د مرګ خبري موږ سره ښوروي، لیکن بیداره کیږو نه.
پر یوه غوږ مو د مرګ خبري راځي، او پر بل غوږ وځي زموږ په دماغ کي دا ناسته ده، چي شاید زموږ د دنیا ژوند به دغسي روان تېرېږي.
مرګ به نورو ته راځي او شاید موږ به نه مرو.
یا چي کله حضرت عزرائیل علیه السلام راسي، نو هغه به زموږ څخه پوښتنه کوي، چي زه په دې وخت کي ستا روح قبض کم او کنه؟ انسان په داغه دوکه کي روان وي او په داغه انتظار کي وي، تر داسي حاله پوري چي د هغه نوم د مړو په لست کي شامل سوی وي.

## د ابن عمر رضي الله عنه فرمان:

موږ د دنیا په ژندګی کي په خپلو دماغو کي ډېر اوږده اوږده امیدونه تړلي دي، څوک د بنګلو او کورو خوبونه ویني، څوک د خپل منصب د لوړېدو په فکر کي دئ او څوک د خپلو حریفانو و مخته لوی لوی دعوې کوي.

(۱) موت کی تیاری ص ۱۴

لیکن پیغمبر علیه السلام د صحابه کرامو یو داسي جماعت تیار کړی وو چي هره ورځ به یې د زندګی آخره ورځ بلله او هر وخت به د خپل رب و حضور ته د تللو دپاره تیار وو.

بلکي حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه تر دې حده فرمايي: ﴿إِذَا أَصْبَحْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الْمَسَاءَ وَ إِذَا أَمْسَيْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الصباح وَ عِدْ نَفْسَكَ مِن الأَمْوَات﴾(۱) چي کله ته سهار کې، نو د ماښام انتظار مه کوه او چي کله ماښام کې د سهار انتظار مه کوه او خپل ځان د مړو څخه شماره!

## د روزانه اعداد شمار:

د "اخباري اعداد" شمار مطابق په هره ورځ او شپه کي پنځلس لکه (۱۵۰۰۰۰) انسانان د دنیا څخه د مرګ پر طرف رخصتیږي! څه معلومه ده چي مرګ به آهسته آهسته را روان وي او زموږ د دروازې چارچوب ته به را رسېدلی وي او موږ به ناخبره یو.(۲)

## د امام غزالي رحمة الله علیه فرمان:

امام غزالي رحمة الله علیه فرمايي: ای دوسته! ډېر داسي سوي دي چي ته په ودو او خوشحالیو کي مصروفه یې او دا وايي چي ذ دې بعده به مي د زوی واده وي او یا به لور ودوم، او ته د دنیا په کاروبار کي مشغوله یې، حالانکي ستا نوم د مړو په لست کي لیکل سوی وي او عزرائیل علیه السلام ستا د روح قبض کولو دپاره را روان وي.

(۱) موت کی تیاری ص ۶۲

(۲) موت کی تیاری ص ۶۳

بلکې امام غزالي رحمة الله علیه یو ډېره عجیبه خبره لیکلې ده هغه وایي: ای دوسته!
تا ته څه معلومه ده چې بازار ته هغه جامه را رسېدلې ده چې ستا د بدن کفن ځني
جوړېږي، او ته په خوشحالیو جوړولو کې لګیا یې او ستا د کفن کفره د بازار پر
دوکان پرته ده، ستا د قریب د ورتللو او تا ته د راوړلو په انتظار ده.

## د دې امت اوسط عمر:

نبي اکرم ﷺ فرمایي: زما د امت اوسط عمرونه به ﴿بَيْنَ السِّتِّيْنَ وَالسَّبْعِيْنَ﴾ یعني د
شپېتو او د اویاوو کالو په مابین کې وي، نو معنیٰ دا چې د عام امت عمرونه به
د اویا کالو په شاوخوا کې وي.
نو ځکه امام غزالي رحمة الله علیه فرمایي: چې په دنیا کې د کم چا عمر څلوېښت کاله
ته ورسېدئ، نو د هغه د زندګۍ ماپښین سو او د ماپښینه څخه وروسته مازیګر
ډېر ځنډ نه کوي.
او چې د کم چا زندګي تر څلوېښت کاله تېره سوه، نو د هغه د زندګۍ مازیګر سو
او د مازیګره څخه وروسته لمر لوېدل ډېر انتظار نه کوي. نو انسان چې د مرګ
دپاره څه تیاري کوي، نو د ننه څخه دې نیت وکړي؛ ځکه نه ده معلومه چې د دې
څخه وروسته انسان ته فرصت په لاس ورسي او کنه.

## د عذابونو دریاب:

نن مونږ د مرګ په باره کې سنجیده نه یو او د مرګ د تیارۍ خبره د نن څخه سبا ته
کوو، او د سبا څخه یې بل سبا ته کوو.
حالانکې ډېر څله انسان په دنیا کې په دې انتظار لېندل سوی دئ، چې زه به د
ځانه نېک انسان جوړوم، لیکن د مرګ د طرفه پر ده باندې ناببره حمله سوې ده،
چې بیا ده ته د نېک جوړېدلو موقع په لاس نه ده ورغلې.

قرآن کریم فرمايي: ﴿فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً وَلَا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ﴾(۱).
چي کله مرګ راسي بيا انسان ته د وصيت موقع نه ورکوي او نه و کور د ننوتلو موقع په لاس ورځي.

کچيري يو انسان دباندي ولاړ وي، نو د ننوتلو اجازت نسته او که دننه وي، نو د دباندي راوتلو اجازت نسته. که ولاړ وي د ناستي اجازت نسته او که ناست وي د ولاړي اجازت نسته.

د حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه فرمان دئ: ﴿مَنْ دَخَلَ الْقَبْرَ بِلَا زَادٍ فَكَأَنَّمَا رَكِبَ الْبَحْرَ بِلَا سَفِينَةٍ﴾ چي کله انسان بغير د توبې څخه په ګناهو لړلی د قبر توري کندي ته ور غوټه سي دا داسي دئ لکه انسان چي بغير د کښتۍ څخه په درياب کي غوټه سي. او دا د اوبو درياب نه دئ، بلکي دا د الله جل جلاله د عذابونو درياب دئ، چي هلته به د داسي حالاتو سره انسان مخامخ کيږي، چي پيغمبر عليه السلام فرمايي: ﴿مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَىٰ قَلْبِ امْرِئٍ﴾(۲) چي نه به هغه عذابونه سترګو ليدلي وي او نه به غوږو اوريدلي وي او نه به د انسان په دل او دماغ کي د هغه فکر او تصور راغلی وي، چي داسي عذابونه سته.

## د مرګ څخه مخکې خوړل:

زموږ اسلافو او زموږ اکابرو دا رنګه عبادات وکړه چي د خپلي زندګۍ يو ګړی يې هم فارغه نه کړي تېر، هر وخت به د نېکيو په کارو کي مصروفه وه.
او هر کار به يې د الله رب العزت د رضا مطابق کوئ او هر کار به يې د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم پر سنت طريقه سر ته رسوئ.
هغه په دې پوهېدل چي کله د مرګ وخت راسي، نو بيا دا نه پر شا کيږي.

---

(۱) يٰسين آيت نمبر ۵۰
(۲) الزهد لاحمد بن حنبل، حديث: ۱۰۹۱

دې دنیا ته ډېر لوی حکمرانان راغلل او ډېر لوی جرنیلان راغلل، لیکن د مرګ سره چا مقابله نه وکړه، د مرګه څخه ټولو ماته وخوړله.
دنیا فتحه کونکي ته فاتح عَالم وایي، لیکن چې هر کله یې د مرګ سره مقابله راغله، نو مرګ هغه تر پښو لاندې کړئ.

## د هوښیارۍ خبره:

یوه کونډه زنانه وه، د هغې یو بچی وو، هغه مړ سو، نو د هغې زناني په دماغ کې نه د خپل بچي مرګ راتلی او نه یې د بل چا خبره منله. او "حکیم او ډاکټر" یې مجبوره کوئ، چې بس زما د بچي علاج وکه او دوا ورکه!
هغه "حکیم" ډېر هوښیار انسان وو، هغه ورته وویل: ای زناني ستا بچی خو اوس مړ سو، مګر زه د هغه د بیرته راژوندي کولو دپاره یو تدبیر کوم.
هغه زنانه ډېره خوشحاله سوه. حکیم صاحب ورته وویل: چې د دوا جوړولو دپاره به ماته د داسي کوره څخه اوبه راوړې چې په هغه کې څوک نه وي مړ.
هغې بې چارې زناني پیاله واخیستله په کورونو وګرځېدله په ټول کلي کې یې داسي کور نه ګړی پیدا چې په هغه کې څوک نه وي مړ.
چې کله ناکامه واپس راغله، نو "حکیم" په خبره پوه کړه، چې کله په ټول کلي کې داسي کور نسته چې هغه ته مرګ نه وي راغلی، نو دغه د مرګ معامله ستا د کوره سره هم پېښه سوه. نو بیا وروسته هغې زناني ته په دې خبره باندې اطمینان او تسلي وسوه([1]).

---

(۱) موت کی تیاری صفحہ: ۷۶

**د حسن بصري** رحمة الله عليه **توبه:**

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه د ځواني په عمر کي تجارت کوئ، د ده د تجارت مال به د مختلفو ملکو څخه راتلی.
یو ځل یو ملک ته د تجارت کولو دپاره ولاړئ او خپله د تجارت قافله ور سره ده، چي کله یو ښار ته نزدې ورغلئ، نو د ښار تجاران مخته ورته راغلل او حضرت حسن بصري رحمة الله عليه یې د خپل ځانه سره و ښار ته د بېولو دپاره روان کړئ.
چي کله قافله ښار ته نزدې سوه، نو مخته یو هدیره او قبرستان دئ، حضرت حسن بصري چي ورته ګوري، نو ده ته یو عجیب منظر په نظر ورغلئ.
که ګوري په دې هدیره کي یو ښائسته جوړ سوی قبر دئ. اول ځل یو څه نوجوانان پر دې قبر باندي طواف کوي او د ځانه سره یو څه وایي. دوهم ځل یو څه زناني دي، چي د هغوی په لاس کي سره زر او ملغلري دي، هغه هم پر دې قبر باندي راګرځي. دریم ځل یو څه ښائسته او خوبصورته نو عمره زناني دي، چي هغه هم پر دې قبر باندي راګرځي.
څلورم ځل بوډاګان دي چي هغه هم پر دې قبر باندي طواف کوي او لیدل کیږي.
حضرت حسن بصري رحمة الله عليه د ښار د خلکو څخه پوښتنه و کړه، چي دا څه مسئله ده؟
ده ته دا وویل سو چي دا قبر د باچا د یو شهزاده دئ، چي د ځواني په حالت کي هغه ته مرګ راغلئ، نو هغه ته د تسلی دپاره دا عمل دغه انسانان کوي.
چي کمو نوجوانانو پر قبر باندي طواف کوئ، هغوی دا ویل چي ای شهزاده! کچیري مرګ د انسانه څخه ګرځېدئ، نو موږ به خپلي ځواني قربان کړي وای او ته به مو د مرګه څخه خلاص کړی وای.

او چي د کمو زنانو سره سره زر او ملغلري ور سره دي هغه دا وايي: ای شهزاده! کچیري مرگ په مال او دولت د چا څخه گرځېدای، نو موږ به مال او دولت قربان کړی وای او ته به مو د مرگ څخه خلاص کړی وای.

او هغه حسيني او جميلي زناني دا وايي: ای شهزاده! کچیري مرگ د چا څخه په حسن او جمال باندي گرځېدای، نو موږ به خپل حسن او جمال قربان کړی وای او ته به مو مرگ ته نه وای ور کړی.

او هغه بوډاگان وايي: کچیري مرگ په بوډاوالي د چا څخه گرځېدای، نو موږ به د خپل بوډاوالي په عوض کي ته و مرگ ته نه وای ور کړی.

چي کله حضرت حسن بصري دا واورېدل، نو پر زړه يې يو قسم د خوف حالت راغلئ او پر هغه ځای يې فيصله وکړه چي کله مرگ په يو شکل د انسانه څخه نه گرځي، نو دانائي او پوهي دا ده چي انسان د مرگ دپاره تیاري وکړي.

چنانچي بيا يې په داسي عبادت کي زندگي تېره کړه، چي په مشهورو تابعينو کي شمار سو.(۱)

## د مرگ دفاع نامکنه ده:

کچیري مرگ د حکومت په ذريعه سره پر شا کېدلای، نو "فرعون" ته به هیڅکله مرگ نه وای راغلی. کچیري مرگ د دولت په ذريعه پر شاه کېدلای، نو "قارون" ته به هیڅکله مرگ نه وای راغلی.

او کچیري مرگ د حکمت او دانايي په ذريعه پر شا کېدلای، نو حضرت "لقمان" ته به هیڅکله مرگ نه وای راغلی. که په همت او جوان مردی ځوک د مرگه څخه خلاصېدلای، نو "رستم" او "سهراب" ته به مرگ نه وای راغلی.

---

(۱) موت کی تیاری ص ۷۷

که د مرګ په دواوو او علاج ځوک خلاصېدلای، نو "افلاطون" او "جالینوس" به د دنیا څخه نه وای رخصت سوي. که په حسن سره مرګ پر شا کېدلای، نو د دنیا حسینانو ته به مرګ نه وای راغلی.
که د مرګه څخه په محبت ځوک خلاصېدلای، نو هیڅ مور به د خپل غیرني بچی مرګ ته نه وای ور کړی.
که د وفا په ذریعه باندي ځوک د مرګه خلاصېدلای، نو هیڅ نیکي زناني به خپل خاوند په خپلو سترګو مړ نه وای لیدلی. مګر مرګ یو داسي حقیقت دئ، چي بالآخر انسان ته راځي او انسان د ځانه سره وړي.
چي کله مرګ یقیني راځي او دا یو حقیقت دئ، نو زموږ دپاره هم دا ضروري ده چي په زړه کي دا را وګرځوو چي یو ورځ موږ ته هم مرګ راځي، نو د دې مرګ دپاره باید تیار اوسو.
لکه پیغمبرﷺ به فرمایل: ﴿اَلتَّجَافِيْ عَنْ دَارِ الْغُرُوْرِ﴾ د دې دوکې د کوره څخه زړه راګرځول. ﴿وَالْاِنَابَةُ اِلٰی دَارِ الْخُلُوْدِ﴾ او د آخرت و طرفته توجه کول. ﴿وَالْاِسْتِعْدَادُ لِلْمَوْتِ قَبْلَ النُّزُوْلِ﴾([1]) او د مرګ د راتلو څخه مخکي د مرګ تیاري کول.
## د انسان ناداني:
نن انسانانو په دنیا کي خپل وس او توان ټوله د دنیا په زندګی کي صرف او ختم کړی دئ، حالانکي انسانانو ته حقیقي زندګي د مرګه وروسته ګوري. ځکه دا دنیا د انسانانو دپاره یو خوب دئ، ځوک د دنیا خوبونهویني، ځوک د مال او دولت خوبونه ویني او ځوک د منصب او حکومت خوبونه ویني. چي کله انسان د قبر په توره کنده کي کېږدي، نو ده ته به دا معلومه سي، چي هغه مال او دولت د چا وو، او هغه منصب او حکومت څه سو؟ نو د ده به سترګي را روني سي.
ځکه حضرت علي رضی الله عنه د پیغمبرﷺ قول را نقل کوي چي پیغمبرﷺ به فرمایل: ﴿اَلنَّاسُ نِيَامٌ اِذَا مَاتُوْا اِنْتَبَهُوْا﴾([2]) انسانان په دنیا کي ویده دي، د خوب زندګي یې روانه ده،

([1]) الزهد للوکیع، حدیث: ١٥
([2]) الزهد الکبیر للبیهقي، حدیث: ٥١٥

د قبر په توره کنده کي انسان د خوبه را کښېني او د انسان حقيقي زندګي د هغه ځايه شخه شروع کيږي. نو مور شپه او ورځ ټوله د دنيا د مسائلو حل کولو دپاره و منډو او ترنډو ته ور کړي ده.

حالانکي د دنيا مسائل د ټولو شخه اسانه مسائل دي؛ ځکه د دنيا مسائل يا د زوی واده دئ، يا د لور ودول دي، يا د عيال نفقه ده، يا د بچيانو تعليم دئ.

دا ځکه زيات اسانه دي چي په دې کي د انسان معاونين او کومکيان ډېر زيات دي، زنانه د خاوند معاونت کوي او خاوند د زناني کومکي دئ، اولاد د مور او پلار کومک کوي او مور او پلار د اولاده سره تعاون کوي.

خُدا نه خواسته کچيري په هغه ځای کي مسائل پيدا سي چي هلته د انسان هيڅ معاونين او کومکيان نسته، نو بيا به انسان د مشکلاتو سره مخامخ سي. حالانکي زمور هغه طرف ته هيڅ توجه نسته.

## دوفا لائق:

پيغمبر ﷺ د صحابه کرامو په مابين کي يو مثال بيانوي، صحابه کرامو ته وايي: چي يو سړی مري پر هغه باندي خپل ورونه را ټول دي، نو هغه يو ورور ته وايي: چي ما خو ستا سره ډېر محنت وکړئ او ستا دپاره مي مال او دولت و ګټئ، نو زه مرم او د دنيا شخه رخصتېږم، نو ته به زما سره تر کمه خده پوري وفا و کړې؟

نو هغه ورور ورته وايي: چي زما وفا به ستا سره صرف تر هغه وخته وي چي دا ساه دي د بدنه جلا کيږي، چي کله دي ساه د بدنه شخه جلا سوه، نه ته ما پيژنې او نه زه تا پيژنم، ته پر خپله لار و لاړې زه دلې ستا پر ځای د بل سره پاته سوم.

دوهم ورور ته وايي: ستا وفا به زما سره تر کمه حده وي؟ هغه ورته وايي: چي کله ته مړ سې، نو غسل او کفن دي کوم او پر جنازه دي وړم، چي په قبر کي مي ښخ کړې، نو ته پر خپله لار و لاړې زه دلې پاته يم او زما وفا دِر سره ختمه سوه.

دريم ورور ته وايي: ستا وفا زما سره تر کمه حده ده؟ هغه په جواب کي ورته وايي: چي کله دې دوو ورونو پرېښوې، نو په قبر کي زه د څراغ په شکل دِر سره يم، رڼا درته کوم او د قيامت په ميدان کي دي شفاعت کوم، تر څو چي دي د جنت دروازې ته ننباسم، تر هغه وخت پوري به زه دِر سره وفاداره يم.

نو پیغمبر ﷺ صحابه کرامو ته وایي: په دې ورونو کي کم یو ډېر وفاداره دئ؟
صحابه کرام په جواب کي ورته وایي: دا ښکاره خبره ده، چي هغه دریم ورور ډېر وفاداره دئ. پیغمبر ﷺ ورته وایي: چي هغه اول ورور د انسان مال او دولت دئ، چي د هغه دپاره انسان شپه او ورځ یوه کړي ده او د هغه په کته کي لېوني او سرګردانه دئ. د هغه وفا د انسان سره تر مرګه پوري ده، چي کله انسان مړ سو، نو بیا هغه د بل چا بلل کیږي. او دوهم ورور د انسان قریبان او د انسان بچیان دي، چي د هغه دپاره انسان حلال او حرام نه ګوري او په جائزه او ناجائزه طریقو سره دوی ته نفقه او خورکه پیدا کوي، د هغو وفا د قبر تر توري کندي پوري ده. ځکه یو حدیث شریف کي راځي چي مړی په خاورو کي کښېښول سي، نو یوه ملائکه موټ د خاورو ډک کي او د دې انسانانو پر سترګو یې ور وپاشي او ورته وایي: ځني ولاړ سئ! نه تاسو اوس دَی پیژني، نه دَی تاسو پیژني.
او دریم ورور چي د هغه وفا د قبر په توره کنده کي هم ده او د قیامت په میدان کي هم وفاداره دئ او د جنت د دروازې پوري د انسانه سره وفا کوي، هغه د انسان نیک عمل دئ.
چي په قبر کي به د څراغ په شکل د انسانه سره وي او د قیامت په میدان کي به د الله په حضور کي د انسان شفاعت او سفارش کوي، ترڅو پوري چي انسان جنت ته داخلوي(۱). نو چي کم څوک زیات وفاداره دئ، د انسان دپاره د هغه سره زیاته وفا کول لائق او مناسب دي. نو انسان باید د دنیا زندګي په نیکو اعمالو کي تېره کړي، چي د زندګی را روان منزلونه وده ته اسانه سي. الله تعالی دي مو د مرګ او آخرت پر طرف توجه را ورګرځوي.
او الله تعالی دي زندګي د آخرت په تیاري کولو کي را نصیب کړي. او الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. آمین
وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

---
(۱) بیانات جمیل جلد ۲ صفحه ۴۰٦

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د صبر بیان

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مــقـــــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعــت | ثخلــــــــــــــــورم |
| تــاريـــــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـعــــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَ نَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنْفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ نَبْرَأَهَا إِنَّ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ، لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ﴾(۱).

﴿وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كَتَبَ اللَّهُ مَقَادِيرَ الْخَلَائِقِ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ بِخَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ» قَالَ: «وَكَانَ عَرْشُهُ على الْمَاءِ﴾(۲).

أٰمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيم، وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو سامعينو! الله تعالی انسان ته په دنيا کي زندګي ور کړې ده، خو په دنيا کي د انسان زندګي ډېره عارضي، ډېره فاني او ډېره د مصيبتو او غمو څخه ډکه زندګي ده.

په دنيا کي د انسان د زندګۍ حالات ادل بدل راځي، کله کله پر انسان باندي د خوشحالۍ ساعت وي او کله بيا پر انسان د غم کيفيت وي.

(۱)الحديد آيت نمبر ۲۲،۲۳

(۲)رواه مسلم، والمشکوة ص۱۹

کله د انسان لاس ډېر فراخ وي او کله انسان د قرضو او تکليفو تر بوج لاندي وي. کله د ځوانۍ او صحت عالم وي او کله بیا د بیمارۍ په وجه پر کټ او چارپاهي باندي پروت وي.

د انسان ژوند د خوشحالۍ او غم په مابین کي تیرېږي، انسان دا وايي: چي ژوند روان دئ او تېرېږي، مګر د مرګ په وخت کي به انسان ته دا معلومه سي، چي وخت نه تېرېدئ، بلکي زه په دنیا کي تر وخت تېرسوم.

نو په دنیا کي پر انسان باندي غم او خوشحالي دواړه راځي.

## دري عالمه:

ځکه الله تعالیٰ په دې کائناتو کي درې عالمه پیدا کړي دي، یو هغه عالم دئ چي په هغه کي صرف او صرف خوشحالي ده، په هغه کي به د انسان ټولي تمناوي او ارزوګاني پوره وي، چي د هغه نوم جنت دئ. الله تعالیٰ دي موږ او تاسو ته جنت د استوګني ځای نصیب کړي.

دوهم هغه عالم دئ چي په هغه کي صرف او صرف پرېشاني ده، هلته د انسان یوه تمنٰی او ارزو هم نه پوره کیږي، چي د هغه نوم جهنم دئ. الله تعالیٰ دي په خپل فضل او کرم سره زموږ او ستاسو حفاظت د جهنمه څخه وکړي.

او دریم عالم هغه دئ چي په هغه کي کله غم او کله خوشحالي وي. او کله یو حالت او کله بیا بل حالت وي، چي هغه عالم دنیا ده. چي موږ او تاسو اوس په دې عالم کي روان یو.

نو دنیا الله تعالیٰ داسي جوړه کړې ده چي په دې کي به پر انسان باندي غم او پرېشاني ضرور راځي، کله د قریب د مرګ په شکل، کله د مسکنت په شکل، کله د بیمارۍ په شکل او کله بیا په نورو اشکالو انسان د غمو او مصیبتو سره مخامخ کیږي.

## په غم کي د مسلمان عقيده:

مسلمان بايد د مصيبت او غم په وخت کي په کمه خبره باندي د خپل زړه تسلي وکړي، او د غم راتلو په وخت کي بايد مسلمان کم سوچ او فکر وکړي، چي په هغه سره د ده غم سپک سي او د ده زړه ته تسلي حاصله سي؟

د ټولو څخه مخکي بايد د غم په حالت کي د مسلمان دا سوچ او فکر وي چي کم غم او حادثه و ما ته، او زما کورنۍ ته او زما خاندان ته راپېښ سوی دئ. دا زما په حق کي د الله تعالیٰ تقدير او فيصله وه، چي د الله تعالیٰ تر قلم وتلې وه او د الله تعالیٰ په آسماني کتابو کي دا ثبت سوې فيصله وه، چي نن زما او زما کورنۍ ته را پېښه سوه.

که ما هر څومره کوشش کړی وای او ما هر څومره منډي او ترنډي کړي وای او په خپل کوشش مي دا مځکي او آسمان سره يو کړي وای، لا به هم دا فيصله او دا حادثه زما د کوره نه وای پر بله تللې.

ځکه زموږ دا عقيده ده چي کم شی د الله ﷻ تر آسماني قلم ووځي او د الله تعالیٰ په لوح محفوظ کي ثبت سي، هغه بيا د انسان په کوشش د انسان د زندګۍ څخه پر بله نه ځي.

## اول قلم او دفتر:

په احاديثو شريفه وو کي راځي چي د مځکي پر مخ باندي کمه فيصله او حادثه پېښيږي، نو دا د الله تعالیٰ تر درې قلمه وتلې وي، د هغه څخه وروسته بيا پر مځکه باندي تطبيق کيږي. لکه د حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما حديث شريف دئ چي پيغمبر عليه السلام به فرمايل: «كَتَبَ اللهُ مَقَادِيرَ الْخَلَائِقِ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ بِخَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ قَالَ: «وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ»»[1].

---

[1] رواه مسلم، والمشكوة ص ۱۹

یعني الله تعالی د انسانیت د پیدائش څخه پنځوس زره (۵۰۰۰۰) کاله مخکي د هر مخلوق د هر شي تقدیر لیکلی دئ، چي دا مخلوق به کله پیدا کیږي او د پیدا کېدو څخه وروسته به څومره زندګي پیدا کوي، او بالخصوص انسان چي پیدا کیږي د هغه په باره کي به دا لیکي چي آیا دی به نېک بخته وي او که به بدبخته وي، آیا دی به مسکین وي او که به مالدار وي، او ده ته به پر کمه مځکه مرګ راځي او په کم سبب او په کم شکل به د ده مرګ وي، نو دا تقدیر د انسان د پیدائش څخه پنځوس زره (۵۰۰۰۰) کاله مخکي الله تعالی په آسماني کتابو کي ثبت کړئ دي.

## دوهم قلم او دفتر:

دوهم قلم او دفتر چي کله انسان د مور نس ته راسي، نو تر څلوېښتو ورځو پوري د نطفې په شکل وي، دوهمه څلوېښتي د وینو په شکل سي او دریمه څلوېښتي د غوښي د ټوټې په شکل سي، نو دا دري څلوېښتې د مور په نس کي څلور میاشتي پوره سي.

د هغه څخه وروسته الله تعالی یوه ملائکه د روح د پُوه کولو د پاره ورته راواستوي، لیکن د روح د پوه کولو څخه مخکي مخکي الله تعالی هغي ملائکي ته وایي: چي د دې انسان یو څو تقدیرونه ولیکه، د هغه څخه وروسته په ده کي روح پوه که! نو هغه ملائکه د ده د زندګۍ ټول تقدیرونه ولیکي.

چي دا انسان به څه عمل کوي او د دې انسان عمر به څومره وي او دې انسان ته به کله مرګ راځي. او پر کمه مځکه، په کم شکل او په کم سبب به د ده مرګ وي. آیا د ده زندګي به د نېکبختۍ وي او که د بدبختۍ. چي کله ملائکه دا تقادیر و لیکي، نو د هغه څخه وروسته په ده کي روح پوه کړي.

لکه د عبدالله ابن مسعود ﷺ حدیث هم داسي راځي:

﴿حَدَّثَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ الصَّادِقِ المصدوق: «إِنَّ أَحَدَكُمْ يَجْمَعُ خَلْقَهُ فِيْ بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِيْنَ يَوْمًا ثُمَّ يَكُوْنُ فِيْ ذٰلِكَ عَلَقَةً مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ يَكُوْنُ فِيْ ذٰلِكَ مُضْغَةً مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ يُرْسَلُ الْمَلَكُ فَيَنْفُخُ فِيْهِ الرُّوْحَ وَ يُؤْمَرُ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ بِكَتْبِ رِزْقِهِ وَأَجَلِهِ وَعَمَلِهِ وَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيْدٌ﴾(۱).

نو دا د انسان د تقدير دوهم دفتر وي، چي الله تعالی د انسان ټول تقديرونه پکښې ثبت کوي.

## دريم قلم او دفتر:

په هر کال کي پر انسانانو باندي په بعضو رواياتو کي د "ينځلسي" شپه او په بعضو نورو رواياتو کي چي د "ليلة القدر" شپه وي، نو الله تعالی چي د مځکي پر مخ څومره فيصلې په را روان کال پيښوي، د هغو ټولو تقديرونه په خپلو آسماني کتابو کي ثبت کي او بيا يې ملائکو ته په لاس ور کړي او په مځکه کي يې سره واستوي.

نو په راروان کال کي چي څه فيصلې د مځکي پر مخ پيښيږي، هغه د الله تعالی د هغه آسماني تقديرو په طبق پيښيږي.

لکه مفسرينو حضراتو چي د قران کريم د دې آيت په تفسير کي ليکلي دي:

﴿فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ، أَمْرًا مِنْ عِنْدِنَا إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ﴾(۲).

## د مسلمان تسلي:

نو د مسلمان د پاره په کار ده چي د غه عقيده وساتي چي کمه حادثه ما ته را پيښه ده، دا د الله تعالی تر دري قلمه او تر دري دفتره وتلې فيصله ده.

---

(۱) متفق عليه مشكوة صفحه نمبر ۲

(۲) الدخان ۴/۵

او دا زما په حق کي د الله تعالیٰ قضا او تقدیر دئ. زما په وس کي دا نه وه چي ما په دې فیصله کي بدلون را وستلی وای. نو باید مسلمان د الله تعالیٰ و قضا ته غاړه کښېږدي، پر دې فیصله باندي رضا ښکاره کړي او پر دې غم باندي صبر وکړي.

چي کم بنده د الله تعالیٰ پر فیصله رضا ښکاره کړي او پر مصیبت باندي صبر وکړي، نو الله تعالیٰ هغه بنده ته ډېري لوړي درجې ور کوي.

څکه د حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ حدیث مبارک دئ چي حضور اقدس ﷺ په فرمایل:

﴿إِنَّ أَوَّلَ شَيْءٍ كَتَبَ اللهُ تَعَالَى فِي اللَّوحِ المَحفُوظِ إِنِّي أَنَا اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا وَ مُحَمَّدٌ عَبدِي وَرَسُولِي مَنِ استَسلَمَ لِقَضَائِي وَ صَبَرَ عَلَى بَلَائِي وَ شَكَرَ نَعمَائِي كَتَبتُهُ صِدِّيقًا وَ بَعَثتُهُ يَومَ القِيَامَةِ فِي الصِّدِّيقِينَ وَ مَن لَم يَستَسلِمْ لِقَضَائِي وَ لَم يَصبِر عَلَى بَلَائِي وَ لَم يَشكُر نَعمَائِي فَليَخرُج مِن فَوقِ الأَرضِ وَ مِن تَحتِ السَّمَاءِ وَليَتَّخِذ رَبًّا سِوَائِي﴾(١).

چي الله تعالیٰ اوله کلمه پر لوح محفوظ دا لیکلې ده، چي زه د دې ټولو کائناتو رب یم، زما څخه سوا بل رب نسته. او محمد ﷺ زما بنده او رسول دئ.

چي کم سړی زما فیصله ته غاړه ایږدي، زما د جانب څخه پر مصیبت باندي صبر کوي او زما د نعمتونو شکر ادا کوي، نو زه یې صدیق لیکم او د قیامت په ورځ یې په صدیقینو کي را پورته کوم.

او چي کم سړی زما فیصله ته غاړه نه ایږدي، زما د خوا څخه پر مصیبت باندي صبر نه کوي او زما د نعمت شکر نه ادا کوي، نو بیا دي د دې مځکي او آسمانو څخه ووځي او د ځان د پاره دي بل خدای پیدا کړي.

څکه چي دی زما پر فیصلو باندي صبر نسي کولای، نو په دې مځکه او آسمانو کي خو زما حکومت دئ، نو زما د حکومته څخه دي ووځي او ځان ته دي بل خدای پیدا کړي.

---

(١) تنبیه الغافلین ص نمبر ۹۸

نو اول خو د مسلمان د پاره دا په کار ده چي دا حادثه د الله تعالى فيصله و بولي، د الله جل جلاله و دې فيصله ته غاړه کښېږدي، د الله تعالى دا فيصله پر سر او سترګو باندي و مني او پر دې مصيبت باندي صبر وکړي.

## د الله تعالى د محبت علامه:

د الله تعالى ترتيب داسي دئ چي په دنيا کي کم خلک الله تعالى ته مقرب او نژدې وي او د الله تعالى په عبادت او اطاعت کي ژوند تېروي، نو د ټولو څخه زيات تکليفونه او مصيبتونه پر هغوی باندي راځي.

بعضو احاديثو کي داسي هم راځي چي فرښتې د الله تعالى په دربار کي دا سوال وکړي، چي ای الله! دا خو د ټولو انسانانو څخه زيات ستا اطاعت کونکی بنده دئ، ليکن بيا هم پر ده باندي داسي مصيبتونه او غمونه دي! الله تعالى په جواب کي ورته وايي: چي زما بنده پرېږدئ! ما ته د دې خپل بنده ژړا او فرياد اورېدل محبوب دي.

نو د الله تعالى پر نيکو بندګانو کله مصيبتونه د باران په شان راځي، چي يو مصيبت ختم سوی نه وي دوهم مصيبت راځي، او چي دوهم ختم سوی لا نه وي، نو دريم مصيبت راځي.

نو مصيبت پر انسان راتلل دا د الله تعالى د محبت علامه وي، لکه په يو حديث شريف کي راځي چي حضور اقدس ﷺ فرمايي: ﴿وَ يَقُوْلُ الْبَلَاءُ كُلَّ يَوْمٍ اَيْنَ اَتَوَجَّهُ يَا رَبِّ؟﴾ مصيبت هره ورځ د الله تعالى څخه اجازه غواړي چي ای الله! زه د چا کور ته ورسم؟ څوک په غم او ژړا کي اخته کړم؟

الله تعالى ورته فرمايي: ﴿إِلٰى اَحِبَّائِيْ وَ اُوْلِيْ طَاعَتِيْ﴾ زما دوستانو ته ورسه، چي کم خلک زما سره محبت کوي د هغوی کورونه په غم اخته که!

﴿لِكَيْ اَبْلُوَ بِكَ اَخْبَارَهُمْ﴾. چي ستا په وجه سره زه د دوی د خبرو امتحان واخلم، چي دوی د مصيبت په حال کي څه وايي.

﴿وَاخْتَبِرْ بِکَ صَبْرَهُم﴾ چي ستا په وجه زه د دوی د صبر امتحان واخلم.
﴿وَامْحُوَ بِکَ ذُنُوبَهُم﴾ چي ستا په وجه باندي زه د دوی گناهونه پاک کړم.
﴿وَارْفَعَ بِکَ دَرَجَاتِهِم﴾(١) چي ستا په وجه باندي زه د دوی درجات ور بلند کړم.

## د صحابه کرامو صبر:

د صحابه کرامو په دور کي د لمانځه په حالت کي پیغمبر ﷺ سلام وګرځوي، نو (اصحاب صُفه) ټوله پرمخي غوزار سوي دي، د درېدلو طاقت نه لري.
حالانکي هغه داسي طاقتور خلک وه، چي پنځه سړه او سپنه به يې په لاس کي د دال په شکل وه، اته سړه او سپنه به يې د زغري په شکل اغوستي وه او شپږ سړه او سپنه به يې د توري په شکل په لاس کي وه او ټوله ورځ به جنګېدل.
ليکن په دې وخت کي دومره زياته لوږه پر دوی راغلې ده، چي په لمانځه کي ټول غوزار سوي دي. پيغمبر ﷺ چي ورته وکتل، نو ورته فرمايي: کچيري تاسو په دې خبر سی چي الله تعالی ستاسو د پاره په جنت کي څه تيار کړي دي، نو تاسو به وو اياست چي تر دې دې زيات مصيبت نور هم را باندي راسي.
نو د الله تعالی نظام داسي دئ چي د دنيا په ژوند کي زيات مصيبت، پر هغه انسانانو باندي راځي چي الله تعالی ته قريب او نزدې وي.
نو دوهمه خبره دا په کار ده چي د مصيبت په وخت کي د مسلمان دا عقيده وي، چي دا مصيبت د الله تعالی د محبت په خاطر پر ما راغلی دئ.

## د عيش او عشرت سوال:

لکه څنګه چي مصيبت د الله ﷻ په اجازه راځي، دا غه رنګه عيش او عشرت هم د الله تعالی څخه روزانه سوال کوي، چي زه د چا کور ته ورسم؟
د پيغمبر ﷺ د حديث مبارک الفاظ دي: ﴿وَ يَقُولُ الرَّخَاءُ كُلَّ يَوْمٍ أَيْنَ أَتَوَجَّهُ يَا رَبِّي؟﴾

(١) کنز العمال حديث نمبر ٦٨٥٠

فراخي، مال او دولت هم د الله تعالیٰ څخه سوال کوي چې زه د چا کور ته ورسم؟
الله تعالیٰ په جواب کې ورته فرمايي: ﴿إِلَىٰ أَعْدَائِيْ وَ أُولِيْ مَعْصِيَتِيْ﴾ زما نافرمانانو ته ورسه، هغه په راحت او خوشحالي کې واچوه!
نو په دنيا کې مال او دولت د الله تعالیٰ د قُرب علامه نه ده، بلکې د الله تعالیٰ ترتيب داسې دئ چې مال او دولت عيش او عشرت هغه چا ته ور کوي چې هغه د الله تعالیٰ څخه ليرې زندګي تېروي.
حضرت موسیٰ علیه السلام يو لنګ لرې چې هغه خيرن سې، نو ليرې د کلي څخه ولاړ سې او پرې يې مينځې، بيا لڅ ورته ناست وي چې کله هغه وچ سي، نو پر بدن يې ويېچي او بيا راسي د "فرعون" مقابله کوي. او د ده په مقابله کې "فرعون" د سرو زرو بنګړي په لاس او تبوله په زرو کې پټ او دا اعلان کوي ﴿يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِن تَحْتِي أَفَلَا تُبْصِرُونَ﴾(1).
چې د مصر بادشاهت زما سره دئ او دا نهرونه زما په ملک کې دي.
او "موسیٰ غريب" څه لري چې دی زما مقابله کوي؟
نو کچيرې مال او دولت د الله جل جلاله د محبت علامه وای، نو د موسیٰ علیه السلام په مقابل کې به الله تعالیٰ "فرعون" ته نه ورکولای.
نو مال او دولت چې کله سوال و کړې چې موږ د چا کور ته ورسو، نو الله تعالیٰ په جواب کې ورته وايي: هغه خلکو ته ورسئ چې زما نافرمانی کوي! ﴿کَیْ اَزِیْدُ بِذٰلِکَ طُغْیَانَهُمْ﴾ چې ستا په وجه زه د دوی سرکښي نوره زياته کړم.
﴿وَاُکَبِّرَ بِکَ عَلٰی غَفْلَتِهِمْ﴾ چې ستا په وجه د دوی پر دماغو د غفلت پردې خورې کړم.
﴿وَ اُضَاعِفَ بِکَ عَذَابَهُمْ﴾ چې ستا په وجه زه د دوی عذاب ور دوچنده کړم.

(1) الزخرف آيت ۵۱

﴿وَ أَعَجِّلَ لَهُم بِکَ﴾(۱) چي ستا په وجه زه دوی ته د نيکو اعمالو بدله په دنيا کي ور کړم، چي کله دوی زما حضور ته راسي، نو يو نېک عمل هم ور سره پاته نه وي.

## پر مصيبت صبر کول:

او دريم ضروري عمل د مصيبت په وخت کي د مسلمان دپاره پر مصيبت باندي صبر کول دي.
ځکه چي د مصيبت په وخت کي پر صبر کولو باندي الله تعالٰی انسان ته ډېر لوی اجراو ثواب ور کوي.
هسي هم انسان کچيري صبر نه و کړي، نو نور څه کول يا دا مصيبت د ځانه ليري کول د انسان په اختيار کي نه دي.
ځکه انسان په دنيا کي د خپل ځان اختيار نه لري، نو د قريب به څه اختيار و لري.
نو چي څه زمانه تېره سي، نو خو پر غم د صبر کولو بغير بله چاره نسته. نو په کار دا دئ چي د مصيبت په اول وهلت کي هم بنده صبر و کړي. ځکه په حديث شريف کي راځي: ﴿إنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الأُولَى﴾(۲).
ترجمه: صبر د غم په اولنيو حالاتو کي وي.

## صبر څه ته وايي؟

صبر دې ته نه وايي چي د غم په وخت کي به انسان ژړا نه کوي او د غم په وخت کي ژړا کول بې صبري نه بلل کيږي؛ ځکه چي کله د انسان پر زړه باندي غم راسي، نو دا زړه درد کوي او د هغه په وجه غير اختياري تر سترګو اوښکي

(۱)کنز العمال حديث ۶۸۵۰
(۲)مشکوة حديث نمبر ۱۷۲۸

راځي. بلکي که زه دا ووايم چي په غم کي ژړا کول د پیغمبر علیه السلام سنت مبارک دئ، نو دا به ليري نه وي.

## د پیغمبر ﷺ د بچي واقعه:

د پیغمبر ﷺ بچی حضرت ابراهیم رضی الله عنه د ماریې رضی الله عنها د بطن مبارک څخه الله تعالی پیغمبر ﷺ ته ورکړی وو.

د "حضرت ماریې" قبیله د مدینې منورې په حواليو کي وه، نو پیغمبر علیه السلام به د ماپښين د لمانځه څخه بعد د حضرت ابراهیم رضی الله عنه سره د طبیعت راسته کولو دپاره د مديني حواليو ته تلی.

د حضرت ابراهیم رضی الله عنه سره د پیغمبر ﷺ ډېر اُنس او محبت وو. هر سړی په دې پوهیږي چي د بچي سره د انسان څومره محبت وي.

یا خاص "ابراهیم" الله تعالی پیغمبر ﷺ ته د څلورو لنو د پیدا ئش څخه وروسته ورکړی وو.

په دې شکل یو کال زمانه تېره سوه، یوه ورځ د حضرت "ماریې" د طرفه دا پیغام راغلئ چي د "ابراهیم" طبیعت ناساز دئ. نو پیغمبر ﷺ لږ سر لڅي پښې د مسجد نبوي څخه په منډه د حضرت "ماریې" کور ته راغلئ.

چي کله د پیغمبر ﷺ پر حضرت ابراهیم باندي نظر ولګېدئ، نو هغه د زکندن په سکليو کي دئ په دغه وخت کي چي پیغمبر ﷺ ورته ګوري، حضرت ابراهیم رضی الله عنه د دنیا څخه رخصت سو.

پیغمبر ﷺ ډېر زيات و ژړل، حضرت "عائشې" مبارکې ته چي کله معلومه سوه، نو هغه هم په منډه د حضرت "ماریې" کور ته راغله چي کله هغې د پیغمبر ﷺ ژړا وليدل، نو دا ورته وايي: چي ای د الله رسوله! الله تعالی هر نبي ته یو دعا ور کړې ده، چي کله هغه دعا وغواړي، نو الله تعالی یې ضرور پوره کوي، نو ټولو انبياء هغه دعا غوښتې ده، ليکن تا نه ده غوښتې کچيري هغه

دعاء د حضرت "ابراهيم" په اړه و غواړي، نو چي الله تعالیٰ حضرت "ابراهيم" را ژوندی کړي، نو په دې کي به څه مشکل وي.

پيغمبر عليه السلام ورته فرمايي: چي ای عائشې! هر نبي هغه دعا غوښتې ده او الله تعالیٰ هغه دعا پوره کړې ده، ليکن ما به يقينا هم د "ابراهيم" پر وفات باندي ډېر غم دئ، ليکن ای عائشې! هغه دعا ما په آخرت کي د خپل امت د ګنهګارانو دپاره خوندي کړې ده، چي په هغه دعا سره به زه د قيامت په ميدان کي د خپل امت د ګنهګارانو شفاعت کوم.

د شريعت مسئله داسي ده، چي هر قريب به خپل قريب د قبر و ډوري ته ور شوه کوي، او پيغمبر عليه السلام هم خپل قربان په خپل لاس و ډوري ته ور شوه کړي دي.

ليکن چي کله يې حضرت "ابراهيم" پر لاسو را واخيستئ او د قبر پر غاړه ودرېدئ، نو بيرته پر شا و لاړئ او صحابه کرامو ته وايي چي زه "ابراهيم" و قبر ته نسم شوه کولای.

شا ته کښېنستئ او صحابه کرامو رضي الله عنهم "ابراهيم" و قبر ته ور شوه کړئ او بيا راغلی د قبر پر غاړه ودرېدئ او دا وايې: ای بچيه! ﴿اَلْقَلْبُ يَحْزَنُ وَ الْعَيْنُ تَدْمَعُ وَ اِنَّا بِفِرَاقِکَ يَا اِبْرَاهِيم لَمَحْزُوْنُوْن﴾(۱).

زړه مي غم کوي او تر سترګو مي اوښکي راځي او ای ابراهيمه! موږ ستا په فراق کي نن ډېر غمجن يو.

نو په غم کي ژړا پيغمبر عليه السلام کړې ده او په غم کي ژړا کول دا بې صبري نه ده.

## بې صبري څه ده:

نو بې صبري دا نه ده چي انسان د غم په حالت کي ژړا و کړي، بلکي بې صبري دا ده چي پيغمبر عليه السلام فرمايي:

(۱) ګلدسته بيانات جلد ۲ ص ۳٦٦

﴿فَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ، فَلَا تَقُلْ لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَذَا وَكَذَا، وَلَكِنْ قُلْ: قَدَرُ اللَّهِ، وَمَا شَاءَ فَعَلَ، فَإِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ﴾(۱).

کچیرې تا ته یو مصیبت در ورسېدئ، نو دا سوچ او فکر مه کوه که ما داسې کړې وای، نو داسې به نه وای سوې.

یا ما دا خپل مریض فلانکي ډاکټر ته رسولی وای، نو اوس به دا واقعه نه وای پېښه سوې.

یا ما دا خپل قریب پر فلانکي وخت راګرځولی وای، نو اوس به د دې حادثې سره نه وای مخامخ سوی.

نو دغه سوچونه او فکرونه کول په حقیقت کي بې صبري ده. بلکي پیغمبر ﷺ فرمايي: چي دغه سوچونه او فکرونه د شیطان د طرفه دي او شیطان ظالم په دې شکل انسان د بې صبرۍ سره مخامخ کوي.

نو څه کول په کار دي؟ د غم په وخت کي دا ویل په کار دي چي دا د الله ﷻ مشیت وو، دا د الله ﷻ اراده وه او دا د الله فیصله وه، که ما هر څه کړي وای، نو د الله تعالیٰ په دې اراده او فیصله کي يې هیڅ بدلون نه سو راوستلای.

نو د الله تعالیٰ پر فیصله باندي صبر کول او د الله تعالیٰ و دې قضا ته غاړه ايښول په غم کي د مسلمان دپاره د تسلۍ لاره ده.

## صبر د لوړو درجاتو سبب دئ:

په احادیثو شریفه وو کي راځي چي بعضي اوقات بنده د خپل عبادت په وجه سره د الله رب العزت قُرب او مقاماتو ته ځان نسي رسولای، کم چي الله تعالیٰ يې و ده ته اراده د ورکولو کړې وي، نو الله تعالیٰ پر ده باندي يو څه مصیبتونه را واستوي، او چي کله بنده پر هغوی باندي صبر وکړي، نو الله تعالیٰ و ده ته د هره لوړه درجه ور نصیب کړي.

(۱) ابن ماجه حدیث نمبر ۷۹

چنانچي روایاتو کي داسي هم راځي چي کله یو بنده د ناجوړی څخه صحت پیدا
کړي، نو دی د ګناهو څخه داسي صفا سي لکه په دغه ورځ چي د موره پیدا سوی
وي.
یا لکه د خزان په موسم کي چي د درختي پاڼي را تویېږي، دغه رنګه الله تعالی
مریض ګناهونه تویوي.

## د مریض دپاره اجر او ثواب:

په حدیث شریف کي راځي چي کله بنده ناجوړه سي، نو الله رب العزت فرشتو ته
حکم کوي چي د ده د خولې څخه چي کوم د ځګېروي آواز را وځي، پر هر ځل یې
د "سُبْحَانَ اللهِ" ویلو اجر لیکئ!
او که چیري د درد په وجه باندي د ده د خولې څخه د درد آواز راځي، نو تاسو یې
د "لَاإِلٰهَ إِلا الله" ویلو ثواب ولیکئ.
او چي کله دی ساه اخلي، نو تاسي یې د هر ساه اخیستلو په بدله کي د الله جَلَّ جَلَالُهُ په
لار کي د صدقه کولو اجر د ده په عمل نامه کي ولیکئ!
او چي کله پر بستره باندي پروت وي، نو هغه بستره د ده دپاره د تهجد کونکي
مصلی ولیکئ!
او چي کله دی د بیماری او تکلیف په وجه سره پر اړخ باندي اوړي، نو د هغه
غازیانو اجر ورته لیکي چي پر دښمن باندي حمله کوي(۱).

## د اوښکو تویېدلو بدله:

حضرت عبدالله ابن سلام رضي الله عنه فرمایي: چي د قیامت په ورځ به د حساب او
کتاب میدان لا نه وي جوړ سوی، نو یو منادي به داسي اعلان وکړي: د کمو

(۱)خطبات فقیر ج ۵ ص ۵۴

خلکو چي پر الله تعالی باندي حق دئ هغه ذي ولاړ سي د الله تعالی څخه دي خپل حق واخلي.
تو له مخلوق به حیران سي چي پر الله تعالی به د چا حق باندي وي، نو د ملائکو څخه به پوښتنه و کړي چي د الله جَلَّجَلَالُهٗ څخه څنګه حق واخلو؟
نو ملائکي به په جواب کي ورته وايي: چي کم بنده ته په دنیا کي غم او مصیبت ور رسېدلی وي، د هغه په وجه د ده تر سترګو اوښکي راغلي وي، د دې بنده پر الله تعالی باندي حق دئ چي د دې خپلو اوښکو بدله د الله تعالی څخه واخلي.
چنانچي خلګ به ولاړ سي یو به وايي: چي ما ته فلانکی غم را رسېدلی وو او بل به وايي چي ما ته فلان غم را رسېدلی وو، نو په دې شان به الله تعالی و دوی ته د خپل شان مطابق اجر او ثواب ور کوي، چي د دوی د ګناهونو دپاره به د بخشش ذریعه ګرځي.(۱)

## بې حسابه جنت ته داخلېدل:

په یو روایت کي راځي چي د الله تعالی د عدل مېزان به لا نه وي قائم سوی، یوه فرشته به اعلان و کړي، چي صبر کونکي خلګ چیري دي؟ نو صبر کونکي خلګ به ولاړ سي او د جنت پر طرف به یې فرشته روان کړي، چي کله د جنت دروازې ته ورسیږي، نو "رضوان" د جنت ته به ووايي: چي د جنت دروازه را خلاصه که! هغه "رضوان" به حیران سي او د الله تعالی څخه به پوښتنه و کړي چي ای الله! تر اوسه پوري خو د عدل مېزان لا نه دئ قائم سوی، حساب او کتاب تر اوسه نه دی سوی لیکن ستا څه بندګان د جنت د دروازې خلاصولو تمنی کوي، نو یا الله زه څه و کړم؟

(۱) خطبات فقیر ج ۵ ص ۶۴

الله تعالى ورته فرمايي: ما خپل حکم په خپل کتاب کي را ستولى وو: ﴿إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾(۱).
دا زما هغه بندګان دي چي د دوى سره زما معامله بلا حسابه ده.
نو "رضوان" د جنت به دروازه خلاصه کړي، او صبر کونکي انسانان به بلا حسابه جنت ته ور داخل سي او د دوى سره به هيڅ حساب او کتاب نه وي.(۲)

## د الله تعالى د طرف معذرت:

بعضو بزرګانو ليکلي دي چي د قيامت په ورځ به الله رب العزت يو بنده ولاړ کړي، دا به هغه بنده وي چي د ده ژوند به د رزق په تنګى کي تېر سوى وي او ده به پر هغه باندي صبر او شکر کړى وي.
الله رب العزت به د دې بنده څخه داسي معذرت کوي، لکه يو دوست چي د بل دوسته څخه معذرت کوي. بيا به ورته وايي: اى زما بنده! په دنيا کي مي تا ته رزق لږ در کړى وو، داسي نه وه چي ته پر ما ارزانه وې، صرف په دې وجه چي په جنت کي مي ستا د پاره دغه نعمتونه تيار کړي وه، چي نن به و تا ته ورسيږي.
کمو خلکو چي په دنيا کي د مالدارى او د راحت زندګي تېره کړې وي، نو هغوى چي دا نعمتونه ويني، نو دوى به دا تمنّى کوي چي کاشکي په دنيا کي مي بدنونه په غچيانو پرې سوي واى او دا نعمتونه زموږ په نصيب واى.(۳)

## د يو بزرګ وينا:

يو بزرګ به فرمايل: اى دوسته! د غم په اوله ورځ هغه وکه چي خلک د غم په دريمه ورځ څه کوي.

(۱)الزمر آيت ۱۰
(۲) خطبات فقير ج ۵ ص ۶۴
(۳)خطبات فقير ج ۵ ص ۶۵

ته يې فرض كه! په يو كور كې يو سړى وفات سو، نو په دريمه ورځ خلک څه كوي؟ خلک دعا وكړي، په خپلو كارو پسې ولاړ سي؛ ځکه چي غمخوو وي درې ورځې.

نو چي كله په دريمه ورځ صبر كول دي، نو انسان په اوله ورځ ولي صبر نه كوي، چي د صبر اجر او ثواب ورته ور كول سي؟

دا خبره په دماغ كې كښېنوئ چي په بې صبري سره د انسانه څخه مصيبت نه پورته كيږي، البته چي پر مصيبت باندي كم اجر دئ هغه اجر هم ضائع سي او انسان د بې صبرى په وجه د هغه اجر څخه محرومه او بې نصيبه وګرځي.

## پر بې صبرۍ باندي عذاب:

چي كله د غم په وخت كې انسان بې صبري كوي، نو الله تعالى د هغه انسانه څخه ډېر زيات ناراضه كيږي، د ثواب پيدا كولو پر ځاى د هغه انسان عمل نامه د ګناهو څخه لبريزه او ډكه ګرځي.

## د صديق اكبر ﷺ فرمان:

حضرت صديق اكبر ﷺ به فرمايل: پر كم سړي باندي چي مصيبت راسي او دى د بې صبرۍ خبري كوي، يا خپلي جامې توروي، يا يې شكوې او د شكاياتو ويناګاني كوي، نو الله رب العزت به دومره ګناهونه ور كړي چي د ده د ټولي زندګۍ د ساه ګانو سره به برابري وي([1]).

---

(1) خطبات فقير جلد ٥ صفحه ٦٦

## د حضرت عمر ﷺ فرمان:

حضرت عمر ﷺ به فرمایل: چي کم سړي د مصیبت په وخت کي بې صبري و کړه او د خلګو ومخته یې د الله رب العزت شکایتونه و کړه، نو الله رب العزت به د ده په عمل نامه کي دومره ګناوي و لیکي لکه د د"ریاء نیل" د اوبو څاڅکي(١).

## د حضرت عثمان ﷺ فرمان:

حضرت عثمان غني ﷺ به فرمایل: چي کم سړي د الله رب العزت پر را استول سوي مصیبت باندي د بې صبرۍ مظاهره و کړه، خپلي جامې یې توري کړې او جزع او فزع یې وکړه، نو الله رب العزت به د ده په عمل نامه کي دومره ګناهونه ولیکي لکه د دنیا شپې او ورځي چي څومره دي.(٢)
نو پر بې صبرۍ کولو باندي د انسان اجر او ثواب هم ضائع کیږي او انسان د ډیرو غټو ګناهونو سره مخامخ کیږي.
نو الله تعالی دي موږ او تاسو ته پر مصیبتو باندي د صبر کولو توفیق را کړي.
او الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي و ګرځوي.
(آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجمَعِيْن.

---

(١)خطبات فقير جلد ٥ صفحه ٦٦
(٢)خطبات فقير جلد ٥ صفحه ٦٦

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د قبر دپاره تیاري

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقـــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعت | ثلــــورم |
| تـاريــخ | يكم ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تـعـــداد | (١١٠٠) |

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ﴾(۱).

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم، وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د قبر تنهائي:

محترمو سامعينو! الله تعالٰی انسان ته په دنيا کې زندګي ورکړې ده، خو د دې زندګۍ آخر انجام مرګ دئ.

ځکه دا يقيني ده: ﴿لِدُوا لِلْمَوْتِ وَابْنُوا لِلْخَرَابِ﴾ چې په دنيا کې د انسان پيدائش د مرګ دپاره دئ او په دنيا کې هر څه چې انسان جوړوي د هغې آخره نتيجه خرابي ده.

د شيخ "ابو علي ابن سينا" څخه چا پوښتنه وکړه چې د انسان د مرګ سبب څه دئ؟ هغه په جواب کې ورته وايي: د انسان د مرګ سبب د انسان ژوند دئ.

چې يو انسان ته په دنيا کې ژوند ورکول سو، نو هغه به ضرور يو ورځ مري.

د يو عارف قول دئ، چې د دنيا ژوند بغير د مرګه د يوې پيسې برابر قيمت هم نه لري.

انسان که په دنيا کې هر څومره مرګ هېر کړي، ليکن د مرګه څخه انسان نه هېرېږي.

(۱) آل عمران آيت نمبر ۱۸۵

په يو روايت کي داسي راځي چي قبر هر انسان په ورځ کي اويا واره يادوي او دا وايي: ای انسانه!

﴿أَنَا بَيْتُ الْوَحْدَةِ﴾ زه د يوازي والي کوړيم.

﴿أَنَا بَيْتُ الظُّلُمَاتِ﴾ زه د تارکيو کوريم.

﴿أَنَا بَيْتُ الْحَيَّةِ وَالْعَقَارِبِ﴾ زه د لړمانو او مارانو کوريم(١).

نو ما ته بغير د تياری مه راځه!

کله چي په دنيا کي انسان په يو ځای کي ښه کور او ښګله جوړه کړي او په دې ښګله کي استوګنه په عيش او په راحت کوي.

نو دَی دي هغه خاموش کور هم ور په ياد کړي، چي هلته د انسان همسايه د انسانه سره خبري نه کوي، او هلته به صرف د انسان قبر او فرشتې وي او انسان به خپل حساب ور کوي.

په دنيا کي د انسان په خپلو قريبانو او دوستانو او پر خپل مال او دولت باندي نازوي.

ليکن هلته پروردګار عالم فرمايي: ﴿يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ﴾ د قيامت په ورځ نه مال انسان ته په ښه ورځي او نه دولت. ﴿إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ﴾ (٢)

هلته صرف انسان ته قلب سليم په ښه ورځي نو په کار دا دئ چي انسان د قبر په ليدلو سره عبرت واخلي.

## د حضرت عثمان ﷺ ژړا:

حضرت عثمان غني ﷺ چي به کله قبر و ليدئ، نو دومره زيات به يې ژړل چي ږيره مبارکه به يې په اوښکو لنده سوه.

(١) کنز العمال حديث نمبر ۴۲۱۳۲

(٢) الشعراء آيت ۸۸/۸۹

یو چا ورته وویل: حضرت! ته چي کله قبر ووینې ولې دومره ژاړې؟ ده به ورته ویل: چي دا د آخرت د منزلو څخه اولنی منزل دئ، چي کم چا ته اسانه سو هغه ته به را روان منزلونه ټول اسانه وي او چي کم چا ته ژوند په دې منزل کي سخت سو، نو هغوی ته به راروان منزلونه ټوله سخت وي([1]).

## د عذابِ قبر دوې وجهي:

یو ځل پیغمبر ﷺ په مدینه منوره کي د صحابه کرامو سره ملګری وو د دوو قبرو سره تېرېږي، یو دم د پیغمبر ﷺ اوښه مبارکه و ترهېدل (وتورېدل)، صحابه کرام پوښتنه ځني کوي او وایي:

- ای د الله رسول ﷺ! ستا اوښه ولې ترهیږي (توریږي)؟
- دی مبارک په جواب کي ورته وایي: دې دوو قبرو والا ته په قبرو کي عذاب ور کول کیږي اوښه چي یې وېني، نو ترهیږي (توریږي).
- صحابه کرام پوښتنه کوي، چي ای د الله نبي ﷺ! دې انسانانو ته عذاب د کمو ګناهو په وجه ور کول کیږي؟
- پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وایي:

یوه ته د غیبت په وجه او دوهم ته د بولو د څاڅکو څخه د ځېل ځان نه ساتلو په وجه عذاب ور کیږي، نو انسان باید د داسي اعمالو څخه ځان و ګوري چي صبا ده ته د قبر د عذاب سبب ګرځي([2]).

## یو عبرت ناکه واقعه:

په هرقاني (شرح د موطا امام مالک) کي یو ډېره عجیبه واقعه لیکلې ده، چي د مدینې منورې په اطرافو کي په یو کلي کي یو زنانه وفات سوه. نو بله زنانه و

(۱) موت کی تیاری صفحه: ۶۴
(۲) موت کی تیاری صفحه: ۶۴

دې ته غسل ور کوي، چي د هغې لاس د دې مړې زناني د ورانه څخه و موښتئ،
نو د هغې د ژبې څخه و نورو زنانو ته دا جمله را وزي: ګورئ! دا زنانه چي نن
مړه ده د فلانکي سړي سره يې غلط تعلقات وو.
غسل ور کونکي زناني چي کله دا وويل، د الله ﷻ د طرفه پر دې عذاب راغلئ،
د دې لاس دهغې مړې زناني پر ورانه باندي و موښتی، چي هر څومره يې را
کشوي او هر څومره زور کوي، هغه لاس د هغه ورانه څخه نه جلا کيږي.
چي کله وخت ډېر تېر سو، نو هغه د مړې قريبان ورته وايي ای بي بي! تاسو
غسل ژر ور کړئ، مابنام نزدې دئ، موږ جنازه وړو او بيا يې ښخوو.
نو هغه زنانه ورته وايي: ستاسو مړی زه پرېږدم، مګر هغه ما نه پرېږدي.
چي کله شپه را ورسېده د هغې زناني لاس پر هغه ورانه باندي هغـــي موښتی
دئ، نه جلاکيږي. او چي ورځ راغله هم هغه حالت دئ، نو په هغه کور کي يو
مشکل جوړ سو.
د هغه مړې قريبان علماؤ ته ورغله او د يو عالم څخه يې پوښتنه وکړه چي يوه
زنانه بلې ته غسل ور کوي او د دې لاس د هغې مړې زناني پر ورانه باندي
موښتی دئ، اوس بايد موږ څه وکړو؟
نو هغه عالم فتوی ور کړه چي په چاړه سره يې لاس ور پرې کړئ او خپله زنانه تر
قبره ورسوئ!
ليکن د ژوندۍ زناني قريبان دا نه مني چي موږ د خپلې زناني لاس نه پرې کوو،
چي دا معذوره سي. دوباره بل عالم ته راغلل د هغه څخه مسئله غواړي.
هغه ورته وايي: چي چاړه راواخلئ د دې مړې زناني غوښه ورسره پرې کړئ،
مګر دلته بيا د دې مړې زناني ورثه دا وايي چي موږ د خپل مړي غوښه نه پرې
کوو او نه خپل مړی خرابوو.
درې ورځي او درې شپې په دا غه حالت کي مسلسل تيري سوې، ګرمي هم ده،
نو بدبويي جوړه سوه او تر ښا و خوا کلو پوري خبر ورسېدئ.

آخر دا فیصله وسوه چي دلته هیڅ څوک دا مسئله نسي حل کولای، څو به مدیني منورې ته هلته امام مالک رحمة الله علیه د وخت قاضي القضات دئ د هغه څخه به پوښتنه کوو.
هغه خلک د امام مالک رحمة الله علیه و حضور ته راغلل او پوښتنه ئې ني کړه، چي حضرت! یوه زنانه مړه ده او بله زنانه و دې ته غسل ور کوي او د هغې لاس د هغې مړې زناني په ورانه پوري منښتی دئ، په هر څومره کوشش نه جلاکیږي، درې ورځي وسوې، نو زموږ دپاره څه فتوی ده؟
امام مالک رحمة الله علیه ورته وایي: چي تاسو ما هلته ور ولئ! چي کله هلته راغلئ، نو په یو پرده کي ورته ولاړ دئ، د هغې غسل ورکونکي زناني څخه پوښتنه کوي:
- ای زناني! چي کله ستا لاس د دې پر ورانه پوري و موښتی تا خو به د ژبې څخه یو کلمه نه وي را ایستلې؟
- نو هغه په جواب کي ورته وایي: ما صرف دومره وویل: چي د دې مړې زناني د فلانکي نارینه سره غلط تعلقات وه.
- امام مالک رحمة الله علیه ورته وایي: ای زناني! تا چي کم تهمت پر دې لګولی دئ، آیا ستا سره پر دې تهمت باندي څلور "چشم دید" ګواهان سته؟
- هغه زنانه ورته وایي: نه.
- بیا ورته وایي: آیا دې زناني ستا په مخکي ددې خپلي ګناه اقرار کړی وو؟
- دا ورته وایي نه.
- دریم ځل امام مالک رحمة الله علیه ورته وایي: بیا دي ولي تهمت پر ولګوئ؟
- دا ورته وایي: په دې وجه ما دا وویل: چي دا به همیشه د اوبو راوړلو په وخت کي د ده د دروازې سره تېرېدله.

چې کله امام مالک رحمة الله علیه دا واورېدل، نو پر تولـه قرآن باندې نظر ساتي او په آخر کې وايي چې قرآن کريم کې دا حکم دئ: ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً﴾(١).

ترجمه: چې کم خلک پر پاکدامنو زنانو باندي ناجائز تهمتونه لګوي او د هغوی سره څلور ګواهان نه وي، نو د هغوی سزا دا ده چې پر هغوی باندي به اتيا(۸۰) دورې حد جاري کېږي.

نو ای زناني! تا پر يو مړې زنانه باندې تهمت لګولی دئ او ستا سره هيڅ ګواه هم نشته، نو زه د وخت د قاضي القضاة په حيث خپلو جلادانو ته حکم ورکوم چې پر تا حد جاري کړي.

چې کله جلادانو پر هغه زنانې دورې وهل شروع کړل، چې اويا دورې يې وهې، نو لاس هغسې موښتی دئ، بيا يې پنځه اويا وهې لاس نه را جلا کېږي، چې يو کم اتيا ته رسېږي، نو بيا هم لاس نه راجلا کېږي، چې کله اتيايمه کوړه پر دا زنانه لګيږي، نو په هغه وخت کي د هغې زناني لاس د دې مړې څخه بېل سو(٢).

نو د عذاب قبر يو سبب هغه د مسلمانانو غيبتونه او تهمتونه دي.

انسان د دنيا د زندګی په آخر کي د مرګ او قبره سره ضرور بالضرور مخامخ کېږي، نو پکار نه ده چې انسان په دنيا کي په خپل عمل د قبر زندګي خرابه کړي او د دنيا زندګي په غفلت کي تېره کړي؛ ځکه چې غفلت انسان د ندامت او پښېمانۍ سره مخامخ کوي.

## د غافل انسان مثال:

امام غزالي رحمة الله علیه د انسان د غفلت يو عجيب مثال ورکړی دئ، چې يو بادشاه دئ، د هغه يو باغ دئ، او د دې باغ مختلفي حصې دي.

(١)النور آيت ۴

(٢) موت کی تياری صفحه: ٦۴

بادشاه یو سړی را طلب، کړئ او ورته وایي: دا ټوکرۍ درسره واخله، زما د باغ پر یو طرف را ننوزه، په ښه مېوه باندي یې ډکه کړه او ما ته یې را وړه!
مګر شرط دا دئ چي د کمي حصې د باغ څخه چي تېر سوې و هغه ته دوباره د راګرځېدلو اجازت نسته.
هغه سړی ورته وایي: دا خو ډېر اسانه کار دئ. چنانچي د باغ پر یو طرف را ننوتئ او ټوکرۍ یې پر سر ده، که ګوري د باغ په دې حصه کي ډېره ښه مېوه نسته. نو د ځانه سره یې فکر و کړئ چي د باغ د را رواني حصې څخه به مېوه پرې کوم.
چي کله د باغ را رواني حصې ته را ورسېدئ، نو که ګوري مېوه ډېره ښه ده، نو مناسب خو دا دئ چي د داغه حصې د باغه څخه خپله ټوکرۍ ډکه کړي.
مګر بیا یې فکر و کړئ چي را روانه حصه د باغ به ګورم، چي هلته څنګه مېوه ده، نو بیا به یې پرې کوم. چي کله را رواني حصې د باغ ته را ورسېدئ، نو یقینا هلته مېوه ډېره ښه وه، او زړه یې ډېر خوشحاله سو چي اوس به دلې خپله ټوکرۍ ډکوم.
لېکن بیا فکر ور پیدا سو چي شاید د را رواني حصې د باغ مېوه به تر ټولو ښه وي، هلته به خپله ټوکرۍ ډکه کړم.
چي کله آخري حصې د باغ ته را ورسېدئ، که ګوري هلته پر درختو باندي مېوه نسته، اوس هغه انسان د شرمندګۍ څخه په ژړا سو او وایي: افسوس! زه به بادشاه ته په کم مخ باندي ورځم او و ده ته به څنګه خالي ټوکرۍ پېشوم.
امام غزالي رحمة الله علیه وایي، ای دوسته! د بادشاه څخه مراد ستا پروردګار حقیقي دئ،
د هغه بنده څخه مراد ستا ذات دئ.
د هغه ټوکرۍ څخه مراد ستا عمل نامه ده.
او د باغ څخه مراد ستا ژوند دئ.

او د هغه هره ورځ او شپه د دې باغ د حصو په مثل ده.

الله تعالی ستا پر ذمه دا در کړي دي چي ته هره ورځ د نیکیو مېوه شکوه او د خپلي عمل نامې په ټوکرۍ کي يې جمع کوه! مګر ته روزانه په دې انتظار کي او سېږي، چي صبا به مېوه پرېکوم، چي صبا راسي، نو بیا وايي بل صبا به يې پرېکوم.

آخر به یو داسي وخت راسي چي ستا په زندګي کي به صبا نه وي، ته به نن رخصتېږې، نو بیا به د عمل نامې خالي ټوکرۍ د ځانه سره وړې او د الله ﷻ په دربار کي به د پرېشانۍ او شرمندګۍ په شکل درېږې.

او دا ارمان به کوې چي کاشکي ما په دنیا کي خپله عمل نامه د نېکیو ډکه کړې وای او نن مي د الله ﷻ و دربار ته پېش کړې وای!!!

لیکن هغه حسرت او افسوس به په هیڅ بڼه نه درځي، نو دانائي د انسان دا ده چي د دنیا په ژوند کي د خپل آخرت د پاره تیاري وکړي(۱).

## د مرګه بعد د انسان پنځه حصې:

په یو کتاب کي لیکلي دي چي د مرګه څخه وروسته د انسان پنځه حصې جوړېږي.

۱. اول د انسان روح وي، هغه ملک الموت څني وړي.
۲. دوهم د انسان جسم وي، هغه چنجیان خوري.
۳. دریم د انسان مال وي، هغه وارثان وړي.
۴. څلورم د انسان هډوکي وي، هغه خاوري خوري.
۵. پنځم د انسان نېک اعمال وي، هغه د انسان قرض داران څني وړي(۲).

(۱) موت کی تیاری صفحہ: ٦٩
(۲) موت کی تیاری ص ۱۸

نو انسان په دنيا کې و لې د بل غیبت و کړي او پر نورو انسانانو ولي تهمت ولګوي، چې په هغه سره خپل نېک اعمال ضائع کړي.
په حديث شريف کې راځي: ﴿إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ، فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ أَوْ قَالَ: الْعُشْبَ﴾([1]).
ترجمه: تاسو د حسد څخه ځان ګورئ! ځکه حسد د انسان نېک اعمال داسي ختموي، لکه اور چې په وچو لرګيو يا وښو کې ولوېږي.
نو دغه رنګه چې د کم انسان غيبت کېږي، د هغه د عمل نامې ګناهونه د غيبت کونکي په عمل نامه کې جمع کېږي.
نو په حقيقت کې انسان د خپل مخالف غيبت نه کوي، بلکې خپل مخالفينو ته خپل نېک اعمال وراستوي.

## د حضرت علي ﷛ مړو او ژندو ته وينا:

د انسان د نيکو اعمالو خو داسي حال سي، نه ده معلوم چې د انسان زنانه او بچيان په آخرت کې ده ته په ښه ور ځي او که نه.
حضرت علي ﷛ يو ځل يو هديرې ته راغلئ او هلته يې په ډېر لوړ آواز سره دا ويل: ﴿يَا أَهْلَ الْقُبُورِ! يَا أَهْلَ الْبَلَاءِ! يَا أَهْلَ الْوَحْشَةِ! مَا الْخَبَرُ عِنْدَكُمْ؟ فَإِنَّ الْخَبَرَ عِنْدَنَا: قَدْ قُسِمت الاموال، وأيتمت الْأَوْلَادُ، وَاسْتُبْدِلَ بِالْأَزْوَاجِ، فَهَذَا الْخَبَرُ عِنْدَنَا! فَمَا الْخَبَرُ عِنْدَكُمْ؟ ثُمَّ الْتَفَتَ إِلَيَّ، فَقَالَ: يَا كُمَيْلُ! لَوْ أُذِنَ لَهُمْ فِي الْجَوَابِ لقالوا: وتزودوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى﴾([2]).
ترجمه: اى د وحشت او د مصيبت په شکل په قبرو کې پرتو انسانانو! ستاسو څه حال دئ؟ زموږ حال خو دا دئ چې ستاسو مالونه سره تقسيم سوه، ستاسو په کورونو کې اوس بل څوک اوسېږي، ستاسو زنانو اوس د نورو سره نکاحي و کړې او ستاسو اولادونه ورځ تر هغه بلې مخونه در څخه اړوي.

---

([1]) ابوداؤد حديث ۴۹۰۳
([2]) مجالس و جواهر علم حديث نمبر ۲۷۸

آخر خپل شاګرد ته وايي: ای کُمَیلَ! کچیري دوی ته د جواب اجازه وای، نو دوی به مونږ ته ویلي وای چي راځئ د ځانه سره بهترینه توښه د تقوا په شکل را وړئ!
دا خو د حضرت علي ﷺ مړو ته وینا وه: بخاري شریف کي راځي چي یو ځل حضرت علي ﷺ ژوندو انسانانو ته داسي وینا وکړه: ﴿ارْتَحَلَتِ الدُّنْيَا مُدْبِرَةً، وَارْتَحَلَتِ الآخِرَةُ مُقْبِلَةً، وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا بَنُونَ، فَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الآخِرَةِ، وَلاَ تَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الدُّنْيَا، فَإِنَّ اليَوْمَ عَمَلٌ وَلاَ حِسَابَ، وَغَدًا حِسَابٌ وَلاَ عَمَلَ﴾(۱).
ترجمه: دنیا ورځ په ورځ کډه کړي ده روانه ده، آخرت ورځ په ورځ را روان او را نژدې کیږي. د دنیا او آخرت دپاره مستقل او لاد سته، تاسو د ځانه د دنیا بچي مه جوړوی، بلکي د آخرت بچیان د ځانه جوړ کړئ!
﴿فَإِنَّ كُلَّ أُمٍّ يَتْبَعُهَا وَلَدُهَا﴾(۲). ځکه هر بچی په خپله مور پسې وي.

## د دنیا د محبت انجام:

چي کله د قیامت ورځ راسي، نو دنیا به د یو بوډۍ بد شکلي زناني په رنګ را پیش سي، چي هغې به خپل مخ په سرخۍ او سپیده ښائسته کړی وي او په باطن کي به نهایت بدشکله او بوډۍ وي، الله تعالی به انسانانو ته فرمايي:
- دا پیژنئ؟
- نو انسانان به ورته وايي: نه.
- الله تعالی به ورته وايي: دا دنیا ده، چي د هغې په عشق کي تاسو لېوني واست او زما څخه مو مخ اړولی وو.

(۱) صحیح البخاري باب في الامل و طوله.
(۲) معجم الکبیر الطبراني حدیث نمبر ۷۱۵۸

بیا به الله تعالیٰ حکم و کړي، چې تاسو دا دنیا دوږخ ته بوزئ! نو چې کله ملائکې دنیا دوږخ ته کشوي، نو دا به د قیامت په میدان کې چیغې کړي، چې زما بچې زما سره ملګري کړئ! زه بغیر د بچو څخه څنګه ولاړه سم.
الله تعالیٰ به ورته وایي: چې کم چا د دې سره محبت او مینه کړې ده، نو هغه د دې بچې دي، هغه د دې سره ملګري کړئ! نو د دنیا بچې به د دنیا سره یو ځای په جهنم کې ژوند تېروي. (۱)
په آخر کې حضرت علي ﷺ ورته وایي:
ننورځ د عمل ده، حساب نسته. چې صبا د حساب ورځ را ورسیږي، نو بیا به د عمل مهلت انسان ته نه وي.

## پر دوو انسانانو د مځکې تعجب:

په کتابو کې لیکلي دي چې مځکه پر دوو انسانانو ډېر زیات تعجب کوي، یو هغه انسان چې نرمه بستره هواره کړي او په ډېر راحت ور باندي ییده سي.
نو مځکه پرده باندي تعجب کوي او ورته وایي: ای پر نرمو بسترو ارام کونکې! دا په یاد وساته چې یوه ورځ به زما غیږي ته راځې، هلته به ستا څه حال وي؟
دوهم: چې د مځکې پر یو ټکره باندي د دوو انسانانو جګړه وي، یو وایي چې زما مځکه ده او دوهم وایي چې زما مځکه ده، نو مځکه پر دوی ډېر تعجب کوي او وایي: ای زما پر ملکیت جګړه کونکو انسانانو! ستاسو څخه مخکې هم ډېر لوی لوی خلک راغلي وه، چې زما میراث خواره یې ځانونه بلل، هغه ټول ولاړه، زما مالک الله جل جلاله دئ(۲).

---

(۱) اللہ کا اپنا مال ص ۴۸
(۲) موت کی تیاری ص ۷۱

نو انسان که په هر شکل زندګي تېره کړي، خو د زندګی په آخره کي د مرګه سره مخامخ کېږي او د انسان د زندګی لویه حادثه د انسان مرګ دئ.
لیکن د مرګه څخه هم لویه حادثه دا ده چي انسان د تیاری څخه بغیر د مرګ غېږي ته ورسي.

## د مرګ د تیاري مطلب:

باید انسان په خپل ګرېوان کي و ګوري، چي موږ د مرګ دپاره څه تیاري کړې ده؟آیا موږ په خپل زړه کي الله تعالی ته ځای ور کړی دئ؟
آیا موږ په خپل زړه کي د الله تعالی عشق ځای کړی دئ؟ صرف په ژبه سره دا ویل چي زه دلته بنده یم او پر الله ﷻ مي ایمان را وړی دئ دا د انسان په ښه نه ورځي تر څو چي د زړه تصدیق او محبت نه وي ور سره؛ ځکه د قیامت په ورځ د انسان د زړو اسرار ښکاره کېږي او په هغه کي د الله ﷻ محبت کتل کېږي.
ځکه د قرآن فرمان دئ: ﴿وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ﴾(١).
چي کم په سینو کي وي هغه به د قیامت په میدان کي الله تعالی ښکاره کوي، صرف زباني امورو ته اعتبار نه وي.

## الله ﷻ ته په زړه کي ځای ور کول:

د یو بزرګ په باره کي راځي چي هغه یو "طوطي" ساتلی وو، نو هغه ته یې "الله الله" ور زده کړي وو، چي کله به هغه "طوطي" "الله الله" کول، نو هغه بزرګ به ډېر خوشحاله کېدئ.
یوه ورځ د قفص دروازه خلاصه پاته سوې وه، نو یوه "پیشي" راغله هغه طوطي یې پورته کړئ، نو طوطي په دې وخت کي هغه خپل طبعي آواز "ټین ټین"

(١)العادیات آیت ١٠

کوئ. نو هغه بزرګ ډېر حيران سو، چي ما خو ده ته "الله الله" ور زده کړي وه، ليکن چي کله "پيشو" پورته کړئ، نو بيرته يې "تين تين" نعرې وهلې.
په دې دوران کي يو بل بزرګ د ده د ملاقات دپاره راغلئ، ده دا خپله ټوله واقعه ورته بيان کړه.
هغه ورته وايي: چي چونکه تا و طوطي ته "الله الله" ور زده کړي وه، نو "الله الله" صرف د ده پر ژبه وو، مګر د ده په زړه کي هغه خپل آواز "تين تين" وو.
د هغه په وجه چي کله پر ده باندي مرګ او د سختۍ حالت راغلئ او "پيشي" پورته کړئ، نو د ده د ژبي څخه هغه څه را ووتل چي د ده په زړه کي وه(¹).
نن صبا موږ په زړه کي څه ته ځای ور کړی دئ؟
يو شاعر وايي:

برزبان تسبیح ودر دل گاؤ خر ... این چنین تسبیح کی دارد اثر

نن موږ په زړو کي الله ﷻ ته ځای نه دئ ور کړئ او د الله ﷻ د انواراتو څخه مو خپل زړه نه دئ ډک کړی، نو بيا به د مرګ د سختۍ په وخت کي زموږ د ژبي څخه لفظ الله ﷻ څنګه را ووځي.
د دې دپاره محنت کول غواړي او د دې محنت دپاره الله ﷻ ټوله زندګي را کړې ده تاسي زموږ د سلفو حالات وګورئ! چي هغوی ژوند په څنګه تياري او د آخرت په بېره کي تېروئ.

## د صديق اکبر ﷛ خشيت (وېره):

سيدنا صديق اکبر ﷛ ټوله زندګي په زُهد او تقوا کي تېره کړه، کله کله به يې د الله ﷻ د بيرې څخه فرمايل:
﴿يَا لَيْتَنِي كُنْتُ عصفوراً﴾ کاشکي زه يو مرغه وای! او زما سره حساب او کتاب نه کېدای.

---

(¹) موت کی تیاری ص ۷۳

﴿يَا لَيْتَنِيْ كُنْتُ شَجَرَةً تَعْضُد﴾ كاشكي زه درخته واى چي د بېخه ختلې واى! او كله خو به يې دا ويل:
﴿يَا لَيْتَنِيْ أُمِّيْ لَمْ تَلِدْ﴾ كاشكي زه مور زېږولى نه واى ا
د ژوند تر آخري وخته پورې د ده مبارک دغه کیفیت وو.

## د صديق اكبر رضی الله عنه صداقت:

په "البدايه والنهايه" كي يو عجيب حكايت ليكلى دئ، حضور اكرم ﷺ يو جنګ ته ځي، د روانېدو څخه مخکي په "مدينه منوره" کي د انصارو يو بوډۍ راغله او پيغمبر عليه السلام ته يې وويل: اى د الله رسوله! زما يو بچى توره په لاس کي ګرځوي او ستا خلاف تياري كوي او دا وايي: زه به "نعوذبالله" د "محمد ﷺ" سر قلم كوم.
زه ستا يو خادمه يم، اى د الله نبي ﷺ! ته د ده دپاره د هدايت يو دعا و كړه!
رحمت عالم ﷺ د هغه بچي دپاره د هدايت دعا و كړه.
هغه نوجوان بچى چي په كور كي يې د اسلام په خلاف د توري ورزش او تياري كوئ، الله جل جلاله يې زړه بدل كړئ، هغه توره يې را واخسته، په منډه راغلئ، د رسول الله ﷺ په دربار کي حاضر سو او دا عرض يې پيش كړئ: اى د الله نبي ﷺ! ما ته د اسلام كلمه ووايه! او پر هغه ځاى يې اسلام قبول كړئ. د هغه صحابي نوم مالک ابن سنان رضی الله عنه وو.
او د اسلام را وړلو څخه وروسته وايي: اى د الله نبي ﷺ! آيا ما ته هم ستا سره د تللو اجازت سته؟ پيغمبر ﷺ ورته فرمايي: راځه! ميدانِ جهاد ته د پيغمبر ﷺ سره ولاړئ، چونكه نوې جذبه وه چي ميدان جهاد ته ورسېدئ، نو شهيد سو.
څو ورځي بعد صحابه كرام رضی الله عنهم د جهاد د ميدانه څخه واپس راځي، نو د مدينې زناني د هغوى د استقبال دپاره را وتلي دي، د هغه نوجوان انصاري مالک ابن

سنانﷺ مور هم را وتلې ده. خويندو د ورونو استقبال و کړئ، زنانو د خاوندانو استقبال و کړئ او ميندي د بچو سره يو ځاى سوې.

هغه بوډۍ زنانه هم ولاړه ده چي کله پيغمبرﷺ تيرېږي، نو هغه بوډۍ پوښتنه ځني کوي:

- اى د الله نبيﷺ! په دې راتلونکو انسانانو کي ما ته خپل بچى په نظر نه راځي، زما بچى چيري دئ؟
- نبي اکرمﷺ خپل مخ مبارک په جامه باندي پټ کړئ او ورته وايي: موري، يو څه صبر و که،

يو بل صحابي تيرېږي، دې بوډۍ د هغه څخه هم د خپل بچي پوښتنه و کړه، هغه هم دا ورته وويل: وروسته ابوبکرﷺ را روان دئ، د هغه څخه يې پوښتنه و کړه.

چي هر صحابي به تېرېدئ دې به پوښتنه ځني کوله هغه به داغه جواب ور کوئ.

چي کله ابوبکرﷺ را ورسېدئ، نو هغه بوډۍ ورته وايي:

- اى ابوبکره! زما بچى چيري دئ؟
- ابو بکرﷺ د هغې په جواب کي خاموش سو.
- هغې بوډۍ د خپل بچي په اړه دوباره پوښتنه ځني و کړه.
- ابوبکرﷺ ورته وايي: موري! د الله نبي تېر سو، هغه څه درته وويل؟
- هغه بوډۍ ورته وايي: هغه راته وويل: د ابوبکرﷺ څخه پوښتنه و کړه.

حضرت ابوبکرﷺ چي کله دا واورېدل، نو ډېر حيران سو او په سوچ او فکر کي ولوېدئ. کچيري زه دا ورته ووايم، چي ستا بچى شهيد سوى دئ، نو شايد دا به يې برداشت نه کړي. هغه زنانه په ډېره بې صبرۍ باندي ورته وايي:

- اى ابوبکره! آيا زما بچى شهيد دئ؟

- حضرت ابو بکر ﷜ په جواب کي ورته وایي: موري لږ صبر وکړه! ستا بچی د ټولو خلګو څخه وروسته را روان دئ.

نو اوس هغه بوډی زنانه پر هغه ځای د خپل بچي په انتظار ولاړه ده، مګر صدیق اکبر ﷜ ځني روان سو، او د الله په حضور کي یې عجز شروع کړئ، او د الله رب العالمین سره یې تعلق قائم کړئ، او د سترګو څخه یې اوښکي جاري دي، او د الله ﷻ په دربار کي دا عرض کوي: ای الله ﷻ! ته په دې ښه خبر یې چي ما ته د صدیق لقب ستا نبي ﷺ را کړی دئ، یا الله ﷻ! صدیق هغه چاته وایي چي هغه په ټوله ژوند کي درواغ نه وي ویلي، که د قیامت په میدان کي زما دغه درواغ زما محبوب ﷺ ولیده، نو زه به هلته په کم مخ د ده په حضور کي پېښېږم.

یا الله ﷻ! که ته د حضرت عیسی علیه السلام دپاره مړي را ژوندي کولای سې، زه هم ستا د محبوب ﷺ یو غلام یم، یا الله ﷻ! تا ته ستا د ذات واسطه پېشوم، ته "مالک ابن سنان" را ژوندی کړې!

نو په لاره کي ژاړي او دعا کوي، په ډېر غمګین شکل "مسجد نبوي" ته ورسېدئ، نو و شا ته د بوټو په ځای کي کښېنستئ.

هغه زنانه بوډی پر هغه ځای ولاړه ده، که ګوري یو سړی را روان دئ، چي را نږدې سو، نو چي ورته وېې کتل، نو هغه "کټ مټ" د دې بچی "مالک ابن سنان انصاري" دئ. مور خپل بچی په غېږ پوري ونیوئ، پر مخ باندي یې مچ کړئ، تر لاس یې ونیوئ او مسجد نبوي ته د خپل بچي سره را ورسېدل.

چي کله صحابه کرامو ﷡ مور او بچی ولیدل، نو ټوله حیران دي، پیغمبر ﷺ هم حیران دئ، چي دا خو شهید سو، مور تر خاورو لاندي کړئ او ځني راغلو، دی څنګه را ژوندی سوی دئ!

الله رب العزت "جبرائیل امین" د عرش څخه را واستوئ او پیغمبر ﷺ ته دا پیغام ور کوي، چي دا د حیرانېدو خبره نه ده.

٥

ځکه ستا د "صديق" د خولې څخه دا کلمه وتلې وه، چې موري صبر کوه، ستا بچي وروسته را روان دئ.
خداوند قدوس د صديق اکبر ﷛ د ژبې د رشتيا کولو دپاره مالک ابن سنان ﷛ ته دوباره ژوند ور کړئ، لباس يې په واغوستئ او ستا په خدمت کې يې پيش کړئ(١).
نو حضرت صديق اکبر ﷛ ته الله تعالى داسې صداقت ور کړى وو، ليکن بيا يې هم د آخرت د حساب او کتاب د ويرې څخه همېشه دا تمنا کول چې کاشکې زما سره حساب او کتاب نه واى سوى!

## د صديق اکبر ﷛ آخري وصيت:

چې کله حضرت صديق اکبر ﷛ د دنيا څخه رخصتېدې، نو خپله لور حضرت عائشه ﷞ را بولې او ورته وايي:
- عائشې لورې! زه د دنيا څخه رخصتېږم، زما څخه وروسته زما په دوو وصيتو باندې عمل وکه!
- حضرت عائشه ﷞ ورته وايي: اى پلار جانه! راته ووايه چې هغه کم دوه وصيته دي.
- حضرت صديق اکبر ﷛ ورته وايي: بچيه! چې کله زه وفات سم او صحابه غسل را کړي، نو زما د کفن دپاره نوې جامه مه را اخله! زما دوارې زړې جامې را ووينځه او په هغه کې ما ته کفن را که!

او دوهم وصيت دا دئ چې کله زه وفات سم، نو زما جنازه واخله او د رسول الله ﷺ و "روضې مبارکي" ته يې کښېږده، درود او سلام ور باندې ووايه، کچېرې دروازه خلاصه نه سوه، نو زما قبر په "جنة

(١) موت کی تیاری ص ٨٦.

البقیع" کي جوړ که! او که د الله ﷻ د محبوب ﷺ د "روضې مبارکې" دروازه خلاصه سوه، نو ما د الله ﷻ د محبوب ﷺ په اړخ کي پټ که!
حضرت عائشه رضي الله عنها ورته وايي: ای پلار جانه! په اول وصیت دي عمل نه سي کېدای، ځکه ته د ټولو مسلمانانو خلیفه یې او په بیت المال کي جامې ډېري موجودي دي.
ای پلار جانه! د مدینې چي هر څو مره غریب انسان وفات سي، نو د هغه دپاره د بیت الماله څخه د هغه د کفن دپاره نوې جامه اخیستل کېږي، نو په دې وجه زه تا ته په زړو جامو کي کفن نه سم درکولای، زه به نوې جامه ستا د کفن دپاره را اخلم.

- صدیق اکبر رضي الله عنه ورته وايي: بچیه! ته خو هم صحیح وایې، لیکن زه دا وصیت ځکه کوم، چي د بیت المال نوې جامه د کفن په شکل باید زما پر بدن نه وي، هغه دي د مدینې د یتیمانو د جامو دپاره استعمال سي، زه خو هسي هم په زړو جامو کي کفن او دفن کېدای سمه.

تاریخ پر دې ګواه دئ، چي د ټولي دنیا د انسانانو د کفن دپاره نوي جامې را نیول کېږي، لیکن د حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه کفن په زړو جامو کي ور کول سو (١).

## د صدیق اکبر رضي الله عنه تدفین:

چي کله حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه ته غسل ورکول سو او په کفن کي وپېچل سو، نو صحابه کرامو د هغه جنازه را واخیسته او د الله ﷻ د محبوب ﷺ د حجرې د مخته یې کېښوله او دباندي یې دا نعره "اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَيْکَ يَارَسُوْلَ اللهِ" ویل شروع کړه.

---

(١) موت کی تیاری ص ٨٦

نو روایاتو کي راځي ﴿اِنشَقَ القُفلُ﴾ قلف مات سو ﴿وَانفَتَحَ البَابُ﴾ او دروازه خلاصه سوه او د حجرې مبارکې څخه آواز را غلئ چي ﴿اُدخُلُوا الحَبِيبَ اِلَى الحَبِيبِ فَاِنَّ الحَبِيبَ اِلَى الحَبِيبِ مُشتَاقٌ﴾(۱) تاسو یو دوست و بل دوست ته را وصل کړئ! ځکه چي یو دوست د دې بل دوست د ډېره وخته څخه په انتظار دئ.(۲)

چنانچه حضرت صدیق اکبر ﷜ د پېغمبر ﷺ په حجره مبارکه کي او د پېغمبر ﷺ په اړخ کي دفن سو.

نو چي کم چا ته الله تعالی داسې صداقت او داسې پاکه ژوندگي ور کړې وه، هغه هم د آخرت د حساب او کتاب څخه دومره زر ټک پېرېږي.

نو زما او ستا پر حال دې الله تعالی رحم وکړي. او الله تعالی دې مي توجه او فکر د آخرت پر طرف را وګرځوي. او د مرګ راتلو څخه مخکي دې مي الله تعالی د مرګ دپاره پوره پوره تیاري را نصیب کړي، او الله تعالی دې دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيرِ خَلقِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَ اَصحَابِهِ اَجمَعِين.

---

(۱) کنز العمال حدیث نمبر ۳۵۷۲۹

(۲) موت کی تیاری ص ۸۷

بسم اللہ الرحمن الرحیم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ
وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ
عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ
اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ۝
اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى
اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى
اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ
اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ۝

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الایہ)

# د صحابه وو قرباني

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجی عبدالودود |
| اشاعت | ثلورم |
| تاریخ | یکم ربیع الثانی ۱۴۳۹ بمطابق یکم مي ۲۰۱۸ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ،
وَنَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَ نَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ، وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ، وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ﴾(۱).

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ﴿اَلدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ﴾(۲).

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم، وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو سامعينو! الله تعالیٰ جل جلاله حضور اقدس ﷺ ته د ټولو کائناتو کاميابۍ او عزتونه ورکړه او دې دنيا ته يې د آخري نبي په توګه را واستوئ.
او د ده د را استولو سره سره الله تعالیٰ پر عرش باندې يو فيصله وليکله چې پيغمبر ﷺ د هغه فيصلې اعلان کوي.
﴿وَجُعِلَ الذِّلَّةُ وَالصَّغَارُ عَلَى مَنْ خَالَفَ أَمْرِي﴾(۳).
چې کم څوک د دنيا زندګي زما پر نقش قدم نه تېروي، د هغه دپاره به ذلت او رسوائي مقدره وي.

(۱)حٰم سجده آيت ۳۲/۳۴/۳۵
(۲)رواه مسلم حديث نمبر: ۹۵
(۳)بخاري شريف باب ما قيل في الرماح ص۴۰

د پیغمبر ﷺ دنیا ته د راتللو څخه وروسته اوس د تمام انسانیت دپاره یوه د کامیابۍ لار ده، نوري ټولي لاري بندي دي.

څکه الله تعالی فرمایي: حدیث قدسي دئ:

﴿يَا مُحَمَّد لَو اسْتَفْتَحُونِيْ كُلَّ بَابٍ وَجَاؤُنِي مِنْ كُلِّ طَرِيْقٍ﴾(۱). ای محمده! د ته څخه وروسته که خلک هره دروازه وټکوي او پر هره لار باندي تر ما پوري راتګ وغواړي، ﴿لَمَا وَسَعَهُ إِلَّاإتِّبَاعُكَ﴾(۲). نو هغه ما ته نسي راتلای ماسوا ستا د اتباع او فرمانبرداري څخه.

څکه د هدایت ټولي دروازې بندي دي، صرف یوه دروازه خلاصه ده، هغه دا ده چي کم سړی تر ما پوري راتګ غواړي، ستا د اتباع کولو او ستا پر نقش قدم د تللو پر لار را تلای سي، د دې څخه بغیر تر ما پوري نسي را رسېدای.

او ستا د نقش قدم څخه بغیر چي کم سړی په دنیا کي ژوند کول غواړي، نو هغه به ذلیل او خوار وي. نو څکه پیغمبر ﷺ فرمایي:

﴿لَو كَانَ آدَمُ صَفِيُّ اللهِ حَيًّا لَمَا وَسَعَهُ إِلاَّ اتِّبَاعِي﴾(۳). کچیري حضرت آدم علیه السلام چي د ټوله انسانیت پلار دئ ژوندی سي، نو ضرور به زما اتباع کوي.

﴿لَو كَانَ إِبْرَاهِيم خَلِيلُ الله حَيًّا لَمَا وَسَعَهُ إِلا اتِّبَاعِيْ﴾(۴). کچیري د الله خلیل حضرت ابراهیم علیه السلام نن دنیا ته راسي، نو هم به زما پر نقش قدم ژوند تېروي.

﴿لَو كَانَ مُوسٰى كَلِيمُ الله حَيًّا لَمَا وَسَعَهُ إِلَا اتِّبَاعِيْ﴾(۵). کچیري موسٰی علیه السلام ژوندی سي، نو هم به زما اتباع کوي.

---

(۱)الاربعین للنووي، الشهادتان ومکانتهما من الإسلام ص ۳

(۲)الاربعین للنووي، الشهادتان ومکانتهما من الإسلام ص ۳

(۳)الاربعین للنووي، الشهادتان ومکانتهما من الإسلام ص ۳

(۴)الاربعین للنووي، الشهادتان ومکانتهما من الإسلام ص ۳

(۵)الاربعین للنووي، الشهادتان ومکانتهما من الإسلام ص ۳

﴿لو كَانَ عِيْسَى رُوْحُ اللهِ حَيًّا لَمَا وَسَعَهُ اِلَا اتِّبَاعِيْ﴾(١). کچیري حضرت عیسیٰ علیه السلام چي د الله روح او کلمه ده، ژوندی سي، هم به ژوند د محمد رسول الله ﷺ پر طريقه باندي تېروي.

## د پیغمبر ﷺ پر طريقه ژوند تېرول:

نو د دنيا په ژوند کي انسان په دې مکلف دئ، چي د هغه ژوند به د پيغمبر ﷺ پر طريقه باندي وي.
ځکه د پيغمبر ﷺ د راتګه څخه وروسته ټول اديان منسوخ دي، صرف يو دين چي هغه دين محمدي دئ په دنيا کي د انسانانو دپاره قابلِ عمل دئ.
نو چي کله انسان په دې مکلف سو، چي دی به پر دين محمدي باندي خپل ژوند تېروي او په زړه او دماغ کي به د پيغمبر ﷺ او د هغه د دين محبت اچوي، نو بيا به هغه انسان د قيامت په ميدان کي د نجات پيدا کونکی انسان جوړېږي.

## د ژوند مشکلات:

چي په دنيا کي انسان د محمد رسول الله ﷺ د غلامۍ طوق وغاړي ته واچوي او د محمد رسول الله ﷺ محبت په دل او دماغ کي را ولي، نو هغه به ضرور د مشکلاتو سره مخامخ کېږي.
ځکه يو شاعر وايي:

*چون میگویم مسلمانم بلرزم... که میدانم مشکلات لااله الاالله را*

چي کله د مسلماني لقب ځان ته ور کوم، نو زړه مي رېږدي؛ ځکه په دې پوهېږم چي دا لقب ساتل ډېر لوی مشکلات لري.

(١) الاربعين للنووي، الشهادتان ومكانتهما من الإسلام ص ٢

## يو صحابي ته د پيغمبر ﷺ وينا:

يو صحابي راغلئ او وايي: ﴿يَا رَسُولَ اللَّهِ وَاللَّهِ إِنِّي لَأُحِبُّكَ. فَقَالَ لَهُ: انْظُرْ مَاذَا تَقُولُ. قَالَ: وَاللَّهِ إِنِّي لَأُحِبُّكَ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَقَالَ: «إِنْ كُنْتَ تُحِبُّنِي فَأَعِدَّ لِلْفَقْرِ تِجْفَافًا، فَإِنَّ الْفَقْرَ أَسْرَعُ إِلَى مَنْ يُحِبُّنِي مِنَ السَّيْلِ إِلَى مُنْتَهَاهُ﴾(١).

يو صحابي راغلي او وايي:

- اې د الله جل جلاله رسوله! زه ستا محبت ساتم.
- پيغمبر ﷺ ورته وايي: چې ته په دې خپله خبره کې لږ غور وکړه چې ته څه وايې؟
- هغه صحابي بيا په تاکيد سره خپله خبره مکرره وي، چې زه يقيناً ستا سره محبت لرم.
- نو پيغمبر ﷺ ورته وايي: که ته په دې خپله خبره کې رشتونی يې، نو د فقر او مسکنت د پاره تيار سه! ځکه چې کم څوک زما سره محبت کوي د هغه پر طرف باندې فقر داسې راځي، لکه اوبه چې د لوړ طرفه ښکته لاندې راځي.

نو چې کم څوک د الله تعالیٰ سره تعلق لري او ژوندکي د رسول الله ﷺ پر نقشه تېروي، نو پر هغه باندې به مشکلات، مسکنتونه او مصيبتونه خامخا راځي.

## د الله تعالى دنيا ته حکم:

دنيا ته هم د الله تعالیٰ داسې حکم راغلی دئ "حديث قدسي" دئ چې جبرائيل عليه السلام راغلئ او وايي: يا رسول الله! ﴿إِنَّ السَّلَامَ يُقْرِئُكَ عَلَيْكَ السَّلَامُ﴾ د الله جل جلاله يو نوم "سلام" دئ او "سلام" تا ته "سلام" وايي او فرمايي: ...

(١) الترمذي حديث ٢٣٥٠

﴿اِنِّيْ اَوْحَيْتُ اِلَى الدُّنْيَا اَنْ تَمُرِّيْ وَ تَكَدَّرِيْ وَ تَضَيَّقِيْ وَ تَشَدَّدِيْ عَلٰى اَوْلِيَائِيْ﴾ چې ما دنيا ته وحي و كړې چې ته ترخه سه! او ته تاريكه سه! او ته تنګه سه! او ته سختيه سه! زما پر دوستانو باندې.

﴿كَيْ يُحِبُّوْا لِقَائِيْ﴾ چې د دوی په زړو كې زما د ملاقات شوق پيدا سي.

﴿وَتَرَفَّهِيْ وَتَوَسَّعِيْ وَتَسَهَّلِيْ وَتَحَبَّبِيْ عَلٰى اَعْدَائِيْ﴾ او ته اسانه سه! او ته فراخه سه! او ته محبوبه سه! او ته ښائسته سه! زما د دښمنانو دپاره.

﴿كَيْ يَكْرَهُوْا لِقَائِيْ﴾ چې د دوی په زړو كې زما د ملاقات شوق ختم سي(۱).

## د صحابه وو رضي الله عنهم قرباني:

صحابه كرامو به د دين د دفاع په خاطر قرباني ور كولې او دوی به تكليفونه برداشول او بيا به د پيغمبر ﷺ پر دين باندې پخېدل او د مور او پلار فراق به يې برداشوی.

او د هغوی د لاسه ځينه به منصبونه وتل او د هغوی د لاسه ځينه به قدرتونه وتل او مال او دولت به يې تر شا پاته كېدی او قتلونه به راتلل.

آخر خو هغه هم انسانان وه، چې كله ډېر وكړول سوه او ډېر بې صبري سوه نو يو ورځ راغلل و پيغمبر ﷺ ته چې شكايت وكړي:

﴿يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ، اَلَا تَسْتَنْصِرُ لَنَا؟ اَلَا تَدْعُو اللّٰهَ لَنَا؟﴾ ای د الله ﷻ رسوله! موږ ستړي سوو، موږ هلاک سوو او موږ در په دره سوو او ته زموږ د نصرت دپاره دعا نه كوې؟

پيغمبر ﷺ ارخ لګولی ووه يو دم راپورته سو په تيده كښېنستی او پر مخ مبارک يې د سرخی اثر ښكاره سو او ورته وايي: ای صحابه وو ستاسو د ډېر ژر

(۱) روح البيان سورة الرعد آيت ۱۳ تا ۲۶

راغلاست ﴿إِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانَ أَحَدُهُمْ يُوضَعُ الْمِنْشَارُ عَلَى مَفْرَقِ رَأْسِهِ وَيَشُقُّ فَلْقَيْنِ فَيَخْلُصُ إِلَى قَدَمَيْهِ، لَا يَصْرِفُهُ ذَلِكَ عَنْ دِيْنِهِ﴾.

ستاسو څخه مخکې امتو کي به يو ايمان والا را وستل سو، د هغه دپاره به کنده جوړه سوه او هغه به په دې کنده کي ودرول سو، پر سر به يې آره ور کښېښوله او دا به يې ورته وويل: چي اوس يا ځان بچاو که او يا ايمان بچاو که!

هغه به دوې ټکرې سو تر دې پښو پوري، ليکن ايمان به يې نه پرېښوئ.

[illegible]مَشَطُ بِأَمْشَاطِ الْحَدِيدِ مَا بَيْنَ لَحْمِهِ وَعَظْمِهِ، لَا يَصْرِفُهُ ذَلِكَ عَنْ دِيْنِهِ[illegible] (۱)

[illegible]تلي به يې ودروئ، پر سر باندي به يې کرمي او [illegible]ور تنيستلې او د هغه د سر [illegible] کوله، ليکن هغه به [illegible] داشول او د الله تعالى امر به يې نه پرېښوئ. [illegible]

نو ځکه پيغمبر ﷺ هغه صحابه وو [illegible] دېر ژر راغلاست، تاسو خو د دې امت د يو فرد جوړېدلو وعده کړې ده، اوس به تاسو ته دا ګوري چي په ټوله عالم کي به د الله ﷻ دين سره خوروي او ټوله عالم به پر دې دين باندي چلوئ.

يو وخت به داسي راځي، چي "قيصر" او "کسرٰی" به ستاسو قدمو ته راځي او د ټولو کائناتو خزانې به ستاسو مسجدو ته را رسيږي.

## د حبيب ابن زيد ﷺ شهادت،

حبيب ابن زيد ﷺ "مسيلمه کذاب" ونيوئ او ورته ويې ويل:

- يو ځل دا ووايه، چي زه د الله رسول يم (يعني زما د نبوت اقرار و که)، نو زه تا پرېږدم.
- حبيب ابن زيد ﷺ په جواب کي ورته وايي: چي دا هيڅ کله نه سم ويلای.

---

(۱)ابن کثير ج ا ص۵۷۱

نو هغه د ده يو لاس پرې کړئ او بيا يې ورته وويل:
- اوس لا موقع سته وايه!
- حبيب ابن زيد ﷺ په جواب کې ورته وايي: هيڅ کله نه سم ويلای.
نو هغه د ده دوهم لاس ور پرې کړئ.
بيا يې يوه پښه او بيا يې دوهمه پښه ځني پرې کړه.
بيا يې سترگې را ويستې او غوږونه يې ځني پرې کړه، او بيا يې د ده د هډوکو څخه غوښې داسې اړولې، لکه يو قصاب چې د حيوان پوست د غوښو څخه اړوي.
او د ده په ژوند کې يې دا ټول اندامونه ځني پرې کړه، ليکن ده دا نه وويل چې "مسيلمه" د الله جل جلاله رسول دئ.
چې کله د ده دا ټکره ټکره بدن په بورۍ کې بند د مور مخته راغلئ او مور يې دا وليدل چې زما د "حبيب" سره څه سوي دي، نو مور ام عماره ﷺ د ده و دې ټکره ټکره بدن ته گوري او تر سترگو مبارکو يې اوښکې راځي او په خوله دا وايي:
بچيه! ﴿لِهٰذَا الْيَوْمِ أَرْضَعْتُكَ﴾ د دغه ورځې دپاره مې د خپلې سينې شيدې در کړې وې. که دې چيرې د محمد رسول الله ﷺ پر ناموس باندې ځان په دا شکل نه وای قربان کړی، نو زما د سينې شيدې درباندې حرامې وې. (١)
دا د صحابه کرامو د دين د دفاع دپاره قرباني وه.

## د عبدالله ابن زبير ﷺ درد ناکه شهادت

حضرت عبدالله بن زبير ﷺ د مکې مکرمې په حرم کې "حجاج بن يوسف" محاصره کړئ او د صلح پيشکش يې ورته و کړئ.

(١) بيانات جميل ج ٣ ص ٢٦٠

په آخر کي د خپلو ملګرو څخه صرف څلور کسان ورسره پاته سول، نو د خپلي مور حضرت اسماء ﷺ بنت ابي بکر ﷺ چي د ابو بکر ﷺ لور او د حضرت عائشي ﷺ خور وه و حضور ته د مشوري دپاره راغلئ ورته وايي:

موري د صلح پيشکش راته کيږي او دښمن راته وايي: چي صلح راسره و کړه، نو ځان به دي بچاو سي.

حضرت اسماء ﷺ ډېر سخت الفاظ ورته يادوي، هغه الفاظ خو زه نه سم بيانولای، چونکه هغه مور وه، هغې ته هر څه ويل جائز وه، زه صرف دومره وايم چي هغه مور ورته وايي:

- بچيه! که د دنيا دپاره جنګيږې، نو بيا دي ستا پر دې تر له محنت باندي افسوس وي او که د آخرت دپاره جنګيږې، نو بيا ستا مرګ او ژوند ما ته برابر دئ، خو د باطل و مخته خپلي ګونډې مه ماتوه (يعني مه تسليمېږه)!
- ابن زبير ورته وايي: موري! زما هم داغه توقع وه چي ته به ما ته دا جواب را کوې: ﴿إِنَّ فِي الْمَوْتِ رَاحَةً﴾ چي په مرګ کي ډېر لوی راحت دئ.

آخر ځل د موره څخه رخصت اخلي او د مور سره غاړه په غاړه کيږي.

مور چي کله بچی په خپله سينه پوري نيسي، نو د "حضرت عبدالله ابن زبير" پر بدن باندي زغره محسوسوي، نو ورته وايي:

- بچيه! دا دي څه اغوستي دي؟
- عبدالله بن زبير ﷺ ورته وايي: موري! دا مي زغره اغوستې ده.
- مور ورته وايي: بچيه! ولي؟
- دی په جواب کي ورته وايي: زه پر دې ډېرېږم، چي زه کله قتل سم، نو زما بدن به ټکرې ټکرې کړي.
- حضرت اسماء ﷺ يو جمله ورته ادا کوي، چي په وروسته کي بيا د عربي ادب يو مقوله جوړه سوه، دا ورته فرمايي:

﴿الشَّاةُ الْمَذْبُوحَةُ الْمُحَصَّلَةُ﴾ بچیه! چي کله خلک پــه حلال کړي، نو
د پوست کښلو په درد هغه پسه نه پوهیږي.
ورته وایي بچیه د مرګه څخه وروسته انسان د ټکرې ټکرې کېدلو په درد نه پوهیږي، نو زما په مخ کي دا خپله زغره و کاږه! او پر بدن یې سپین لباس ور واغوستئ او پر سر یې سپینه لنګوټه وروتړله او د الله ﷻ د دین د قرباني دپاره یې تیار کړئ، لکه نن سبا چي یو نوجوان د خپل واده او ښادي دپاره تیاریږي.
د خپلو څلورو ملګرو سره د دري زرو انسانانو مقابله کوي، د سهاره تر ماښګره پوري هیڅ څوک نږدې نسي ورته را تللای.
حضرت عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه په دواړو لاسو باندي د توري چلولو ماهر وو، لهذا ده ته نږدې را تلل د خپل مرګه سره خپل ځان مخامخ کول وو.
د ماښګره څخه وروسته د "حجاج ابن یوسف" ډله پر غره وختله او د لوړي څخه کاڼي پر را غورځوي پر کم غره چي اوس د "سعودي د بادشاه" محل جوړ دئ، چي دې غره ته "جبل ابي قبیس" وایي: نو هغو پر دې غره توپونه ودرول، چي پر ده باندي ډبري را غورځوي.
چي کله هغوی د توپه څخه ډبري را وغورځولې، نو یوه درنه ډبره د ده پر سر ولګېده، دی زخمي سو او پر پښو باندي یې ویني را توی سوې، نو په دې حالت کي دی یو شعر وایي:
وَلَسْنَا عَلَى الْأَعْقَابِ تَدْمَا كُلُومُنَا ... وَلٰكِنْ عَلَى الْأَقْدَامِ تَقْطُرُ دِمَاءُنَا
موږ هغه نه یو چي زخمونه به مو پر ملا وي او ویني به مو پر بجلکو تویېږي، بلکي موږ هغه یو چي زخم به مو پر سینه وي او وینه به مو پر قدمو راځي.
دوه کاڼي یې نور پر سر ولګېده، نو غوځار سو. په دې وخت کي د ده عمر مبارک اویا (۷۰) کاله وو.
د اویا کالو په عمر کي د څلورو ملګرو سره یې د درو زرو انسانانو مقابله وکړه. چي کله غوځاریږي، نو آخري الفاظ یې دا دي:

أَسْمَاءُ إِنْ قُتِلْتُ لَاتَبْكِيْنِيْ... لَمْ يَبْقَ إِلَّا حَسَبِيْ وَ دِيْنِيْ
اى اسماء! كه زه مړ سوم، نو پر ما به نه ژاړې؛ ځكه (تا په خپل لاس وراستولى يم) زما دين باقي پاته سو او زما شرافت باقي پاته دئ (نور كه څه را څخه ولاړه، د هغه زه پروا نه ساتم).

﴿وَصَارِمٌ إِلَّا أَنْتَ يَمِيْنِيْ﴾

زما ټولو ملګرو زما سره بې وفايي وكړه، صرف خپلي توري را سره وفا وكړه.
د شهادت څخه وروسته "حجاج ابن يوسف" د ده بدن د "جحون" پر مقام باندي په دار را وځړوئ او تر يوې هفتې پوري ځړېدئ.
درېمه ورځ "حضرت اسماء" ورته راغله، او په دې وخت كي د دې عمر يو سل او شل (۱۲۰) كاله وو او د دې د مباركي سينې څخه شيدې راغلې او د سترګو څخه يې اوښكي راغلې او د "رحمه" څخه يې وينه راغله.
ورته وايي: بچيه! سترګي هم، سينه هم او "رحم" هم ستا پر شهادت باندي ژړا كوي، او ستا د شهادت ګيله به صبا د قيامت په ميدان كي د رسول الله ﷺ په مخ كي پېشوم. (۱)

## د صحابه كرامو ﷺ ژوند د امتحاناتو يو داستان دئ:

چي كله سړى د صحابه كرامو زندګي او ژوند ګوري، نو انسان ته به دا ور معلومه سي، چي نور څه نه دئ؟ صرف د امتحاناتو يو داستان او قيصه ده.
صحابه كرامو ﷺ د دين په خاطر ډېري زياتي قرباني پېش كړې، چي الله تعالى د قربانيو په وسيله او بدل كي هغوى ته ډېر لوړ لوړ مقامونه ور كړل.

(۱) مأخوذ از بيانات جيل ج ۳ ص ۲۶۰/۲۶۱/۲۶۲

## د قحطۍ په زمانه کي د هدیر ﷛ واقعه:

پیغمبر ﷺ یو جماعت روان کړئ او د قحطۍ زمانه وه، ټولو صحابه کرامو ﷢ ته یې د لاري د خرچې دپاره څه توښه ورکړه، یو صحابي حضرت هدیر ﷛ څني پاته سو هغه ته یې څه ور نه کړل.

حضرت هدیر ﷛ هم په خپله خوله د پیغمبر ﷺ څخه څه و نه غوښتل، دغسي بغیر د توښې څخه او د لوږي په حالت کي روان سو. چي کله تر "جرف" پوري ورسېدئ (جرف د مدینې منورې څخه اوه میله لیري دئ)، نو هغه صحابي ډېر وږی سو، آخر یې لاس پورته کړئ، چي یا الله! ستا نبي هم څه رانه کړه او ما هم څه و نه غوښتل، نو یا الله! ته زما ملګرئ یې، ته به زما د توښې او خوراکې بندوبست کوې او ته به زما لوږه او زما تنده لیري کوې!

او دا ذکر یې شروع کړئ: ﴿سُبحَانَ اللهِ وَ الحَمدُ للهِ وَلَاإلَٰه إلَّاالله وَاللهُ أكبَر﴾ بس دا زما خوراکه ده او دا زما غذا ده، او پر لاري باندي روان سو.

الله تعالی د عرشه څخه "جبرائیل امین" را واستوي، چي ای پیغمبر ﷺ! تا ټولو صحابه کرامو ﷢ ته خوراکه ور کړه او حضرت هدیر ﷛ ته دي څه ور نه کړل.

پیغمبر ﷺ یو صحابي ته په یو ټوکرۍ کي د حضرت هدیر ﷛ نفقه او خوراکه په لاس ور کړه او په لښکر پسې یې واستوئ او دا یې ورته وویل: چي کله دا خوراکه حضرت هدیر ﷛ ته ورکړې، نو ته غوږ ورته ونیسه چي دی څه وایي؟

چي کله هغه صحابي د حضرت هدیر ﷛ خوراکه هغه ته ور کړه، نو ورته ګوري چي دی څه کوي؟

حضرت هدیر ﷛ چي کله خپله خوراکه واخیسته، باره یې اسمان ته وکتل او دا جمله یې وویل:

﴿اَلحَمدُلِلهِ الَّذِي ذَكَرَنِي مِن فَوقِ العَرشِ وَ مِن فَوقِ السَّبعِ السَّمٰوَاتِ﴾ ای الله! ته څومره کریم ذات یې چي پر عرش بالا دي هم زه یاد وساتلم او پر اسمانو سربېره هم در

څخه هېر نه سوم، نو يا الله! ما ته توفيق را که، چې په هيڅ حالت کې تا له هم عقله څخه هېر نه سم(¹).

## د صحابه وو ﷺ د بچيانو قرباني:

بشر ابن عکرمه ﷺ يو ماشوم بچی دئ، د خپل مور او پلار سره د هجرت په حالت کي "مدينې منورې" ته راغلئ، چي کله مدينې ته را ورسېدئ، نو مور يې وفات سوه.

څرنګه چې ماشوم او ښه کلن بچی دئ، نو يوازې پلار ور پاته سو، د هغه په تربيت کې دئ.

چي کله د "أحد" د غزوې اعلان وسو نو پلار يې هم د مجاهدينو په لست کي خپل نوم وليکئ.

چي کله يې پلار په غزا کي روانېږي، نو هغه ماشوم بچی ډېر پرېشانه او يوازې پاتېږي، نو پلار ور ته وايي: بچيه! يو دوې ورځې دي، ميو چلته کور کي به يې تېري کړې، زه واپس راځم، نو بيا به ته زما سره يې.

چي کله پلار روان سو، نو دی غريب يوه ورځ د يو چا پر کور او بله ورځ د بل چا پر کور تېروي، يو دوې ورځي يې په ډېر تکليف په مدينه کي د پلار په جدائي کي تېري کړې.

چي کله دريمه ورځ سوه، نو د "أحد" د ميدانه څخه صحابه ﷺ واپس راځي، دی د خپل پلار ليدلو په شوق وختي راغلئ او په لاره کي پر يو لوړ ځای د خپل پلار په انتظار ناست دئ، چي زما پلار به ما ويني، هغه به څومره خوشحاله سي او زه به څومره خوشحاله سم.

لښکر تيرېږي دی په دې مجاهدينو کي ګوري، چي کله لښکر تېر سو خپل پلار يې نه پکښې وليدئ، نو د لښکر په آخر کي پيغمبر ﷺ پياده را روان دئ، نو ده

---

(¹) الله کرا اپه‌پله مل ۷۷

ور منډه کړه، د پیغمبر ﷺ په پښو کې ور وموښتئ او چیغې یې کړې، چې ﴿يَا رَسُولَ اللهِ مَاذَا فَعَلَ أَبِي؟﴾ ای د الله رسوله! زما پلار نه معلومیږي؟

پیغمبر ﷺ سترګې څنې واړولې او مخ یې څنې وګرځوئ.

دی دې بل طرفته ورته راغلئ او ورته وایي: ﴿يَا رَسُولَ اللهِ لِمَاذَا عَرَضَ عَنِي﴾ زما څخه دې ولې مخ واړوئ؟ بیا پوښتنه کوي:

﴿يَا رَسُولَ اللهِ مَاذَا فَعَلَ أَبِي؟﴾ ای د الله رسوله! زما پلار څه سو؟

حضرت بشیر رضي الله عنه وایي: ﴿فَاسْتَعْبَرَ وَبَكَى﴾ نو پیغمبر ﷺ پر خپل ځان قابو نه سو، ژړا یې شروع کړه.

دی مبارک وایي: ﴿فَاجْهَشْتُ بِالْبُكَاءِ﴾ نو زه په چیغو او په ژړا سره د ده په دې پښو پوري و موښتم او ورته وایم:

- ای د الله رسوله! زما مور مخکې وفات سوې ده، زما پلار هم شهید سو، نو اوس خو زما په دنیا کې هیڅ څوک پاته نه سو، زما دا ژوند او ژوند به د چا سره تیریږي؟
- پیغمبر ﷺ فوراً را ته وویل: ﴿أَمَا تَرْضَى أَن يَكُونَ رَسُولُ اللهِ أَبَاكَ وَعَائِشَةُ أُمَّكَ؟﴾ آیا ته په دې راضي نه یې چې "رسول الله" ستا پلار وي او عائشه رضي الله عنها ستا مور وي او ته د "رسول الله" په کور کې ژوند او ژوند تیره کړې؟
- دی وایي: ما ورته وویل: چې یقیناً زه په دې راضي یم[1].

## د صحابه کرامو شهادتونه:

چې کله "غزوه موته" راغله، نو حضرت زید رضي الله عنه د "غزوه موته" په میدان کې شهید سو، نو پیغمبر ﷺ ته خبر راغلئ، د حضرت زید رضي الله عنه کوچني بچیان وه،

(١) اذکرابابائر صفحه ٧٨

نو پيغمبر ﷺ راغلئ هغه بچيانو ژړل او پيغمبر ﷺ په غېږ کي کښېنول او د هغه د بچيانو پر ژړا ور سره ژاړي.

حضرت سعد ابن عباده رضي الله عنه ور سره دئ، ورته وايي:

- اى د الله رسوله! ﴿مَا هٰذِهِ الْبُكَاءُ؟﴾ اى د الله رسوله! دا څنګه ژړا ده؟
- پيغمبر ﷺ په جواب کي ورته وايي: اى سعده! ﴿هٰذَه الْبُكَاءُ مِنْ شَوْقِ الْحَبِيْبِ إِلَى الْحَبِيْبِ﴾ دا د يو حبيب د بل حبيب په شوق کي ژړا ده؛ ځکه "زيد" زما محبوب او ما د خپل ځان زوى جوړى کړى وو او نن زما څخه جلا سو(¹).

## د حضرت جعفر رضي الله عنه شهادت:

حضرت جعفر رضي الله عنه د "ابو طالب" بچى وو او د پيغمبر ﷺ د اکا زوى وو. او د پيغمبر ﷺ به د ده سره ډېره زياته مينه وه.

"حبشې" ته يې هجرت کړى وو او د "خيبر" د فتح پر موقع باندي د "حبشې" څخه راغلئ.

او پيغمبر ﷺ به ورته ويل: اى جعفره! مو ږ نن د خيبر په فتح دومره خوشحاله نه يو، لکه څومره چي ستا په راتګ خوشحاله يو. چي کله يې د "موتې" په ميدان کي جنډه پورته کړه، نو کافران ور باندي را وګرځېدل او دَى يې محاصره کړئ.

نو په دې وخت کي "شيطان" ورته راغلئ، هغه ورته وايي: چي ستا خو ماشومان بچيان دي او نوجوانه زنانه دي ده، چي تا په ډېر عشق د هغې سره واده کړى دئ، کچيري ته شهيد سې، نو هغه ستا معشوقه زنانه او ماشومان بچي به وچاته پاته سي؟

(¹) اللہ کا اپنا بالو صفحہ ۷۸

نو خپل آس وځغلوه او د کافرانو څخه ځان خلاص که! چې کله شیطان دا مشوره ورکړه، نو ده یو دم د آسه څخه را شوه سو او خپل آس یې په خپله توره ووهئ او سر یې ځني جلا کړئ، چې د "شیطان" هغه د تیښتي ور کولو وسوسه ختمه سي.

ځکه چې د آس په ختمېدو سره اوس د تیښتي لار بنده سوه او دی غالبًا اولنی هغه سړی دئ چې د الله ﷻ په لا ... یې خپل آس په خپل لاس باندي ختم کړی دئ او پیاده په جنګ باندي ور ګډېږي.

نو یو لاس یې ځني پرې سو، ده بیرغ په بل لاس و نیوئ، او دوهم لاس یې پرې سو، ده په دې خپلو منډوانو باندي بیرغ ونیوئ او دا رجز او اشعار وایي:

یـــا حَبَّـــذَا الْجَنَّـــة وَ اِقْتِرَابـــــا... طَيِّبَـــةٌ وَبَـــارِدًا شَـــرَابُهَا

وَالـــرُّوْمُ قَـــدْدَنَا عَـــذَابُهَا... كَـــافِرَةٌ بَعِيـــدَةٌ اَنْسَـــابُهَا

دا شعر یې وایه او پر مخ روان وو، تر دې حده پوري چې پر مځکه دوې ټوټې و موښتئ او جنت ته ورسېدئ(۱).

## د جعفر رضي الله عنه کور ته د رسول الله ﷺ راتګ:

چې کله حضرت جعفر رضي الله عنه شهید سو، نو د هغه درې کوچني کوچني بچیان "عون، محمد او عبدالله" پاته سوه. پیغمبر ﷺ ته چې معلومه سوه، نو د "حضرت جعفر رضي الله عنه" کور ته راغلئ، که ګوري حضرت اسماء بنت عمیس رضي الله عنها په کور کي وره اغړې او د هغه بچیان د کور په مابین کي بازي کوي. پیغمبر ﷺ ږغ و کړئ، چې "عون، محمد، او عبدالله" دي راسي، نو درې سره بچیان په منډه راغله، پیغمبر ﷺ په غیږ کي کښېنول، مخ یې یو طرفته کړئ او ژاړي.

(۱) اطفر کرا پایاد صفر ۷۹

حضرت اسماء ﷺ وايي: چي ما کله د پيغمبر ﷺ ژړا وليده، نو زما زړه "دب، دب" شروع کړئ. او زما دا جرئت نه وو، چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړم، چي د جعفر ﷺ خو به يو خبر نه وي راغلئ.

آخر ډېره بې قراره سوم او صبر مي نه سو کولای، را ولاړه سوم د پيغمبر ﷺ مخته ورېدم او و مي ويل:

- ای د الله رسوله! د "جعفر" خو به څه خبر نه وي راغلئ؟
- د پيغمبر ﷺ سترګي د اوښکو ډکي دي، مخ يې را واړوئ او را ته وايي: ﴿إحتسبي فإنه قد ذهب إلى الله﴾ ته لږ صبر و که! حضرت "جعفر" شهيد سوی دئ او د الله پر طرف رخصت سوی دئ.

حضرت "اسماء" وايي: چي زه د کور په غولي کي بې هوښه سوې وم، پيغمبر ﷺ زموږ د کوره څخه وتلی وو،

د دې څخه وروسته چي کله به پيغمبر ﷺ "مديني" ته راتلی، نو اول به يې د حضرت "جعفر" د بچيانو سره پوښتنه او محبت کوئ او د هغه څخه وروسته به يې "حسن او حسين" را طلبول.

## د حضرت عبدالله ابن رواحه ﷺ شهادت:

چي کله د "غزا موتې" په ميدان کي "حضرت عبدالله ابن رواحه ﷺ" جنده پورته کړه او پر آس باندي سپور سو، نو د ده څلور زناني وې، په "مدينه" کي يې ډېر لوی باغونه وه او د "مدينې" په غټو دولتمندو انسانانو کي وو، نو شيطان راغلئ چي ستا هغه زناني او بچيان به چا ته پاته وي؟ او ستا هغه مال او دولت د هغه مالک به څوک وي؟ چي کله شيطان دا وسوسه ور کړه، نو دستي پر هغه ځای ودرېدئ او ټولو زنانو ته يې طلاق ور کړئ او هغه مال، دولت او باغونه يې ټول د الله ﷻ پر نام باندي صدقه کړه. او په جنګ باندي ورګډيږي او د ځانه سره دا اشعار وايي:

أَقْسَمْتُ يَا نَفْسُ لَتَنْزِلِنَّه ... كَارِهَةً أَوْلَتُطَاوِعَنَّه

اى نفسه! زما دي قسم وي، چي ته به نن دې میدان ته ور شوه کېږې او د الله جل جلاله د دښمنانو سره به جهاد کوې، که دي خوښه وي او که دي ناخوښه وي.

إِنْ أَجْلَبَ النَّاسُ وَشَدُّوا الرَّنَّة ... مَالِي أَرَاكِ تَكْرَهِيْنَ الْجَنَّة

که خلک چيغي وهي، نو څه وجه ده چي زه تا وينم، ته جنت د ځان دپاره ناخوښه بولې (يعني په پېش قدمي کي سستي کوې).

قَدْ طَالَمَا قَدْ كُنْتِ مُطْمَئِنَّة ... هَلْ أَنْتِ إِلَّا نُطْفَةٌ فِي شَنَّة

ډېره زمانه دي په اطمنان او په سکون سره تېره کړه په دې وخت کي په تا څه سوه؟ او ستا څه حقيقت دئ؟ آيا د مور په "رحم" کي يو نطفه نه وې؟

نو ډېر مردانه واره په شجاعت سره پر مخ ور روان دئ تر دې حده پوري چي شهيد سو.

د دې څخه وروسته د حضرت خالد ابن وليد رضي الله عنه پر لاس باندي مسلمانانو بيعت وکړئ او الله تعالى هغوی ته فتح ور نصيب کړه.

نو په دنيا کي د انسان زندگي د امتحاناتو يو داستان دئ، نيک بخته انسان هغه دئ چي هغه د دنيا په زندگي کي په امتحاناتو کي کاميابي حاصله کړه او خپله زندگي يې د محمدرسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابهِ کرامو رضي الله عنهم پر نقشه قدم باندي تېره کړه(۱).

الله تعالى دي موږ او تاسو ته زندگي د پيغمبر صلى الله عليه وسلم او د صحابه کرامو پر نقشه قدم باندي را نصيب کړي. او الله تعالى دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمين يارب العالمين)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ أَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْن.

---

(۱) بصيرت افروز واقعات صفحه ۱۱۸

بسم الله الرحمن الرحيم

اللهم صل على محمد
وعلى آل محمد كما صليت
على ابراهيم وعلى آل ابراهيم
انك حميد مجيد
اللهم بارك على محمد وعلى
آل محمد كما باركت على
ابراهيم وعلى آل ابراهيم
انك حميد مجيد

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الایہ)

# د علم فضیلت

(بیان)

مولوي اطيع الله صاحب
استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ٹاؤن) چمن

ترتيب وتخريج:
مفتي حافظ كليم الله صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلاميه (علامه ٹاؤن) چمن

مكتبه سلطانيه الهاشميه
کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقــــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كـليم الله صـاحـب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشــــاعــت | ثخلــــــــــــــورم |
| تــاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تــعــــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَ نَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَالرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ وَكَانُوا عَلَيْهِ شُهَدَاءَ﴾(۱).

وَقَالَ اللهُ تَعَالٰى فِي مَقَامٍ آخَرَ:

﴿كُونُوا رَبَّانِيِّينَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتَابَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُونَ﴾(۲).

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿مَنْ خَرَجَ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ فِيْ سَبِيلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَرْجِعَ رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَقَالَ: حَدِيث حسن غَرِيب﴾(۳).

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو سامعينو ا د دستار فضيلت مجلس دئ، مشرانو علماء كرامو تاسو ته خپلي وينا گاني پيش كړي، زه هم د منتظمينو د اصرار او تمنا په خاطر يو څو مختصري د دين خبري كوم، الله تعالى دي يې قبولي او مقبولي وګرځوي.
د الله تعالى ډېر لوى احسان دئ او د الله تعالى ډېر لوى فضل او كرم دئ، چي الله تعالى په يو لک څلور ويشت زره زيات او كم انبياؤو كي د محمدرسول

(۱)المائده آيت ۴۴

(۲)آل عمران ۷۹ آيت

(۳)فضائل اعمال للمقدسي حديث ۵۶۳

اللهﷺ په امت کي را پورته کړو، که هر څومره شکرونه وکاږو او هر څومره عبادتونه وکو د الله تعالی د دي یوه نعمت شکر نه هم سو ادا کولای.

حضرت موسی علیه السلام ته الله تعالی په "مصر" کي د "بني اسرائیلو" یو امت ور کړی وو، چي هغه د الله تعالی د ېر نازولی امت وو، ځکه چي الله تعالی به د هغوی د خوراکي دپاره د اسمانه څخه د "من" او "سلوی" په بندوبست کوئ.

یو مرغه به راغلئ د یو سړي و مخته به کښېنستئ او دا به یې ورته ویل: ﴿هَلْ لَكَ تَشْتَهِیْ اِلَیَّ﴾ آیا ستا زما خوړلو ته څه اشتها او شوق سته؟

چي کله به هغه سړي په "نعم" سره جواب ور کړئ، نو هغه مرغه به ورته ویل: ﴿اَوْ مَشْوِیًّا اَوْ مَطْبُوْخًا﴾ آیا د کباب په شکل مي غواړې او که د ښوروا په شکل؟

چي په کم شکل به د هغه سړي فرمائش وو، نو په هغه شکل به هغه مرغه ورته پېښېدئ او ده به خوراک ځني کوئ.

یو طرفته به هغه مرغه خبري ورسره کولې او بل طرفته به ده د خپل خوراک ضرورت ځني پوره کوئ.

چي کله به د ګرمۍ زمانه سوه، نو الله تعالی به د دوی پر سر باندي یخي وریځي او هواګاني چلولې.

او چي کله به د یخنۍ زمانه سوه، نو الله تعالی به په ګرمو هواګانو د دوی کومک او معاونت کوئ.

د دوی چي کم لباس وو، نو هغه به خودکار وو، په هغه کي به زړېدل نه راتلل، په هغه کي به څیري کېدل او خیره نېدل نه را تلل.

بلکي هغه به د جسم سره چلېدئ، چي کله به جسم غټېدئ، نو هغه لباس به خود به خوده ور سره غټېدئ.

او چي کله به جسم کوچنی کېدئ، نو هغه لباس به ورسره کوچنی کېدئ.

حضرت موسیٰ علیه السلام به په دې خپل امت باندې ډېر نازېدئ، کله ناکله به يې د الله جل جلاله په دربار کې دا سوال پېشوئ، چې یا الله! زما د امت غوندې به بل امت په دې کائناتو کې وي؟

یو ځل الله تعالیٰ ورته وايي: اې موسی! تا ته څه معلومه ده، د دې امتو په آخر کې یو امت را روان دئ، چې هغه ته پر دې نورو امتو باندې داسې فضیلت حاصل دئ:

﴿كَفَضْلِيْ عَلٰى اَدْنَاكُمْ﴾ لکه زما فضیلت چې پر یو ادنا ستاسو دئ.

حضرت موسی علیه السلام چونکه د الله تعالیٰ ډېر نازولی پېغمبر وو، کله کله به يې د الله تعالیٰ څخه داسې غوښتنې کولې، چې پېغمبر صلی الله علیه وسلم به ویل: چې دا غوښتنه صرف د حضرت موسی علیه السلام د وس کار دئ.

نو حضرت موسی علیه السلام د الله تعالیٰ په دربار کې خواست کوي:

- یا الله جل جلاله! دا امت ما ته را کړه!
- الله تعالیٰ ورته وايي: تا ته يې نه سم در کولای؛ ځکه هغه زما د محبوب پېغمبر صلی الله علیه وسلم امت دئ، ته ډېر مخته يې او هغه ډېر وروسته را روان دئ.

دوهم سوال حضرت موسی علیه السلام دا کوي:

- یا الله جل جلاله! د دې امت مخونه او څهرې په ما ووینه!
- الله تعالیٰ بیا ورته وايي: چې دا هم نسي کېدای؛ ځکه ستا او د هغه امت په درمیان کې د زرو کلونو زمانه ده.

آخر حضرت موسی علیه السلام وايي چې صرف د دې امت آوازونه په ما واوروه!

نو په "کوه طور" باندې الله تعالیٰ پر دې امت آواز کوي:

﴿يَا اُمَّةَ اَحْمَدَ!﴾ اې د محمد صلی الله علیه وسلم امته! نو ټول امت په جواب کې دا نعره کوي: ﴿لَبَّیْکَ اَللّٰهُمَّ لَبَّیْکَ﴾.

حضرت موسی علیه السلام چې کله دا واورېدل، نو دستي وايي:

- یا الله! د دې امت څومره بهترینه وینا ده! څومره بهترین قول یې دئ! او څومره ښائسته آوازیې دئ!
- الله تعالی ورته وایي: ای موسی چې دا زما هغه بندګان دي، چې د لاس پورته کېدلو څخه مخکې د هغوی دعا اورم او چې کم څوک په کاره نظر ورته وګوري، د هغوی سترګې را کاږم او چې کم څوک د دوی سره مقابله کوي، زه د هغه سره پخپله جنګېږم(۱).

دا د دنیا په لحاظ سره نه ده، چې ستاسو به دا خبره په دماغ کې را ګرځي چې نن سبا مورږ څومره تکول کېږو، نو الله تعالی ولي زمورږ د طرفه زمورږ د دښمنانو سره مقابله نه کوي؟

بلکې دا د آخرت په لحاظ سره ده، لکه یو آیت مبارک کې الله تعالی فرمایي:
﴿إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُوا مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ وَإِذَا مَرُّوا بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ وَإِذَا انْقَلَبُوا إِلَى أَهْلِهِمُ انْقَلَبُوا فَكِهِينَ﴾(۲).

کفار خو به مسلمانانو ته په دنیا کې په ډېر ذلت سره ګوري او پر هغوی باندې به مزاق او مسخرې کوي، چې ما خو دا وکړه او هم مې دا وکړه.

لیکن چې کله یو ورځ دا کافر او مسلمان دواړه مړه سي، نو بیا به داسې ورځ راسي چې مؤمنان به پر تختو باندې ناست وي او پر کافرانو باندې به خاندي او دا به د کافرانو د ژړا ورځ وي او مسلمانان به په دوی باندې استهزا او پسخند وهي.

نو چې الله تعالی پخپله د دې امت د طرفه مقابله کوي، د دې دا معنی نه چې په دنیا کې به وي؛ ځکه دا د را رواني زمانې سره کار لري.

ورنه تاسو نه ګورئ، چې په دنیا کې څومره مقدس صحابه ﷺ خلګو شهیدان کړه؟

(۱) نوادر الاصول في احاديث الرسول الباب في عقاب من غش العرب ص ۳۵۵
(۲) المطففين آيت ۲۹/۳۰/۳۱

لیکن د هغوی قاتلان په خپل طبعي مرګ سره مړه سوه.
نو یو خو د الله تعالی یقینًا ډېر لوی احسان دئ، چي الله تعالی په دې امت کي پیدا کړو.
بیا په دې امت کي الله تعالی مختلفي طبقې پیدا کړي دي، چي د هري طبقې د زندګۍ مقصد جدا جدا دئ، د چا د زندګۍ مقصد تجارت او د چا زندګۍ مقصد زراعت او څوک په نورو مقاصدو پسي سهار ووځي تر ماښامه پوري په هغه کي لګیا وي.
لیکن زما او ستا د ژوندګۍ مقصد الله تعالی د محمدرسول اللهﷺ دین زده کول او نورو انسانانو ته رسول ټاکلی دئ. نو الله تعالی زما او ستا انتخاب په دې ټوله معاشره کي وکړئ د دې بهترین مقصد دپاره، نو پر دې باندي هم که هر څومره د الله تعالی شکر ادا کړو، د الله تعالی د دې احسان شکر نه سو ادا کولای.

## د طالب العلم فضیلت:

څکه حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه فرمایلي دي: کچیري د طالب او عالم نیت صحیح سي، نو د انبیاوو څخه را لاندي د ده څخه افضل ترین انسان په دې کائناتو کي نسته؛ ځکه د پیغمبرﷺ یو داسي حدیث هم راځي:
﴿مَن كَانَ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ كَانَتِ الْجَنَّةُ فِي طَلَبِهِ﴾[1] چي کم سړی د علم په طلب کي روان وي، نو جنت دده په طلب کي وي.
په یو بل حدیث کي داسي هم راځي:
﴿مَنْ خَرَجَ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ حَتَّى يَرْجِعَ رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَقَالَ: حَدِيث حسن غريب﴾[2]

---

[1] کنز العمال حدیث ۲۸۸۴۲
[2] فضائل اعمال للمقدسي حدیث ۵۶۳

چي کم ځوک د علم حاصلولو دپاره د خپل کوره ځخه ووځي، نو تر واپس را تلو پوري د الله ﷻ په لار کي بلل کیږي.
نو چي کله ما او تا د علم په طلب کي روان یو، نو هم الله تعالی لوړ مقام او درجې را کوي.
چي کله د علم د طلب دوران تېر سي او د علماوو په صفو کي شمار سو، نو هم الله تعالی په ډیرو اعزازاتو او اکراماتو سره ما و تا نازوي.

## د عالم فضیلت:

پیغمبر ﷺ په یو حدیث شریف کي فرمایي:
﴿فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِي عَلَى أَدْنَاكُمْ إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ وَأَهْلَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ حَتَّى النَّمْلَةَ فِي جُحْرِهَا وَحَتَّى الْحُوتَ لَيُصَلُّونَ عَلَى مُعَلِّمِي النَّاسِ الْخَيْرَ﴾(۱).
چي د عالم فضیلت پر عابد باندي داسي دئ، لکه د محمدرسول الله ﷺ فضیلت پر یو ادنی امتي باندي.
الله ﷻ، ملائکه او د اسمانو او ځمکو مخلوقات حتی یو میږی په خپله غار کي او ماهی په اوبو کي و عالم ته د خیر دعاګاني کوي.
په یو بل حدیث شریف کي داسي هم راځي:
﴿وَمَجْلِسُ فِقْهٍ خَيْرٌ مِنْ عِبَادَةِ سِتِّينَ سَنَةً﴾(۲).
چي د یو فقیه او عالم او د علم په مجلس کي کښېنستل د انسان دپاره تر شپېته کاله عبادت هم غوره دئ.
په بعضو روایاتو کي لا داسي هم راځي، چي د علم یو باب زده کول د زر رکعته نفلو کولو ځخه زیات فضیلت لري. مثلا د تیمم طریقه زده کول، دا د علم یو باب دئ، د دې پر زده کولو هم تر زر رکعته نفل کولو ډېر فضیلت دئ.

---

(۱) ریاض الصالحین حدیث ۱۳۸۷
(۲) کنز العمال حدیث ۲۸۹۱۷

## د علماوو خوب هم عبادت دئ:

په يو حديث شريف كي راځي، چي حضور اقدس ﷺ فرمايي: ﴿نَوْمُ الْعَالِمِ عِبَادَة نَفَسُهُ تَسْبِيحٌ﴾[1].

يعني د عالم خوب عبادت دئ او د عالم ساه كښل لكه عام سړی چي تسبيح وايي.

په ظاهره خو دا خبره عجيبه معلوميږي، ليكن د يو مثال په ذريعه سره په دې ځان پوه كول اسانه دي.

د دې مثال داسي دئ، لكه يو سړی چي نجار كور ته را ولي او په هغه باندي لرګي كاټول شروع كړي، په دې وخت كي د هغه اره پڅه سي، نو دَی د ارې تېره كولو دپاره كښېني، چي څومره زمانه دَی د ارې تېره كولو دپاره ناسته كوي، هغه هم د ده په مزدورۍ كي شامله وي.

داغه رنګه عالم چي كله د دين كار كوي، نو چي كله دَی ستړی سي او دَی د ستړيا ختمولو دپاره آرام كوي، نو دغه د آرام وخت هم الله تعالى د ده په مزدورۍ كي ور شاملوي.

## د عالم فضيلت پر شهيد باندي:

په يو حديث شريف كي راځي چي د قيامت په ميدان كي به د عالم د قلم سياهي د شهيد پر وينو فضيلت پيدا كوي، لكه حضور اقدس ﷺ فرمايي:

﴿لَمِدَادُ مَا تَجرِي بِهِ أَقلَامُ الْعُلَمَاءِ أَطْهَرُ وَ أَزْكَى مِن دَمِ الشُّهَدَاءِ﴾[2] چي په كم رنګ او سياهي سره د عالم قلم چليږي، نو هغه به د قيامت په ميدان كي د شهيد تر وينو زيات فضيلت پيدا كوي.

---

(1) قرة القلوب في معاملة المحبوب ذكر ما يستحب من القول عند القيام ص ٦٧

(2) نصب الراية الباب بعض الحفاظ و كبار المحدثين من اصحابه.

اوس دا خبره په ظاهره سړي ته عجيبه معلوميږي چي يو طرفته د شهيد وينه ده او بل طرفته د علماوو سياهي ده، ليکن په حقيقت کي په دې کي ډېر حکمتونه دي.

علماوو ليکلي دي، چي عالم ته پر شهيد باندي ډېر فضيلت حاصل دئ؛ ځکه د عالم مثال داسي دئ، لکه د يو بادشاه زوی او د شهيد مثال دا سي دئ، لکه د بادشاه عسکر؛ ځکه دا دين يو بادشاهي ده او د دې بادشاه حضور اقدس ﷺ دئ.

او علماء د هغه وارثان دي، نو د هغو مثال د شهزادګانو دئ.

او مجاهد چونکه د دې بادشاهي حفاظت په توره کوي، نو د هغه مثال د عسکر دئ، نو شهزاده پر فوجي باندي ضرور فضيلت لري، نو عالم پر مجاهد او شهيد باندي فضيلت لري.

بعضي علماؤ د دې دوهم حکمت بيان کړی دئ، چي شهيد کله شهيد سي، نو په خپلو وينو سره مځکه ښائسته کوي، ليکن عالم چي خپل علم سره خور کړي، نو د ده د علمه ځخه انسان ته زينت ور په نصيب سي.

ځکه که چيري انسانانو ته علم نه ورسيږي، بيا خو به حيوانان وي او تر حيوانانو به هم بدتر وي.

انسان خو پر مځکه فضيلت لري، نو هم عالم پر شهيد فضيلت لري.

دريم حکمت علماوو دا بيان کړی دئ، چي شهيد د شهادت ته ځخه مخکي د يو چا سره جنګيږي، نو دَی د خپل مقابل کافر په باره کي دا کوشش کوي چي هغه جهنم ته ورسوي، ليکن کافر پر ده باندي يو داسي وارئ و کړي، چي دی شهيد سي او آخرت ته روان سي.

ليکن د عالم معامله جلا ده، هغه په خپله هم ژوند کوي او نور خلک هم په علم سره ژوندي ساتي.

چنانچه د پيغمبر ﷺ حديث مبارک دئ:

﴿النَّاسُ مَوْتٰی لٰکِن اَهلُ العِلمِ اَحیَاءٌ﴾(۱) انسانان ټول په مثال د مړو دي، ليکن علماء په معاشره کي ژوندي انسانان دي.

## د قيامت په ميدان کي د عالم فضيلت:

په يو حديث شريف کي راځي، چي د قيامت په ميدان کي به يو عالم او يو شهيد پر پُل صراط باندي تيرېږي.
نو شهيد ته به وويل سي: ﴿اُدْخُلِ الْجَنَّةَ﴾ جنت ته ولاړ سه، جنت ستا کور دئ، او د دېره وخته ستا په انتظار دئ.
ليکن چي کله يو عالم تيرېږي، نو هغه ته به فرښتې ووايي:
﴿قِفْ هٰهُنَا وَاشْفَعْ لِمَنْ شِئْتَ﴾ ته دلته ودرېږه چي زړه دي غواړي د هغه شفاعت کوه!
نو د حديث شريف الفاظ دي: ﴿فَقَامَ مَقَامَ الْاَنْبِيَاءِ﴾(۲) نو په دې وخت کي به دی د انبياوو پر مقام باندي قائم سي. لکه څنګه چي انبياء د الله تعالی د بندګانو شفاعت کوي داغه رنګه به عالم باعمله هم د الله جل جلاله د بندګانو شفاعت کوي.

## د علمي سوال فضيلت:

کچيري يو طالب د مجبورۍ په خاطر راسي، يو کور ته ودرېږي او د هغه کوره څخه د "ډيرې" او "وظيفې" غوښتنه و کړي، نو د کور زنانه پخه سوې ډوډۍ خپل خادم يا بچي ته ور کړي، او هغه يې دې طالب ته را وړي.
نو په حديث شريف کي راځي، چي الله تعالی پر دې صدقه باندي د درو کسانو مغفرت کوي.
اول: هغه د کور خاوند چي هغه په خپل محنت سره دا نفقه کور ته را وړې وه.
دوهم: هغه زنانه چي هغې په خپل کور کي دا نفقه پخه کړې وه.

(۱) احياء علوم الدين الباب فضيلة العلم صفحه ۷
(۲) کنز العمال حديث ۲۸۶۸۸

دريم: هغه خادم يا بچى چي هغه دا نفقه تر طالبه پوري را ورسوله.
نو د نبي اكرمﷺ حديث مبارک دئ: چي د الله رب العزت رحمت څومره لوی دئ، چي هغه په اجر او ثواب كي زموږ خادمان او بچيان هم شامل كه.
يو هغه سائل دئ، چي د علم پوښتنه كوي؛ ځکه د پيغمبرﷺ حديث دئ: ﴿شفاء العيّ السؤال﴾(۱) چي جهالت يو بيماري ده او د دې بيمارۍ شفا په پوښتنه کولو كي ده.
په يو بل حديث شريف كي هم داسي راځي چي حضور اقدسﷺ فرمايي:
﴿حُسْنُ السُّؤَالِ نِصْفُ الْعِلْمِ﴾(۲) ښه پوښتنه كول، نيم علم دئ.
او په قرآن كريم كي هم راځي، الله تعالى د پوښتني حكم كړى دئ؛
﴿فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾(۳).
كچيري تاسو په څه نه پوهېږي، نو تاسو د علماوو څخه پوښتنه كوئ!
ددې څخه دا معلومېږي، چي په شريعت كي علمي سوال پوښتل د الله تعالى خوښ عمل دئ. البته سوال براى سوال بايد انسان نه و كړي.
حضرت علي رضي الله عنه فرمايي:
﴿اَلْعِلْمُ خَزَائِنُ فَسَلُوا يَرْحَمُكُمُ اللهُ فَإِنَّهُ يُؤْجَرُ فِيهِ أَرْبَعَةٌ﴾ تاسو سوال كوئ، الله تعالى دې پر تاسو باندي رحم و كړي؛ ځکه چي پر علمي سوال باندي الله تعالى د څلورو كسانو مغفرت كوي:
﴿اَلسَّائِلُ وَالْمُعَلِّمُ وَالسَّامِعُ وَالْمُحِبُّ لَهُمْ﴾(۴) اول هغه بنده دئ چي پوښتنه كوي.
دوهم هغه بنده دئ چي هغه د سوال جواب ور كوي.
دريم هغه بنده دئ چي دا سوال او جواب اوري.

(۱) ابو داؤد حديث ۳۳۶
(۲) كنز العمال حديث نمبر ۲۹۲٦۲
(۳) النحل ايت ۴۳
(۴) كنز العمال حديث نمبر: ۲۸٦۹۲

او ځلرم هغه بنده دئ چي د دې سوال کولو او جواب کولو والا سره محبت ساتي. نو د علم د سوال په صدقه الله تعالیٰ د اورېدونکي او محبت کونکي دواړو مغفرت کوي. نو د علم مشغله په دنیا کي د بهترینو مشغلو څخه ده، چي کم چا ته الله تعالیٰ د علم مشغله په نصیب ور کړه، هغه نېک بخته انسان دئ.
په دنیا کي به هم د عزتونو مالک وي او د قیامت په میدان کي به هم الله تعالیٰ لوړي درجې ور نصیب کوي.

## د خپلو بچیانو اصلاح کول:

نو دې عامو مسلمانانو ته دا وایو، چي د خپلو بچیانو اصلاح و کړئ! او د خپلو بچیانو ښه تربیت و کړئ! او د هغوی د قرآن کریمه سره شناخت پیدا کړئ! او د هغوی توجه د قرآن کریم و طرفته را وګرځوئ!
چي کم بچی ته الله تعالیٰ د قرآن کریم په شغل کي زندګي ور کړي او هغه ژوند د قرآن کریم په شغل کي تېر کړي، نو هغه بچی په دنیا کي هم د مور او پلار دپاره د راحت او هوسایۍ ذریعه ګرځي او د قیامت په میدان کي به هم د مور او پلار دپاره د شفاعت ګر په شکل کي پېښیږي.

## د حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه وقف کېدل:

په تیرو دورو کي به مور او پلار د خپلو بچیانو تربیت کوئ او خپل بچیان به یې د دین دپاره وقف کول. وقف دا معنی چي بیا به یې د هغه بچي څخه د دین د خدمته بغیر بل خدمت نه اخیستئ.
حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه په خپل دور کي اوه کلن یا اته کلن بچی دئ، نو خپلي مور ته وایي: موري! ما د الله جل جلاله پر نام باندي د دین د خدمت دپاره وقف که!

مور يې يوه بوډۍ او کونډه زنانه ده، صرف دغه يو بچی لري چي د هغه نوم سفيان دئ. چي کله بچي د وقف کېدلو غوښتنه و کړه، نو مور ورته وايي: څه بچيه! زما د طرفه د الله ﷻ پر نام باندي وقف يې.

او بچيه! نور ما ته و الله ﷻ ته ور کړی يې، چي ته به د الله ﷻ د دين د خدمته بغير بل څه نه کوې.

حضرت سفيان ثوري رحمة الله عليه د کوره څخه د دين د زده کړي په نيت باندي را ووتئ، يو کال نه راغلئ، دوه کاله نه راغلئ، پنځه و لس کاله نه راغلئ، هغه بوډۍ زنانه په هغه کور کي يواځي شپې تېروي.

نولس کاله بعد حضرت "سفيان ثوري" د علم د زده کړي څخه بعد د کور پر طرف را روان سو، مکې مکرمې ته چي راغلئ، نو د شپې وخت دئ او تياره ده.

چي کله کور ته راغلئ، د شپې وخت دئ او ډېره زمانه تېره سوې ده، نو د خپل کور درک نه ور معلومېږي، خو آخر د ډېره مشکله څخه بعد يې د خپل کور لار معلومه کړه او راغلئ، دروازې ته ودرېدئ او دروازه يې وټکوله.

هغه بوډۍ مور خپله لکړه را واخيسته او دروازې ته راغله، نو ورته وايي:

- بچيه! څوک يې چي په دې وخت کي دروازه ټکوې؟

- نو دی د دباندي څخه ورته وايي: موري! ستا بچی "سفيان" راغلی يم.

تاسو اندازه ولګوئ، چي د يو زناني يو بچی وي او هغه هم نولس کاله بعد د شپې په وخت کي د هغې کور ته راسي، نو د هغه مور به کم جذبات وي.

ليکن هغه مور د دروازې څخه دننه ورته وايي: بچيه! ما خو ته الله ﷻ ته ور کړئ وې، ما د دين دپاره وقف کړی وې او په وقف سوي شي کي رجوع کول دا د غيرته څخه خلاف دئ، ولاړ سه د دين خدمت و که! زما او ستا ملاقات به د قيامت په ورځ باندي کېږي.

او هغه د عربي ادب مشهوره جمله ور پېښوي:

چي ﴿أَمَّا اللِّقَاءُ فِيْ يَوْمِ اللِّقَاءِ﴾ بچیه! ملاقات به د ملاقات په ورځ وي. يعني چي کمه ورځ د قيامت په ميدان کي د محمدرسول اللهﷺ په مخ کي ملاقات وي، نو په هغه ورځ به زما او ستا ملاقات سره کيږي.

نو هغه زناني هغه بچي ته دروازه ور خلاصه نه کړه او په هغه توره شپه کي يې هغه بچي د دروازې څخه دباندي رخصت کړئ او کور ته يې را داخل نه کړئ.

تاسو په سوچ کي دا را ولی چي د هغي زناني به د دې خپل بچي رنګ په زړه کي په کم شکل پر له ګرځېدئ، د هغې زناني شپه به څنګه تېره سوې وي او د هغي زناني ورځ به څنګه تېره سوې وي، بيا تر مرګه پوري هغه زناني د هغه خپل بچي شکل و نه ليدئ([1]).

## د سفيان ثوري رحمة الله عليه د الله تعالى سره تعلق:

په مکه مکرمه کي حضرت سفيان ثوري رحمة الله عليه د "ابو جعفر منصور" چي د وخت حاکم وو د مظالمو خلاف فتوی ور کړه.

"ابو جعفر منصور" خپل حکومت ته امر ور کړئ چي زه "مکې" ته راځم، دار تياره کړئ! زه به "سفيان ثوري" ته داسي فانسې ور کوم، چي د ټولي علاقې دپاره عبرت سي او آئنده د بادشاه په مخ کي څوک رکاوټ جوړ نه سي.

نو د "مکې مکرمې" په حرم کي د حضرت سفيان ثوري رحمة الله عليه دپاره "سولی" او "دار" تياريږي او پر هغه باندي کار شروع دئ.

دی د "بيت الله" په "حطيم" کي بيده دئ او د خپل شاګرد فُضيل بن عياض رحمة الله عليه پر څنګانه يې سر ايښی دئ.

يو بل عالم "سفيان ابن عيينه" ورته راغلئ او ورته وايي؛

- سفيانه! تښته خپل ځان بچاو که! "ابو جعفر منصور" به داسي فانسې در کوي چي د ټولي علاقې دپاره به دي عبرت کړي.

([1]) بيانات جميل جلد ۱ صفحه ۴۲۴

- ده مبارک سر راپورته کړئ، سترګي يې د خوبه ډکي دي او هغه ته وايي: ﴿أَوَ قَد فَعَلَ ذَالِكَ؟﴾ آيا واقعي "ابو جعفر منصور" ما ته د پانسي را کولو امر کړی دئ؟
- "سفيان ابن عيينه" ورته وايي: چي ته راسه وګوره په حرم کي ستا د پانسي دپاره سولۍ دريږي.

دَی نور هيڅ نه وايي، د "بيت الله" پر کنج را وګرځېدئ -او د "بيت الله" د دروازې او د "حجرِ اسود" په درميان کي چي د "بيت الله" کمه حصه ده، دې ته "ملتزم" وايي– "ملتزم شريف" ته ودرېدئ.

په حديث شريف کي راځي، چي کم سړی پر "ملتزم" باندي لاسونه کېښږدي او خپل حاجت وغواړي، نو هغه داسي دئ، لکه يو سړی چي د خپل حاجت غوښتلو دپاره د الله جل جلاله په لمن پوري ونښلي.

نو حضرت سفيان ثوري رحمة الله عليه پر "ملتزم شريف" باندي لاسونه کېښېښول او وايي: ای الله! که تا "ابو جعفرمنصور" مکې ته را پرېښوئ، نو زما او ستا په مابين کي به دوستي ختمه وي، نو په خپله دوستي سره پر الله تعالى باندي ناز کوي.

ابو جعفر منصور چي کله را روان سو، مکه خو څه کوې، طائف ته را رسېدل هم الله جل جلاله په نصيب ور نه کړه([1]).

د طائف څخه مخکي د "جحون" پر مقام باندي د هغه د سوارلۍ يعني مرکب پښه وښويده او تر داسي غرونو ولوېدئ، چي تر ننه پوري د هغه ظالم او جابر قبر چا نه دئ ليدلی.

---

([1]) السيرة الحلبية جلد: ١ صفحه ٢٩٦

## د بایزید بسطامي رحمة الله علیه وقف کېدل:

چنانچه په دنیا کي چي څومره مشهوري هستیاني تیري سوي دي، که تاسو د هغو د زندګی حالات وواياست، نو اکثر او بیشتر د هغه تر شا د هغوی د مور او پلار شخصیت معلومیږي.

چي هغه مور او پلار په ماشوم والي کي د خپل بچي ښه تربیت کړی وي، د بایزید بسطامي رحمة الله علیه په باره کي مشهوره ده، چي د ده د ماشوم والي په وخت کي پلار وفات سو او مور دا خپل بچی د علم زده کولو دپاره د قاري صاحب و مخته کښېنوئ.

او ورته وايي: دا بچی ژر مه را ایله کوه؛ ځکه په کور کي څوک نسته چي د ده تربیت وکړي.

چناچه قاري صاحب یو څه زمانه د ځانه سره وساتئ یوه ورځ د ده زړه و غوښتل چي مور ته ولاړ سم او خپله مورووینم، نو د قاري صاحب څخه یې چیتی واخیسته او کور ته راغلئ.

چي کله یې دروازه ور وټکوله، نو موریې دننه اودس کوي، هغې وپېژندئ چي "بایزید" را غلی دئ، دروازې ته راغله او د دروازې څخه دننه پوښتنه ځني کوي او ورته وايي:

- بچیه! څوک دروازه ټکوي؟
- نو دی ورته وايي: موري! بایزید یم.
- مور په جواب کي ورته وايي: یو خو زما "بایزید" هم وو، هغه خو ما د الله ﷻ د دین دپاره وقف کړی دئ، ته څوک یې؟

چي کله د مور دا الفاظ هغه واورېده، نو په دې پوه سو چي زما مور زما څخه څه غواړي؟ چنانچه واپس را وګرځېدئ او مدرسې ته راغلئ او بیا هغه وخت کور ته واپس راغلئ چي د وخت "بایزید بسطامي" ځني جوړ سوی وو(۱).

(۱) دین دنیا اور اللہ کی رضا صفحہ ۲۴۰

نو په هغه وخت کي میندو د خپل اولاد په داسي شکل تربیت کوئ.

## اصل کمال د مور دئ:

خواجه معین الدین اجمیري رحمة الله علیه د "بغداد" په دوره راغلئ، اویا لکه انسانانو د ده پر لاس باندي د گناهو څخه توبه و کښله او اوه لکه هندوانو د ده پر لاس باندي اسلام قبول کړئ.

چي کله د "بغداد" څخه واپس راغلئ، نو ډېر خوشحاله دئ، مور ورته وایي:

- بچیه! په څه وجه دومره خوشحاله یې؟
- دی ورته وایي: موري! خوشحاله په دې یم چي الله تعالیٰ ما ته داسي سعادت را کړئ چي زما پر لاس نن په لکونو انسانان د گناهو څخه توبه کاږي او په لکونو انسانان اسلام قبلوي.
- موریې ورته وایي: بچیه! دا ستا کمال نه دئ، دا زما کمال دئ.
- دی وایي: موري! خبره خو دي صحیح ده، لیکن لږ سر په دې را خلاص که، چي ستا کمال څنگه دئ؟
- مور ورته وایي: بچیه! زما کمال داسي دئ، چي ته کله پیدا سوې، نو ما په زړه کي دا نیت و کړي چي زه به هیڅکله هم بې اودسه تا ته تی نه در کوم، نو ما په ټوله زندگي بې اودسه تی نه دئ در کړی، دا د هغه برکت دئ چي نن ستا پر لاس باندي په لکونو انسانان کلمه وایي(۱).

## د قطب الدین بختیار کاکي رحمة الله علیه حفظ:

هره مور او پلار دا غواړي چي زموږ اولاد دي کامل جوړ سي.

(۱) دین و دنیا، رحمت الله کی رضا صفحه ۲۴۱

چنانچه د هندوستان یو بزرګ خواجه قطب الدین بختیار کاکی رحمة الله علیه چې کله خپلې مور د سبق ويلو دپاره مدرسې ته را واستئ، نو استاذ ورته وايي: الف، با، تا، ثا، نو ده د "الم ذٰلِكَ الْكِتٰبُ" څخه قرآن کريم شروع کړئ او خپل استاد ته يې پنځلس سپارې د يادو څخه واورولې.

استاد ورته وايي: بچيه! ستا مور په ما باندې مذاق کوئ، نو هغه استاد د ده کور ته راغلئ او ورته وايي:

- ای مورې! دا تا څنګه بچی را وستئ چې زه و ده ته د سره څخه سبق ور شروع کړم، ستا بچې خو د پنځلسو سپارو حافظ دئ؟
- مور يې ورته وايي: قاري صاحب! زما بچې تر اوسه سبق نه دئ ويلی، صرف وجه دا ده چې ما به کله ده ته تی ور کوئ، زه د قرآن حافظه وم، نو ما به د قرآن شريف تلاوت کوئ.

او د بچي ذهن چونکه ډېر صفا وي، نو هغه زما د تلاوته څخه د ده پر دماغ باندې دا قرآن نقش سوی دئ، ورنه يقيناً هم زما بچې تر اوسه سبق نه دئ ويلی.

## د قطب الدين بختيار کاکی رحمة الله علیه تربيت:

قطب الدين کاکي چې کله پيدا سوؤ نو مور او پلار يې په خپل دزميان کې دا مشوره و کړه، چې د دې خپل بچي به ښه تربيت کوو، چې د ماشوم والي څخه د ده په زړه کې د الله تعالیٰ محبت کښېني.

چې کله يو څه غټ سو، نو د سبق ويلو دپاره مدرسې ته ځي، نو مور يې يو ترتيب شروع کړئ، هغه دا چې د خپل بچي خوراکه به يې برا بره کړه او د خپلې خونې په يو کنج کې به يې پټه کښېښوله، چې کله به بچی د مدرسې څخه راغلئ، نو ويل به يې:

- مورې! اوږی يم، ما ته خوراکه راکړه!

- مور به ورته ویل: بچیه! مور ته هم خوراکه الله ﷻ را کوي او تا ته به یې هم الله ﷻ درکړي، ته یې د الله ﷻ څخه وغواړه!
- بچي ورته وایي: موري! څنګه یې وغواړم؟
- دا ورته وایي: بچیه! مسئله هواره که، دوه رکعته لمونځ و کړه، قبلې ته مخامخ کښېنه، لاس پورته که او دعا وغواړه چې ای الله ﷻ! زه د مدرسې څخه راغلم وږی او تږی او ستړی یم ما ته خوراکه راکه!

چې کله یې دا عمل و کړئ، نو د موره څخه بیا پوښتنه کوي:
- اوس نو څه وکړم؟
- مور ورته وایي: په دې خونه کې پسې ورګرځه! شاهد یو ځای به الله ﷻ تا ته خوراکه ایښې وي.

دی چې کله لږ وګرځېدئ، نو هغه خوراکه یې پیدا کړه او ویې خوړله.
او دا یې روزانه د خپل ځان معمول جوړ کړئ، چې کله به د مدرسې څخه راغلئ، نو د الله څخه به یې خوراکه غوښته او په دغه شکل به د ته ملاوېده.
اوس کرار کرار د بچي په زړه کې د الله ﷻ محبت زیاتېدئ.
هغه به کله ناکله د موره څخه دا پوښتنه کوله، چې الله تعالی څومره ښه ذات دئ چې انسانانو ته هم خوراکه ور کوي، حیوانانو ته هم! او هغه څومره لوی ذات دئ! او د هغه څومره لوی خزانې دي!
نو د بچي په زړه کې د الله تعالی ﷻ د محبت یو تجسس شروع سو.
مور به ډېره خوشحاله وه، چې زما د بچي په زړه کې د الله تعالی محبت ورځ تر بله زیاتیږي.
کله به یې ویل: موري! مور به کله د الله تعالی سره یو ځای سو؟ الله تعالی څومره بهترین ذات دئ! او څومره محبوب ذات دئ! او داسي خبري به یې کولې.

د الله تعالیٰ شان وګورئ! یوه ورځ یې مور د خپلو قربانو کره تللې ده او هلته وځنډېدله چې کله د وخت احساس ورته وسو، نو حیرانه سوه چې ما خو نن د بچي نفقه د کور په کونج کې نه ده ایښې، نو هغه بچي به نه څه خوړلي وي او نه به یې چیښلي وي. نو په منډه باندې واپس راغله او د بچي د خوراکې وخت ډېر تېر سوی وو، چې کور ته را ننوته ورته وایې:

- بچیه! خوراکه دې وخوړله؟
- هغه بچی په جواب کې ورته وایې: چې بس الله تعالیٰ خوراکه راته ایښې وه، هغه مې وخوړله.

د هغه بچي یقین د الله تعالیٰ پر ذات باندې داسې جوړ سو، چې د مور د خوراکې ایښولو بغیر به الله تعالیٰ د غیبو څخه د هغه د خوراکې بندوبست کوئ. دا د هغه د مور او پلار د تربیت نتیجه وه(۱).

نو د مور او پلار دپاره په کار دا دي، چې د ماشوم والي د زمانې څخه د خپلو بچیانو ښه تربیت وکړي او د هغوی توجه د دین خواته را وګرځوي او د دین او قرآني تعلیماتو سره یې اشنا کړي.

الله تعالیٰ دې مور ته د بچیانو د ښه تربیت کولو توفیق را کړي. الله تعالیٰ دې دا څو خبرې په خپل دربار کې قبولې او مقبولې وګرځوي. (آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ أَصْحَابِهٖ أَجْمَعِيْن.

(۱) ایک دن بہار اور عطر کی رضا صفحہ ۲۴۱

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝۲ الرَّحْمٰنِ
الرَّحِيْمِ ۝۳ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۝۴ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ
اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۝۵ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ
الْمُسْتَقِيْمَ ۝۶ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۵ غَيْرِ
الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۝۷

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآية)

# د استسقاء بيان

(بيان)

مولوي اطيع الله صاحب

استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

ترتيب وتخريج:

مفتي حافظ كليم الله صاحب (فاضل دار العلوم كراچی)

استاذ جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

مكتبه سلطانيه الهاشميه

كانسی روډ كوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صـاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | ځلــــــــــــورم |
| تـاريــــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَ نَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ إِنَّ الَّذِينَ يَكْسِبُونَ الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا يَقْتَرِفُونَ﴾(١).

﴿عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ لَهُ رَجُلٌ: رَجُلٌ قَلِيلُ الْعَمَلِ قَلِيلُ الذُّنُوبِ أَعْجَبُ إِلَيْكَ، أَوْ رَجُلٌ كَثِيرُ الْعَمَلِ كَثِيرُ الذُّنُوبِ؟ قَالَ: لَا أَعْدِلُ بِالسَّلَامَةِ﴾(٢).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّه رَبِّ الْعَالَمِيْن.

## تمهيد:

محترمو مشرانو! د استسقاء ميدان دئ او د الله تعالیٰ څخه د مغفرت او رحمت طلبولو موقع ده، د منتظمينو د امتثال او تعميل په خاطر يو څو د دين خبري کوو، الله تعالیٰ دي قبولي او مقبولي وګرځوي.

استسقاء عربي لفظ دئ د دې معنی ده "طَلَبُ السُّقْی" يعني باران غوښتل، چې کله پر انسانانو باندي قحطي راسي او باران بند سي، نو د پيغمبرﷺ سنت طريقه دا ده چې انسانان به يو "دښت" ته را وزي او هلته به د خپلو ګناهو څخه توبه کاږي.

عبادت به کوي، الله تعالیٰ ته به خپله عاجزي ښکاره کوي او د الله تعالیٰ څخه به طلب د باران کوي.

---

(١)الانعام آيت ١٢٠

(٢)کتاب الزهد لابن مبارک باب ما جاء في تخويف عواقب الذنوب

## الله تعالی باران ولې بندوي؟

د ټولو څخه مخکې په دې خبره سر خلاصول ضروري دي، چې الله تعالی پر انسانانو باندې باران ولې بندوي؟

ځکه دا مخلوق او انسانان خو داسې دئ لکه د الله تعالی عيال، او د الله تعالی د دوی سره محبت دئ.

او پيغمبر ﷺ فرمايي: چې کله بل څوک د ده د مخلوق سره نېکي کوي، نو هغه الله تعالی ته محبوب وي.

ځکه حديث شريف دئ:

﴿الْخَلْقُ عَيَالُ اللّٰهِ، فَأَحَبُّ النَّاسِ إِلَى اللّٰهِ مَنْ أَحْسَنَ إِلَى عِيَالِهِ﴾(۱).

چې مخلوق د الله تعالی عيال دئ، چې کم څوک د ده د عياله سره احسان کوي، نو الله تعالی ته هغه محبوب وي.

چې کله د مخلوق سره د احسان کولو په وجه باندې يو څوک الله تعالی ته محبوب ګرځي، نو په خپله مخلوق به الله تعالی ته څومره محبوب وي او د مخلوق سره به د الله تعالی په کم قسم محبت وي!

اوس دا سوال ذهن ته راځي چې کله مخلوق الله تعالی ته محبوب دئ، نو بيا ولې الله تعالی د باران په بندېدو سره پر دې محبوب مخلوق باندې تکليف را ولي؟

## د باران نه اورېدلو وجه:

چې کله د مخلوق اعمال د الله تعالی د حکم او د پيغمبر ﷺ د سنت طريقې خلاف سي، نو بيا الله تعالی د دې مخلوق د اصلاح کولو دپاره پر مخلوق باندې تکليف کنېږدي.

(۱)البر والصلة لابن الجوزي حديث ۴۲۴

په دې اراده باندي چي مخلوق بیرته د الله تعالیٰ د نافرمانۍ څخه مخ را واړوي او خپله زندګي د الله تعالیٰ پر احکامو او د پیغمبرﷺ پر طریقه باندي روانه کړي، لکه په قرآن کریم کي راځي:

﴿وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ إِنَّ الَّذِينَ يَكْسِبُونَ الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا يَقْتَرِفُونَ﴾(۱).

تاسو به ظاهري او باطني ګناوي ټولي پرېږدئ، کم خلګ چي په ګناهو اخته دي هغه به ډېر ژر د ګناهو سزا ويني.

خو د ګناه د سزا لږ څکه په دنیا کي وي او د دې ګناه د اصلي سزا سره به انسان د قیامت په میدان کي مخامخ کیږي.

لکه الله تعالیٰ د دې خبري تذکره په قرآن کریم کي کوي:

﴿وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَى دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾(۲).

چي زه به په دنیا کي هم په دې انسانانو د خپلو ګناهو د سزا څکه کوم د آخرت د هغه لوی عذاب را تلو څخه مخکي.

زما امید دئ چي دوی به د ګناهونو څخه پرهېز وکړي او زما طرفته به متوجه سي.

نو د باران نه اوربدل د انسانانو د بدعملیو نتیجه ده، او چي کله انسان په ګناهو او بدو اعمالو باندي اخته سي، نو الله تعالیٰ ناراضه سي او د ناراضګۍ علامه يې دا ده چي پر انسانانو باندي تکلیف او تنګي را ولي.

## د الله تعالیٰ د رضا علامې:

چي کله انسان الله تعالیٰ راضي کړي، نو بیا په دنیا کي هم د انسان ټول مشکلات حل کیږي او په آخرت کي هم انسان د کامیابیو سره مخامخ وي.

(۱) الانعام آیت ۱۲۰
(۲) السجدة آیت ۲۱

لکه حضرت عمر ﷺ یو حدیث را نقل کوي، چي صاحب د "کنز العمال" په خپل کتاب کي په (۳۰۸۰۳) نمبر را نقل کړی دئ.

﴿عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخِطَابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: حَدَّثْتُ أَنَّ مُوْسٰى اَوْ عِيْسٰى قال: يا ربُّ! مَا عَلَامَةُ رِضَاكَ عَنْ خَلْقِكَ﴾ حضرت موسٰی علیہ السلام او یا عیسٰی علیہ السلام د الله تعالٰی په دربار کي خواست کوي، چي ای الله! ستا د رضا نښاني او علامې څه دي؟

الله تعالٰی ورته وایي:

﴿أَنْ أَنْزِلَ عَلَيْهِمُ الْغَيْثَ إِبَّانَ زَرْعِهِمْ﴾ یوه علامه د رضا مي دا ده: چي کله د دې مخلوق د کښت او د فصل وخت وي او باران د دوی دپاره فائده مند وي، نو بارانونه باندي اوروم.

په یو حدیث کي داسي هم راځي چي د بارانو د اورېدو دپاره د شپې د وخت انتخاب کوم، چي د ورځي د دوی د ژوند په معمولاتو کي دوی ته تکلیف نه وي.

﴿وَأَحْبِسُ إِبَّانَ حَصَادِهِمْ﴾ او دوهمه علامه دا ده چي کله د دوی د لو او غوبل وخت سي، نو د دوی څخه بارانونه بندوم؛ ځکه چي باران په دې وخت کي دوی ته نقصان رسوي.

﴿وَأَجْعَلُ أُمُوْرَهُمْ إِلٰى حُلَمَائِهِمْ﴾ او د دوی حکومتونه او د دوی د ولایت چاري حلیمو او بردبارو انسانانو ته سپارم چي د هغوی اخلاق هم ښه وي او د هغوی سره د خلکو د مسائلو حل هم وي او د هغوی زندګي د عدل او انصاف یو نمونه وي.

## د بنو امیه د منذر بادشاه د عدل واقعه:

پر "بنو امیه وو" باندي چي په سنه ۱۳۲هـ کي زوال راغلئ او "بنو عباس" پر دوی غالبه سو، د دوی یو نوجوان "عبدالرحمن ابن معاویه ابن ولید ابن عبدالملک ابن مروان" ولاړئ، او په سنه ۱۳۷هـ کي "اسفین" ته چي د یو ملک نوم دئ ورسېدئ او هلته یې دوباره د خپل سلطنت بنیاد کېښېنوئ.

د بنو اميه وو يوه ښاخ پاو کم درې سوه کاله هلته حکومت و کړئ په دوی کي يو بادشاه تېر سو، چي نوم يې "مُنذر" وو د ده زوی را ولاړ سو، يو يهودي يې قتل کړئ.
او زوی يې هم ولي عهد وو او يو زوی يې وو.
مقدمه چي کله عدالت ته راغله، نو د ده کورنۍ پيسې ور کړې او د هغو سره يې صلح وکړه، فيصله وسوه او بادشاه په هيڅ خبر نه دئ.
چي کله هغه دعوه د بادشاه دربار ته راغله او بادشاه په دې باندي خبر سو، نو دستي يې اعلان و کړئ چي سبا به دربارِ عام لګيږي، هغوی ته به خواص هم حاضريږي او عوام به هم حاضريږي.
چي کله دربارِ عام جوړ سو، نو ټوله انسانان راغلي دي، د هغه يهودي وارثان هم حاضر دي او شاهي خاندان هم حاضر دئ، او هغه زوی يې هم موجود دئ، نو "منذر" بادشاه را ولاړ سو او يو ګل يې پرې کړئ.
او بيا يې وويل: زه د ځان دپاره دا بدترينه طريقه نه جاري کوم، چي د بادشاهانو اولاد به د خپل رعيت انسان د حکومت د تکبر په وجه قتل کوي او بيا به د مال او دولت په زور خپل ځان معافوي.
لهذا بطور قاضي القضات زه دغه فيصله کالعدم ګرځوم او د خپل زوی د قتل حکم صادروم.
او د يهودي د ورثوو د طرفه زه په خپله دا فريضه سر ته رسوم، دا يې وويل: د تخته څخه را کښته سو او توره يې د تيکي څخه وکښل او خپل زوی يې د ټوله دربار په مابين کي ودروئ.
ورته وايي: زويه! دا ما ته معلومه ده، چي ستا بغير مور ژوندي نسو پاته کېدای او ستا مور به هم ډېره په تکليف سي، ليکن زه تا د الله تعالی پر شريعت قربانوم او په خپل لاس سره يې په توره د هغه زوی سر په هوا کړئ.

او د هغه په غم کي لړونی سو، دوی هفتي بیده نه سو او په هغه غم کي درېمه هفته پسي مړ سو، نو چي کله د انسانانو په نصیب د الله تعالی رضا وي، نو الله تعالی حکومت داسي حاکمانو ته په نصیب ور کوي.
﴿وَفَيْئَهُمْ فِيْ أَيْدِيْ سُمَحَائِهِمْ﴾ او د دوی مال او دولت به وسخیانو ته ور کوم، چي هغوی به په خپله هم آباد وي او د نورو خلګو د آبادولو فکر او غم به هم ورسره وي.

## د الله تعالی د ناراضګۍ علامي:

﴿قَالَ: يَا رَبِّ! فَمَا عَلَامَةُ السَّخَطِ﴾ د دې څخه وروسته حضرت موسٰی یا عیسٰی علیهما السلام بیا د الله تعالی په دربار کي سوال پېشوي، چي یا الله! ستا د ناراضګۍ علامې څه دي؟
نو الله تعالی ورته وایي:
﴿أَنْ أُنْزِلَ الْغَيْثَ إِبَّانَ حَصَادِهِمْ﴾ چي کله د غوبل او لو وخت وي او باران اورېدل د دوی دپاره نقصان وي، نو په دې وخت کي پر دوی باندي بارانونه اوروم.
﴿وَأَحْبِسَهُ إِبَّانَ زَرْعِهِمْ﴾ او چي کله د دوی د کښت وخت سي او باران ته یې ډېر ضرورت وي، نو په دې وخت کي د دوی څخه بارانونه بندوم.
﴿وَأَجْعَلَ أُمُوْرَهُمْ إِلَى سُفَهَائِهِمْ﴾ او د دوی حکومت او د دوی د ولایت چاري د دوی هغه بې وقوفه انسانانو ته ور کوم.

## د چنګېز خان واقعه:

چنګېز خان چي کله پر سمرقند باندي حمله و کړه، نو اول ښار چي چنګېز خان فتح کړئ په ۶۱۰ھ کي.
نو ده به ویل چي ای خلګو! چي کم څوک الله تعالی مني، نو زه د هغه الله عذاب یم چي تاسو ته یې را استولی یم.

په ځلو ښت کاله کي شپېته یا اویا داسي ښارونه د مځکي ځخه ختم سوه چي په هغه کي د یو یو ښار آبادي د پنځلس لکو ځخه یا تر شلو لکو پوري وه.
په یو بغداد کي په سنه٦٥٦ھ کي پنځلس لکه انسانان قتل سوه.
﴿قُلُوبُهُم قُلُوبُ الذِئَاب وَلِسانُهُم اَحلَى مِن السُكرِ﴾ د هغوی زړونه به د درندګانو وي او د انسانانو عزتونه او مالونه به تار تار کوي، لیکن ظاهرًا ژبي او ویناګاني به يې تر شکرو خوږې وي.
﴿وَلَيَبَهُمْ فِيْ أَيْدِيْ بُخَلَابِهِمْ﴾ او د دوی مالونه به زه و بخیلانو ته ور کوم چي هغه يې نه پر خپل ځان خرڅوي او نه يې پر بل خرڅوي.
نو بارانونه بندېدل د الله تعالیٰ د ناراضګۍ نښاني او علامې دي، ددې ځخه دا معلومیږي چي الله تعالیٰ د دې معاشرې ځخه ناراضه دئ، نو ځکه الله تعالیٰ پر معاشره باندي باران نه اوروي.

## د ګناهو نقصان د باران بندېدل دي:

نو د ګناهو بل نقصان دا دئ چي اصل د ګناه سزا خو به د ګناه په آخرت کي انسان ته ور کول کیږي، لیکن په دنیا کي هم د ګناهو "نحوست" د انسان پر ژوند باندي اثر اچوي.
چنانچه په حدیث شریف کي راځي چي کم خلګ زکوٰة ور کول بند کړي، نو الله تعالیٰ د هغه قومه ځخه باران بند کړي.

## د ناجوړیو پیدا کېدل:

او یو نقصان د ګناه دا هم دئ چي کله خلګ په بد کارۍ فحاشي او عریاني باندي اخته سي، نو الله تعالیٰ پر دې خلګو باندي داسي ناجوړۍ مسلطي کړي چي د دوی پلرو او نیکه ګانو به د هغه ناجوړیو نومونه هم نه وي اورېدلي.

چي کله سړی دا حدیث و مخته کښېږدي نو د "ايډز" ناجوړي ته سړی وګوري "کانګو ويرس" "ډينګي ويرس" چي د دې ناجوړيو څخه په ټوله دنيا کي يو طوفان جوړ دئ.

نبي کريمﷺ څوارلس سوه کاله مخکي ويلي دي چي داسي بيماری به راځي.

نو د هري ګناه يو څه خاصيتونه وي او د هغو خاصيتو ښکاره والی په دنيا کي الله تعالی کوي، چي انسان د ګناه څخه را وګرځي.

## قتل او غارت ګري:

په يو حديث شريف کي دا هم راځي چي په آخره زمانه کي به داسي وخت راسي:
﴿لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَكْثُرَ الْهَرْجُ قَالُوا: وَمَا الْهَرْجُ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: الْقَتْلُ الْقَتْلُ﴾(۱).

چي په معاشره کي به قتلونه او مرګونه زيات سي تر دې حده به زيات وي:
﴿لَايَدْرِي الْقَاتِلُ فِيمَ قَتَلَ وَلَا الْمَقْتُولُ فِيمَ قُتِلَ﴾ چي قاتل به په دې نه پوهېږي چي زه ولي دا قتل کوم او نه به د مقتول وارثانو ته دا معلومېږي چي زموږ قريب پر څه باندي قتل سو.

تاسو نن حالاتو ته ګورئ! چي په کم شکل قتلونه دي او څنګه انسانان مري!
نن که د يو سړي په باره کي د چا څخه پوښتنه وکړې چي دا سړی پر څه مړ سو او چا مړ کړئ، نو د هيڅ چا سره يې جواب نه وي.

داسي معلومېږي لکه پيغمبرﷺ چي څوارلس سوه کاله مخکي د نن حالات ليدل او بيا يې دا حديث بيان کړی دئ، نو دا ټوله زموږ د بد عمليو او د ګناهونو په وجه کيږي او د ګناهو کثرت موږ او تاسو دې حال ته رسولي يو.

---

(۱)مسلم شريف حديث ۱۸

## د قتلونو ختمولو واحده لاره:

نن سبا خلک د دې فسادونو او قتلونو په مختلفو طريقو سره ختمول غواړي.
ځوک وايي چې سياسي لاره دې ورته انتخاب سي.
ځوک وايي چې په خپل مابين کي دې مذاکرات وسي.
او دا ټوله تدبيرونه خلک تلاښوي، ليکن انسانانو ته دا معلومه نه ده چې د دې فساداتو اصل سبب په معاشره کي د گناهونو ډېر والى دئ.
چي کله په يو معاشره کي گناهونه زيات سي، نو الله تعالى د دوى د بد عمليو په وجه پر دوى دا حالات را ولي.
نو ښه خبره دا ده چې دې طرفته لږ توجه وکړو.
الله تعالى دي موږ ته عقل سليم په نصيب را کړي او الله تعالى دي د گناهونو پرېښولو توفيق را کړي.
نو د ټولو ځخه مخکښې زموږ دپاره عمل کول ضروري دئ، چې موږ د خپلو گناهونو ځخه توبه وکاږو او د الله تعالى سره صلح وکړو.
او د الله تعالى په دربار کي دا درخواست پېش کړو چې يا الله! زموږ د خپلو اعمالو دا نحوستونه او تکليفونه زموږ ځخه ليري که! نور موږ د دې اعمالو ځخه توبه کاريو.

## د توبې شرائط:

علامه آلوسي رحمة الله عليه په تفسير روح المعاني د "سورة تحريم" د اوم (۷) نمبر آيت لاندي د توبې دپاره درې شرطونه ليکلي دي:

١. اول شرط ﴿احدُها: أن يقلع عن المعصية﴾ چي په کمه گناه انسان اخته وي، هغه به ځای پر ځای پرېږدي. دا نه چې دلته خو انسان توبه وکاږي، ليکن چې د دې ځای ځخه ولاړ سوى نه وي، بيا په گناه کي مبتلاى وي، دا په حقيقت کي توبه نه بلل کيږي.

مولانا روم رحمة الله علیه فرمايي:

سبحه در کف توبه بر لب دل پر از شوق گناه... این معصیت را خنده می آید بر استغفار ما

نو دې توبې ته اعتبار نه وي چې په خوله باندي سړی استغفار او توبه طلبوي، ليکن زړه یې د گناه، وسوسو او خيالاتو څخه ډک وي.

۲. دوهم شرط ﴿والثاني: أنْ يَنْدَمَ عَلَى فِعْلِهَا﴾ چې پر دې گناه به انسان د الله تعالٰی په دربار کي ندامت او پښېماني کوي او الله تعالٰی ته به په عجز او په زاریو باندي عذر پېشوي، چې يا الله! ناپوه وم. ستا نافرماني را څخه وسوه، يا الله! ته یې را معاف کړې.

د گنهکاره بنده ندامت او پښېماني الله تعالٰی ته ډېر خوښ عمل وي، ځکه د پيغمبر ﷺ حديث قدسي مبارک دئ چې الله ﷻ فرمايي:

﴿لَأَنِينُ الْمُذْنِبِينَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ زَجَلِ الْمُسَبِّحِينَ﴾(١).

د گنهکاره د توبې کښلو په وخت کي ځګېروی، ما ته د عبادت کونکو تر شر وشور محبوب دئ.

او داغه رنګه پيغمبر ﷺ فرمايي:

﴿لَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَى اللهِ تَعَالَى مِنْ قَطْرَتَيْنِ وَأَثَرَيْنِ: قَطْرَةُ دُمُوعٍ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ، وَقَطْرَةُ دَمٍ تُهْرَاقُ فِي سَبِيلِ اللهِ﴾(٢).

الله تعالٰی ته دوه څاڅکي ډېر محبوب دي يو د گنهکاره د اوښکو څاڅکی چې د توبې کښلو په وخت کي د هغه تر سترګو راسي او بل د شهيد د وينو څاڅکی چې د الله د دين د حفاظت د پاره تویږي.

مولانا روم رحمة الله علیه فرمايي:

که کند شاه مجید... اشک را در وزن با خون شهید

---

(١) روح المعاني تفسير سورة القدر آيت ١-٥

(٢) رياض الصالحين حديث ۴۵۵

الله جَلَّجَلَالُهُ هغه ذات دئ چي د ګنهګاره د اوښکو څاڅکي د قيامت په ميدان کي د شهيد د وينو سره برابروي.

نو د پښېماني اوښکي کله انسان د ډېري ادنٰى درجې څخه و ډېري اعلٰى درجې رسوي.

۳. دريم شرط: ﴿والثَّالثُ: أنْ يَعْزِمَ أنْ لَا يَعُوْدَ إلَيْهَا أبَدًا﴾ چي انسان به د ځانه سره کلکه فيصله کوي، چي آئنده به بيا زه دې ګناه ته نه ور نږدې کېږم.

ليکن چونکه شيطان د انسانه سره د وينو پر ځاى په رګو کي روان دئ، نو انسان به ضرور دوکه کوي.

کچيري انسان د شيطان په دوکه سره بيا په ګناه کي اخته سو، نو بيا دي توبه و کاږي، که هر څو واره د انسانه څخه ګناه وسي، بيرته دي د پښېماني په شکل د الله جَلَّجَلَالُهُ و دربار ته رجوع و کړي؛ ځکه د الله جَلَّجَلَالُهُ دربار د نااميدى دربار نه دئ، لکه يو شاعر چي وايي:

باز آ باز آ هر آن چه هستى باز آ ... گر گبر آتش فرستى باز آ
اين درگهِ ما درگهِ نااميدى نيست ... صد بار گر توبه شکستى باز آ

نو د الله جَلَّجَلَالُهُ دربار د نا اميدى دربار نه دئ، کچيري د انسانه څخه توبه ماته سي، نو بيرته دي د الله جَلَّجَلَالُهُ و دربار ته رجوع و کړي.

نو چي کم چا دا درې شرطونه پر ځاى کړل، نو هغه يقيني توبه و ايستـه او د ګناهو څخه صفا سو.

بيا به يقينًا الله تعالٰى د ده دعاء قبلوي او د ده پر دعاء باندي به الله تعالٰى د آسمانه څخه بارانونه اوروي.

## د بني اسرائیلو د یو گنهگار توبه:

﴿وَرُوِيَ أَنَّهُ لَحِقَ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ قَحطٌ عَلٰى عَهْدِ مُوْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ فَاجْتَمَعَ النَّاسُ إِلَيْهِ فَقَالُوْا: يَا كَلِيْمَ اللّٰهِ أُدْعُ لَنَا رَبَّكَ أَنْ يَسْقِيَنَا الْغَيْثَ فَقَامَ مَعَهُمْ وَخَرَجُوْا إِلَى الصَّحْرَاءِ وَهُمْ سَبْعُوْنَ أَلْفًا أَوْ يَزِيْدُوْنَ فَقَالَ مُوْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ إِلٰهِيْ اِسْقِنَا غَيْثَكَ، فَمَا زَادَتِ الشَّمْسُ إِلَّا حَرَارَةً﴾.

په بني اسرائیلو کي یو ځل بدترینه قحطي راغله او ټول خلک په واویلا سوه، بني اسرائیل حضرت موسیٰ علیه السلام ته راغله او دا تمنا يې پېش کړه چي ای موسیٰ! ته دعاء و که چي الله تعالیٰ قحطي لیري کړي.

موسیٰ علیه السلام اویا زره کسان د استسقاء دپاره را ویسته، لمونځ يې و کړي او په دعا شروع سوه چي یا الله! پر موږ باران و که! الله تعالیٰ ورته وایي: ای موسیٰ! ﴿إِنَّ فِيْكُمْ رَجُلًا يُبَارِزُنِيْ بِالْمَعَاصِيْ مُنْذُ أَرْبَعِيْنَ عَامًا﴾ په تاسو کي یو سړی دئ چي هغه د څلوېښتو کالو څخه یوه نېکي هم نه ده کړې، د څلوېښتو کالو څخه زما مقابله کوي او زما په نافرماني کي شروع دئ، د هغه په وجه مي باران درولی دئ.

او ده ته دا ووایه چي د مجمع څخه دباندي ووځه! د هغه څخه وروسته به بیا پر دې مجمع باندي باران کیږي.

حضرت موسی علیه السلام پر مجمع باندي ږغ کوي او الله تعالیٰ د ده آواز په ټوله مجمع کي په ملائکو سره رسوي او وایي:

﴿يَا مَنْ عَصَى اللّٰهَ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً﴾ ای بد بخته انسانه! چي څلوېښت کاله دي د الله تعالیٰ نافرماني کړې ده اوس زموږ د مجمع څخه ووځه! چي پر موږ باران وسي.

نو هغه سړي ته خو معلومات وسوچي ما یادوي او بل هیڅ چا ته معلومه نه وه چي دا څوک دئ، نه الله تعالیٰ دا ښکاره کړې وه، چي دا فلانی سړی دئ.

﴿فَقَامَ الْعَبْدُ الْعَاصِيْ فَنَظَرَ ذَاتَ الْيَمِيْنِ وَذَاتَ الشِّمَالِ فَلَمْ يَرَ أَحَدًا خَرَجَ فَقَالَ فِيْ نَفْسِهِ: إِنْ أَنَا خَرَجْتُ اِفْتَضَحْتُ عَلٰى رُؤُوْسِ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ وَإِنْ قَعَدْتُ مَعَهُمْ مُنِعُوْا لِأَجْلِيْ فَأَدْخَلَ رَأْسَهُ فِيْ ثِيَابِهِ﴾

نو گنهگاره ولاړ سو، یو طرف او بل طرف ته يې و کتل چي کله د مجمع څخه څوک نه ووتئ، نو د ده یقین سو چي مراد زه یم.

نو د ځانه سره وايي: که اوس وځم، نو رسوا کېږم او که نه وځم، نو زما په وجه باران بند دئ.

نو باره يې سر په دې خپلو جامو کي پټ کړئ او د الله تعالى سره يې د صلح اراده وکړه او د پښېمانۍ اوښکي يې تر سترګو را ويستې، نو وايي:

﴿عَصَيْتُکَ اَرْبَعِينَ سَنَةً فَامهلتَنِي﴾ اى الله! څلوېښت کاله مي ستا نافرماني کوله او تا ما ته وخت را کوئ او زما حال دي هيڅ چا ته نه ښکاره کوئ چي زما ورځ او شپه څنګه تېرېدله نو:

﴿فَجِئْتُکَ تَائِبًا فَاقْبِلْنِي﴾ اى الله! اوس د توبه ګاره په شکل راغلئ يم، په دې وخت کي د ده دعا لا پوره سوې نه وه چي توره وريځ راغله او باران شروع سو.

﴿فَقَالَ مُوسٰى: إِلٰهِيْ وَسَيِّدِيْ! بِمَاذَا سَقَيْتَنَا وَمَا خَرَجَ مِنْ بَيْنِ أَظْهُرِنَا أَحَدٌ﴾ اى الله! څنګه دي باران را باندي و کړئ، حالانکي زمونږ د مابينه څخه خو هيڅ څوک نه دئ وتلى؟

﴿فَقَالَ: يَا مُوسٰى! سَقَيْتُکُمْ بِالَّذِيْ بِهِ مَنَعْتُکُمْ﴾ الله تعالى ورته فرمايي: اى موسى! چي د کم چا په وجه مي باران در څخه بند کړئ وو، نن مي د هغه د دعاء په وجه باران درباندي و کړئ.

﴿فَقَالَ مُوسٰى: إِلٰهِيْ! أَرِنِيْ هٰذَا الْعَبْدَ الطَّائِعَ﴾ حضرت موسى عليه السلام ورته وايي: چي دا کم نصيبه بنده ما ته را وښيه!

﴿فَقَالَ: يَا مُوسٰى! إِنِّيْ لَمْ أَفْضَحْهُ وَهُوَ يَعْصِيْنِيْ أَأَفْضَحُهُ وَهُوَ يُطِيْعُنِيْ﴾(¹) الله تعالى ورته وايي: هغه چي کله زما نافرمانه وو ما نه رسوا کوئ، نو اوس چي زما فرمانبرداره سو، نو زه به يې څنګه رسوا کوم؟

نو چي کله يو بنده د الله تعالى سره د توبې کښلو په شکل صلح و کړي، بيا الله تعالى د هغه دعاء نه ردوي.

(¹) التوابين لابن قدامه باب توبة العبد العاصي ص ٥٥

## د دې امت تېر دوورونه:

چې کله د انسانانو اعمال د الله تعالی د رضا مطابق وو او انسانانو ژوند د الله تعالی پر احکامو او د پیغمبرﷺ پر طریقو باندې تېروئ او د انسانانو زندګي د ګناهونو څخه محفوظه وه او انسانانو ژوند د الله تعالی سره په صلح کې تېروئ، نو ددې امت عجیب حاکمان وه!

## د محمود غزنوي د عدل واقعه:

محمود غزنوي ته یو سړی راغلئ او ور ته وایي:

- زما سره ظلم کیږي.
- ده ور ته وویل: څنګه ظلم؟
- هغه ور ته وایي: ستا د خورزوی ذ شپې زما کور ته راسي زما د کور والا سره زیاتوب کوي، ما د کوره څخه وباسي او زما فریاد هیڅ څوک نه اوري.
- محمود غزنوي ور ته وایي: ته وختي ولي ماته نه را تلې؟
- ده ور ته وویل: زه پیره دارانو نه پرېښودلم.

نو محمود غزنوي خپلو پیره دارانو ته وویل: چې کله دا سړی راسي، نو ما ته به دستي خبر را کوې او ما ته په هغه ګړي وایاست.

ذریمه شپه بیا هغه سړی په ژړا راغلئ او "محمود غزنوي" ته اطلاع ور کول سوه.

هغه دستي په دستي په تېزۍ سره توره را واخیسته، د کوره را ووتئ او سیده د هغه سړي په کور ورننوتئ. چې کله ورغلئ، نو هغه ځوان د ده په کور کې د ده د زناني سره زیاتوب کوي. چې کله "محمود غزنوي" ورننوتئ، نو اول یې څراغ مړ کړئ او د توري په یو وار سره یې د هغه سر د بدنه څخه جلا کړئ او بیا پر مځکه غځار سو او کور والا ته یې ورنعرې کړې:

﴿وَيَخَكَ اِسْقِنِي﴾ غرق سې يو غړف اوبه را وړه!
نو کور والا وبېرېدئ او په منډه يې اوبه ورته را وړې، چې کله يې اوبه وچيښلې، نو کور والا ته وايي: څراغ بل که! چې کله هغه څراغ بل کړئ، نو ده د هغه مړي ورنګ ته وکتل، باره يې وويل: "الحمدلله"..
نو هغه کور والا پوښتنه ځني کوي او وايي:

- بادشاه "سلامت" اول دي څراغ مړ کړئ، بيا دي سړی قتل کړئ، بيا دي اوبه وغوښتې او وروسته دي الحمدلله وويله په دې کي څه حکمت وو؟
- نو محمود غزنوي ورته وايي: چې په کمه ورځ ته ما ته راغلې او فرياد دي را ته پيش کړئ، نو ما قسم وخوړئ چې تر هغه وخته به زه د شي څکه نه کوم چې تر څو پوري ستا څخه د ظلم دفاع و نه کړم، نو زه د درو ورځو څخه تږی او وږی وم.

او څراغ مي په دې وجه مړ کړئ، کچيري زما د خور زوی وي، نو د قرابت په وجه هسي نه چې د توري په استعمال کي کمزوري را څخه ونه سي.
او الحمدلله مې په دې وجه وويل چې زما د خاندان نه دئ او نه زما د خور زوی دئ، صرف زما د قرابت نوم استعمالوي او پر تا باندي ظلم کوي[1].
چي کله الله تعالی د انسانانو څخه راضي وي، نو حکومت داسي خلګو ته ور کوي. او د داسي خلګو د حکومتو دور دې امت ليدلی دئ.

[1] بيانات جميل جلد ۲ صفحه : ۳۴۸

## د قاضي د الله تعالى څخه بېره:

"بایزید یلدرم" یو حاکم او بادشاه وو! (یلدرم د برېښنا و وړانګي ته وايي). د ده د انتقام او غوصې په وجه ده ته "یلدرم" وايي. دی چي کله پر تخت کښېنستئ، نو اولنی حکم یې دا جاري کړئ چي زما د سکه ورور سر د تنه جلا کړئ چي په مستقبل کي زما سره پر حکومت باندي جګړه ونه کړي.

نو د ټولو څخه مخکي یې خپل ورور قتل کړئ او داسي سخت حکومت یې و کړئ چي ټوله یورف یې په ولاړي ودروئ.

په یو مقدمه کي د مُدعي د طرفه د ګواه په شکل پېش سو، دی ډېر زیات د شرابو عادي وو او ډېرو فتوحاتو یې په دماغ کي ډېر لوی تکبر پیدا کړئ وو او د یو ډېر لوی متکبر انسان په شکل د عدالت په حجره کي د ګواه په شکل ناست دئ چي کله ده په هغه مقدمه کي ګواهي پېش کړه.

نو قاضي ورته وايي: چونکه سلطان معظم فاسق دئ او د هغه فسق ښکاره دئ لهذا د ده ګواهي مردوده ده او د عدالت د حجرې څخه یې د وتلو حکم ور کړئ.

نو هغه "یلدرم" چي د هغه د توري څخه ټوله "یورف" په لرزه وو، هغه په ډېر پټ شکل او په ذلت کي د عدالت د حجرې څخه ووتئ او تکلم یې هم و نه کړئ(¹).

نو چي کله د امت اعمال د الله تعالی د رضا سره برابر وو، نو د هغو حکومت او قضاوت د داسي انسانانو په لاس کي وو.

نو د باران د اورېدلو واحده لار ده چي د الله تعالی و دربار ته توبه وکښل سي او په ډېر عجز سره د ننواتي په شکل د الله تعالی په دربار کي زاری وکړل سي او په ژړا او زاریو سره د الله تعالی د درباره څخه باران وغوښتل سي.

---

(¹) بیانات جمیل جلد: ۱ صفحه: ۲۰۴

کچیري ما و تا خپل اعمال صحیح کړو، نو الله تعالی به په ټولو سختیو کي پر ما و تا باندي اساني راولي او الله تعالی به باران کوي او د معاشرې څخه به مشکلات پورته کوي.
ځکه د الله تعالی په خزانو کي لکه په تیرو دورو کي کمی نه وو، اوس هم کمی نسته، کمی که وي هغه صرف زما او ستا په اعمالو کي دئ.

ځکه د الله تعالی فرمان دئ حدیث قدسي دئ چي فرمایي:
﴿يَا عِبَادِي لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ قَامُوا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ فَسَأَلُونِي فَأَعْطَيْتُ كُلَّ إِنْسَانٍ مَسْأَلَتَهُ، مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِمَّا عِنْدِي إِلَّا كَمَا يَنْقُصُ الْمِخْيَطُ إِذَا أُدْخِلَ الْبَحْرَ﴾(١).
ای بندګانو! کچیري ستاسو اولني او آخري، انسانان او جنات ټول په یو میدان کي ودریږي، او هر یو په خپله ژبه زما څخه حاجت وغواړي، نو زه به د ټولو انسانانو حاجتونه پوره کوم.
او په دې سره زما په خدایي کي دومره کمی هم نه راځي، لکه یو ستن چي په دریاب ننباسې او بیا یې را وباسې، لکه په هغه سره چي دریاب نه کمیږي ستاسو په حاجتو پوره کولو سره زما خدایي نه کمیږي.
نو الله تعالی دي موږ او تاسو ته د توبې کښلو توفیق را کړي. او الله تعالی دي دا په زړه کي را کښېنوي، چي بس دئ د الله تعالی نافرماني مي ډېره وکړه اوس به د الله تعالی سره صلح وکړم.

(١) مسلم شریف حدیث نمبر: ۵۵

او الله تعالى دي زموږ او ستاسو ضروريات كه د بارانو په شكل وي او كه په نورو اشكالو وي د غيبو د خزانو څخه را پوره كړي.
او الله تعالى دي دا څو خبري په خپل دربار كي قبولي او مقبولي وګرځوي.
(آمين يارب العالمين)
وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيرِ خَلقِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَ أَصحَابِهِ أَجمَعِين.

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د توبې بیان

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | خلـــورم |
| تاريخ | يكم ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تعداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ إِنَّ الَّذِينَ يَكْسِبُونَ الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا يَقْتَرِفُونَ﴾(۱)

وقال الله تعالٰی في مقام آخر: ﴿إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَى أَنْفُسِكُمْ﴾(۲).

وقال الله تعالٰی في مقام آخر: ﴿مَنْ يَعْمَلْ سُوءً يُجْزَ بِهِ﴾(۳).

وقال رسول الله ﷺ: ﴿أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّهُ قَدْ أَظَلَّكُمْ شَهْرٌ عَظِيمٌ مُبَارَكٌ وَهُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ، وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ﴾(۴).

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم، وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د انسان ژوندکي د نفس او شيطان سره:

محترمو سامعينو! الله تعالٰی انسان ته په دنيا کي ژوندکي ور کړې ده، خو په دنيا کي د انسان ژوندکي د نفس او شيطان سره يو ځاى تيرېږي او دا دواړه د انسان دښمنان دي.

د نفس کار څه دئ؟ هغه و انسان ته د ګناهو وسوسې، خيالات او فکرونه په دماغ کي ور اچوي.

(۱)الانعام آيت ۱۲۰
(۲)اليونس آيت ۲۳
(۳)النساء آيت ۱۲۳

او د شیطان کار څه دئ؟ هغه انسان ته ګناه ښائسته کوي، ګناه خوندوره کوي او د انسان دپاره په ګناه کي لذت او راحت وراچوي.
نو د انسان چي کله زندګي د نفس او شیطانه سره په دنیا کي تیریږي، د نفس او شیطان په دوکه باندي په دنیا کي انسان ضرور په ګناه اخته کیږي.
زموږ دا عقیده ده، چي په دنیا کي صرف انبیاء کرام علیهم السلام د ګناهو څخه معصوم دي او صحابه کرام رضي الله عنهم د ګناهو څخه محفوظ دي.
د دې څخه علاوه چي باقي انسانان دي، هغه د نفس او شیطان په دوکه سره په ګناه کي خامخا اخته کیږي.

## د الله تعالی قانون:

د الله تعالی قانون دا دئ چي کله په دنیا کي انسان ګناه وکړي، نو هغه ګناه د ده په عمل نامه کي ثبت سي، نه هغه ګناه د الله تعالی په دربار کي ورکیږي، نه هغه ګناه د الله تعالی د حضور څخه غائبیږي او نه هغه ګناه د الله تعالی د آسماني دفترو څخه محوه کیږئ. او چي کله انسان بغیر د توبې څخه د الله تعالی و حضور ته پیش سي، نو د الله تعالی قانون دا دئ، چي د هغې ګناه سزا به په جهنم کي و ده ته ورکول کیږي.
یو د الله تعالی رحمت دئ، هغه د څه ضابطې پابنده نه دئ. او بل د الله تعالی قانون دئ، هغه دا دئ چي ګنهکاره بغیر د توبې څخه د الله تعالی و حضور ته ورسي، نو الله تعالی به و هغه ته ضرور سزا ورکوي.

## د ګناه کولو څلور وجهي:

عام طور چي انسان کله په دنیا کي ګناه کوي، نو د دې څلورو وجهو څخه وي. الله تعالی په قرآن کریم کي د هغو څلورو وجهو جواب بیان کړی دئ.

۱. د ګناه کولو اوله وجه دا وي چې د انسان په دماغ کې دا وي چې زه کله ګناه کوم، نو ما څوک نه ويني. الله تعالٰی د دې خبرې جواب په دې شکل ور کړۍ دۍ:

﴿إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ﴾(۱).

ستا رب تا ته په کمين کې دۍ.

ښکاري چې کله پر ښکار باندې نښانه لګوي، نو په دې وخت کې دَی دې خپل ښکار ته په ډېره توجه سره ګوري، د دغه توجه کتلو و کيفيت ته "مرصاد" وايي، ګويا الله تعالٰی په داسې غور سره انسان ته ګوري لکه ښکاري چې د ښکار ځای ته ګوري.

۲. د ګناه کولو دوهمه وجه دا وي چې د انسان دا ګمان وي چې زه تنها يم او پر ګناه کولو باندې زما سره هيڅوک نسته چې په ما خبر سي.

د دې په جواب کې الله تعالٰی فرمايي:

﴿وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ﴾(۲).

زه ستاسو سره يم چې تاسو په هر ځای کې ياست. که تاسو يو ياست زه در سره دوهم يم، که تاسو دوه ياست زه درسره دريم يم او که تاسو درې ياست زه در سره څلورم يم په اعتبار د علم.

۳. د ګناه کولو دريمه وجه دا وي چې د انسان په زړه کې دا احساس وي چې زما د دې حرکتو او زما د دې اعمالو معلومات د هيڅ چا سره نسته.

الله تعالٰی ور ته فرمايي:

﴿يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ﴾(۳)

ای بنده! زه ستا د سترګو په خيانت باندې عالم يم او چې ستا په زړه کې د ګناهو کمې وسوسې راځي په هغو هم عالم يم.

---

(۱) الفجر آيت ۱۴
(۲) الحديد آيت ۴
(۳) الغافر آيت ...

۴. د ګناه کولو څلورمه وجه دا وي چي انسان دا وايي: که زه دا ګناه و کړم، نو څوک په ما څه کولای سي، د خپل منصب او حکومت يا د خپل مال او دولت په وجه باندي انسان په ډېر فخر او غرور کي وي.

الله تعالیٰ ورته وايي:

﴿إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ﴾(١).

د الله تعالیٰ رانيول پر انسان باندي ډېر سخت دي.

﴿إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ﴾(٢).

د الله تعالیٰ عذاب پر انسان باندي ډېر سخت دي.

﴿وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُ أَحَدٌ﴾(٣).

د الله تعالیٰ داسي تړل وي، چي هيڅ څوک داسي تړل د انسان نسي کولای.

﴿فَإِنِّي أُعَذِّبُهُ عَذَابًا لَا أُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ﴾(۴).

زه به داسي عذاب ور کوم چي په دواړو جهانو کي بل څوک داسي عذاب نسي ور کولای.

نو په دنيا کي په هر شکل باندي او په هر ځای کي او په هر څومره پټه طريقه چي انسان ګناه و کړي، هغه ګناه د الله تعالیٰ څخه نسي پټېدلای.

نو د هغه ګناه سزا به الله تعالیٰ انسان ته په قيامت کي ور کوي.

## په قيامت کي څلور شاهدان:

لکه څنګه چي په دنيا کي انسان يوه ګناه د الله تعالیٰ په پټه کولای نسي، داغه رنګه د قيامت په ميدان کي هم يو ګناه د الله تعالیٰ څخه نسي پټېدلای؛ ځکه چي

---

(١) البروج آيت ١٢

(٢) هود آيت ١٠٢

(٣) الفجر آيت ٢٦

(۴) المائده آيت ١١٥

انسان کله د قيامت په ميدان کې ودرېږي، نو د ټولو څخه مخکې به د ده پر ګناه باندې څلور شاهدان پېشيږي:

اول شاهد:

به هغه مځکه وي چې ده ګناه ور باندې کړې وي؛ څکه قرآن کريم وايي:

﴿يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا﴾(۱).

مځکه به د قيامت په ميدان کې خپل خبرونه ښکاره کړي او دا شاهدي به پېش کړي چې دې انسان زما پر فلانکۍ حصه باندې په فلانکي شکل ګناه کوله.

اوس خو خبره ډېره اسانه سوه، څکه چې اوسپنه د "ټېپ رکارډ" په شکل تر ډېره وخته پوري خبري خوندي کوي، نو اوسپنه جوړه د خاورې څخه ده، نو خاوره يې هم خوندي کولای سي.

انسان خو په دنيا کې په دروغو او چالاکيو باندې عادت وي، نو دی به هلته د مځکې د شاهدۍ په مقابل کې خپل دروغ او چالاکي پېشوي، نو الله تعالٰی وايي:

﴿الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ﴾(۲).

چې موږ به په دغه ورځ د دوی پر خولو باندې "مُهر" ولګوو.

﴿وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾(۳)

نو چې کله د انسان خوله بنده سي، د ده لاسونه او پښې به د دوهم شاهد په شکل د ده پر ګناهونو باندې شاهدي پېشوي.

دی به ډېر حيران وي، او دې خپلو لاسو او پښو ته به وايي:

﴿لِمَ شَهِدْتُمْ عَلَيْنَا﴾

تاسو ولې شاهدي پر ما ادا کړه؟

﴿قَالُوا أَنْطَقَنَا اللَّهُ الَّذِي أَنْطَقَ كُلَّ شَيْءٍ﴾(۴).

---

(۱) الزلزله آيت ۴
(۲) يٰس آيت ٦٥
(۳) يٰس آيت ٦٥
(۴) حٰم سجده آيت ۲۱

هغه به په جواب کي ورته وايي: موږ ته نن ورځ د نطق او شاهدۍ طاقت هغه ذات را کړئ، چي هغه هر چا ته يې د ګويايۍ طاقت ور کړی دئ.
مولانا روم رحمة الله عليه په مثنوي شريف کي د اندامو شاهدي په دې شکل بيانوي:

چشم بگوید کرده ام غمزهٔ حرام.... گوش بگوید چیده ام سوء الکلام
لب بگوید این چنین بوسیده ام.... دست بگوید این چنین دوزده ام

سترګي به وايي: په ما باندي يې حرام نظرونه کول او غوږونه به وايي: په ما باندي يې غلطي خبري اورېدلې.
او شونډان به وايي: په ما باندي يې غلط ځايونه مچول او لاسونه به وايي: په ما باندي يې غلاوي کولې.
دريم شاهد:

﴿كِرَامًا كَاتِبِينَ، يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ﴾([1]).
ملائکي به چي د هر انسانه سره د "کرام الکاتبين" په شکل ملګري دي، هغه به هم د انسان د نيکو او بدو اعمالو عمل نامه وغوړوي.
او څلورم شاهد:
﴿وَإِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ﴾([2]).
او د هر انسان دپاره د الله جل جلاله په آسماني دفتر "لوح محفوظ" کي هم عمل نامه ليکل کيږي، هغه به هم د قيامت په ميدان کي د انسان و مخته وغوړيږي.
نو بيا به د انسان دپاره د انکار کولو څه ګنجائش او امکان نه وي.
نو انسان په دنيا کي ګناه کوي، د انسان ګناه نه په دنيا کي د الله جل جلاله څخه پټېدای سي او نه په آخرت کي د الله تعالی د حضوره څخه هغه ګناه غائبېدای سي، نو د انسان دپاره بهترينه طريقه دا ده چي انسان پر خپله ګناه باندي د الله تعالی و حضور ته توبه وباسي.

([1])الانفطار آيت ۱۱/۱۲
([2])التکوير آيت ۱۰

## بهترين گنهکار:

نو ځکه د پېغمبرﷺ حديث مبارک دئ:

﴿كُلُّ ابْنِ آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ﴾(۱).

هر انسان په دنيا کي کثير الخطاء دئ، ځکه چي ﴿خطاء﴾ د مبالغې صيغه ده يعني هر انسان په دنيا کي ډېر زيات په ګناهونو کي واقع کيږي. خو بهترين ګنهګار هغه انسان دئ چي هغه پر خپله ګناه باندي توبه وباسي.

او داغه رنګه د پېغمبرﷺ يو بل حديث مبارک هم داسي راځي:

﴿وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ لَمْ تُذْنِبُوا لَذَهَبَ اللهُ بِكُمْ، وَلَجَاءَ بِقَوْمٍ يُذْنِبُونَ، فَيَسْتَغْفِرُونَ اللهَ فَيَغْفِرُ لَهُمْ﴾(۲).

زما دي د الله تعالى په ذات قسم وي، که تاسو ګناه نه وکړئ، نو تاسو به الله تعالى د مځکي د مخه څخه ختم کړي او ستاسو پر ځای به بل قوم راولي، هغه به ګناوي کوي او پر ګناه به د الله تعالى څخه مغفرت غواړي او الله تعالى به هغوی ته مغفرت کوي.

نو دا ښکاره خبره ده، چي په دنيا کي به انسان په ګناه کي اخته کيږي.

او د انسانه څخه د الله تعالى نافرماني کيږي، نو بهترينه طريقه دا ده چي انسان پر خپلو ګناهو د الله تعالى و حضور ته توبه وباسي.

او الله تعالى د بنده په توبه باندي ډېر خوشحاله کيږي او الله تعالى د بنده ګناه که هر څو مره لويه وي، د توبې په شکل باندي ور بخښي.

په حديث شريف کي راځي:

﴿إِذَا تَابَ الْعَبْدُ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَحَسُنَتْ تَوْبَتُهُ، وَقَامَ بِاللَّيْلِ يُنَاجِيْ رَبَّهُ، أَوْقَدَتِ الْمَلَائِكَةُ سِرَاجًا مِنْ نُوْرٍ، وَعَلَّقَتْهُ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، فَتَقُوْلُ الْمَلَائِكَةُ: مَا هَذَا؟ فَيُقَالُ لَهُمْ: إِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ قَدْ اِصْطَلَحَ اللَّيْلَةَ مَعَ مَوْلَاهُ﴾(۳).

---

(۱)الترمذي حديث ۲۴۹۹

(۲)مسلم شريف باب سقوط الذنوب بالاستغفار حديث ۱۱

(۳)بحر الدموع باب المقدمه ص ۱۲

چې کله بنده د ځمکې پر مخ باندې توبه و کاږي، نو ملائکې په آسمانو کې څراغان بلوي او دا سره وايي: چې فلانکې د فلانکې زوی نن د ځمکې پر مخ د خپل ربه ﷻ سره صلح و کړه، نو دا څراغان د هغه په خوشحالي کې بلیږي.
داغه رنګه يو بل حديث مبارک هم دئ چې الله تعالی د خپل بنده سره ډېره مينه لري:
﴿يَا ابْنَ آدَمَ اَنَا لَكَ مُحِبٌّ فَبِحَقِّيْ عَلَيْكَ كُنْ لِيْ مُحِبًّا﴾(١).
الله تعالی انسان ته وايي: ای د آدم اولاده! زما ستا سره ډېر محبت دئ او زه د محبت حق پر تا لرم چې ته به زما سره محبت ساتې.
او الله تعالی فرمايي:
﴿يَا دَاوٗدُ لَوْ يَعْلَمُ الْمُدْبِرُوْنَ عَنِّيْ كَيْفَ اِنْتِظَارِيْ لَهُمْ وَرِفْقِيْ بِهِمْ وَشَوْقِيْ إِلَى تَرْكِ مَعَاصِيْهِمْ لَمَاتُوْا شَوْقاً إِلَيَّ وَتَقَطَّعَتْ أَوْصَالُهُمْ مِنْ مَحَبَّتِيْ﴾(٢).
ای داوده! کچيري ګنهګاران په دې پوه سي چې زه د دوی د توبې کښلو په انتظار کې يم او زما د دوی سره څومره نرمي ده او زما د دوی ګناه پرېښولو ته څومره شوق دئ، نو دوی به زما په شوق کې مړه سي او زما په محبت کې به يې د بدن جوړونه او بندونه سره جلا سي.
نو الله تعالی ورته وايي:
﴿يَا بْنَ آدَمَ اتَّقِنِيْ وَنَمْ حَيْثُ شِئْتَ إِنَّكَ إِنْ ذَكَرْتَنِيْ ذَكَرْتُكَ وَإِنْ نَسِيْتَنِيْ نَسِيْتُكَ وَالسَّاعَةُ الَّتِيْ لَا تَذْكُرُنِيْ فِيْهَا عَلَيْكَ لَا لَكَ﴾(٣)
ای انسانه! ته تقوای کوه! بيا چې هر ځای بيدېږې هلته بيده سه، که ته ما ياد ساتې، نو زه تا ياد ساتم او که ته ما هېر کړې، نو زه به هم تا هېروم، په کم ګړي کې چې ته ما په ياد کې نه ساتې، نو په هغه ګړي کې ستا ګټه نه، بلکې تاوان دئ.
او داغه رنګه ورته وايي:

(١)روح البيان سورة النحل آيت نمبر ٧١
(٢)احياء العلوم الدين بيان شوق المحبة الى الله ص ٣٢٦
(٣)ذم الهوى الباب تاسع والعشرون ص ٢١١

﴿يَا دَاوُدُ بَشِّرِ الْمُذْنِبِينَ وَأَنْذِرِ الصِّدِّيقِينَ. فَقَالَ: كَيْفَ أُبَشِّرُ الْمُذْنِبِينَ وَأُنْذِرُ الصِّدِّيقِينَ؟ قَالَ: بَشِّرِ الْمُذْنِبِينَ بِأَنِّي لَا يَتَعَاظَمُنِي ذَنْبٌ أَنْ أَغْفِرَ، وَأَنْذِرِ الصِّدِّيقِينَ أَنْ لَا يُعْجَبُوا بِأَعْمَالِهِمْ، فَإِنِّي لَا أَضَعُ عَدْلِي وَحِسَابِي عَلَى أَحَدٍ إِلَّا أَهْلَكْتُهُ﴾(۱).

ای داوده! ګنهګارانو ته زېرى ور كه او نیکو کاران وېروه! حضرت داود علیه السلام حیران سو، چي دا څنګه؟

الله تعالی ورته وایي: ګنهګارانو ته دا زېرى ور كه، چي زما د مغفرت څخه ستاسو هيڅ ګناه لويه نه ده.

او نیکو كاران د دې څخه وبېروه چي په خپلو اعمالو مه خوشحاله كېږئ چي كم څوک زما د عدل او حسابه سره مخامخ سي، هغه به په هلاكت كي واقع كېږي.

نو په دنیا کي د انسان دپاره ضروري عمل دا دئ، چي پر خپلو ګناهو باندي توبه و كاږي چي سبا د قیامت په میدان کي په سپین مخ سره د الله تعالی په دربار کي پېش سي.

او د قیامت په میدان کي ده ته څه مشکل او پرېشاني نه وي.

## د توبې شرائط:

علامه آلوسي رحمة الله علیه په تفسير روح المعاني د "سورة تحریم" د اوم (۷) نمبر آیت لاندي د توبې دپاره درې شرطونه لیکلي دي.

اول شرط:

﴿أَحَدُهَا: أَنْ يُقْلِعَ عَنِ الْمَعْصِيَةِ﴾ چي په کمه ګناه انسان اخته وي، هغه به ځای پر ځای پرېږدي. دا نه چي دننه په مسجد کي خو انسان توبه و كاږي، لیکن چي تر دروازه وتلی نه وي، بیا په ګناه کي مبتلاء وي، دا په حقیقت کي توبه نه بلل كېږي.

مولانا روم رحمة الله علیه فرمایي:

سبحه در کف توبه بر لب دل پر از شوق گناه... این معصیت را خنده می آید بر استغفار ما

(۱) تنبیه الغافلین حدیث ۸۴

نو دې توبې ته اعتبار نه وي چې په خوله باندې سړی استغفار او توبه طلبوي، لیکن زړه یې د ګناه د وسوسو او خیالاتو څخه ډک وي.

دوهم شرط:

﴿والثاني: أَنْ يَنْدَمَ عَلَى فِعْلِهَا﴾ چې پر دې ګناه به انسان د الله تعالی په دربار کې ندامت او پښېماني کوي او الله تعالی ته به په عجز او زاریو باندې عذر پېشوي، چې یا الله! ناپوه وم، ستا نافرماني را څخه وسوه، یا الله! ته یې را معاف کړې.

د ګنهګاره بنده ندامت او پښېماني الله تعالی ته ډېر خوښ عمل دئ؛ ځکه د پیغمبر ﷺ حدیث قدسي مبارک دئ چې الله تعالی فرمايي:

﴿لأنين المذنبين أحب إليّ من زجل المسبحين﴾(١).

د ګنهګاره بنده د توبې کنبلو په وخت کې ځګېروی ما ته محبوب دئ، د عبادت کونکو تر شر و شور.

او داغه رنګه پیغمبر ﷺ فرمايي:

﴿لَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَى اللهِ تَعَالَى مِنْ قَطْرَتَيْنِ وَأَثَرَيْنِ: قَطْرَةُ دُمُوعٍ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ، وَقَطْرَةُ دَمٍ تُهَرَاقُ فِي سَبِيلِ اللهِ﴾(٢).

الله تعالی ته دوه څاڅکي ډېر محبوب دي یو د ګنهګاره د اوښکو څاڅکي چې د توبې کنبلو په وخت کې د هغه تر سترګو راسي او بل د شهید د وینو څاڅکي چې د الله جل جلاله د دین د حفاظت دپاره توی سي.

مولانا روم رحمة الله علیه فرمايي:

که کند شاه مجید... اشک را در وزن باخون شهید

الله جل جلاله هغه ذات دئ چې د ګنهګاره د اوښکو څاڅکي د قیامت په میدان کې د شهید د وینو سره برابروي.

---

(١) روح المعاني تفسیر سورة القدر آیت ١-٥

(٢) ریاض الصالحین حدیث ۴۵۵

**د بني اسرائيلو د يو ګنهګار د توبې واقعه:**

په بني اسرائيلو کې يو نوجوان وو چې هغه ډېر زيات ګنهګاره او ټوله ژوند يې په ګناهو کې تېرېدونکی وو.

کلي والا چې کله د ده اعمال وليدل په دې خاطر چې هسې نه د ده په وجه پر ټوله کلي باندې د الله تعالی عذاب راسي، نو دی يې د کلي څخه وايستی او وکلي ته د راتلو څخه يې بند کړئ.

نو دی د کلي څخه ځنګله ته راغلئ او په ځنګله کې ګرځي. يو ورځ او دوې يې د ځنګله پاڼي خوړلې، ګذاره يې په کوله، آخر وږی تږی سو او د کلي پر طرف را روان سو، چې د ځنګله څخه را وزي، نو ناجوړه سو، د پښو د تګه ولوېدئ او په ځنګله کې پروت دئ.

چې کله يې د مرګ حالات را نږدې سول، نو شا و خوا يې و کتل، نه يو قريب سته، نه يو دوست سته، نه مور سته او نه پلار سته.

چې د ټولو طرفو څخه يې طمعه و خته، نو هغه آخرنی اسره چې د الله تعالی ذات وو، هغه ته متوجه سو او وايي:

﴿يَا مَن لَا تَضُرُّهُ الذُّنُوب وَلَاتَنقُصُهُ الْمَغفِرَةُ﴾ ای هغه ذاته! چې نه ګناه تاته ضرر رسولای سي او نه بخښنه کول ستا په خدايي کې نقصان را وستلای سي.

﴿وَاللهِ لَو عَلِمتُ اَنَّ فِي عَذَابِي يَزِيدُ فِي مِلْكِكَ وَ اَنَّ فِي مَغفِرَتِي يَنقُصُ فِي مِلْكِكَ﴾ يا الله تبارک و تعالی!

زما دې ستا په ذات قسم وي، کچيرې زه په دې پوه سم چې ما ته په عذاب را کولو باندې ستا په خدايي کې زياتوب راځي، يا ما ته په بخښنه کولو کې ستا په خدايي کې کمی راځي، نو ما به ستا څخه بخښنه نه وای غوښتې.

ليکن يا الله! ته بې نيازه ذات يې، نه ما ته په عذاب را کولو کې ستا خدايي زياتېږي او نه ما ته په بخښنه کولو کې ستا خدايي کمېږي.

يا الله! مور پرېښولم، پلار پرېښولم او ټولو قريبانو او دوستانو پرېښولم، يا الله! آخرنی اسره مې ته يې، ته مې مه پرېږدې! او زه پښېمانه يم او زه عاجزه يم،

ته ما ته پر ګناهو باندې مغفرت و کړې. دا وايي او تر سترګو يې اوښکې بهيږي او په داغه حال کې يې ساه وختله او وفات سو.

الله تعالى حضرت موسى عليه السلام ته وحې را استوې چې اى موسى! په ځنګله کې زما يو دوست پروت دئ، ورسه د هغه جنازه و که! او په دې قوم کې اعلان و که چې کم چا د هغه په جنازه کې شرکت و کړئ، نو هغو ټولو ته زما د طرفه د معافۍ اعلان دئ.

حضرت موسى عليه السلام اعلان کوې او د قومه سره په منډه باندې ځنګله ته راځي، که ګوري په ځنګله کې هغه سړی پروت دئ چې کم ځوک د ګناهو په وجه د کلي ايستل سوی وو.

د موسى عليه السلام قوم چې کله هغه سړی و ليدئ، نو ورته وايي: اى موسى! يو طرفته ته موږ دا اعلان کوې او بل طرفته موږ دی د ډيرو ګناهو په وجه د کلي ځخه ايستلی دئ.

حضرت موسى عليه السلام د الله تعالى په دربار کې د خپل قوم دا سوال پېشوې، نو الله تعالى ورته فرمايي: اى موسى! قوم صحيح وايي، يقينًا دا ګنهګاره وو، ليکن ﴿لَمَّا أَصَابَتْهُ سَكَرَاتُ الْمَوْتِ فَرَءىٰ يَمِينًا وَ يَسَارًا فَلَمْ يَجِدْ قَرِيبًا وَلَا حَمِيمًا﴾ اى موسى! چې کله پر ده باندې د مرګ وخت راغلئ، نو ده يو طرف او بل طرفته و کتل، نو هيڅ قريب او رشته دار په نظر نه ورغلئ،

نو ﴿فَرَآىٰ نَفْسَهُ حَقِيرَهُ وَصَغِيرَهُ وَذَلِيلَهُ﴾ اى موسى! ما دی ډېر د ذلت او د حقارت په حالت کې و ليدئ، نو ده زما پر نامه باندې دا فرياد شروع کړئ، چې يا الله! ټولو قريبانو پرېښولم، ته مې مه پرېږده!

نو زما بنده دئ، د ده پر دې عاجزۍ باندې او د ده پر ژړا او فرياد باندې زما رحمت او زما محبت په جوش کې راغلئ، چې کله دی ټولو پرېښوئ، نو زه به خپل بنده څنګه پرېږدم؟ نو زما دې په خپل عزت او جلال قسم وي دی کم ظرفه ختئ، صرف د ځان مغفرت يې و غوښتئ.

کچيري په دې حالت کي ده زما څخه د ټوله انسانيت مغفرت غوښتی وای، نو هم به مي ورته کړی وای(¹).

نو د پښېمانۍ اوښکي کله انسان د کم ځایه څخه و کم ځای ته رسوي.

دريم شرط:

﴿والثَّالثُ: أَنْ يَعْزِمَ عَزْمًا جَازِمًا أَنْ لا يَعُودَ إِلَيْهَا أَبَدًا﴾

چي انسان به د ځانه سره کُلکه فيصله کوي، چي آئنده به بيا زه دې ګناه ته نه ور نژدې کېږم.

ليکن چونکه شيطان د انسانه سره د وينو پر ځای په رګو کي روان دئ، نو انسان به ضرور دوکه کوي، کچيري انسان د شيطان په دوکه سره بيا په ګناه کي اخته سو، نو بيا دي توبه و کاږي، که هر څو واره د انسانه څخه ګناه وسي، بيرته دي د پښېمانۍ په شکل د الله ﷻ و دربار ته رجوع و کړي، ځکه د الله ﷻ دربار د نااميدۍ دربار نه دئ، لکه يو شاعر وايي:

باز آ باز آ هر آن چه هستی باز آ .... گر کبر آتش فر ستی باز آ

اين در گهی مادر گهی نا امید نیست .... صد بار گر توبه شکست باز آ

نو د الله ﷻ دربار د نا اميدۍ دربار نه دئ، کچيري د انسانه څخه توبه ماته سي، نو بيرته دي د الله ﷻ و دربار ته رجوع و کړي.

نو چي کم چا دا دري شرطونه پر ځای کړل، نو هغه يقيني توبه و ايستـه او د ګناهو څخه صفا سو.

## د غزوه اُحد واقعه:

چي کله د احد واقعه راغله، نو اويا کسان صحابه کرام شهيدان سوه او د پيغمبر ﷺ غابښ مبارک شهيد سو او د خول کړۍ يې په سر مبارک ننوتې.

حضرت علي ﷺ فرمايي: پيغمبر ﷺ د احد په ميدان کي په وينو داسي لړلی وو چي ما دَی مبارک صرف پر سترګو باندي و پېژندئ، د مازيګر په وخت کي

---

(¹) التوابين لابن قدامه الباب توبة شاب مسرفا على نفسه صفحه: ۵۱

پیغمبر ﷺ د احد په شهیدانو کې ګرځې، نو د حضرت حمزه رضي الله عنه و "لاش" ته ودرېدئ چې د هغه مُثله سوې وه. او "وحشي" هغه په ډېر بې دردۍ سره شهید کړی وو، د بدن ټول اندامونه یې څنې پرې کړي وه او بدن یې ټول ور ټکره ټکره کړی وو. نو پیغمبر ﷺ داسې و ژړل چې د احد په میدان کې د پیغمبر ﷺ سُلګۍ اورېدل کېدلې. حضرت حمزه رضي الله عنه چونکه د حضرت علي رضي الله عنه اکا وو. نو هغه هم د حضرت حمزه رضي الله عنه پر لاش باندي ډېر ژړل.

چې کله پیغمبر ﷺ او حضرت علي رضي الله عنه دواړه په ژړا سول، نو د اُحد پر میدان ټوله صحابه کرام ورسره په ژړا سوه. د پیغمبر ﷺ د حضرت حمزه رضي الله عنه سره داسې محبت وو، چې د احد په میدان کې یې اویا واره پر حضرت حمزه د رضي الله عنه جنازې لمونځ و کړئ او بیا یې دا قسم و خوړئ چې ای اکا جانه! چې څه ذر سره سوي دي، زما دي په خدای جل جلاله قسم وي چې د سلو کسانو سره به داسې کوم.

د پیغمبر ﷺ د قسم خوړلو څخه وروسته حضرت جبرائیل علیه السلام د احد میدان ته راځي او د الله تعالی دا فیصله راوړي: ﴿وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِلصَّابِرِينَ﴾(۱). چې دوی ستاسو سره څه کړي دي، ته هم د یوه سړي سره داسې کولای سې، د سلو کسانو قسم به نه اخلې.

لیکن ای پیغمبره! کچیري ته صبر و کړې، نو صبر ستا د پاره خیر دئ.

نو پیغمبر ﷺ د صحابه کرامو په حضور کې دا وایې: زما رب زما د پاره صبر خیر بللی دئ، نو زه د خپل اکا پر شهادت باندي صبر کوم او په "معارف القرآن" کې مفتي محمد شفیع رحمة الله علیه لیکلي دي: چې بیا پیغمبر ﷺ د هغه قسم کفاره آدا کړه.

## د حضرت وحشي رضي الله عنه ایمان راوړل:

محدث عظیم ملا علي قاري رحمة الله علیه په مرقات کې چې د مشکوة شریف شرحه ده د رئیس المفسرین حضرت عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما چې د پیغمبر ﷺ سکه د

(۱) النحل آیت ۱۲۶

اکا زوی دئ، روایت کوي: چې د فتح مکې څخه وروسته د حضرت حمزه رضی الله عنه قاتل "وحشي" یمن ته د خپل ځان د بچاوولو په خاطر وتښتېدئ.
لیکن پېغمبر ﷺ څه کوي، حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما وایي: ﴿أَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى وَحْشِيٍّ يَدْعُوهُ إِلَى الإِسْلَامِ﴾. پېغمبر ﷺ د اسلام د دعوت پیغام "وحشي" ته د یو قاصد په لاس ور کوي او "یمن" ته یې وراستوي چې ای وحشي! ایمان را وړه!
﴿فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ كَيْفَ تَدْعُونِي إِلَى دِينِكَ، وَأَنْتَ تَزْعُمُ أَنَّ مَنْ قَتَلَ أَوْ زَنَى أَوْ أَشْرَكَ يَلْقَ أَثَامًا يُضَاعَفُ لَهُ الْعَذَابُ، وَأَنَا قَدْ فَعَلْتُ هَذَا كُلَّهُ﴾ وحشي ته چې کله د پېغمبر ﷺ پیغام را ورسېدئ، نو هغه د پیغام په جواب کې دا لیکي: ای محمده ﷺ! دا خو ستاسو د شریعت فیصله ده، چې کم څوک زنا و کړي، شرک و کړي او قتل و کړي، نو هغوی ته به الله جل جلاله دوچنده سزا ور کوي. ﴿وَأَنَا قَدْ فَعَلْتُ هَذَا كُلَّهُ﴾ ما خو دا ټولې کړي دي، زنا مې هم کړې ده، مشرک هم یم او د حضرت حمزه رضی الله عنه غوندې انسان مې هم قتل کړی دئ. ﴿كَيْفَ تَدْعُونِي إِلَى دِينِكَ﴾ ته ما ته د اسلام دعوت څنګه را کوې؟
﴿فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى: إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا﴾ چې کله پېغمبر ﷺ ته د وحشي جواب راغلئ، نو د پېغمبر ﷺ د جواب ور کولو څخه مخکې الله تعالی د عرشه څخه "جبرائیل امین" را استوي او ورته وایي: ته وحشي ته دا جواب ورواستوه:
چې کم څوک ایمان را وړي، توبه و کاږي او نېک اعمال شروع کړي، نو الله تعالی هغوی ته د تیرو ګناهونو معافي کوي.
پېغمبر ﷺ دوهم ځل دغه آیت مبارک "وحشي" ته د اسلام را وړلو په پیغام کې وراستوي.
وحشي چې کله دا و کتئ، نو وایي: چې صحیح ده ایمان خو به را وړم او توبه به وکاږم، لیکن په دې کې درېم شرط دا دئ چې بیا به ټوله زندګي نېک اعمال

کوم. ﴿ فَقَالَ وَحْشِيٌّ هَذَا شَرْطٌ شَدِيدٌ لَعَلِّي لَا أَقْدِرُ عَلَيْهِ﴾ نو دا سخت شرط دئ، شاید دا به عملي نه کم، چي دا شرط نه وي، نو بیا اسلام را ورم.

تاسو ګورئ! یو بدترین مجرم چي هغه په اسلام را وړلو کي خپل ناز او نخرې کوي، لیکن د الله ﷻ رحمت غیر محدود دئ، چي هغه په کم شکل د خپل ګنهګاره بنده ناز او نخرې برداشوي.

او د ده دپاره آیت پر آیت را استوئ، چي کله د "وحشي" جواب پېغمبر ﷺ ته راغلئ، نو د پېغمبر ﷺ د جواب ور کولو څخه مخکي بیا "جبرائیل امین" راځي، د الله تعالی یو بل آیت مبارک را وړي، چي ته "وحشي" ته دا ور واستوه:

﴿فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: {إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ}﴾.

چي الله تعالی د شرک څخه ماسوا ټولي ګناوي انسان ته ور معافوي، چي د الله تعالی خوښه سي.

وحشي چي کله دا و کتئ: ﴿فَقَالَ وَحْشِيٌّ: أَرَانِي بَعْدُ فِي شُبْهَةٍ، فَلَا أَدْرِي يُغْفَرُ لِي أَمْ لَا﴾ نو وايي: چي زه خو لا تر اوسه پوري په شک کي یم، چي زما مغفرت به وسي او که نه، ځکه الله ﷻ دلته د مشیت قید ورسره ایښی دئ، نه ده معلوم چي زما مغفرت به د الله ﷻ په میشت کي وي او که نه، چي تر څو پوري دا قید وي، نو زه اسلام نه را ورم. چي کله پېغمبر ﷺ ته د "وحشي" پېغام را ورسېدئ، نو د پېغمبر ﷺ د جواب ور کولو څخه مخکي دریم ځل جبرائیل آمین علیه السلام راځي او د الله تعالی فیصله د "وحشي" په حق کي را وړي.

﴿قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ﴾ ای پېغمبره! ته ورته ووایه هغه خلکو ته چي هغوی ګنهګاران وي، تاسو د الله تعالی د رحمته څخه مه نا امیده کېږئ! الله تعالی د ګنهګارانو ټولي ګناوي معافوي، ولي چي الله تعالی غفور او رحیم ذات دئ.

نو په دې جمله کي چي انسان د عربیت سره اشنا وي، د ېر زیات تاکید و نه دي.

یو خو جمله اسمیه د تاکید دپاره راځي، او بل "إِنَّ" پر داخل دئ دا هم د تاکید دپاره دئ. او بل پر "الذنوب" الف لام هم د استغراق او تاکید دپاره دئ.
او بل "جمیعًا" لفظ هم د تاکید دپاره وضع سوی دئ.
او د دې سره په دې جمله کې الله تعالی علت هم ورسره بیانوي، چې الله غفور او رحیم دئ، دا هم یو نوع تاکید په جمله کې را ولي، نو پنځه تاکیده سوه.
چې کله "وحشي" ته د پیغمبر ﷺ د طرفه دا پیغام را ورسېدئ،
﴿قَالَ وَحْشِيٌّ: نَعَمْ هَذَا. فَجَاءَ وَأَسْلَمَ﴾ نو وحشي وايي: دا ډېره ښه فیصله ده او دا ډېر ښهٔ پیغام دئ، نو راغلئ د پیغمبر ﷺ و حضور ته، اسلام یې را وړئ او مسلمان سو. ﴿فَقَالَ الْمُسْلِمُونَ هَذَا لَهُ خَاصَّةً أَمْ لِلْمُسْلِمِينَ عَامَّةً فَقَالَ: بَلْ لِلْمُسْلِمِينَ عَامَّةً﴾ صحابه کرام ﷺ د پیغمبر ﷺ څخه پوښتنه کوي، چې د الله تعالی دغه فیصله صرف د وحشي په حق کې ده او که د عامو مسلمانانو سره د الله تعالی دغه معامله ده.
﴿فَقَالَ بَلْ لِلْمُسْلِمِينَ عَامَّةً﴾(۱) پیغمبر ﷺ ورته وايي: چې دا د الله تعالی د عامو مسلمانانو سره تر قیامته پوري دا معامله ده.

## د حضرت وحشي ﷺ سره احسان:

چې کله بچی د پلار نا فرمانه سي، نو د نافرمانۍ څخه وروسته بیرته پلار ته رجوع وکړي او پر خپله نافرمانۍ باندي توبه گار سي، نو پلار خو معافي ورته وکړي، لیکن بیا هم دَی په خپل خاندان کي یو څه خړ مخی او شرمنده وي، او په ټیټو سترګو ګرځي، او د خاندان د انسانانو د طعنې او پیغور سره کله کله مخامخ کیږي، نو آخر پلار د ده سره یو دا سي احسان وکړي، چې په خاندان کي هغه د ده شرمندګي ختمه سي. نو حضرت وحشي هم په مدینه منوره کي که څه هم پر خپلو ګناهو باندي توبه گار سو او الله تعالی او د هغه رسول ﷺ معافي ورته وکړه، بیا هم په مدینه منوره کي لږ په شرمنده شکل باندي ګرځي.

(۱) مرقات جلد: ۵ صفحه: ۱۴۹ -

او پيغمبر ﷺ ورته وايي: چي ته زما مخته مه راځه ستا په ليدلو ما ته اکا را پياديږي، نو په مجلس کي زما څخه شا ته کښېنه.
اوس الله تعالى د حضرت "وحشي" هغه شرمندګي ور ختموي.
د حضرت ابو بکر ﷺ په دور کي "مسيلمه کذاب" د نبوت دعوه و کړه، او حضرت ابو بکر صديق ﷺ په خپل دور کي د هغه سره جهاد و کړئ او هغه يې قتل کړئ، ډېر لوى لوى صحابه کرام په هغه جهاد کي موجود وه.
ليکن د "مسيلمه کذاب" قتل الله تعالى د حضرت "وحشي" په لاس باندي و کړئ.
چي دا په دنيا کي د يو معزز انسان قاتل هم وو، نو اوس الله ﷻ د ده په لاس سره هغه ذليل انسان "مسيلمه کذاب" هم قتل کړئ.
د دې څخه وروسته "وحشي" په ډېره لوړه غاړه دا ويل: زه خو هغه سړى يم:
﴿قَتَلْتُ فِيْ جَاهِلِيَّتِيْ خَيْرَ النَّاسِ وَفِيْ إِسْلَامِيْ شَرَّ النَّاسِ﴾ (١).
زه خو هغه سړى يم چي ما د خپل جاهليت په دور کي د اسلام بهترين شخص حضرت حمزه ﷺ قتل کړى دئ، او د خپل اسلام په دور کي مي د کفر هغه بد ترين شخص "مسيلمه کذاب" قتل کړى دئ.
نو د دې څخه وروسته به حضرت "وحشي" په لوړه غاړه په مدينه منوره کي ګرځېدئ او هغه شرم او خرمخي يې ختمه سوه. نو د روژې درمياني عشره ده، په کار دا دئ چي د ندامتي په شکل، د پښېماني په شکل او د شرمندګۍ په شکل د الله تعالى په دربار کي کښېنو او د خپلو ګناهو مغفرت طلب کړو.
د مغفرت چي اوس څومره بهترينې ورځي او شپې دي، په کال د وولس مياشتي کي پر موږ او تاسو داسي بهترينې شپې او ورځي بيا نه راځي.
الله تعالى دي زموږ په دماغو کي دا خبره را کړي، چي بس ده د الله تعالى نافرماني چي څومره وسوه هغه ډېره ده، نو ر د خپل رب ﷻ سره صلح و کړو او پر خپلو ګناهو باندي د الله تعالى څخه مغفرت طلب کړو.
الله تعالى دي د توبې کښلو توفيق را کړي. او الله تعالى دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي و ګرځوي. (آمين رب العالمين)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَ أَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْن.

---
(١) روح المعاني ج٦ ص١٦١

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الایه)

# د ترک دنیا بیان

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صـاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | خلـــــــــــورم |
| تـاريــــخ | يكم ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تـعـــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيم

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيم

﴿وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَشْكُورًا﴾(١).

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم: ﴿الدُّنْيَا دَارُ مَنْ لَّا دَارَ لَهُ، وَمَالُ مَنْ لَّا مَالَ لَهُ، وَلَهَا يَجْمَعُ مَنْ لَّا عقل له﴾(٢).

﴿وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا صَلَاةَ الْعَصْرِ بِنَهَارٍ ثُمَّ قَامَ خَطِيبًا فَلَمْ يَدَعْ شَيْئًا يَكُونُ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ إِلَّا أَخْبَرَنَا بِهِ، حَفِظَهُ مَنْ حَفِظَهُ، وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ، وَكَانَ فِيمَا قَالَ: إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ، وَإِنَّ اللَّهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا فَنَاظِرٌ كَيْفَ تَعْمَلُونَ، أَلَا فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ﴾(٣).

اٰمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيم، وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو سامعينو! ما ستاسو په مخ کي د پيغمبر ﷺ د خطبې مبارکي يو څو الفاظ پېش کړه، چي د هغه راوي حضرت ابو سعيد الخدري رضي الله عنه دئ.

دی مبارک فرمايي، چي پيغمبر ﷺ د مازيگر لمونځ و کړئ، د هغه څخه وروسته پر منبر باندي کښېنستئ، چي تر قيامته پوري څومره واقعات را تلونکي دي، هغه يې ټول بيان کړه، هيڅ يې نه پرېښول.

---

(١) بني اسرائيل آيت ١٩
(٢) تفسير ابن کثير سورة الاعلی آيت ١٦
(٣) ترمذي حديث ٢١٩١

چي کم چا یادي کړې، هغه یادي کړې او چي کم چا هیري کړې، هغه هیري کړې.
چي کمي خبري پېغمبرﷺ بیان کړې، په هغو خبرو کي یوه خبره دا وه چي دنیا ډېره خوږه ده او ډېره سرسبزه او زرغونه ده.
الله تعالی په دې دنیا کي تاسو د مخکنیو انسانانو جاینشینان جوړ کړي یاست، الله تعالی تاسو ګوري چي تاسو په دنیا کي څنګه عمل کوئ.
پس دا خبره واورئ چي د د نیا څخه ځان ګورئ او د زنانو د فتنې څخه ځان ګورئ!
پېغمبرﷺ اوله خبره دا کړې وه، چي دنیا ډېره خوږه او زرغونه ده او تاسو د مخکنیو خلګو پر ځای دې دنیا ته راغلي یاست.
یعني یو نسل ولاړئ، دوهم نسل د هغه پر ځای راغلئ، نو الله تعالی دا ګوري چي تاسو په دنیا کي څنګه عمل کوئ.
واقعًا هم دنیا ډېره خوږه او زرغونه ده، د هر سړي و دنیا ته رغبت دئ، د دنیا مال او دولت او د دنیا لذت او راحت او د دنیا ساز او سامان د هر سړي خوښ دئ او د هغه حاصلول غواړي.

## دنیا انسان هلاکوي:

داغه رنګه د پېغمبرﷺ یو بل حدیث دئ چي صاحب د "الترغیب والترهیب" را نقل کړی دئ:
﴿إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ أَيْ مِثْلُ الْبَقْلِ الَّذِيْ يَنْبُتُ مِنَ الْأَرْضِ، وَتَأْكُلُهُ الْبَقَرُ وَالْإِبِلُ وَالْغَنَمُ لِأَنَّ طَعْمَهُ حُلْوٌ، وَلَوْ تَرَكَتِ الْمَوَاشِيْ تَأْكُلُ مِنْهُ مَا أَرَادَتْ، لَأَتْخَمَتْ ثُمَّ تَمُوْتُ﴾[1] چي د پسرلي موسم سي، پر ځمکه وابښه را شنه سي او ځمکه ښه زرغونه سي، نو نرم او زرغونه وابښه حیوانانو ته ډېر خوښ وي.

---

[1] الترغیب والترهیب حدیث نمبر ۲۲۱۶

اوس یو حیوان چې کله دا وابښه ولیدل، نو خوراک یې څنې شروع کړئ، چونکه ډېر خواږه او زرغونه دي، نو دی یې مسلسل خوري، تر دې حده پورې چې هاضمه یې خرابه سي، نس یې وپړسیږي او د تخمه څخه دا حیوان مړ سي.

﴿وَلَكِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ جَعَلَ آكِلَةَ الْخَضِرِ مِنَ الْمَوَاشِيْ مِثْلَ الْبَقَرَةِ تَأْكُلُ مَا يَكْفِيهَا، لَمْ تَرْكَنْ إِلَى الشَّمْسِ، فَتَجْتَرُّ هَذَا الَّذِيْ أَكَلَتْهُ، لَمْ تَلْطَتْ وَبَالَتْ وَأَخْرَجَتْ﴾(١).

او دوهم قسم حیوان هغه دئ، چې هغه د ضرورت په مقدار خوراک و کړئ او د هغه څخه وروسته په لمر کې پرېوتئ، ورغړېدئ او هغه خوراک یې هضم کړئ، بیا راغلئ خوراک یې څنې شروع کړئ، یعنې پر قدر د ضرورت یې و خوړل.

د هغه څخه وروسته پیغمبر ﷺ وفرمایل: چې دنیا ډېره خوږه او زرغونه ده، چې کم څوک یې د حرص په شکل سره را ټولوي، نو دې سړي ته د "جوع البقر" ناجوړي لګېدلې ده، چې خوراک به کوي او نس به یې نه په ډکېږي.

نو دا انسان به د هغه اولنې حیوان غوندي هلاک سي، نس به یې سره وچاودل سي او په تخمه به اخته سي.

او چې کم سړی په حقه طریقه سره دنیا ګټي او په حقه طریقه یې خوندي کوي، یعنې د شریعت د امره سره موافق یې ګټي او چې کله الله تعالی د خرڅېدلو حکم ورکړي، هلته یې خرڅوي، نو هغه انسان به بیا د هلاکت څخه محفوظه وي.

دا دنیا دغسې یقیناً هم ښائسته او زرغونه ده، چې د انسان سترګې وړي او د انسان زړه نه په مړېږي، او د دې و پرېښولو ته د انسان زړه نه ورغواړي.

که هر څومره عمر زیات سي، سپین ږیروالی راسي، د انسان قوتونه ټول کمزوري سي، په دماغ کې د فکر کولو طاقت نه وي او په سترګو کې د دید طاقت نه وي.

او د انسان په ظاهري او باطني قوتو ټولو کې اختلال او ګډوډي راسي، بیا هم د دنیا پرېښولو او د آخرت و فکر کولو ته د انسان زړه نه ورغواړي.

نو معلومه سوه چې الله تعالی څومره خوږوالی په دې دنیا کې اېښی دئ.

(١) نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول حديث نمبر ٦

حالانکي دلته څه دي؟ صرف مصیبت پر مصیبت دئ، پرېشانی او آفتونه دي، راحت کم او تکلیفونه زیات دي.
او چي کم راحت دئ هغه په زر قسمه مشقتو او تکلیفو کي پېچلی دئ، لیکن د دې ټولو سره سره بیا هم انسانانو ته دنیا خوږه او زرغونه ده، د انسان زړه وړي او خپل ځان ته یې متوجه کوي.

## د دنیا نقش ونګار د مار دئ:

شیخ فرید الدین عطار رحمة الله علیه لیکلي دي:

*زہر دارد در درون دنیا چو مار ... گرچه بین ظاہرش نقش ونگار*

*زہر این مار منقش قاتل است ... باشد از وی دور ہر کو عاقل است*

یعني د دنیا مثال د هغه ښائسته مار دئ چي سربېره پوست یې ډېر ښائسته وي او پر ده باندي نقش او نګار معلومېږي.
عقلمند انسان چي یې کله ویني، نو هغه ځني ېرېږي؛ ځکه هغه ته دا معلومه وي چي دا مار دئ او د زهرو ډک دئ.
لیکن یو نادان بچی چي هغه د دې مار په حقیقت ناخبره وي چي د دې ظاهري نقش او نګار ته یې و ګوري، نو د هغه د نیولو کوشش کوي.
په دې وجه دا ویل سوي دي چي ظاهرًا دنیا منقشه او ښائسته ده، لیکن په باطن کي د زهرو ډکه ده، نو نادان د هغې په نقش نګار خطا وزي، لیکن چي کم سړی دانا، هوښیار او د دنیا د حقیقت څخه خبر وي هغه به د دې دنیا څخه لیري ځي.

## د دنیا مثال:

امام غزالي رحمة الله علیه لیکلي دي چي دنیا او د دنیادارو انسانانو مثال د هغه مار او د مارګیر دئ، چي کم مارګیر د مار غاښونه پېژني او د مار تریاق یعني علاج کولای سي.

نو اول خو چي دی مار و نیسي، نو د زهرو غابښونه ځني کاږي او ودې ته یې نه پرېږدي چي هغه مار انسان و خوري.

کچیري بالفرض هغه مار انسان و خوري هم، نو بیا د هغه د زهرو ختمولو تریاق او علاج هم ور معلوم وي.

نو هغه سړی مار را واخلي او پر وړه یې را اخیستئ وي او پر لاس یې پېچلئ وي، نو مار ده ته هیڅ ضرر نه سي رسولای؛ ځکه دی د مار د تریاق او علاج سره بلد دئ.

لیکن یو بل بېچاره انسان چي هغه ته نه د مار د زهرو غابښونه ور معلوم وي، نه هغه د مار د تریاق او علاج سره بلد وي، نو هغه کچیري دې مار ته لاس ور وړي، نو مار به یې دستي په نیښ وهي او دی به هلاکوي.

دغه مثال د دنیا او د دنیا گټونکو دئ، چي کم خلک د دنیا په زهرو باندي بلد وي او د هغه علاج پېژني، نو هغوی ته دنیا ضرر نه سي رسولای، لیکن کمو خلکو ته چي د دنیا "مَنتر" ور معلوم نه وي او د دنیا د زهرو غابښ نه سي ماتولای او د دنیا د زهرو علاج نه وي ورسره هغه به دنیا هلاکوي.

چنانچه زموږ د غه حالت دئ نه د دنیا گټلو احکام را معلوم دي او نه د دنیا د خوندي کولو طریقه را سره سته، نه دا را معلوم دي چي مال به څنګه او په کم ځای کي خرڅوې او کم ځای به یې نه خرڅوې، نو د دې دا نتیجه ده چي دنیا په نیښ وهلي یو او زموږ د ژوند په ټولو اندامو کي د هغې زهر سره تللي دي. او د هغې زهر څه دي؟ د آخرت څخه غفلت دئ.

بس دا یوه خبره مو اورېدلې ده چي د بچیانو نفقه گټل فرض دي، بس دا غه یو فرض مو په یاد دي، نور هر څه را څخه هېر دي.

حضرت جي مولانا محمد یوسف رحمة الله علیه په یو بیان کي په جوش کي راغلئ او وه یې فرمایل: چي ای خلکو! تاسو ته دا چا ویلي دي چي تاسو دنیا گټی دکانونه خلاص کړئ او د عیال نفقه فرض ده تاسو یې و گټئ؟

په خدای قسم په څومره رنده طریقه سره چي تاسو دنیا ګټی دا فرض نه، بلکي حرام دي. اول د ګټي طريقه زده کړئ، د هغه څخه وروسته نفقه و ګټئ!(۱) د حلالو او حرامو، د جائزو او ناجائزو تمیز سره و کړئ! لیکن په دې شکل چي تاسو نه حرام پیژنی نه حلال، نه د جائزو او ناجائزو څه پروا در سره سته، نو د دنیا ګټل تاسو ته حلال نه دي.

بهر حال پیغمبر ﷺ دا مبارک حدیث فرمایلی دئ چي دنیا ډېره خوږه ده، الله تعالی مخکني انسانان رخصت کړه او تاسو يې د هغوی پر ځای را وستلاست. دلته تاسو د عیش او عشرت دپاره نه یاست راغلي، چي دا انسانان به دلته خوراک و کړي او عیش و عشرت به و کړي، بلکي الله تعالی د دې دپاره را وستلي یاست چي دلته تاسو د را روانو سفرو دپاره د اعمالو يو توښه برابره کړئ او دلته تاسو د مخکني خلکو د حالاتو څخه یو څه عبرت واخلئ.

## د زندګی پنځه دوره:

الله تعالی انسان ته په زندګي پنځه دوره مخته را ولي:

۱. اول: د مور د نس دور.
۲. دوهم: د دنیا د ژوند دور.
۳. دریم: د قبر یعني عالمِ برزخ دور.
۴. څلورم: د حشر د میدان دور.
۵. پنځم: د ابدي زندګی جنت یا جهنم دور.

کچیري انسان دا ووایي چي د انسان د زندګی پنځه منزله راځي، نو هم صحیح خبره بلل کیږي.

اول: چي د مور نس ته راسي، نو تر څلورو میاشتو پوري خو د اوبو، بیا د وینې او بیا د غوښې شکل واخلي، په دې وخت کي د انسان هیڅ قیمت نه وي.

(۱) اصلاحي مواعظ مولانا سعدالله بهاول شهید صفحه ۲۹

د ځلوزو مياشتو څخه وروسته په انسان کي روح "پوه" کړل سي، نو انسان ژوند پيدا کړي، د دې ځايه څخه د انسان زندگي شروع سي.
ليکن د مور د نس زندگي داسي زندگي وي چي عقلاء هغه زندگي زندگي نه بولي؛ ځکه هغه سخته د تنگۍ او تاريکۍ زندگي وي.
ليکن انسان داسي د نادانۍ په حالت کي وي، چي پر داغه زندگي هم ډَی مطمئن وي، چي کله د مور د نسه څخه راځي، نو دی ژاړي او د ځانه سره دا فکر کوي چي زما هغه لويه دنيا چي زه پکښي اوسېدم چي هغه د مور نس وو ولي يې را څخه واخيستله؟
حضرت سعدي رحمة الله عليه فرمايي: د مېږي په هگۍ کي چي کله بچی وي، نو د هغه دپاره د هگۍ سر او پای مځکه او آسمان وي.
او د ده دا خيال وي چي تر دې لويه مځکه او آسمان نسته او نه پيدا کېدای سي.
بالکل داغه زموږ خيال دئ چي کله په دنيا کي قدم کښېږدو، نو اول مځکه او آسمان ووينو، نو زموږ دا خيال وي چي تر دې نو لويه دنيا بله نسته.
چنانچه د زندگۍ را روان دورونه يعني عالَم برزخ، عالَمِ حشر، جنت او دوزخ د انسانه څخه بالکل هېر سي.
انبياء کرام او د هغوی جاينشنان انسانانو ته په دماغ کي دا ور کوي چي دغه "بيضهٔ مور" يعني د مېږي په هگۍ کي چي دنيا ده په دې زړه مه ښه کوه او د دغه زندگۍ د غفلت په وجه را روانه زندگۍ د دماغه مه باسه!
ليکن موږ دلته د دې زندگۍ ترقياني کمال بولو او چي کم خلگ مو د دې زندگۍ څخه د آخرت و طرفته متوجه کوي، په هغوی باندي مو استهزاء او فسخندونه شروع کړه.
او شپه ورځ زموږ و مخته د عبرت نښانې ښکاره کيږي، ليکن د هغه باوجود عبرت نه ځني اخلو.

## د دنیا ژوند د آخرت په مقابله کي:

په دنیا کي د چا زندگي پنځوس کاله وي او د چا زندگي شپېته کاله وي او د چاده اتیا کاله وي.

تاسو دا زندگي پر هغه ژوند باندي تقسیم کړئ، نو هغه د مور د نس نه میاشتي ژوند د دنیا د ژوند په مقابل کي ډېره مختصره زندگي معلومېږي او هر سړی دا وايي چي آیا د مور د نس ژوند هم یو ژوند وو؟

لیکن د دې ځخه مخکي درځئ دلته په دنیا کي مور اتیا کاله زندگي تېره کړو، لیکن چي کله قبر ته ورسو، نو هلته د حضرت آدم علیه السلام د وخته ځخه تر ننه پوري شاوخوا اوه زره کاله کیږي انسانان پراته دي، لا نه ده معلومه چي نور به لا تر څه وخته هلته د انسانانو حالات روان وي.

نو د قبر دا اوږده زندگي د دنیا پر زندگی باندي تقسیم کړئ، نو د دنیا زندگي د هغه برزخ د زندگی په مقابل کي ډېره مختصره معلومېږي.

هغه د برزخ زندگي که هر څو مره اوږده وي، لیکن دائمي نه ده، بلکي یو ورځ به ختمېږي، د هغه ځخه وروسته د حشر ورځ هم موږ ته گوري چي هغه یوه ورځ به په حساب سره پنځوس زره کاله وي.

اوس تاسو د قبر زندگي د هغه محشر د زندگی پر پنځوس زره کاله باندي تقسیم کړئ، نو د برزخ او د قبر زندگي به ډېره مختصره ښکاره سي.

بیا د هغي پنځوس زره کاله ورځي ځخه وروسته د انسان اصلي زندگي شروع کیږي، چي کله د قیامت ورځ ختمه سي، نو د انسان ابدي او دائمي ژوند روان سي، چي هغه هیڅ انتهاء نه لري چي د انسان سوچ او فکر به ستړی سي، لیکن هغه زندگي به ختمه نه سي.

## د انبیاء کرامو علیهم السلام دعوت:

نو انبیاء کرام علیهم السلام مونږ ته د دغه ژوند دعوت را کوي، چې ابدي او دائمي ژوند دی، او د هغه ژوند د ناکامۍ څخه مونږ بېروي. او زمونږ د دغه د دنیا ژوند اصلي ژوند نه بلل کېږي بس د دې خبرې دعوت را کوي.

چونکه د خلکو په دماغو کې د انبیاؤ علیهم السلام دعوت نه راځي، نو په دې وجه کفار دا وايي چې دا لېونیان او ناخبره انسانان دي.

د نن سبا مسلمانان هم دا وايي چې دا خو ملا دئ او دا صوفي دئ، د اوس دور د تقاضاؤ څخه ناخبره دئ او دنیا د کمه ځایه څخه و کم ځای ته ورسېدله او دا صوفي او مُلا تر اوسه پورې د "بسم الله" په گنبده کې سره گرځي.

نه معلوم چې کم کم القاب دوی د دې غریب مُلا دپاره تجویزوي، چې د هغه قصور صرف دا دئ چې نن هغه خبره کوي چې د وخت انبیاء کرامو علیهم السلام به کوله.

## د دنیا څخه د آخرت توښه پیدا کول:

نو دا دنیا خوړه او زرغونه ده، الله تعالیٰ انسانان د دې دپاره را وستلي دي چې تاسو څه عبرت حاصل کړی او د دې دنیا څخه لږ توښه در سره واخلئ!

او پیغمبر ﷺ ابو ذر غفاري رضی الله عنه ته نصیحت کوي او ورته وايي:

ای ابوذره! توښه در سره واخله! ځکه سفر ډېر اوږد دئ. او خپل بوج لږ سپک ساته! ځکه مخته دره ډېره دشوار گذاره ده، چې انسان به پر هغه باندې خېژي او ټوله بوج به پر خپله ملا پورته کوي.

په قرآن کریم کې هم دا راځي چې دوی به خپل بوجونه پر خپله ملا باندې را وړي.

## د ابو درداء رضی الله عنه قول:

په مشکوٰة شریف کې پر صفحه ۲۴۳ باندې یو حدیث شریف دئ، چې حضرت ام درداء رضی الله عنها فرمايي: ما و خپل خاوند ابو درداء رضی الله عنه ته وویل:

- ته ولي ګټه نه کوې، لکه فلانکی سړی چې یې کوي؟
- ده راته وویل: ما د پیغمبرﷺ څخه په خپله دا اورېدلي دي، چې ستاسو و مخته یوه دره ده، ډېره زیاته دشوار ګذاره ده، چې د کم چا بوج دروند وي، نو هغه پر دې دره باندې نه سي تېرېدلای، نو د هغه درې په خاطر خپل بوج یو څه سپکوم.

او حضرت ابو ذرﷺ ته به پیغمبرﷺ فرمایل: عمل صفا د رسره واخله! ځکه چې مخته تلاښي کونکي ډېر بارک بینه دئ، هلته بیا ګډوډ عمل نه سي تېرېدلای.

## د امام غزالي رحمة الله علیه په نزد د دنیا مثال:

امام غزالي رحمة الله علیه د دنیا مثال په ډېر ښه انداز بیان کړی دئ، هغه وایي: یو سړی پر لار روان دئ او یو زمری تر شاه پسې ځغلي او دی ځني ځغلي، که ګوري نژدې یو درخته هم نسته چې پر هغه باندې ځني پورته سي، آخر یې یو څاه و لیدئ او دا یې فکر سو چې دې څاه ته به ور وغورځېږم او چې زمری ولاړئ، نو بیا به د څاه څخه را پورته سم.

چې کله دی څاه ته ور وغورځېدئ، نو که ګوري په څاه کي دننه د اوبو پر سر باندې یو تور اژدها مار پروت دئ او د ده د خوړلو دپاره یې خوله وازه نیولې ده. نو شا ته زمری دئ او لاندې تور اژدها مار دئ.

نو دی ډېر زیات پرېشانه سو، په دې فکر کي سو چې اوس به څه کوم! که ګوري په څاه کي پر پاڼ باندې یو څه واښه ویني، نو دا فکر کوي چې په دې و ښو پورې به لاس ونیسم او په څاه کي به را وځړېږم.

نه لوړ تلای سم ځکه زمری مې خوري او نه لاندې تلای سم ولې د مار په خوله به ورسم، نو په دې درمیان کي به یو څه ځان تکیه کړم چې زمری ولاړئ بیا به را خېژم.

نو ده په هغه وښو پوري لاس و نیوئ او د څاه په مابین کي يې ځان تکیه کړئ، لږ ګړي بعد که ګوري يو تور او بل سپین موږکان دي چي هغه د هغه وابنه ريښي خوري په کم وابنه پوري چي ده لاس نیولي، نو نور هم زيات پرېشانه سو.

د داغه پرېشانی په حالت کي که ګوري د څاه پر بل پاڼ باندي د شهدو د مچیو يو ګربنی او "ځاله"ويني چي پر هغه باندي مچی نسته، مګر د شهدو څخه ډک دئ، چي کله يې دا ګربنی ولیده، نو دا يې سوچ سو چي خوند به يې وګورم چي دا څنګه شهد دي.

چنانچه يو لاس يې په وښو پوري نیولی دئ او د دوهم لاس په ګوتو سره هغه شهد څټي، نو شهدو ده ته ډېر خوند ور کړئ او د هغې په څټلو کي هر څه ځني هېر سوه، هم هغه زمری ځني هېر سو، هم هغه مار ځني هېر سو او هم هغه تور او سپین موږک ځني هېر سو.

نو تاسو فکر و کړئ! چي د دې سړي به څه انجام وي؟؟؟

د دې مثال ور کولو څخه وروسته امام غزالي رحمة الله علیه ليکي: ای دوسته! ستا مثال د هغه انسان دئ چي په صحراء کي روان وو.

د عزرائیل علیه السلام مثال د هغه زمري دئ چي تر شاه د رپسې دئ.

د قبر غذاب او د قبر توره کنده دا مثال د هغه اژدها مار دئ چي ستا په انتظار کي يې خوله وازه نیولې ده.

او تور او سپین موږکان دا ستا د زندګی شپې او ورځي دي چي پر تا تېرېږي.

او هغه وابنه ستا زندګي ده، چي موږکان يې پرې کوي.

او دا د شهدو ګربینی او "ځاله" د دنیا لذتونه دي چي ته د هغې څخه خوند اخلې او هر څه يې در څخه هېر کړه.

نو ته سوچ کوه چي ستا به څه انجام کیږي؟(1).

واقعي دا خبره ده چي انسان د دنیا په لذتو کي و موښلي، نو خپل الله جل جلاله ناراضه کوي.

---

(1) خطبات فقیر جلد ۹ صفحه ۲۱

څوک د خوراک په لذتو کي لګيا دئ او څوک د ښه منصب او شهرت په فکر او انتظار دئ، دغه لذتونه انسان د آخرته څخه غافله کوي.

## د حضرت ابوبكر صديق ﷺ زُهد:

يو ځل د حضرت صديق ﷺ د کور د زناني په زړه کي دا تمنا وه چي په کور کي د خپل طبيعت خاصه خورکه تياره کړي.
نو دې مبارکي حضرت صديق اکبر ﷺ ته وويل:
- ما ته يو څه پيسې را که!
- حضرت صديق اکبر ﷺ ورته وايي: زما سره پيسې نشته.
نو هغې زناني دا فکر و کړئ چي ما ته چي روزانه کمه لږ لږ خرچه راځي هغه با خوندي کوم، چي کله زما سره يو څه پيسې جمع سوې، نو بيا به يوه ورځ په کو کي د خپل طبيعت خورکه پخوم.
چنانچه يو ځل دې يوه ورځ په کور کي د خپل طبيعت خاصه خورکه جوړه کړه، با خپله يې هم وخوړله او حضرت صديق اکبر ﷺ ته يې هم پيش کړه.
حضرت صديق اکبر ﷺ پوښتنه ځني وکړه:
- دا پيسې د کمه سوې؟
- نو دې په جواب کي ورته وويل: ما ته چي روزانه کمه خرچه را کول کېده، ما به د هغې څخه لږ لږ پيسې بچاوولې چي يو څه پيسې جمع سوې، نو ما په هغه باندي دا خپله خورکه تياره کړه.
- حضرت صديق اکبر ﷺ ورته وايي: ډېره ښه ده، دا خو ښکاره سوه چي دا خرچه زموږ د ضرورته څخه زياته راځي.
لهذا ده مبارک دومره مقدار چي څومره زياته وه را روانه مياشته يې د بيت الماله څخه د هغې اخيستل بند کړه.

## د حضرت عمر ﷺ زهد:

حضرت عمر ﷺ هغه ذات وو، چي پیغمبر ﷺ په دعا باندي د الله تعالی څخه غوښتی وو او دا به یې ویل: یا الله! ما ته عمر را کړې.
د چهار شنبې په شپه پیغمبر ﷺ دعا وغوښته او د پنج شنبې په ورځ باندي حضرت عمر ﷺ په اسلام کي داخل سو.
د چهار شنبې په مازیګر باندي د پیغمبر ﷺ پر حمایت باندي حضرت ابوبکر صدیق ﷺ ډېر زیات ووهل سو.
چي کله په "دار الارقم" کي پیغمبر ﷺ د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ حال ولیدئ، نو دستي یې دعا وکړه:
﴿اللَّهُمَّ أَعِزَّ الإِسْلَامَ بِأَحَبِّ هَذَيْنِ الرَّجُلَيْنِ إِلَيْكَ بِأَبِي جَهْلٍ أَوْ بِعُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ» قَالَ: وَكَانَ أَحَبَّهُمَا إِلَيْهِ عُمَرُ﴾(١)
یا الله! اسلام ته په یو ذدې دوو کسانو قوت ورکړه!
یو "ابو جهل" دئ چي د هغه نوم "عمرو بن هشام" دئ او دوهم حضرت عمر ﷺ دئ چي د هغه نوم "عمر ابن خطاب" دئ.
لیکن پیغمبر ﷺ ته ډېر محبوب حضرت عمر ﷺ وو، د شپې دعا وسوه او د پنج شنبې په سهار حضرت عمر ﷺ د پیغمبر ﷺ د قتل په اراده باندي را وتلی وو او الله تعالی په اسلام مشرف کړئ.
د ده د اسلام را وړلو په وخت کي جبرائیل علیه السلام و پیغمبر ﷺ ته زیری ور کوي، لکه چي حدیث شریف دئ:
﴿لَمَّا أَسْلَمَ عُمَرُ، نَزَلَ جِبْرِيلُ فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، لَقَدِ اسْتَبْشَرَ أَهْلُ السَّمَاءِ بِإِسْلَامِ عُمَرَ﴾(٢)
چي د عمر د اسلام په وخت کي جبرائیل علیه السلام پیغمبر ﷺ ته زیری پېښوي.

---

(١) ترمذي شریف حدیث ٣٦٨١
(٢) ابن ماجه حدیث ١٠٣

## د حضرت عمر ﷺ خلافت:

د حضرت عمر ﷺ په دور کي دوه ویشت لکه میله مځکه الله تعالیٰ په اسلام باندي مشرفه کړه او د دنیا خزانې د مدینې منورې په مسجد کي تقسیمېدلې.
لیکن حضرت عمر ﷺ ټوله زندګي داسي ژوند تېر کړئ، چي د ده خوراک به دومره سخت وو چي هغه به یې تر ستوني نه تېرېدئ، صرف په میاشته کي به یې یو ځل د غنمو ډوډۍ خوړله.
یوه ورځ خپل بچي حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ چي کله د ده حالت و لیدئ چي ډېر نحیف او کمزورئ وو، نو زړه یې درد ور باندي و کړئ، نو په خپل کور کي یې د ده د پاره نفقه تیاره کړه او دی یې ورته را دعوت کړئ.
چي کله و نفقه ته کښېنستئ او ګوله یې کتغ او اشپزۍ ته ور وړه او خوند یې و کتئ، نو ګوله یې یو طرفته کښېښوله او ورته وایي:
- بچیه! نه یې سم خوړلای.
- هغه بچی ورته وایي: ولې پلاره؟
- دی ورته وایي: دوه قسمه کتغ (سالن) دي.
- زوی یې ورته وایي: پلاره! دوه قسمه کتغه (سالنه) نه دي، صرف غوښې مي یخ کړي دي.
- دی بیا ورته وایي: بچیه! غوښي په غوړو کي یخ سوي دي، نو غوښي جلا کتغ دئ او غوړي جلا کتغ دئ. او ما پیغمبر ﷺ په ټوله زندګي کي د غوښو او غوړو دواړو خوړونکی نه دئ لیدلئ. نو دا اسراف دئ، نو ځکه یې نسم خوړلای.
- بچی ورتهووایي: پلاره! ما فضول خرچي او اسراف نه دئ کړئ، نن ما ته غوښه ارزانه په لاس راغله، په نیم درهم مي غوښي را وړې او په نیم درهم مي غوړي را وړل، نو دواړه مي سره پاخه کړه.

- نو دَی ورته وايي: نه، بچيه! ما پيغمبرﷺ داسي نه دئ ليدلی چي هغه دي غوښي او غوړي سره يو ځای کړي وي(۱).

## د حضرت عمرؓ حکمراني:

حضرت عمرؓ به ټوله زندګي داسي لباس اغوستئ چي پر هغه باندي به څوارلس پيونده (پيني) لګېدلي وې.

او د هغه پر مخ به همېشه د اوښکو تويدلو څخه لاري جوړي وې.

يو ځل حضرت عمرؓ پر منبر و درېدئ او ويې ويل:

- ﴿اِسمَعُوا وَأَطِيعُوا﴾ ای خلګو! زما خبره واورئ او زما اطاعت وکړئ!
- حضرت سلمان فارسيؓ ولاړ سو او ورته وايي: ﴿لَا نَسمَعُوا وَلَانُطِيعُوا﴾ چي نه دي خبره منو او نه دي فرمانبرداري کوو.
- دی ورته وايي: ولي؟
- حضرت سلمان فارسيؓ ورته فرمايي: تا چي کم قميص اغوستی دئ دا خو په يو چادر کي نسي جوړېدلای ځکه ستا "قد" ډېر غټ دئ او د بيت الماله څخه ټولو ته يو چادر ور تقسيم سوی دئ او ستا قميص د دوو چادرانو څخه جوړ سوی دئ، نو دا دوهم چادر د کمي خوا وو؟ اول د دې جواب را که بيا به ستا خبره موږ اورو.

کچيري يو بادشاه وای، نو د حضرت سلمان فارسيؓ سر به يې پر هغه ځای د تنه جلا کړی وای، ليکن دَی چونکه خليفه دئ، نو پر منبر باندي آواز کوي، چي "عبد الله" چيري دئ؟ عبد الله زما بچی چيري دئ؟

"عبد الله" ولاړ سو، دَی مبارک ورته وايي: ای عبد الله! دا بيان که، چي ستا پلار دا دوهم چادر د کمه ځايه څخه پيدا کړی دئ؟

حضرت عبد اللهؓ ولاړ سو، چي دا چادر زما د حصې دئ، ما خپل پلار ته ور کړی دئ، ځکه چي د هغه قميص په يو چادر کي نه سوای جوړېدلای.

---

(۱) الله جل کی راضی ہوا صفحہ ۲۰

نو حضرت سلمان فارسي ﷛ ورته وايي: چي اوس مي تسلي وسوه، چي کم حکم راته کوي، هغه به اورو او چي کمه خبره راته کوي، هغه به منو (۱).
لس کاله حضرت عمر ﷛ حکومت وکړئ، د وفاته څخه لس کاله وروسته بچي عبدالله ابن عمر ﷛ یې په خوب کي ويني چي دَی ډېر ستړی او په خولو کي غرق خپلي خولې وچوي.
نو حضرت عبدالله ابن عمر پوښتنه ځني کوي:

- پلاره! څنګه يې او څه درسره وسوه؟
- دی په جواب کي ورته وايي: بچيه! دا اوس اوس د حکومت د حساب ورکولو څخه فارغه سوم اوس مي د خپل ځان حساب پاته دئ.

نو په دغه طرز حکومت کولو باندي هم د هغه پر حساب او کتاب لس کاله ولګېدل(۲).
حالانکي حضرت عمر ﷛ هغه سړی وو چي د شپې به ګرځېدئ او د خلکو په حال به يې ځان خبروئ او خلک به ييده وه.

## د حضرت عمر ﷛ د شپې ګرځېدل:

يو ځل د خپل سلطنت په دور کي د شپې ګرځي د يو کودلي سره تيرېږي، نو په هغه کودل کي درې څلور بچيان ژاړي.
نو هغه کودلي ته يې سر ور دننه کړئ، يو بوډۍ پر اور باندي کټو باندي کړې ده لرې يې او بچيان ورته ژاړي.
دَی ورته وايي:

- موري څه خبره ده دا بچيان ولي ژاړي؟
- هغه زنانه ورته وايي: په کور کي څه نسته بچيان د لوږي څخه ژاړي.
- نو دَی ورته وايي: موري! پر دغه اور دي څه باندي کړي دي؟

(۱) اطہ جن کی راضی ہوا صفحہ ۲۴
(۲) اللہ جن کی راضی ہوا صفحہ ۲۰

- هغه ورته وايي: دا صرف د بچیانو د تسلی او آرامولو دپاره او به په کتهو کي پر اور باندي دي او دننه په کتهو کي نور هیڅ نسته. او زما او د "عمر" حساب به د قیامت په میدان کي د الله ﷻ په حضور کي سره کیږي.

د حضرت عمر ﷺ په سترګو کي اوښکي راغلې او ورته وايي:

- موري! عمر غریب ستا په حال څه خبر دئ؟
- هغه زنانه ورته وايي: عمر ﷺ کچیري زموږ په حال ځان نه سي خبرولای، نو بیا زموږ حکومت څنګه کوي؟

حضرت عمر ﷺ د هغه ځایه څخه را منډي کړې راغلئ بیت المال ته او د وړو یوه بوری یې پر خپله ملا باندي کړه او را روان سو، "غلام اسلم" ورته وايي:

- امیر المؤمنینه! هغه بوری به زه پورته کړم.
- دَی مبارک ورته وايي: چي د قیامت په ورځ به هم زما بوج ته پورته کوې.

نو بوری یې را واخیسته او په منډه راغلئ، ډېر ژر یې په هغه کي یو څه "غوړي" او "پنیر" او "خورماوي" سره ګډ کړه "حیصا" په عربو کي یو حلوا وه چي ډېره ژر تیارېدله نو هغه یې ژر تیاره کړه.

د ده "غلام اَسلم" وايي: چي ده به بوټي په دې کتهو پسي اچول، بیا به یې په خوله پو کل، دودان به د ده د ږیري مبارکي څخه را وتل او تر سترګو مبارکو یې اوښکي بهېدلې او د اور په لګولو کي ډېر بې قراره وو، تر داسي وخته چي "حیصا" تیاره سوه.

بیا ده مبارک په خپله په کاچوغه په کاسو کي اچوله او د بچیانو و مخته یې ایښوله او بیا یو طرفته ورته کښېنستئ او د هغوی خوراک کولو ته به یې کتل او بیا چي هغه بچیان ماړه سوه، نو هغوی به بازی سره کولې.

یو څه زمانه بعد چي دَی روانیږي، نو هغه بوډۍ زنانه ورته وايي: چي کاشکي د "عمر" پر ځای باندي ته امیر المؤمنین وای! دَی مبارک دا نه ورته وايي چي

زه یم، بلکي ورته وایي: موري! چي ته کله امیر المؤمنین ته ورسې، نو ما به هلته ووینې.
نن سبا خو زمونږ د ټولو دا خواهش دئ، چي په "اخبارو" کي دي زما نوم راسي چي زه دا کوم او زه هغه کوم.
چي کم کار د الله جَلَّ جَلَالُهُ دپاره کیږي هغه هم مونږ د دنیا دپاره کوو، نو نېکي خو برباد سي او ګناه هم را باندي بار سي.
نو حضرت عمر رضي الله عنه دا نه ورته وایي چي زه څوک یم. آخر و خپل غلام ته وایي: چي دا بچیان ما په ژړا لیدلي وه او زما زړه غواړي چي زه یې په خندا کي ووینم.
کافرانو به دا ویل کچیري د مسلمانانو سره یو بل "عمر" وای، نو په ټوله دنیا کي به اسلام سره غوړېدلی وای.
نو په دې طریقه حکومت کولو وروسته هم د ده پر حساب باندي لس کاله لګیږي او خپل بچي ته وایي: بچیه! د حکومت حساب خو مي ور کړئ او س مي صرف د خپل ځان حساب پاته دئ.(۱)

## د حضرت عثمان رضي الله عنه زُهد:

په مدینه منوره کي الله تعالی حضرت عثمان رضي الله عنه ته ډېر مال او دولت ور کړی وو، چي هغه به په دواړو لاسو د الله تعالی په لار کي خرڅوئ، چي د الله تعالی په دربار کي یې ډیري لوړي درجې پیدا کړي.
یو ځل د حضرت عثمان رضي الله عنه یو تجارتي قافله راغله او سل اوښان بار سوي را ورسېدل د مال را نیولو دپاره کوچني کوچني تجاران قافلې ته راغله او پر دې مال باندي قیمت ایږدي او پر دې مال باندي بولی "لیلام" ایږدي.
او په دې وخت کي په مدینه منوره کي "قحط سالي" هم ده او د انسانانو د خورکې ته ډېر ضرورت دئ.
تجارانو وویل: مونږ د لسو روپو مال په دولس روپې در څخه رانیسو.

(۱) ماخوذ از الله جن کی رضی ہوا سلو ۲۴/۲۳/۲۲

حضرت عثمان ﷺ ورته وايي: چي ماته تر دې زيات قيمت ايښول سوی دئ، تاسو خپل قيمت لړ پورته کړئ.
نو هغه تجاران وايي:

- موږ د لسو روپو مال په پنځلس رانيسو.
- حضرت عثمان ورته وايي: ما ته تر دې زيات ګراک وختي لا ناست دئ.
- نو هغه تجاران ورته وايي: د دې زيات قيمت خو موږ نه سو در کولای.
- دی ورته وايي: چي تر دې ډېر قيمت زما په مخ کي ايښول سوی دئ.
- تاجران پوښتنه څني کوي چي د مديني ټول تاجران خو حاضر دي، هغه څوک دئ چي تر دې زياتي بولی "ليلام" پر دې مال تا ته در کوي؟
- نو دی مبارک ورته وايي: چي ستاسو څخه مخکي لوی ګراک د الله تعالی ذات دئ، تاسو زما د لسو روپو شی په پنځلس رانيسئ، ليکن الله تعالی زما د يوې روپۍ شی په لس را څخه رانيسي.

او په مدينه کي په دې وخت کي قحطي ده زه تاسو ټول پر دې ګواه جوړوم چي زما دا ټوله قافله د تجارت د اصلي سرمايې سره د مدينې د فقيرانو دپاره صدقه ده.

چنانچي ټوله مال يې د فقراوو او غرباوو په مابين کي سره تقسيم کړئ([1]).

## د حضرت عثمان په جنت کي نکاح:

چي کله شپه راغله، نو حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ په خوب کي ويني، چي پيغمبر ﷺ پر سپين آس باندي سپور دئ او زرغونه جامه يې اغوستې ده او په تېزي سره تيرېږي.
حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ يې د آس جلو ونيوئ او ورته وايي:

- ای د الله رسوله! چيرې دومره تېز روان يې، يو ځل ودرېږه ستا ملاقات ته مي زړه غواړي؟

---

([1]) الله کا باغ صفحہ: ۱۹۳

- پیغمبرﷺ ورته وايي: چي زه فارغه نه يم.
- دَی ورته وايي: چي څه وجه ده؟
- هغه ورته وايي: حضرت عثمان رضي الله عنه چي نن په مدينه منوره کي کمه صدقه کړي ده، هغه قبوله سوه او الله تعالیٰ د جنت د حورو سره د ده نکاح تړي، نن په جنت کي د هغه وليمه ده او ټوله انبياء حاضر او زما په انتظار دي، نو زه د عثمان رضي الله عنه وليمې ته ورځم(¹).

## د حضرت عبدالرحمن ابن عوف رضي الله عنه زُهد:

حضرت عبدالرحمن ابن عوف رضي الله عنه چي کله وفات سو، نو درې اربه، لس کروړه، شل لکه، دینارہ نقد په ميراث کي څني پاته سول.
او زر او بنان او د سرو زرو کمي خښتي چي د ده په اولاد کي سره تقسيمدلې، نو د هغې پر کاټولو ډيري اړې ماتي سوې.
د مځکو په شکل د هغه جايدادونه د دې څخه علاوه وه، چي د هغه هيڅ حساب نه کېدئ(²).
ليکن بيا هم حضرت عبدالرحمن ابن عوف رضي الله عنه په دې دنيا کي داسي د زهد وخت تېر کړئ، چي دَی په هغه لسو صحابه وو کي وو چي کم چا ته په دنيا کي د جنت زيري ورکول سوي وو او د عشره وو مبشره وو خطاب ورکول سوی وو.

## د صحابه کرامو زُهد:

چي کله د جيش العسره يعني غزا "تبوک" دپاره پيغمبرﷺ د چندې را ټولو اعلان و کړئ، نو يو صحابي ابو عقيل رضي الله عنه ټوله شپه په مدينه منوره کي د يو يهودي باغ ته اوبه ور کوي، د باغ مالک سهار په مزدوري کي شپږ سېره خورماوي ور کړې.

(¹) اطر کرایتابط صفحه ۱۹۴

(²) اطر کرایتابط صفحه ۱۹۴

حضرت ابو عقیل ﷺ درې کیلو په کور کي بچیانو ته کښېښولې او دا نوري درې کیلو یې په لمن کي را واخیستې او مسجد نبوي ته یې را وړې.
چي هلته حضرت عبدالرحمن ابن عوف ﷺ د ده څخه مخکي زر منه خورماوي د چاندۍ په مد کي ایښې وې.
پېغمبر ﷺ هغه درې کیلو را واخیستې او پر هغه زر منه خورماوو باندي یې سره وغوړولې چي الله تعالی به د دې درو کیلو په وجه دې ټولو خورماوو ته قبولیت ور کړي.
یو بل صحابي د ځانه سره دا وایي: ای الله! ستا نبي خو دا غوښتي دي چي ځان او مال دواړه ولګوئ.
زما سره خو مال نسته، نو د الله په لار کي به یې خرڅ څنګه کړم؟ هغه صحابي په زړه کي وویل: زما سره خو نور هیڅ شی نسته، البته دا وایم چي کم چا زما بې عزتي کړې وي او زما پر هغه باندي حق باندي سوی وي، زه هغه خپل حق و ده ته ور بخښم او دا مې د الله ﷻ په لار کي صدقه ده.
هغه صحابي چي کله د سهار لمانځه ته مسجد نبوي ته راغلئ، نو د لمانځه څخه وروسته پېغمبر ﷺ د صحابه وو څخه پوښتنه کوي چي د شپې چا صدقه د الله تعالی و حضور ته استولې وه؟
صحابه ټول خاموش دي.
پېغمبر ﷺ دوباره پوښتنه کوي، چي د شپې چا صدقه کړې وه؟
د دې صحابي په ذهن کي دا خبره نه وه، چي پېغمبر ﷺ به زما صدقه یادوي.
چنانچه درېم ځل چي کله پېغمبر ﷺ پوښتنه وکړه، نو هغه صحابي ولاړ سو او وایي: ای د الله رسوله! زما سره پیسې نه وې، ما داغه رنګه صدقه وکړه.
پېغمبر ﷺ په جواب کي ورته وایي: ستا صدقه د الله تعالی په دربار کي قبوله او مقبوله وګرځېده(1).
الله تعالی دې موږ او تاسو ټولو ته په دنیا کي د زُهد کولو توفیق را کړي.

---
(1) اطراف ایبانطر ص ۱۹۳

الله تعالی دي زمونږ د زړو څخه د دنيا محبت ليري کړي. او الله تعالی دي زمونږ په زړو کي د خپل ذات محبت قائم او دائم وساتي. او الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمين يارب العالمين)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيرِ خَلقِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَ أَصحَابِهِ أَجمَعِين.

بسم الله الرحمن الرحيم

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآيه)

# د سروز اوريدلو ګناه

(بيان)

مولوي اطيع الله صاحب
استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

ترتيب وتخريج:

مفتي حافظ کليم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانيه الهاشميه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافظ كليم الله صاحب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | ڈلـــــــــــــورم |
| تـاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تـعـــــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ﴾(١).

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

﴿الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ وَالذِّكْرُ يُنْبِتُ الْإِيمَانَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ﴾(٢).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ، وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

**تمهید:**

محترمو سامعینو! نن سبا زموږ په معاشره کي د غزلو او سروزو او ربدلو رواج ډېر عام سوی دئ.

د کور کوز، کوڅو او بازارو څخه د فلمي غزلواو میوزک آوازونه را پورته کیږي.

"ټي وي، وي سي آر او ډِش انټینا" سروزونه انتهاء ته رسېدلي دي.

(١) لقمان آيت نمبر: ٦٠

(٢) بيهقي حديث نمبر: ٢١٠٠٧

بعضي خلک د ودو او د نورو خوشحاليو پر موقع باندي د غزلو آوازونه په بلند آواز پورته کوي، چي په پوره محله، بلکي په ټولو علاقو باندي د دغه فلمي غزلو او ميوزک آوازونه اوربدل کيږي.

کچيري يو سړی په دې وخت کي لمونځ کوي يا تلاوت کوي يا په ذکر مشغوله وي يا په مطالعه اخته وي، يا آرام کوي، نو دی به ضرور د محلې او د علاقې والاوو د ميوزک او د سروزو آوازونه اوري.

چي کم خلک په بازارو کي د فيتو او کېسټو کار وبار کوي او بعضي تجاران او هوټل والا پر خپلو خپلو دوکانو باندي په ډېر لوړ آواز سره "ګانې بجانې" ږغوي.

داغه رنګه "وېګن" او "بس والا" هم د سفر په دوران کي د ګانو بجانو اوربدلو سلسله جاري ساتي.

ايرپورټ او په هوايي جهازو کي هم په سپک آواز سره موسقي اوربدل کيږي.

د دې نتيجه دا ده چي د عامو مسلمانانو د زړو څخه دا خبره وتلې ده چي دا موزک او سروز اوربدل ګناه ده.

او کم خلک چي وعظونه کوي هغه هم اوس ستړي سوه، د دې په باره کي هغوی اوس خپلو وعظو او نصيحتو ته ځای نه ور کوي.

يو زمانه داسي وه کچيري يو غير مسلم د ګانو بجانو سره خپله د واده وراء د مسجد و مخته تېرولې، نو مسلمانانو به دا د مسجد بې حرمتي بلله او د هغه سره به يې د جنګ کولو او د خپل ځان ختمولو څخه هم دريغ نه کوئ.

ليکن نن سبا مسلمانان يا د هغوی اولاد عين د لمونځو په وخت کي د مسجد و مخته فحش فلمي ګاني ږغوي، ليکن دوی ته هيڅ احساس نه کيږئ.

بلکي اوس خو غزلي ويل او اوربدل د روح غزا بلل کيږي او د دې د روا کولو په فکر کي خلک دي، چي نهايت سنګينه خبره ده.

په دې وجه دا خيال او فکر را سره پيدا سو چې په دې باره کې د الله ﷻ او د پيغمبر ﷺ څه فرمودات دې هغه سره را جمع کړم او د مسلمانانو په خدمت کې يې پيش کړم.

چې دوی هغه ووايي او خپل علم پر دې را ولي، په خپله هم د دې ګناه څخه ځان وساتي کي او نور مسلمانان هم وساتي کي او تر اوسه پورې چې څو مره ګناوې ځني سوې وي پر هغه دې توبه وباسي.

## د سروزو په اړه د قرآن کريم فرمان:

په قرآن کريم کې الله تعالٰی څلور ځايه انسانان د غزلو او سروزو څخه منع کړي دي، په هغوی کې يو ځای دا دئ:

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ﴾(١).

بعضې خلک داسې دي چې د هغو خبرو را نيونکي دي چې انسان د الله تعالٰی د لارې څخه غافله کوي، چې د ناپوهی په شکل د الله تعالٰی د لارې څخه دوی واوړې او د الله تعالٰی د حقې لارې دوی مذاق وکړي، دا هغه خلک دي چې د دوی د پاره بدترين عذاب دئ.

په دې آيت د "لَهْوَ الْحَدِيثِ" څخه مراد سروزونه او غزلې دي.

چنانچه د حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه چې کله د دې آيت په باره کې پوښتنه وسوه، نو ده وفرمايل: زما دې قسم په هغه ذات وي چې د ده څخه ماسوا بل معبود نسته چې د دې څخه مراد غزلې او سروزونه دي.

ده دا خپله جمله درې ځله را وګرځوله چې پوښتنه کونکی انسان په دې سره ښه سر خلاص کړي.

---

(١)لقمان آيت نمبر: ٦

حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ به فرمايل: چي د "لَهْوَ الْحَدِيثِ" څخه مراد سروزونه او غزلي او دا قسم شيان دي.

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه څخه را نقل دي: چي دا آيت د سروزو او غزلو په باره کي نازل سوی دئ او په دې کي د "لَهْوَ الْحَدِيثِ" څخه مراد غزلي او داغه رنګه نور شيان دي.

لکه د شپې په وخت کي خلګ قيصې، نقلونه، لطيفې او نور خرافات اوري، بلکي هر هغه شی چي د الله تعالی د عبادت او د ذکره څخه انسان غافله کوي، دا ټول په دې کي داخل دي.

او پيغمبر ﷺ هم د سروزو او غزلو اوربدلو په باره کي ډېر زيات وعيدات فرمايلي دي.

## د پيغمبر ﷺ د بعثت مقصد:

حضرت علي ﷺ د پيغمبر ﷺ يو حديث مبارک را نقل کوي چي پيغمبر ﷺ فرمايي:

﴿وَرَوَى ابْنُ غِيلَانَ عَنْ عَلِيٍّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: بُعِثْتُ بِكَسْرِ الْمَزَامِيرِ﴾(1).

يعني زه د دې سروزو او غزلو د آلاتو د ماتولو دپاره را استول سوی يم.

نو د سروزو آلات ماتول پيغمبر ﷺ د خپل نبوت مقصد بللي دي.

داغه رنګه حضرت ابو امامة الباهلي ﷺ د پيغمبر ﷺ څخه يو روايت را نقل کوي چي دی مبارک فرمايي:

بلا شبهه الله تعالی زه د مسلمانانو دپاره د هدايت او رحمت په شکل را استولی يم او ما ته يې دا حکم را کړئ دئ چي زه به آلات د سروزو او غزلو او امور د جاهليت ختم.

---

(1) نيل الاوطار باب ما جاء في آلة اللهو ص ۱۱۲

داغه رنګه د حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي پېغمبر ﷺ فرمايلي دي:

چي ما ته دا حکم را کول سوی دئ چي زه به ډولونه او د غزلو آلات خرابوم(۱).

د دې درو سره احاديثو څخه دا ښکاره سوه چي د پېغمبر ﷺ د بعثت مقصد که يو طرفته شرک او کفر ختمول او د توحيد دعوت ورکول وو، نو بل طرفته د ده د بعثت مقصد دا هم وو، چي دی د دنيا څخه د سروزو او د غزلو او د موسقيو آلات مات کړي او د هغې نوم و نښان ختم کړي.

که اوس سړی غور او فکر و کړي چي پر کم چا موږ ايمان را وړی دئ او د هغه د شفاعت اميد وارہ يو، هغه دنيا ته د غزلو او سروزو د ختمېدو دپاره راغلی دئ او موږ خپل ځانونه په دې کي مشغول کوو او د ده د بعثت د مقصد مخالفت شروع کوو څومره د افسوس او د خطرې خبره ده!

زموږ دين او ايمان زموږ څخه دا مطالبه کوي، چي د خپل نبي په تابعداری کي د هر قسم غزلو او سروزو څخه ځان وګورو او دا مشغله د همېشه دپاره پرېږدو.

حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه روايت کوي چي نبي اکرم ﷺ په شپه کي د يو سړي د غزلي آواز واورېدئ، نو درې ځله يې دا وويل: د دې سړي لمونځ قبول نه دئ، د دې سړي لمونځ قبول نه دئ او د دې سړي لمونځ قبول نه دئ.

نو غزلي اورېدل او ويل داسې منحوس عمل دئ چي په دې کي مشغوله کېدونکی انسان کچيري لمونځ و کړي، نو فرض خو د ده د ذمې څخه ساقط سي، ليکن د ده لمونځ قبول نه وي، يعني باعث د اجر او ثواب نه وي.

او په بعضو احاديثو کي داسې هم راغلي دي چي غزلي او سروزونه اورېدونکي خلک ددې باوجود چي مسلمانان وي، لمونځ اداکوي او روژه نيسي، نو د هغوی شکلونه به الله تعالی په بېزوګانو او خنزيرانو بدل کړي.

(۱) جمع الجوامع بحواله اصلاحي بيانات ورسائل جلد: ۲ صفحه: ۱۷۱

نو کم سړی چي په دې مرض اخته وي، هغه دي پر دې خپل انجام باندي يو څه غور او فکر وکړي.

## بلا اراده غزلي او سروزونه اورېدل:

نن صبا د غزلو او سروزو آوازونه داسي عام سوي دي چي هيڅ کوڅه او هيڅ بازار د دې څخه خالي نه دئ، چي پر کمه لار سړی تيرېږي، نو بې اختياره د غزلو او سروزو آواز د سړي غوږو ته را رسيږي.
او په کم بس او موټر کي چي سړی سفر کوي، نو په هغه کي هم د سروزو او غزلو رواج چليږي.
که يې انسان هر څو مره منع کړي، نو نه منع کيږي.
خو حالانکي سفر کول د انسان مجبوري وي.
په دغه صورت کي مسئله دا ده چي د سروزو او غزلو د گناه دار او مدار پر قصد او اراده دئ، يعني که يو سړی قصداً غزلي اوري، نو گنهکاره دئ.
کچيري يې بلا قصد او اراده د غزلو او سروزو آواز د انسان غوږو ته را ورسيږي، نو هغه څه گناه نه ده.

## د غزلو څخه خوند اخيستل:

حضرت ابو هريره ﷛ د پيغمبر ﷺ يو حديث مبارک را نقل کوي چي پيغمبر ﷺ به فرمايل: غزلي او سروزونه گناه ده، د هغې دپاره کښېنستل نافرماني ده او د هغې څخه خوند اخيستل کفر دئ.(۱)
په حديث کي د کفره څخه مراد "کفران د نعمت" دئ، د دې مطلب دا دئ چي الله تعالی خو دا اندامونه د دې دپاره در کړي وه چي په هغه سره د الله تعالی

(۱) نيل الاوطار بحواله اصلاحي بيانات و رسائل جلد ۲ صفحه ۱۷۷

احکامات پر ځای کړي او خپل ټوله طاقت او صلاحیت د الله تعالی په عبادت کي ولګوي.
لیکن کچیري ته د داسي کولو پر ځای خپل اندامونه د الله تعالی په نافرماني او په ګناه کي لګوي، نو دا ډېره ناشکري او بې قدري ده.

## د غزلو څخه منافقت پیدا کیږي:

حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ را نقل کوي چي پیغمبر ﷺ به فرمایل:
﴿الغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ﴾(١).
سروزونه او غزلي د انسان په زړه کي داسي منافقت پیدا کوي، لکه اوبه چي پر مځکه باندي وابنه را شنه کوي.
﴿وَالذِّكْرُ يُنْبِتُ الْإِيمَانَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ﴾(٢).
او د الله تعالی ذکر د انسان په زړه کي ایمان داسي پیدا کوي، لکه اوبه چي په مځکه کي وابنه پیدا کوي.
د دې حدیث شریف څخه دا معلومه سوه چي د غزلو ویل او اوربدل د انسان په زړه کي منافقت پیدا کوي.
او د منافقت معنی دا ده چي د انسان به ظاهر او باطن سره جلا وي.
چي کم سړی په سروزو او غزلو ویلو او اوربدلو کي راسي، نو هغه به عام طور د دوو حالو څخه خالي نه وي، یا به هغه د دې باوجود چي مسلمان دئ د لمانځه او روژې تارک وي، او په ښکاره سره به د غزلو ویلو او اوربدلو ګناه کوي، نو په دې حالت کي دی بدترین فاسق او فاجر انسان بلل کیږي.
نن صبا اکثره د غزلو ویلو او اوربدلو والا مسلمانانو داغه حالت کي دي.

---

(١) بیهقي حدیث نمبر: ٣٣٦١
(٢) بیهقي حدیث نمبر: ٢١٠٠٧

يا به په ظاهره دی د لمانځه او روژې پای بنده وي او د الله تعالی احکام به پر ځای کوي، ليکن د دې سره سره به دی د غزلو ويلو او اوربدلو څخه خوند اخلي، نو په دې صورت کي په ظاهر چي څنګه دئ په باطن کي هغسي نه معلوميږي.
ځکه په ظاهر خو دی د الله تعالی احکام ادا کوي، ليکن په زړه کي يې د غزلو ويلو او د موسيقي اوربدلو محبت پروت دئ چي د هغه په وجه د الله تعالی او د هغه د رسول د ممانعت او د ناراضګی څه پروا نه ساتي.

## په غوږو کي ويلي سرف توييدل:

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي پيغمبر ﷺ به فرمايل: چي يو سړی د غزلو ويلو والا سره په دې نيت باندي کښېني چي د هغه غزلي واوري، نو د قيامت په ميدان کي به د ده په غوږو کي ويلي سوي "سرف" ور تويول کيږي(¹).
فلمونه که سړی په "سينما" کي ويني يا يې پر "ټي وي" ويني د هغه اهم مقصد دا وي چي غزلي ويونکي او اتڼ کونکي زناني ووينې او د هغې د حسن او جماله څخه جنسي خوند واخلي.
او هلته دا مقصد هم وي چي د هغې غزلي واوري، بلکي د غزلو اوربدلو ذرائع او اسباب د ليدلو په نسبت ډېر زيات دي.
پر "ريډيو" باندي او د "فيتې" په ذريعه او د "ټيپ رکاټ" په ذريعه انسان د غزلو اوربدل عام کولای سي.
نو غزلي اوربدل په هر شکل په هر حال کي ګناه ده.
په دنيا او د دنيا په دې چند روزه زندګی کي انسان ته شايد معلومه نه سي.

(¹) ابن عساكر بحواله اصلاحي بيانات ورسائل جلد: ۲ صفحه: ۱۸۱

لیکن د دې انجام د قیامت په میدان کي دا وي چي د جهنم په اور ویلي سوي "سرف" د ده په غوږو کي اچول کیږي او د قیامت د ورځي حساب او کتاب، عذاب او ثواب دا بالکل برحق دي.

**د پیغمبرﷺ ښرا:**

حضرت ابو هریرهؓ یو روایت را نقل کوي چي موږ د پیغمبرﷺ سره په یو سفر کي وو، ده د دوو کسانو د غزلو آواز واوریدئ، چي په هغوی کي یوه غزل ویله او دوهم د هغه جواب ور کوئ.
پیغمبرﷺ به فرمایل: چي تاسو وګورئ! دا څوک دي؟ خلګو ورته وویل: چي فلانکی او فلانکی دي. پیغمبرﷺ د هغوی دپاره ښرا وکړه او دا یې وویل: ای الله! دوی په جهنم کي پرمخي و غوځوې(¹).
د دې آیاتو او احادیثو څخه دا خبره ښکاره سوه چي غزلي ویل او اوریدل حرام کار دئ او د هغې په ناجائز کیدلو کي هیڅ شک نسته، نو هر مسلمان نارینه او زنانه باید د دې څخه خپل ځان وګوري.
بعضي خلک د غزلو د جواز دپاره عجیب او غریب دلائل پیشوي، چي د هغه په اوریدلو سره بعضي "ساده لوحه" مسلمانانه په شک کي مبتلاء وي.
زه په اختصار سره د هغوی د غزلو د جواز بې وزن دلائل ذکر کوم:
حضرت عائشهؓ فرمایي: پیغمبرﷺ حجرې ته راغلئ او په دې وخت کي دوې انجوني زما سره ناستي دي د "جنګ بُعاث" غزلي وایي، نو پیغمبرﷺ پر بستره پرېوتئ او مخ یې بل طرفته وګرځوئ.
حضرت ابوبکرؓ راغلئ، ماته په غوصه سو او راته ویې ویل: چي دا شیطاني غزلي او د پیغمبرﷺ و مخته.

(¹)مجمع الزوائد بحواله اصلاحي بیانات و رسائل جلد: ٦-صفحه: ١٨۴

پیغمبر ﷺ حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته متوجه سو او ورته وایي: چي پرېږده؟ چي کله حضرت ابوبکر رضی الله عنه په نورو کارو کي مشغوله سو، ما هغه دوو انجونو ته اشاره و کړه، هغه دباندي ووتې او دا د آختر ورځ وه.(۱)

بعضي خلک د دې احادیثو حواله ورکوي او د ځان دپاره غزلي ویل او اوربدل جائز بولي او دوی وایي: چي کله د اختر په ورځ د پیغمبر ﷺ په کور کي انجوني غزلي وایي او پیغمبر ﷺ د هغه اجازت ور کوي، نو زموږ دپاره هم د خوشحالۍ پر موقع باندي د غزلو ویل او اوربدل جائز دي.

لیکن د داسي خلګو دپاره د دې حدیث څخه د غزلو جائز بلل صحیح نه دي؛ ځکه په دې حدیث کي د غزلو ویلو هیڅ ذکر نسته، بلکي په دې کي د "جنګ بغاث" یو څه اشعار وه چي دوی په ترنم سره ویل او د دې اشعارو سره د غزلو هیڅ تعلق نسته.

او "جنګ بغاث" د هغه جنګ نوم وو، چي د پیغمبر ﷺ د هجرت څخه درې کاله مخکي د "اَوس، او د خزرج" د قبیلو په مابین کي سوی وو.

دې انجونو چي کم اشعار ویل، نو هغه په دې جنګ کي د شجاعت او بهادرۍ د جذباتو را پورته کولو متعلق وو، چي هغه هم یو قسم د جهاد دپاره معاون او مفید دي.

او د دې سره سره دغه انجوني چي وې تر دې وخته نابالغه او غیر مکلفي وې، نو په دې وجه پیغمبر ﷺ منع نه کړې.

## د ډول په ذریعه سره د نکاح اعلان:

حضرت عائشة رضی الله عنها د پیغمبر ﷺ څخه روایت کوي:

﴿أَعْلِنُوا هَذَا النِّكَاحَ، وَاجْعَلُوهُ فِي الْمَسَاجِدِ، وَاضْرِبُوا عَلَيْهِ بِالدُّفُوفِ﴾(۲).

---

(۱) بخاري شریف حدیث نمبر، ۹۵۲

(۲) ترمذي شریف حدیث ۱۰۸۹

د دې حديث څخه او د بعضي نورو احاديثو څخه د نكاح پر موقع باندي د ډول وهلو ذكر دئ، چي د هغه څخه مقصود د نكاح اعلان او د هغه اطلاع كول دي، په دې وجه علماء كرام فرمايي: چي د نكاح پر موقع باندي د نكاح د اعلان كولو دپاره ډول وهل جائز خو په دې شرط چي د هغه سره به ذ يو بل حرام كار ارتكاب نه وي.

او ډول به په دومره انداز سره وهل كيږي چي په هغه سره د نكاح د اعلان ضرورت پوره سي او د نكاح د اعلان دپاره خامخا د ډول وهل هم ضروري نه دي.

كچيري په يو بله طريقه سره خلكو ته د نكاح اطلاع رسيږي، نو هم كافي ده.

بلكي بعضو علماء كرامو د ډول وهل د نكاح د اعلان دپاره منع كړي دي(۱).

په دې وجه د نكاح د اعلان دپاره په ډول نه ټكولو كي احتياط دئ، خو دا ټوله تفصيل د نكاح د اعلان دپاره د ډول په ټكولو كي دئ.

بعضو خلكو د ډول پر اجازت باندي غزلي، اتڼونه او نور د بې حيايۍ او فحاشۍ آلات قياس كړي دي، نو دې ته يې هم اجازت وركړى دئ.

او حالانكي دا سراسر غلطه خبره ده؛ ځكه چي غزلي ويل او اوربدل او د موسيقي آلات د شريعت د نظره حرام دي.

او د دې څخه د ځان بچاوولو په شريعت كي خاص تاكيد دئ، البته د ډول اجازت صرف د نكاح د اعلان دپاره سوى دئ پر هغې باندي نور شيان قياسول غلط دي.

(۱) كذا في امداد الفتاوى ج۲ ص۲۲۸

## د روح غذا:

بعضي خلک موسیقي او سروزونه جائز بولي او دا دلیل پېشوي، چې "موسیقي د روح غِذا ده" دا هم غلطه خبره ده؛ ځکه چې کم شی حرام وي هغه د روح غِذا نه سي کېدای.

لکه خَنزیر او د سپي غوښې حرامې دي، هغه د انسان د جسد غِذا نه سي کېدای.

بلکي که تاسو پر دې باندي لږ زیات غور و کړئ، نو په دې وجه هم د روح غزا نه سي کېدای.

چي غِذا هغه شي ته وایي چي د خوراکه څخه وروسته د جسم په هغه سره نش و نما راسي او د صحت دپاره ضرر ناکه نه وي.

مثلا موږ د انسان دپاره غِذا غنم، ورجي، سبزیاني او حلالي غوښې او مېوه بولو.

دا نه سو ویلای چي پروړ او وابنه، چنجیان او مار، لړم او شراب دا د انسان غِذا دي؛ ځکه دا ټوله د انسان د جسم او د صحت دپاره نقصاني دي.

بالکل داغه رنګه په غزلو سره د غوږو په ذریعه سره په انسان کي د ننه جنسي او شهواني جذبات را پورته کیږي چي په هغه سره انسان د عیاشۍ او بد کارۍ دپاره تیاریږي، چي د انسان د روح دپاره سخت ضرر مند دي.

نو مُضر شی غِذا نه سي کېدای، ځکه موږ دا وایو چي غزلي او موسیقي د روح دپاره غِذا بلل غلط دي.

## قوّالي ویل او اورېدل:

بعضي خلک غزلي ویل او اورېدل خو ګناه بولي، لیکن "قوالیاني" اورېدل او ویل ګناه نه بولي، نو په دې وجه "قوالیاني" بې خطره اوري.

بلکي د کال په بعضو محترمو ورځو کي غزلي اوربډل بند کړي د هغه پر ځای "قواليانې" اوري، لکه د د "محرم" د اولي څخه بيا تر لسم "محرم" پوري او د "ربيع الاول" د اولي څخه بيا تر "دولسم ربيع الاوله" پوري، يا په "رمضان المبارک" کي د غزلو پر ځای "قواليانې" اوري.

او بعضي خلګ خو يې بالکل باعث د ثواب بولي او هغه خلګ د "قواليو" ويلو دپاره باقاعده مجلسونه جوړوي، چي لوی لوی قوالان را غونډتل کيږي چي ټوله شپه په قواليو ويلو کي تېروي او د ډېري غټي مزدوري، وزکولو څخه وروسته يې رخصتوي، او دا خلګ د دې دپاره دا جواز پېشوي چي د ډيرو غټو غټو بزرګانو قوالۍ اوربډلي دي، نو موږ يې هم اورو.

حالانکي چي د کمو بزرګانو څخه د قواليو اوربډل ثابت دي، د هغو څخه د قواليو اوربډلو دپاره څو شروط هم ثابت دي:

1. چي قواليو ويلو والا به بې ږيري هلک يا زنانه نه وي.
2. د قواليو اشعار او د هغه مضمون به فحش او خلاف شرعه نه وي.
3. دا قوالي به قوالي ويونکی د الله جل جلاله د رضا دپاره وايي او پر دې به اجر او مزدوري نه غواړي.
4. او قواليو اوربډلو والا به ټول متقيان او پرهېزګاره خلګ وي، فاسق، فاجر او د دينه څخه ليري خلګ به نه وي.
5. د قوالۍ سره به ډول، ساز او سارنګۍ نه وي.

نو په دې اوس قواليو کي دا شرطونه بالکل نسته، نو د نن صبا قواليانې ويل او اوربډل حرام دي او د هغه څخه ځان بچاوول واجب دي.

## د سلطان الاولياء د قوالۍ څخه توبه:

په دغه شرطو باندي د کمو بزرګانو څخه چي د قوالۍ اوربډل ثابت دي، په هغوی کي د بعضو څخه توبه هم ثابته ده.

چنانچه حکیم الامت حضرت تهانوي رحمة الله علیه په خپل وعظ "الحدود والقیود" کي په تفصیل سره ذکر کړي دي، چنانچه ده لیکلي دي چي د یو بزرګه څخه د سماع او قوالیو په باره کي چا سوال وکړئ چي دا جائز دي که نه؟

ده په جواب کي ورته وویل: چي "عزیز من" تا دداسي خبري پوښتنه وکړه، چي د هغې فیصله کول زما او ستا کار نه دئ، نو د جواب پر ځای به زه تا ته یوه قیصه وکړم.

هغه دا چي قاضي ضیاء الدین سنامي رحمة الله علیه د حضرت "سلطان الاولیاء" خواجه "نظام الدین رحمة الله علیه" هم عصر وو، "سلطان الاولیاء" صاحب سماع وو، یعني چي قوالۍ به یې اورېدلې او "قاضي صاحب" به دَی د قوالیو د سماع څخه منع کوي.

یو ځل قاضي صاحب ته دا معلومه سوه، چي د "سلطان الاولیاء" په دربار کي د قوالیو پروګرام او مجلس جوړ دئ، نو ده د حکومت د طرفه عسکر د قوالیو د مجلس ختمولو دپاره را روان کړه.

چي کله راغلئ، نو که ګوري یو ډېره لویه خېمه ولاړه ده، چي په هغه کي د "سلطان الاولیاء" د جماعت داسي هجوم دئ چي قاضي صاحب ته د دننه ور تولو موقع نه سوه پیدا.

نو ده دې خپلو عسکرو ته حکم ور کړئ چي د خېمې تناوونه پرې کړئ چي خېمه را ونړیږي او مجمع به سره منتشره سي.

عسکرو د خېمې تناوونه پرې کړه، مګر خېمه داغسي په هوا کي معلقه ولاړه وه، را ایله نه سوه. قاضي صاحب خپلو عسکرو ته وویل: د دې خبري څخه مه دوکه کېږئ د بدعتي انسانه څخه د "خوارقو" صدور کېدای سي او دا د قبولیت علامه نه ده.

په دې وخت کي قاضي صاحب د خپلو عسکرو سره د هغه مجلس په منتشر کولو کي ناکامه سو، نو واپس راغلئ.

دوهم وخت د سلطان الاولياء کور ته ورغلئ او ورته ويې ويل:

- ته د دې قواليو او ربډلو څخه توبه نه کاږې.
- سلطان الاولياء ورته وايي: کچيري ما د پيغمبر ﷺ څخه اجازه در واخسته، نو بيا خو به مې پرېږدې.
- نو قاضي صاحب ورته وايي: چې صحيح ده.

قاضي صاحب ته د سلطان الاولياء د بزرگۍ معلومات وو، هغه په دې پوهېدئ چې دی ما ته د پيغمبر ﷺ زيارت را کولای سي، نو دا فکر يې و کړئ، چې دغه دولت نو ولي د لاسه ورکوم.

چنانچه سلطان الاولياء د ده و طرفته متوجه سو، نو قاضي صاحب ته د پيغمبر ﷺ د روحانيت کشف وسو او پيغمبر ﷺ ورته وايي:

- زما فقير نظام الدين پرېږده ولي يې تنگوې؟
- قاضي سنامي رحمة الله عليه ورته وايي: ای د الله رسوله! زه هيڅ په ځان نه پوهېږم، چې زه په څه حال کي يم، آيا زه وينښ يم که ويده يم او په صحيح طريقه سره او ربډل کولای سم او په خبره پوهېږم که د مدهوشۍ په حالت کي يم؟ او کم احاديث چې صحابه وو ستا څخه د يقظت يعني بيدارۍ په حالت کي اوربډلي دي او بيا تر موږه پوري را رسېدلي دي، هغه د دې وينا څخه اولی او اقدم يعني راجح دي تر هغه چې زه يې اوس اورم.

پر دې باندي پيغمبر ﷺ تبسم وکئ او دا حالت ختم سو.

پر دې باندي سلطان الاولياء ورته وايي:

- پيغمبر ﷺ دي وليدئ، څه يې درته وويل؟
- قاضي صاحب ورته وايي: زه دي وليدم چې ما څه ورته وويل؟

بيا سلطان الاولياء د قاضي صاحب په مخ کي يو "مُنشد" يعني قوال ته اشاره وکړه هغه قوالي شروع کړه، قاضي صاحب هم ناست دئ او د ځانه سره دا سوچ کوي چې د دې بدعت به پر دې ځای باندي مخ نيسم.

قوال چي كله شعرونه شروع كړه، نو سلطان الاولياء په وجد او جذب كي راغلئ او ولاړ سو، نو قاضي صاحب تر لاس و نيوئ بيرته يې كښېنوئ.
دوهم ځل بيا پر سلطان الاولياء باندي وجد او جذب راغلئ، بيا ولاړ سو، قاضي صاحب بيا كښېنوئ.
دريم ځل چي كله سلطان الاولياء ولاړ سو، نو په دې ځل قاضي صاحب لاسونه د معافي په شكل ونيول او د سلطان الاولياء و مخته ولاړ دئ.
پر دې باندي د قاضي صاحب ملګري ټول په حيرت كي سوه چي دا اوس څه وسول د ټولو دا خيال سو چي په آئنده كي به قاضي صاحب دغه سلطان الاولياء د سماع څخه منع نه كړي.
چي كله د سماع او قوالي مجلس ختم سو، نو قاضي صاحب روان سو او ورته وايي: بيا به راځم او د دې بدعته څخه به دي منع كوم.
چي كله واپس را روان دئ، په دې وخت كي د قاضي صاحب ملګرو د ده څخه پوښتنه وكړه:
- چي څه پېښه وسوه چي دريم ځل دي د سلطان الاولياء و مخته لاسونه جوړه كړه او د معافي په شكل ودرېدې؟
- قاضي صاحب خپلو ملګرو ته وايي: سلطان الاولياء چي اول ځل په وجد كي راغلئ، نو د ده روح تر اول اسمانه پوري ورسېدئ او تر هغه ځايه زه هم رسېدلای سوم، نو ځكه مي واپس را ونيوئ او كښې مي نوئ.
او دوهم ځل چي كله ده ته وجد وسو، نو د ده روح د عرش و پښو ته ورسېدئ، نو تر هغه ځايه زما هم رسېدل وه، نو د هغه ځايه څخه مي هم واپس را وستئ.
دريم ځل چي كله ده ته وجد وسو، نو د ده روح فوق العرش ته ورسېدئ، نو ما دا وغوښتل چي د هغه ځايه څخه يې هم واپس را ولم، ليكن د

عرش ملائکو زه را وګرځولم چې د عرشه څخه پورته نظام الدین تللای سي او ته نه سې تللای.

نو په دې وخت کې ما ته د عرش تجلیات را ښکاره سـ .. زه د هغه تجلیاتو و مخته دست بسته ودرېدم، د دې بدعتي و مخته ... ست بسته نه یم درېدلی، دا بدعتي که هر څومره عرش ته ورسېږي، بیا به یې هم د دې بدعته څخه منع کوم.

قاضي صاحب پر شریعت ډېر پوخ انسان وو، د سلطان الاولیاء د مقاماتو څخه هم واقف وو او په خپله هم صاحب مقامات وو.

او په دې پوهېدئ چې د سلطان الاولیاء مقام زما څخه اعلی او ارفع دئ، مګر د دې سره سره به یې بدعت ته بدعت ویل.

دا ډېر لوی کمال دئ، ور نه ناقص سړی په دې وخت کې په دوکه کې راځي او د بدعت په بدعت کېدلو کې به تأمل کوي.

مګر قاضي صاحب پر دې هیڅ تأمل نه و کړئ، دا د ده د کمال دلیل وو. او واقعي هم د داسي صاحب کمال پر سلطان الاولیاء باندي د امتثال حق وو.

بیا اتفاق داسي وسو، چې د قاضي صاحب د وفات وخت د سلطان الاولیاء څخه مخکي راغلئ، نو سلطان الاولیاء د ده پوښتني ته راغلئ، چې دروازې ته را ورسېدئ، نو اجازت یې طلب کړئ.

قاضي صاحب ورته وایي:

- سلطان الاولیاء ته ووایه، چې دا وخت د وصال دئ او دا زما نازک وخت دئ، په دې وخت کې د یو بدعتي مخ لیدل نه غواړم.
- سلطان الاولیاء جواب وز استوي چې قاضي صاحب ته ووایه چې هغه بدعتي داسي بې ادبه نه دئ، چې د سنتو دربار ته به په بدعت ککړ راځي. چې هغه د حضرت د مذاقه سره واقف دئ، او د هغه د مذاق یې

پوره رعایت کړی دئ او حاضر سوی دئ. او ما د هغه بدعته څخه توبه کښلې ده، نو راغلی یم.

چي کله قاضي صاحب دا جواب واورېدئ، نو پر هغه باندي د ګريه او ژړا حالت طاري سو او خپله لنګوټه يې د سره څخه ليري کړه او خادم ته يې ور کړه چي سلطان الاولياء ته ووايه چي زما پر دې لنګوټه پښې اږده او تر ما پوري راسه!

بس داغه يو کسر وو چي هغه ختم سو، باقي د ده د مقاماتو عاليو څخه زه ناخبره نه یم.

گر بر سر و چشم من نشینی.... نازت بکشم که نازنینی

کچيري ته زما پر سر او زما پر سترګو باندي کښېنې زه به ستا نازونه برداشوم؛ ځکه چي زما محبوب يې.

خادم د قاضي صاحب لنګوټه سلطان الاولياء ته راوړل، نو سلطان الاولياء هغه لنګوټه پر سر کښېښوله او ويې ويل: چي دا لنګوټه خو شريعت دئ، زه به شريعت څنګه تر پښو لاندي کوم؟ نو راغلئ او کښېنستئ.

قاضي صاحب ورته وايي:

آنانکه خاک را بنظر کیمیا کنند.... آیا بود که گوشهٔ چشمی بما کنند

هغه خلک چي په يو نظر سره د خاورو څخه سره زر جوړوي، ممکنه ده چي پر موږ باندي هم يو نظر وکړي.

نو حضرت اوس زما آخري وخت دئ ته پر ما باندي يو توجه وکه! چنانچه سلطان الاولياء توجه شروع کړه او داسي توجه يې پر وکړه چي د قاضي صاحب روح مبارک په زياته فرح او خوشحالي کي عالمي بالا ته پرواز وکړئ.

چي کله د قاضي صاحب وصال وسو، نو سلطان الاولياء ژړل او دابه يې ويل: افسوس د شريعت يو ستن ونړېده!

چي کله يې دا قيصه بيان کړه، نو هغه بزرګ وويل: وروره! نه زه نظام الدين يم چي اجازت در کړم، نه زه ضياء الدين يم چي منع دي کړم.

دا قيصه په اخبار الاخيار کي هم ليکلې ده.(۱)

## د سروز په محفل کي شرکت:

نن صبا د غزلو ويل او اورېدل دومره اندازه عام سوي دي چي اکثره د ودو يا نورو خوشحاليو او تقريباتو پر موقع باندي ويل کيږي.

بلکي په بعضي محلو کي پر دې موقع باندي په دومره لوړ آواز سره بدلي ويل کيږي، چي په پوره محله کي هغه آوازونه اورېدل کيږي او ټوله محلې والا په دې ناگهاني آفت کي مبتلاء وي.

ځکه د غزلو د آوازه څخه نه ثوک مطالعه کولای سي، نه تلاوت، نه عبادت، نه ذکر او نه دعا کولای سي، بلکي ثوک آرام هم نه سي کولای.

د دغه رنگه غزلو د آوازه څخه نورو خلگو ته تکليف رسول حرام او سخته گناه ده، په داسي تقريباتو کي شرکت کول ناروا دي.

هغه که تقريب والا هر څومره بده بولي بايد انسان د هغه پروا ونه کړي، ځکه د يو انسان د خوشحاله کولو په خاطر الله تعالی ناراضه کول روا نه دي.

## پر غزلو نه اورېدلو باندي ثواب:

حضرت ابن عباس ﷺ يو روايت را نقل کوي چي نبي اکرم ﷺ به فرمايل: د قيامت په ميدان کي به الله تعالی اعلان وکړي چي چيري دي هغه خلگ چي په دنيا کي يې خپل غوږونه او سترگي د شيطاني باجو او د هغه د ږغونکو څخه محفوظه کړي وي؟ دا خلگ د ټولو جماعتو څخه را جلا کړئ!

چنانچه فرشتې به دا خلگ را جلا کړي، د مشک او عنبر پر غونډيو باندي به يې کښېنوي.

(۱)وعظ الحدود والقيود ص۳۷/۳۸/۳۹

د دې شخه وروسته به الله تعالی فرشتو ته حکم ور کړي، چې و دوی ته زما د پاکۍ او بزرگۍ غزلې واوروئ! چنانچه فرشتې به و دوی ته په داسې خواږه او ښائسته آواز باندې د الله تعالی ذکر اوروي چې اورېدونکو به هیڅ کله داسې آوازونه وي اورېدلی.(۱)

لهذا غزلې اورېدل، غزلې ویل او غزلې ویونکې لیدل او په کم محفل کې چې غزلې ویل کیږي په هغه کې د شرکت کولو شخه باید مسلمان خپل ځان محفوظه کړي.

او هغه غزل که د یو نارینه او زنانه شخه براه راست اورېدل کیږي، یا د فیتې؛ رېډیو او ټي وي په ذریعه سره اورېدل کیږي.

په هر صورت باید انسان خپل ځان د دې شخه بچاو کړي چې د اورېدلو د وباله شخه محفوظه سي او دا ثوابونه د ده په نصیب سي.

الله تعالی دې موږ او تاسو ته د دې گناهو شخه د بچاوېدلو توفیق را کړي.

او الله تعالی دې دا ځو خبرې په خپل دربار کې قبولې او مقبولې وگرځوي.

(آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْن.

(۱)جمع الفوائد بحواله اصلاحي بیانات ورسائل جلد: ۲ صفحه: ۱۹۵

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیہ)

# مرګ یقیني راتلونکي دئ

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | ثلـــــــــورم |
| تـاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تـعـــــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِه خَيْرِ الْوَرٰى وَعَلٰى آلِهِ وَ اَصْحَابِهِ نُجُوْمِ الْإِقْتِدٰى.

اَمَّابَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.

قَالَ اللّٰه تَبَارَکَ وَتَعَالٰى: ﴿إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا﴾(١).

وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى فِي مَقَامٍ آخَرَ: ﴿إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ مِيقَاتُهُمْ أَجْمَعِينَ﴾(٢).

وَقَال رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ ﴿اَلدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ﴾(٣).

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم، وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه وينا:

محترمو مشرانو! الله تعالی و انسان ته په دنيا کي زندګي ور کړې ده خو د انسان زندګي په دنيا کي ډېره مختصره عارضي، فاني، او ډېره ژر ختمېدونکې زندګي ده.

عام طور انسانان د دنيا دا مختصره زندګي ډېره د غفلت او ناپوهۍ او لاوبالۍ په شکل باندي تېروي،

(١) النبا آيت نمبر ١٧
(٢) دخان آيت نمبر ٤٠
(٣) شعب الايمان حديث نمبر ٧٠١٦

نن سبا انسانانو په دنیا کي ډېر اوږده اوږده امیدونه تړلي دي څوک د کوټیانو او بنګلو خوبونهویني او څوک د خپل منصب او شهرت زیاتولو په فکر کي دي کله کله د خپلو عاریفانو او مقابلینو ومخته لوړي لوړي دعوې کوي.
حالانکه پیغمبرﷺ د صحابه کرامو ﷺ داسي جماعت تیار کړی وو چي هغو به هره ورځ د خپلي زندګی آخرنی ورځ بلله.
حضرت عبدالله بن عمر ﷺ به فرمایل: ﴿إذَا أَصْبَحْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الْمَسَاءَ , وَإِذَا أَمْسَيْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الصَّبَاحَ وَخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ لِمَرَضِكَ وَخُذْ مِنْ حَيَاتِكَ لِمَوْتِكَ﴾ چي کله سهار سي نو په خپله زندګي باید انسان د ماښام راتللو انتظار ونه کړي او چي کله ماښام سي نو باید انسان د سهار انتظار ونه کړي او د مرګ دپاره خپلي ساوي شماري او خپل ځان په مړو کي بولي([1]).

## د مرګ د راتللو وخت:

نبي اکرمﷺ د خپلو صحابه کرامو ﷺ څخه پوښتنه کوي چي ستاسو د مرګ په باره کي څه رأیه ده چي مرګ به کله راځي؟
یو صحابي مبارک ورته وایي أی د الله ﷻ رسوله! چي کله سهار را پورته سم نو زما دا یقین نه وي چي زما په زندګي کي به بیا پر ما شپه راځي او که به نه راځي پیغمبرﷺ د دوهم صحابي څخه پوښتنه کوي هغه په جواب کي ورته وایي چي أی د الله ﷻ رسوله! چي کله د څلورو رکعاتو نیت وتړم دا یقین مي نه وي چي آیا دا څلور رکعته به زما په زندګي کي مکمل سي او که به نسي په آخر کي پیغمبرﷺ د خپل زړه حال ورته وایي چي زما خو داسي حال دئ چي کله زه

([1]) شعب الایمان حدیث نمبر: ۹۷۶۳

لمونځ کوم او يوه طرفته سلام وګرځوم، نو دا يقين مي نه وي چي دوهم طرفته سلام ګرځول به زما په ژوند کي وي که به نه وي(۱).
یقیناً هم د انسان د زندګۍ د سترګو د رپ غوندي مقدار بروسه او باور نسته مرګ هر وخت پر انسان باندي راتلای سي.

## د پنځو شیانو علم:

امام مالک رحمة الله علیه اولس کاله مسلسل په مدينه منوره کي د پيغمبر ﷺ پر مسند باندي د حديثو درس ورکړئ يو ځل په خوب کي د پيغمبر ﷺ زيارت الله جل جلاله ورنصيب کړي امام مالک رحمة الله علیه په خوب کي د پيغمبر ﷺ څخه پوښتنه کوي چي ای د الله جل جلاله رسوله! مرګ به کله راځي؟
پيغمبر ﷺ د لاس په پنځو ګوتو باندي اشاره ورته وکړه امام مالک رحمة الله علیه د دې اشارې په مطلب باندي پوره پوه نه سو او په دې سوچ او فکر کي سو چي آيا د دې مطلب اوس دا دئ چي پنځه ورځي بعد يا پنځه مياشتي او يا پنځه کاله بعد به مرګ راځي او که د دې څه مطلب دئ.
خو په دې زمانه کي د خوبونو مشهور مُعَبِّر او مشهور تابعي ابن سيرين رحمة الله علیه ژوندی دئ د هغه څخه د دې خوب تعبير غواړي.
ابن سيرين رحمة الله علیه چي کله د ده خوب واورېدئ نو د خوب په تعبير کي ورته وايي چي در حقيقت پيغمبر ﷺ په دې پنځو ګوتو اشارې سره د "سورة لقمان" هغه آيت ته اشاره کړې ده چي په هغه کي الله جل جلاله دا فرمايلي دي چي د پنځو شيانو علم د الله تعالی څخه ماسوا و يو چاته هم نه دئ ورکول سوئ او هغه آيت شريف دا دئ:

(۱) موت کی تیاری صفحہ ۱۴

﴿إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾(١) د قيامت علم د الله تعالی سره دئ، چي قيامت به کله راځي، د باران حقيقي او يقيني علم هم د الله تعالی سره دئ چي باران به څونه او کله راوريږي او د انسان د را رواني ورځي علم هم د الله تعالی سره دئ چي انسان به په را روانه ورځ کي څه کوي او انسان ته به پر کمه ځمکه باندي مرگ راځي.

د دې پنځو شيانو علم الله تعالی وهيڅ چاته نه دئ ور کړی، نو ځکه د مرگ علم د الله تعالی څخه ماسوا د هيڅ چا سره نه وي(٢).

## روزانه د مرگ اعداد او شمار:

د اخباري اعداد و شمار مطابق په هره ورځ او شپه کي پنځلس لکه (١٥٠٠٠٠) انسانان د ځمکي پر مخ باندي مړه کيږي هسي نه چي موږ په د غسي غفلت کي زندگي تيروو او مرگ کرار کرار را نزدې کيږي او زموږ د کور د دروازې تر چار چوب يې ځان را رسولی وي او موږ په خبر نه يو(٣).

حضرت ابوبکر ﷺ به فرمايل ﴿كُلُّ امْرِئٍ مُصَبَّحٌ فِي أَهْلِهِ وَالمَوْتُ أَدْنَى مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ﴾(٤) هر سړی په کورکي سهار د خپلو بچيانو سره ناست وي او د را رواني ورځي د بچيانو فرمايشونه پوره کوي او دی غريب په ځان باندي خبر نه وي مرگ وده ته دده د بوټ تر تسمې هم را نزدې سوی وي.

(١) لقمان آيت نمبر ٣٤
(٢) موت كی تیاری صفحه : ١٥
(٣) موت كی تیاری صفحه ٦٢
(٤) بخاري شريف حديث نمبر : ١٨٨٩

امام غزالی رحمۃ اللہ علیہ به کله فرمايل أی دوسته! ډېر ځله داسي ليدل سوي ده چي په واده او په خوشحالی کي مصروفه يې په خپل کاروبار کي مشغوله يې او د خپل کور د ضروریاتو پوره کولو کي مصروفه يې حالانکه ستا نوم په مړو کي شمارل سوی وي، او "ملک الموت" ستا د روح پورته کولو دپاره را روان وي او ته په ځان باندي خبر نه يې.

بلکه امام غزالي رحمۃ اللہ علیہ تر دې لاهم عجيبه خبره ليکلې ده: چي ډېر ځله داسي وي چي ته د خپلو بچيانو دودو او خوشحاليو فکر اخستی يې ليکن کم تهوکر چي ستا د بدن کفن جوړېږي هغه د کمپنی څخه راوتلی دئ او ستا ونبار ته را رسېدلی دئ او د ښار په دوکان کي ستا د قريب په انتظار پروت وي چي کله به ما وړي او کله به زه د ده پر بدن باندي پيچل کېږم.

## د قبر آواز:

محترمو مشرانو! موږ که هرڅومره مرګ هېر کړو د مرګه څخه موږ نه هېرېږو.

په حديث شريف کي راځي چي د هر انسان قبر په ورځ کي اويا واره هغه انسان يا دوې او دا وايي چي أی انسانه!

﴿أَنَا بَيْتُ الْوَحْدَةِ﴾ زه د يوازي والي او تنهايي کور يم.

﴿أَنَا بَيْتُ الظُّلُمَاتِ﴾ زه د تاريکی کور يم.

﴿أَنَا بَيْتُ الْحَيَّةِ وَالْعَقَارِبِ﴾(۱) زه د مارانو او لړمانو کور يم ماته چي راځې د زاد او د توښې سره راسه دلته صرف ستا قبر دئ په دې کي ستا خاموشي ده او په دې کي ستا تنهايي ده او دلته پر تا باندي تاريکي ده.

دلته به صرف ته يې او ستا به قبر وي او مخته به يې فرښتې وي او ته به خپل حساب او کتاب پېشوې.

---

(۱) شعب الايمان حديث نمبر: ۸۰۳

په دنیا کي چي کله پر انسان باندي تکلیف راسي اول خو د انسان په مال او په دولت باندي ډېره تسلي وي او بیا د انسان په اولاد او قریبانو باندي ډېر ناز او فخر وي مګر زموږ ومخ ته د قیامت میدان دئ پروردګار عالم ﷻ د هغه په باره کي فرمایي ﴿يَوْمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ﴾(١) د قیامت په ورځ به نه اولاد انسان ته نفع رسولای سي او نه به مال او دولت انسان ته په ښه ورځي.
﴿إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ﴾(٢) مګر چي د چا سره "قلب سلیم" وزسره وي، نو د هغه نفعه به دا انسان ووینی.

## د حضرت عثمان غني ﷛ ژړا:

حضرت عثمان غني ﷛ چي به کله قبر ولیدئ، نو دومره زیات به یې ژړل چي د ده ږیره مبارکه به په اوښکو لنده سوه یو چا ورته وویل چي حضرت!
ته د قبر په لیدلو دومره زیات ولي ژاړې؟
ده په جواب کي ورته وویل چي دا د آخرت د منزلو څخه اولنی منزل دئ، چي د کم انسان معامله دلته سمه سوه د ده دپاره به راتلونکي ټوله منزلونه آسانه وي چي د کم انسان معامله دلته خرابه سوه، نو د ده دپاره به راتلونکي ټوله منزلونه نور هم سخت وي(٣).
نو د انسان ومخته ډېر اوږده اوږده منزلونه را روان دي انسان باید په غفلت کي زندګي تېره نه کړي او انسان باید د غفلت پردې د خپل دماغ څخه پورته کړي او د را روانو منزلو دپاره د تیاری څه بندوبست وکړي.

---

(١) الشعراء آیت نمبر ٨٨
(٢) الشعراء آیت نمبر ٨٩
(٣) موت کی تیاری صفحہ ٦٤

## د غافله انسان د شپې او دورځي مثال:

امام غزالي رحمة الله عليه د انسان د غفلت عجیب مثال لیکلی دئ چي یو بادشاه دئ او د هغه یو باغ دئ د دې باغ څو درجې دي دې بادشاه یو سړی را وغوښتئ او ورته ویې ویل چي دا ټوکری د رسره واخله او زما د باغ په یوه طرف را ننوزه او تر دې بله سره پوري پکښې را تېرسه او دا ټوکری د مېوې ډکه که زما وحضور ته یې راوړه.

مګر شرط دا دئ چي د باغ پز کمه حصه باندي راتېر سوې په دې کي به تاته دوبار پر شاتګ اجازه نه وي هغه سړي ورته وویل چي ډېره ښه دا خو آسانه کار دئ چنانچي هغه سړي ټوکری راواخیسته د باغ د سره څخه په باغ باندي ننوتئ که ګوري چي د باغ په هغه حصه کي پر درختو باندي داسي خاص ښه مېوه نسته.

نو ده د ځانه سره دا سوچ وکړئ چي ومخته په راتلونکې حصه کي به مېوه ښه وي هلته به په مېوه باندي ټوکری ډکه کړم چي کله دی دوهمي حصې ته را ورسېدئ یقینا پر درختو باندي بهترینه مېوه ده مناسب خو دا دی چي دی دلته مېوه پرېکړي او ټوکری په ډکه کړي مګر بیا یې دا سوچ وکړئ چي په را روانه حصه کي به مېوه پرې کړم او ټوکری به په ډکه کړم.

دریمي حصې ته چي را ورسېدئ، نو یقینا پر درختو باندي ډېره ښه میوه ده، نو د هغه په لیدلو باندي یې زړه ډېر خوشحاله سو.

بیا د ځانه سره وایي چي په را روانه حصه کي به تر دې لاهم ښه مېوه وي هلته به ټوکری ډکه کړم په داغه سوچ او فکر کي را روان دئ، یوه حصه پرېږدي او د بلي سوچ کوي او مېوه هم په هره حصه کي تر هغه بلي حصې ښه په مخه ورځي چي کله آخرنۍ حصه د ده ومخته پاته ده نو په دې سوچ کي دئ چي په دې آخرنۍ حصه کي به مېوه پرې کړم او ټوکری به په ډکه کړم.

چي کله په آخرنۍ حصه باندي را داخل سو که ګوري نو په آخرنۍ حصه کي پر درختو باندي مېوه نسته اوس چونکه د بادشاه د شرط سره برابر په باغ کي د مېوي پرېکولو دپاره پر شا هم نسي تلای او نه د ده ومخته مېوه سته.
نو هغه سړي د شرمندګۍ څخه ژړا شروع کړه او دا به يې ويل چي افسوس! اوس به د باچا ومخته د خالي ټوکرۍ سره په کم شکل باندي ځان پېشوم او هغه سړي ته د افسوس او پښېمانۍ بغير بل هيڅ هم ور پاته نه سوه.
امام غزالي رحمة الله عليه فرمايي: ای دوسته! د باچا څخه مراد ستا پروردګار حقيقي دئ د هغه سړي څخه مراد ستا ذات دئ او د ټوکرۍ څخه مراد ستا عملنامه ده او د باغ څخه مراد ستا د زندګۍ دوران دئ او د زندګۍ هره ورځ د هغه باغ د حصو په مثل ده.
الله جل جلاله ستا پر ذمه باندي دا لګولې وه چي د زندګۍ په هره ورځ کي د نيکو اعمالو مېوه پرې کوه او د عملنامې په ټوکرۍ کي يې جمع کوه مګر ته روزانه په دې انتظار کي اوسېږې چي سبا به دا ميوه پرې کوم چي کله سبا تېر سي نو بل سبا به يې پرې کوم. آخر به داسي وخت را ورسيږي چي ستا په زندګي کي به سبا نه وي بلکه ته به نن په نن رخصتېږې يا به خالي ټوکرۍ وي او ستا په لاس به د پرېشانۍ او شرمندګۍ څخه بغير بل څه در نه سي او ته به د ځانه سره دا آرمانونه کوې چي کاش ما په دنيا کي يو څه نيک عملونه را جمعه کړي وای او هغه آرمانونه به تا ته يوه زره نفعه هم نه رسوي(۱).

### د عذابونو سمندر:

دېر څله ليدل سوي دي چي په دنيا کي انسان په دې انتظار کي وي چي زه به ځان نېک عمله جوړوم، او د آخرت دپاره به تياري کوم ليکن انسان په دې باره کي

(۱) موت کی تیاری صفحہ ٦٩

ډېر سنجیده نه وي نن او سبا یبا نن او سبا ته خبره کوي بالآخر اچانک د دنیا څخه رخصت سي.

په قرآن کریم کي الله تعالی فرمایي: ﴿فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً وَلَا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ﴾(۱) یبا به انسان ته د وصیت موقع هم نه وي کچیري انسان دباندي وي یبا به کور ته د راتنوتلو اجازت نه وي او که په کور کي دننه وي یبا به د کور څخه د وتلو اجازت نه وي که ولاړوي د ناستي اجازت نسته او که ناست وي د ولاړي اجازت نسته.

کچیري انسان داغسي په ولاړو پښو او د بې سر او ساماني په عالم کي بغیر د توبې کښلو او په ګناهو باندي لړلی د قبر وتوري کندي ته ورشوه سي نو داسي یې بولئ، لکه یو انسان چي بغیر د کښتۍ څخه په یو بې پایانه سمندر کي غوټه سي.

حضرت ابو بکر ﷺ به ویل ﴿مَنْ دَخَلَ الْقَبْرَ بِلَا زَادٍ فَكَأَنَّمَا رَكِبَ الْبَحْرَ بِلَا سَفِينَةٍ﴾ قبر ته بغیر د توبې ورشوه کېدل دا په دریاب کي بغیر د کښتۍ څخه غوټه کېدل دي او قبر د الله تعالی د عذابونو بې پایانه سمندر دئ هلته به انسان د داسي حالاتو سره مخامخ کیږي چي:

﴿مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ﴾ هغه حالات به نه سترګو لیدلي وي.

﴿وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ﴾ چي هغه حالات به نه غوږو اورېدلي وي.

﴿وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ امْرِءٍ﴾(۲) هغه حالات به نه د انسان په تصور او فکر کي راګرځېدلي وي.

---

(۱) یس آیت نمبر: ۵۰

(۲) التیسیر بشرح الجامع الصغیر الباب حرف القاف صفحه ۱۸۳.

## د مرګ د تیارۍ مطلب:

چي موږ کله د ځانه سره سوچ وکړو چي آیا موږ د مرګ دپاره څه تیاري کړې ده؟
آیا موږ په دې خپل زړه کي الله تعالی ته په کمه اندازه ځای ورکړې دئ؟
آیازموږ و زړه ته د الله تعالی عشق په کمه درجه باندي راشوه سوی دئ؟
هسي نه چي دا صرف په ژبه سره الله الله ویل سبا د قیامت په میدان کي انسان ته په ښه ورنه سي.
ځکه د قیامت په میدان کي د انسانانو زړونه او سینې خلاصیږي او په هغه کي د الله تعالی محبت کتل کیږي ځکه د قرآن کریم فرمان دئ ﴿وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ﴾[1] چي کم شی په سینو کي وي د انسان هغه کتل کیږي او په ژباني جمع خرچي کي څه فائده نه وي.

## الله جل جلاله ته په زړه کي ځای ورکول:

یو بزرګ طوطي پاللي وو هغه بزرګ خپل طوطي ته د "الله الله" ویل ورازده کړي وو چي کله به هغه طوطي "الله الله" کول، نو هغه بزرګ به ډېر خوشحاله کېدئ یوه ورځ د هغه بزرګ څخه د طوطي د قفس دروازه خلاصه پاته سوې وه نو یوه پیشي راغله او هغه طوطي یې په خپلو منګولو کي پورته کړئ او په منډه باندي ولاړه نو هغه طوطي چي کله د پیشي په منګولو کي راغلئ، نو هغه به د ټین، ټین، آواز کوئ هغه بزرګ ډېر حیران سو چي ما خو وده ته "الله الله" ورازده کړی وو او دی اوس د ټین، ټین، آواز کوي.
په دې وخت کي یو بل بزرګ د دغه بزرګ د پوښتني دپاره راغلې ده خپله ټوله واقعه ورته بیان کړه او ورته وایي چي ما خو وخپل طوطي ته "الله الله" ورازده کړې وو لېکن ده آخر د ټین، ټین، نعره کوله.

---

[1] العادیات آیت نمبر ۱۰

هغه بزرګ په جواب کي ورته وایي چي تا خو د خپل طوطي ته "الله الله" ور ازده کړی وو او د طوطي پر ژبه "الله الله" وو لېکن په زړه کي هغه د ده اصلي آواز ټېن، ټېن، ځای نیولی وو دغه وجه وه چي کله پر ده باندي د مرګ سختي را ورسېده او پیشي دَی په منګولو کي واخستئ، نو د سختئ پر وخت د ده پر ژبه هغه راتله چي د ده په زړه کي کم شي ځای نیولی وو (۱).

لهذا که نن موږ په خپل زړه کي الله جل جلاله ته ځای ورنه کړو او زړه د الله تعالی د عشق د انواراتو څخه ډک نه کړو، نو د مرګ او د زکندن د سختئ په وخت کي بیا به زموږ د ژبي څخه "الله الله" او د شهادت کلمه څنګه را پورته سي.

لکه یو شاعر وایي:

برزبان تسبیح و در دل گاؤ خر ...... این چنین تسبیح کی دارد اثر

د زکندن او د سختئ پر وخت باندي د انسان د ژبي څخه هغه الفاظ را وزي کم شي چي د انسان په زړه کي ځای نیولی وي.

لکه د یو شرابي د زکندن واقعه ده چي خلګو به ورده ته د شهادت د کلمې تلقین کوئ او ده به د هغه پر ځای باندي دا نعره کوله چي د "شرابو ګلاس د شرابو ګلاس" د یو دنیا پرسته انسان واقعه کتاب لیکلې ده چي د ده د زکندن په وخت کي به خلګو ده ته د شهادت د کلمې تلقین ورکوئ ده به په جواب کي ورته ویل چي "یوه روپی یوه روپي".

(۱) موت کی تیاری صفحہ: ۷۳

## دانسان تر دنیا تېرېدل:

عقلمند خلک هغه دي چي په دنیا کي په نیکو اعمالو باندي نه ستړی کیږي او هر وخت د آخرت په تیاري کي مشغول وي او هره ورځ یې په عبادت کي تیریږي او هره شپه یې د الله تعالی و مخته په راز او نیاز کي تیریږي.
انسان په دې دوکه کي وي او د انسان دا ګمان وي چي زندګي روانه ده تیریږي لېکن حقیقت دا دئ چي زندګي نه تیریږي انسان په خپله تر زندګۍ تیریږي د انسان کوچنی والی تېر سي، د انسان هلک والی تېر سي، د انسان ځواني تېره سي.
دا سپین ورښتان اوس د انسان بوډاوالی دئ دا به هم تېر سي نو زندګي نه سوه تېره د زندګۍ هغه شپې او هغه ورځي رواني دي لېکن انسان تر زندګي تېر سو او انسان و خپل مرګ ته ورسېدئ، نو د انسان دپاره د خپل مرګ په خاطر باندي تیاري ضروري ده.

## د مرګه څخه ماته خوړل:

زموږ بزرګانو داسي په کلکه باندي د الله ﷻ عبادات کوئ چي هغوی به د خپلي زندګۍ یوه لمحه فارغه نه تېروله، هر وخت به د نیکۍ په کارو کي مشغول وو او هر کار به یې د الله ﷻ د رضا مطابق کوئ او په هر کار کي به د پیغمبر ﷺ پر نقش قدم چلېدل.
ځکه هغوی په دې پوهېدل چي کله د مرګ وخت را ورسیږي، نو هغه بیا نه پر شا کیږي، دنیا ته ډېر لوی لوی حکمرانان راغلل او ډېر لوی لوی پهلوانان راغلل لېکن د مرګه سره مقابله هیچا هم ونه کړه د مرګ څخه ټولو ماته و خوړله دنیا فتحه کونکي ته فاتح عالم وایي هر فاتح عالم آخر کار د مرګ تر پښو لاندي سو.

او چي کم چاته مرګ را ورسېدئ، نو بس د هغه دپاره قيامت جوړ دئ په حديث شريف کي راځي: ﴿مَنْ مَاتَ فَقَدْ قَامَتِ الْقِيَامَةُ﴾(١) چي کم سړی مړ سو بس هغه د قيامت سره مخامخ سو، نو د مرګ دپاره تياري کول دا د قيامت دپاره تياري ده او دا په دنيا کي د عقلمند انسان علامه ده.

ځکه چي د مرګه څخه په يو شکل باندي هم انسان نه خلاصيږي او چي د کم شي څخه سړی نه خلاصيږي د هغه دپاره تياري ضروري وي.

## د هوښيارۍ خبره:

يوه کونډه زنانه ده د هغې يو بچی دی پر هغه بچي باندي مرګ او زکندن را ورسېدئ، نو هغه زنانه چونکه د خپل بچي مرګ نه مني او نه يې په دماغ کي راځي، نو پر هغه ځای باندي ولاړ ملا صاحب، يا حکيم صاحب، پر دې مجبوره کوي چي زما د بچي علاج وکړه او دوا او دم ورباندي وکړه چي زما بچی بيرته را ژوندی سي.

چي کله د بچي پر ژوند باندي د دې بوډۍ زنانې ډېر اصرار دئ، نو هغه حکيم ډېر دانا او پوه انسان دئ هغه زنانې ته وايي چي ستا بچی خو مړ سو، لېکن زه تاته د دوباره ژوندي کېدلو طريقه در ښيم.

هغه زنانه ډېره خوشحاله سوه حکيم صاحب ورته وايي چي د نسخې جوړولو دپاره ماته د داسي کوره څخه اوبه راوړه چي په هغه کورکي تر اوسه پوري مړی نه وي سوی هغه بوډۍ زنانې پياله په لاس کي واخسته په ټوله کلي باندي وګرځېده وهر کور ته چي ورسي، نو هغه ورته وايي چي زموږ په کور کي زموږ پلار مړ دئ او فلان قريب مړ دئ، او فلان قريب مړدئ، نو هغه بوډۍ بيرته نا

(١) احياء العلوم باب بيان الصبر و معناه صفحه نمبر: ٦۴

امیده و حکیم صاحب ته راغله، چې ما خو داسي کور نه کړئ پیدا چې په هغه کور کي دي مړی نه وي سوئ.
نو حکیم صاحب ورته وايي چې کله په ټوله کلي او محله کي یو کور داسي نسته چي په هغه کور کي دي مړی نه وي سوئ، نو ستا د بچي او ستا د کوره سره هم نن داغه معامله و سوه، د دې خبري څخه وروسته د هغه بوډئ زناني تسلي وسوه(۱).

## د حضرت حسن بصري رحمة الله عليه د توبې واقعه:

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه د ځواني په عمر کي تجارت کوئ د ده د تجارت قافلې و مختلفو ملکو ته ورتلې یو ځل د ده د تجارت قافله یوه ملک ته را ورسېده د هغه ملک ټوله تجاران د ده د قافلې و مخته را ووتل.
او د معاملې کولو څخه وروسته حضرت حسن بصري رحمة الله عليه یې د خپل ځانه سره و خپل ښار ته روان کړئ چي کله وښار ته ننوزي د ښار سره نږدې یوه هدیره او قبرستان دئ په هغه کي یو ښائسته قبر دئ چي پر هغه باندي یوه عجیبه تماشه جوړه ده حضرت حسن بصري رحمة الله عليه هغه تماشې ته ودرېدئ.
هغه تماشه داده چي اول ځل یو څه نوجوانان پر دې قبر باندي طواف کوي او پر قبر باندي شا وخوا راګرځي او په خوله باندي یو څه وایي.
دوهم ځل یو څه خوب صورته زناني هغه هم پر دې قبر باندي طواف کوي او په خوله باندي یو څه وایي.
دریم ځل یو څه د پاخه عمر زناني چي د هغوی په لاسو کي بېش قیمته ملغلري او جواهرات دي هغه هم څه وایي او پر دې قبر باندي طواف کوي.

(۱) موت کی تیاری صفحہ ۷٦

او ځلورم ځل یو څه بوډاګان پر دې قبر باندې د طواف په شکل را ګرځي حضرت حسن بصري رحمة الله علیه چونکه د ذوی په ژبه باندې نه پوهیږي او د دوی د وینا مطلب یې هم په دماغ کې نه راځي.

نو د دوی څخه پوښتنه کوي چې دا څه معامله ده؟

ده ته په جواب کې وویل سوه چې دا قبر د یو شهزاده دئ چونکه د پلار یې بچي او ولي عهد وو او س دا انسانان د هغه د تسلې د پاره پر دا قبر طوافونه کوي او دا وایي چې کم نوجوانان پر قبر باندې را ګرځي د هغو د وینامطلب دا دئ چې ای شهزاده! کچیرې مرګ د ځواني په قربانولو باندې د چا څخه ګرځېدای نو موږ به خپلې ځوانۍ قربان کړې وای او ته به مو د مرګ څخه خلاص کړی وای.

او هغه خوبصورته زنانې چې پر قبر باندې طواف کوي د هغوی د وینامطلب دا دئ چې ای شهزاده! کچیرې مرګ د حسن او جمال په ذریعه د چا څخه ګرځېدای نو موږ به خپل حسن او جمال قربان کړی وای خو ته به مو د مرګ څخه خلاص کړی وای.

او کمې زنانې چې د جواهراتو سره طواف کوي د هغوی د وینامطلب دا دئ چې ای شهزاده! کچیرې مرګ د جواهراتو په ذریعه سره د چا څخه ګرځېدای نو موږ به دا ټوله زر او جواهرات قربان کړي وای خو ته به مو د مرګ څخه خلاص کړی وای.

مګر مرګ داسې را تلونکې حقیقت دئ چې په هیڅ شکل د چا څخه نه ګرځي او نه څوک ځني خلاصیږي.

چې کله حسن بصري رحمة الله علیه دا خبرې واورېدې، نو پر زړه باندې یې یو قسم اثر راغلئ پر هغه ځای ولاړ دئ او په زړه کې یې دا فیصله وکړه چې کله مرګ داسې حقیقت دئ چې انسان په یو شکل هم نه ځني خلاصیږي.

نو پکار دا دئ چې د دې څخه وروسته زه د نفس د تقاضاوو برابرې ژندګۍ بجائ د رب د تقاضاوو مطابقه ژندګي تېره کړم چنانچې بیا یې داسې ژندګي

تېره کړه چي په مشهورو تابعينو کي او په مشهورو علماوو او په مشهوروصوفيه کرامو کي شمار سو(۱).

## د مرګ څخه خلاصېدل ممکن نه دي:

تاسو دې خبري ته په دماغ کي ځای ورکړئ چي د انسان دپاره د مرګه څخه ځان خلاصول ممکن نه دي او مرګ د انسانه څخه په يو شکل باندي نه ليري کېږي.
کچيري د حکومت په ذريعه انسان د مرګ څخه خلاصېدلای نو "فرعون" ته به هيڅ کله هم مرګ نه وای راغلئ ځکه چي د ټولي مځکي پر کوره باندي يې حکومت کوئ.
کچيري د دولت په ذريعه باندي انسان د مرګ څخه خلاصېدلای نو "قارون" ته به هيڅ کله مرګ نه وای راغلی ځکه چي د هغه د خزانو کيلياني به په قافلو کي وړل کېدلې.
کچيري د حکمت او دانايي په ذريعه سره انسان د مرګ څخه خلاصېدلای، نو "لقمان حکيم" ته به هيڅ کله هم مرګ نه وای راغلی ځکه چي الله تعالی په ډېره لوړه پيمانه ده ته حکمت او پوهنه ورکړې وه.
کچيري په همت او جوانمردی سره انسان د مرګ څخه خلاصېدلای، نو "رستم او سهراب" ته به مرګ نه راتلای ځکه چي د مځکي د مخ لوی پهلوانان دوی بلل سوي دي.
کچيري په دوا او علاج سره انسان د مرګ څخه خلاصېدلای، نو "افلاطون او جالينوس" ته به مرګ نه راتلای ځکه چي د دنيا لوی حاکمان دوی بلل سوي دي.

---

(۱) ... ۷٦

کچيري په حسن سره انسان د مرګ څخه خلاصېدلای، نو د دنيا حسينانو او ښائسته انسانانو ته به مرګ نه وای راغلئ.

کچيري په محبت سره انسان د مرګ څخه خلاصېدلای، نو يوې مور به هم خپل د غېږي بچی و مرګ ته نه وای ورکړئ.

کچيري د وفا په ذريعه باندي انسان د مرګ څخه خلاصېدلای نو يوې نيکي زناني به هم خپل خاوند د خپلو سترګو ومخته ومرګ ته نه وای ورکړئ.

مګر مرګ يو داسي حقيقت دئ چي په هر شکل انسان وي مرګ ورته راځي او بالآخر به انسان د مرګ غېږي ته ځان رسوي.

محترمو مشرانو! چي مرګ کله يو يقيني حقيقت دئ، نو موږ هم بايد په خپل زړه کي دې خبري ته ځای ورکړو چي موږ هم يوه ورځ د دې دنيا څخه رخصتېږو چي کله رخصت يقيني دئ، نو پکار دا دئ چي د مرګ دپاره داسي تياري وکړو.

﴿التَّجَافِي عَنْ دَارِ الْغُرُورِ﴾ د دې د وکې د کوره څخه خپل زړه راګرځول.

﴿وَالْإِنَابَةُ إِلَى دَارِ الْخُلُودِ﴾ او د آخرت وطرفته خپل سوچ او فکر متوجه کول.

﴿وَالِاسْتِعْدَادُ لِلْمَوْتِ قَبْلَ نُزُولِهِ﴾ او د مرګ د راتلو څخه مخکي د مرګ تياري کول(١).

## د مرګ څخه وروسته حالات:

د مرګ څخه وروسته کچيري د انسان دا عقيده وي چي زره زره کېږم او په خاورو او هيرو باندي بدلېږم نه حساب سته نه کتاب سته نه د الله ﷻ وحضور ته پېشېدل سته نه د محمد رسول الله ﷺ ومخته درېدل سته خو بيا خير دئ يو زندګي وه په مرګ سره هغه ختم سوه.

---

(١) شعب الايمان حديث نمبر: ١٠٠٦٨

لېکن موږ مسلمانان يو زموږ دا عقيده ده چي زموږ حقيقي ژوند د مرګ څخه وروسته شروع کيږي.
ځکه حضرت علي ﷺ وايي ﴿فإنّ النّاس نيام فإذا ماتوا انتبهوا﴾(١) دا خلک په دنيا کي تو له بيده دي او دا د دوی د خوب زندګي ده چي کله د قبر په توره کنده کي کښېنول سي او دوی به راويښ سي نو د دې ځايه څخه بيا د دوی حقيقي زندګي شروع سي نو د مرګ څخه وروسته موږ ته حقيقي زندګي ګوري.
او دا مرګ زموږ دپاره څه کيل او تماشه نه ده ځکه الله تعالی په قرآن کريم کي فرمايي: ﴿أيحسب الإنسان أن يترك سدى﴾(٢) آيا زما بنده دا خيال کوي چي زه يو مهمل شی يم د مرګ څخه وروسته به زما دپاره هيڅ سزا او جزاء نه وي.
﴿أيحسب الإنسان ألّن نجمع عظامه﴾(٣) آيا انسان دا ګمان کوي چي دا زما خاوري سوي هډوکي به موږ هرګز را ژوندي نه کړو!
﴿بلى قادرين على أن نسوّي بنانه﴾(۴) يقينا الله جلّ جلاله وايي موږ پر دې قادر يو صرف ستا وجود نه او ستا د بدن اندامونه نه دا ستا د ګوتو ليکي به هم موږ برابره وو.
او دا تاسو ته در معلومه ده چي د هر انسان د ګوتو ليکي جلا جلا دي چي څومره انسانانو ته الله تعالی په دنيا کي وجود ورکړی دئ چي په دنيا کي يې د لاس د ګوتو ليکي په کم شکل دي، نو د مرګ څخه وروسته اندامونه او بدن خو پرېږده د هغه ګوتو ليکي به يې لا په هغه شکل باندي بيرته جوړېږي.

---

(١) احياء العلوم الباب فضيلة التعليم صفحه ١۴
(٢) القيامة آيت نمبر: ٣٦
(٣) القيامة آيت نمبر: ٣
(۴) القيامة آيت نمبر: ۴

## د عاص بن وائل واقعه:

عاص بن وائل د مکې د مشرکانو یو سړی دئ د پیغمبرﷺ و حضور ته راغلئ یو زوړ هډوکی یې پرکاني سولولی دئ او د هغه هډوکي ایره یې د پیغمبرﷺ و مخته په خپله خوله باندي پوه کړه چي د هغه هډوکي ایره سره والوته نو پیغمبرﷺ ته وایي چي: ﴿مَنْ يُحْيِ الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ﴾(۱) دغه زاړه هډوکي چي په ایره سره بدل سوه او والوته دا به دوباره څوک را ژوندي کوي یعني چي د دې را ژوندي کول خو د چا په وس او طاقت کي نسته او دا نه را ژوندي کیږي.
الله تعالی د ده د جواب دپاره جبرائیلؑ د عرش څخه را واستوئ هغه دا جواب پیغمبرﷺ ته پېشوي چي ای پیغمبره! دا جواب ورکه:
﴿قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنْشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ﴾(۲). هغه ذات به یې را ژوندی کوي چي کم ذات اول دوی ته وجود ورکړی دئ.

## قیامت به کله راځي؟

بیا هم انسان کله په شک کي وي د قیامت پر راتلو باندي یقین نه لري نو د قیامت د راتلو پوښتنه کوي لکه قرآن کریم وایي:
﴿وَلَيَسْأَلَنَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾(۳) او خامخا پوښتنه کیږي د ورځي د قیامت.
﴿فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ (۷) وَخَسَفَ الْقَمَرُ (۸) وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ﴾(۴) چي په کمه ورځ باندي سترګي شخي ودریږي او سپوږمۍ وو لمر بې نوره سي په دې ورځ به تاته قیامت په نظر راسي او په دې ورځ به انسان چغې کړي.

(۱) یس آیت نمبر ۷۸
(۲) یس آیت نمبر ۷۹
(۳) العنکبوت آیت نمبر: ۱۳
(۴) القیامة آیت نمبر: ۹،۸،۷

﴿يَقُولُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ الْمَفَرُّ﴾(١) چي زما د بچاوېدو ځای به چيري وي چي زه وهغه ته ور وځغلم د الله تعالی د طرفه دا جواب وي:

﴿كَلَّا لَا وَزَرَ﴾(٢) د تيښتي ورځي تيري دي دا خو څه د مځکي مخ نه دئ دا ميدان محشر دئ دلته هيڅ څوک هم نسي تښتيدلای.

﴿إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمُسْتَقَرُّ﴾(٣) نن ته تښتېدلای نسې نن د خپل رب په مخ کي درېدل دي او په حديث شريف کي راځي چي انسان د قيامت په ميدان کي د ډيري کمزوري په حالت کي د حساب او کتاب دپاره د الله جل جلاله وحضور ته درېږي.

﴿عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يُجَاءُ بِابْنِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُ بَذَجٌ فَيُوقَفُ بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ﴾(٤).

انسان به په داسي حالت کي د الله تعالی و حضور ته پېشيږي لکه د بزې بچی چي نوی پيداسي، د بزې بچی چي کله نوی پيداسي هغه د ولاړېدلو کوشش کوي ليکن د هغه په پښو کي دومره کمزوري وي چي کله ولاړ سي نو د هغه پښې رېږدي کله يو طرف ته غورځاريږي کله بل طرفته د الله تعالی د ډېر خوف او جلال په خاطر د الله جل جلاله و حضور ته د انسان د درېدلو کيفيت به هم داسي وي.

﴿يُنَبَّأُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ﴾(٥) انسان به دستي په دې باندي خبر سي چي ما مخ ته کمه توښه استولې ده او تر شا مي څه پرې ايښې دي، انسان به د خپلي ټولي زندګۍ حساب پيشوي او انسان به د خپلي ځوانۍ حساب پيشوي او په خپل علم باندي د عمل کولو حساب او د دنيا د ګټولو او خرڅولو حساب.

(١) القيامة آيت نمبر: ١٠
(٢) القيامة آيت نمبر ١١
(٣) القيامة آيت نمبر ١٢
(٤) سنن ترمذي حديث نمبر: ٢٤٢٧
(٥) القيامة آيت نمبر: ١٣

﴿بَلِ الْإِنسَانُ عَلَىٰ نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ﴾(١) انسان تر هر چا په خپلو اعمالو باندي ښه خبر وي چي ما د ځانه سره څه را وړي دي او ما تر شا څه پرې اېښي دي.

﴿وَلَوْ أَلْقَىٰ مَعَاذِيرَهُ﴾(٢) انسان به ډېر زيات عذرونه پېش کړي کله خوبه وايي چي معاشره داسي وه او کله به د ماحول بهانه کوي کله به داسي وايي چي زناني خبره نه منل کله د بچيانو بهانې پېشوي، ليکن يوه بهانه به هم ده ته په ښه نه ورځي.

## د قيامت وخت مقرر دئ:

قرآن کريم وايي ﴿إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا﴾(٣) د فيصلي ورځ مقرره ده.

﴿إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ مِيقَاتُهُمْ أَجْمَعِينَ﴾(٤) د فيصلي په ورځ به تاسو ټول را جمعه کېږئ.

﴿فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا﴾(٥) تاسو به فوج در فوج راروان ياست.

﴿وَفُتِحَتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ أَبْوَابًا﴾(٦) د آسمان دروازې به ټولي خلاصي وي.

﴿وَسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا﴾(٧) او ټول غرونه به په ريګو باندي بدل سي.

﴿وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ﴾(٨) يو طرفته به جنت د متقيانو دپاره ښائسته سي.

﴿وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ﴾(٩) او بل طرفته به جهنم د ګنهګارانو دپاره ښکاره سي.

---

(١) القيامة آيت نمبر: ١۴
(٢) القيامة آيت نمبر: ١۵
(٣) النبأ آيت نمبر ١٧
(۴) الدخان آيت نمبر: ۴٠
(۵) النبأ آيت نمبر ١٨
(٦) النبأ آيت نمبر: ١٩
(٧) النبأ آيت نمبر: ٢٠
(٨) الشعراء آيت نمبر: ٩٠
(٩) الشعراء آيت نمبر: ٩١

﴿وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ﴾(١) او د عدل ترازوګان به کښېږدو.
﴿وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حَتْمًا مَقْضِيًّا﴾(٢) او پل صراط به راسي ځکه د انسان پر پل صراط باندي تېرېدل د الله تعالی فیصله ده.
﴿وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا﴾(٣) او بلا کیفَ الله جَلَّ جَلَالُهُ او د ملائکو صفونه به د قیامت و میدان ته خپله راشوه سي.
﴿وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَانِيَةٌ﴾(٤) او اتو (٨) فرشتو به د الله جَلَّ جَلَالُهُ عرش د انسانانو څخه لوړ نیولی وي او پر میدان قیامت به یو قسم خاموشي خوره وي او د انسانانو به د خوف او د بیري کیفیت وي.
چي کله د الله تعالی عرش و میدان قیامت ته راسي د هغه د آواز او د هیبت څخه به ټوله انسانیت که نارینه وي او که زنانه وي بېهوښه سي.
د ټولو څخه مخکي به پیغمبر ﷺ په هوښ کي راسي پیغمبر ﷺ فرمایي چي زه کله د هوښ راتلو څخه بعد سترګي روښي کړم زه به حضرت موسیٰ علیه السلام په داسي حالت کي وینم چي هغه به د الله تعالی د عرش پایه نیولي وي او ولاړ به وي ماته به دا نسي را معلومه چي آیا موسیٰ علیه السلام زما څخه مخکي په هوښ کي راغلی دئ او که د سره بېهوښه سوی نه دئ د هغه څخه وروسته به نور کائنات ولاړ سي.

(١) الانبیاء آیت نمبر: ۴۷
(٢) مریم آیت نمبر: ۷۱
(٣) الفجر آیت نمبر: ۲۲
(٤) الحاقة آیت نمبر: ۱۷

## د قيامت په ميدان کي دالله ﷻ وينا:

د دې څخه وروسته به الله تعالى د خوف او د جلال په کيفيت کي په ډېره دبدبه د قيامت پر انسانانو باندې بلا کيفَ رِغ وکړي چي ﴿يَا عِبَادِيْ اِنِّي اَنصَتُّ لَكُمْ مُنْذُ اَنْ خَلَقْتُكُمْ اِلَى يَوْمَ اَحْيَيْتُكُمْ اَنْظُرُ اَعْمَالَكُمْ وَ اَسْمَعُ اَصْوَاتَكُمْ﴾ اې زما بنده ګانو! ما په ډېره خاموشي سره تاسو ته کتل ستاسو د پيدائش د وخت څخه بيا تر نن ورځي پوري ستاسو ټوله اعمال مي وليدل چي کمي د سود سوداګاني مو کولې او د پيسو په بدله کي مو خپل ايمان خرڅوئ او په درواغجنو قسمو مو خلکو ته غلط په صحيح ورکوئ او چي په کورو کي مو کمي خبري کولې او په بازارو کي مو کمي ناروا وي کولې هغه مي ټوله وليدل او هم مي واورېدل.

﴿اَلْيَوْمَ اَنصِتُوا لِي هٰذِهِ اَعْمَالُكُمْ فَمَنْ وَجَدَ فِيْهِ خَيْرًا فَلْيَحْمِدِللهِ فَمَنْ وَجَدَ فِيْهِ غَيْرَ ذَالِكَ فَلَا يَلُوْمَنَّ اِلَّا نَفْسَهٗ﴾(۱) نن به تاسو پټه خوله کېږئ د قيامت په ميدان کي به د انسانانو اعمال راپيش سي الله تعالى به ورته وايي چي دا ستاسو اعمال دي چي کم انسان په خپلو اعمالو کي د خير اعمال ويني نو د الله تعالى حمد دي ادا کړي او چي کم انسان د شر اعمال ويني نو د خپل ځانه څخه بغير دي بل څوک نه ملامتوي.

## نيک بخته او بد بخته:

قرآن کريم فرمايي: ﴿فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ (۱۰۵) فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ (۱۰۶) خَالِدِينَ فِيهَا﴾(۲) بعض انسانان به په قيامت والاوو کي بدبخته وي

(۱) مسلم شريف حديث نمبر: ۵۵
(۲) هود آيت نمبر: ۱۰۵، ۱۰۶، ۱۰۷

او بعض به نيک بخته وي بدبخته انسانان به په جهنم کي وي چي په جهنم کي به يې د حيوانانو غوندي آوازونه وي.
او نيک بخته انسانان به په جنتو کي همېشه هستوګنه کوي.
او د بدبختۍ او نېک بختۍ معلومات دا به د قيامت په ميدان کي د انسانانو په دماغ کي راسي چي بدبخته چاته وايي؟ او نېک بخته چاته وايي؟ چي کله د انسان د نيکو اعمالو تله درنه سي او د بدو اعمالو تله يې سپکه سي نو جبرائيل عليه السلام به اعلان کوي.
﴿إِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ إِنَّ فُلَانَةَ بِنْتَ فُلَانَةٍ﴾ فلانکی د فلانکي زوی يا فلانکۍ د فلانکي لور ﴿قَدْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهَا﴾ د نيکواعمالو تله يې درنه سوه ﴿وَسَعِدَتْ سَعَادَةً﴾ او دا سعيده او کامیابه سوه ﴿لَايَشْقَى بَعْدَهَا اَبَدًا﴾ د دې شخه وروسته به يا ناکامي او شقاوت د دې په نصيب نسي نو د سعادت او نېک بختۍ مطلب دا سو چي د دوزخ څخه خلاصه سوه او د جنت مستحقه سوه او دا په حقيقت کي لويه کاميابي ده.
او داغه رنګه جبرائيل عليه السلام به دا اعلان هم کوي چي: ﴿إِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ قَدْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهُ﴾ فلانکی د فلانکي زوی د هغه د نيکيانو تله سپکه سوه ﴿وَشَقَى شَقَاوَةً لَايَسْعَدُ بَعْدَهَا اَبَدًا﴾(1) داسي ناکامه او داسي بدبخته سو چي د دې څخه وروسته به يا د ده په نصيب کي هيڅ کله نيک بختي رانسي.

## اصلي کاميابي او ناکامي:

د کاميابۍ او ناکامۍ معيار دا نه دئ چي د انسان لوی کور په نصيب سي او د ناکامۍ معيار دا هم نه دئ چي انسان په کوډله کي د مسکنت او بېوسۍ په

(1) کنز العمال حديث نمبر: ۳۹۰۲٦

حالت کي مړ سي چي کله الله تعالى دا اعلان وکړي چي دا زنانه يا دا نارينه جنتي دی قرآن کريم وايي: ﴿فَمَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ﴾(۱).
نو چاته چي عملنامه په راسته لاس ورکول سي نو دَی به يو دم په ټوله اهل قيامت کي نعرې کي او خپلو قريبانو ته به منډې راوهي راځغلي به ﴿هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ﴾(۲) تاسو خو راسئ زما عملنامه وګورئ چي زه په خپله عملنامه کي کامياب معلومېږم.

زه څنګه کامياب سوم؟ ځکه چي ﴿إِنِّي ظَنَنتُ أَنِّي مُلَاقٍ حِسَابِيَهْ﴾(۳) زما دا يقين وو چي د الله تعالى په حضور کي به زما حساب اخستل کيږي او ما د هغه حساب دپاره زندګي په تياري کي تېره کړه.

د الله تعالى د طرفه څخه به دا جواب راسي چي: ﴿فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ (۲۱) فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ (۲۲) قُطُوفُهَا دَانِيَةٌ﴾(۴) الله تعالى وايي اوس د خوند زندګي تېر وه په داسي جنتو کي ګرزه چي د هغه مېوې به تاته ډېري نژدې وي.

او چي د کم انسان په باره کي الله تعالى دا اعلان وکړي چي دا دوږخي دئ نو قرآن وايي ﴿وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِشِمَالِهِ﴾(۵) او هغه څوک چي عملنامه په چپه لاس ورکول سي او دَی به د ډېره افسوسه چغه کړي ﴿فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتَابِيَهْ﴾(٦)

---

(۱) الاسراء آيت نمبر: ۷۱
(۲) الحاقة آيت نمبر: ۱۹
(۳) الحاقة آيت نمبر: ۲۰
(۴) الحاقة آيت نمبر: ۲۱، ۲۲، ۲۳
(۵) الحاقة آيت نمبر: ۲۵
(٦) الحاقة آيت نمبر: ۲۷

کاش ماته داعملنامه نه وای راکول سوې ﴿يَا لَيْتَهَا كَانَتِ الْقَاضِيَةَ﴾(۱) های کشکي زما دپاره مرگ وای چي زه په خاورو او ايرو باندي بدل سوی وای او زما سره حساب او کتاب نه وای سوی ﴿وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ﴾(۲) زه په دنيا کي په دې نه پوهيدم چي زما سره به څنگه حساب کيږي نو ځکه ما د هغه دپاره څه تياري نه وکړه.

﴿مَا أَغْنَى عَنِّي مَالِيَهْ﴾(۳) زه په دنيا کي د پيسو فکر اخستي وم هغه پيسې ماته په هيڅ بنه باندي نه راغلې.

﴿هَلَكَ عَنِّي سُلْطَانِيَهْ﴾(۴) زما حکومت ماته نن په بنه نه راغلی دئ به داغه افسوسونه کوي ليکن الله تعالی به ملائکو ته ووايي: ﴿خُذُوهُ فَغُلُّوهُ (۳۰) ثُمَّ الْجَحِيمَ صَلُّوهُ (۳۱) ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوهُ﴾(۵) تاسو دَی ونيسئ او د جهنم طوقونه ور واچوئ او بيا يې د جهنم په ځنځيرانو کي بندوترئ.

ځکه ده په دنيا کي داسي زندگي تيروله چي: ﴿إِنَّهُ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ. وَ لَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هَاهُنَا حَمِيمٌ (۳۵) وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ (۳٦) لَا يَأْكُلُهُ إِلَّا الْخَاطِئُونَ﴾(٦) دې ظالم پر خدای ﷻ باندي ايمان نه در لودئ او د مسکينانو او غريبانو يې خيال نه ساتئ نن به په ټوله قيامت کي دَی دوست نه لري او نن به په ټوله قيامت کي د ده دپاره نفقه او خوړکه نه وي که بيا هم وه هغه

(۱) الحاقة آيت نمبر: ۲۵
(۲) الحاقة آيت نمبر: ۲٦
(۳) الحاقة آيت نمبر: ۲۸
(۴) الحاقة آيت نمبر: ۲۹
(۵) الحاقة آيت نمبر: ۳۰، ۳۱، ۳۲
(٦) الحاقة آيت نمبر: ۳۳. ۳۴. ۳۵. ۳٦. ۳۷

به د جهنميانو ويني او زوي وي چي هغه د ډيرو بدبختو انسانانو خوزكه بلل سوې ده.

## د امت خير خواهان:

كچيري د الله جل جلاله رسول صلی الله علیه وسلم نه واى او قرآن نه واى نو نن به د ټولي دنيا انسانانو تر حيوانانو بتره ژوند كي تېرولاى تاسو د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم احسان ومنئ او په زركرته باندي پر هغه باندي درودونه پېش كړئ چي هغه پرخپل نس مبارك باندي ډبري تړلي او خپل امت ته يې دا پيغام را ورسوئ او د هغه صحابه كرامو رضي الله عنهم نارينه وو او ښځينه وو احسان ومنئ چي هغه ټولو خپل جذبات د خپل ځان سره په قبرو كي پټ كړل او را روان نسل ته يې د الله جل جلاله پيغام را ورسوئ.

موږ دې انسانانو ته داخبره كوو چي د داغه كال او مياشتي په گردش كي او داغه سهارو او ماښامو په راتللو كي يو داسي هفته يو داسي ساعت او يو داسي دقيقه او ثانيه مقرره ده چي د الله تعالى د طرفه څخه به يو استازى راځي د هغه په راتلو سره به زموږ ساه درېږي او زموږ د سترگو رڼا به بې نوره كيږي او موږ به د دې دنيا څخه رخصتيږو او بيا به د دې حساب او كتاب سره مخامخ كيږو.

او زموږ حقيقي ژوند كي به بيا د هغه ځايه څخه شروع كيږي.

الله تعالى دي زموږ او ستاسو د دماغو څخه غفلت پورته کړي چي موږ لږ په
هوښ کي راسو او د دې حساب او کتاب دپاره د تيارى بندوبست وکړو الله
تعالى دې دغه څوخبرې په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآيه)

# د دنیا ژوند عارضي دئ

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كـليم الله صـاحب |
| مـقـــــام | جامعِ مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعــت | خلـــــــــــورم |
| تـاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـعــــداد | (١١،٠) |

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَيْرِ الْوَرٰى وَعَلٰى آلِهِ وَ اَصْحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِقْتِدٰى.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قال الله تعالى: ﴿أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِي بُرُوجٍ مُشَيَّدَةٍ﴾(١).

وَقَالَ رسول الله ﷺ ﴿الدِّيْنُ النَّصِيحَةُ﴾(٢).

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْمِ، وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمِ، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهید:**

محترمو مشرانو! الله تعالی انسان ته په دنیا کي مختصره زندګي ورکړې ده یو طرفته که څه هم د انسان زندګي په دنیا کي ډېره مختصره او ډېره عارضي او ژر ختمېدونکې زندګي ده.

خو بل طرفته د انسان زندګي ډېره بېش قیمته او ډیره قیمتي ده ځکه د دنیا زندګي در حقیقت د جنت او د جهنم میدان دئ، کچیري انسان و غواړي د دنیا په زندګي کي هم ځان د جنت مستحق جوړولای سي. او هم ځان د دوزخ مستحق جوړولای سي، عجیبه خبره خو دا ده چي موږ کله د زندګی نیمه حصه تیره کړو، نو بیا عام طور زموږ په دماغو کي د دنیا د زندګی قدر راځي.

(١) النساء آیت ٧٨
(٢) سنن ترمذي حدیث نمبر: ١٩٢٦

عمومًا اولنى نيمه زندگي د ځوانى زندگي وي او ځواني پر انسان باندي يو قسم د نشې حالت وي د ځوانى نشه دا عام طور د شرابو د نشې غوندي وي لكه د شرابو د نشې څخه وروسته په هيڅ باندي انسان خبر نه وي دا غه رنګه چي كله پر انسان باندي د ځوانى نشه راسي نه د لمر راختلو څه درک وي او نه د لمر لوېدو څه پروا وي بلكه د ځوانى په غفلت كي وي نور انسانان خو بالكل انسانان نه بولي.

ځكه چي كله په لاس كي د رانيولو طاقت وي او په سترګو كي د ليدلو طاقت او په پښو كي د تګ كولو طاقت وي، نو د انسان په دماغ كي دا خبره ګرځي چي.

ہم چوں ما دیگرے نیست

چي زما غوندي بل انسان نشته، بيا انسان تكبر هم كوي، او لويي هم كوي، او د مسلمانانو دل ازاري هم كوي، او په ډېر متكبرانه انداز دا خبره كوي چي زه به دا كار كوم او زه به دا كار كوم.

او د ده په دماغ كي دا خبره نه وي چي ځواني چي ده دا د پور او د قرض مال دئ لكه په قرض چي څوک د چا څخه يوشی واخلي او هغه يې بيرته واپس ور څخه غواړي داغه رنګه الله تعالٰى ځواني د مختصر وخت د پاره راكړې ده او بيرته يې را څخه اخلي.

د پور او قرض په مال چي كم انسان نازېږي او په هغه باندي غرور كوي نو هغه د هغه انسان ليونتوب وي، نو ځكه په ځوانى باندي غرور كول مناسب نه وي ځكه د هر انسان زندګي يو درياب وي او په هر درياب كي د ځوانى څپه راځي او بيرته ختمېږي نو د انسان په زندګي كي هم د ځوانى دوران راځي او بيرته به ختمېږي.

په دې به انسان څه ونازېږي يوه ورځ به دا انسان دا همت هم ختمېږي او د انسان دا جوش او دا قوت به ختمېږي او د انسان پر بدن به د بوډاوالي آثر ښكاره كيږي.

چي کله پر انسان باندي دا ټوله مراحل تېرسي، نو بیا انسان د وخت او زندګی په قدر پوه سي او د خپلي زندګی د رخ راګرځولو کوښښ کوي لکه یو شاعر وايي:

ہم خود ہی راست ہو گئے جب پیر ہو گئے

قد جب کمان ہو گیا ہم تیر ہو گئے

موږ هلته صحیح سو چي کله بوډاوالي ته ور سېږو او چي کله زموږ قد د بوډا والی په وجه د کماني په شکل باندي راکوږ سي نو موږ د غشي غوندي سیده سو.

## په بوډاوالي کي ګناه:

بعض خلګ داسي هم وي چي دَی خو پخپله د بوډاوالي په طرف باندي روان وي مګر په زړه کي یې نفساني خواهشات ورځ په ورځ ځوانیږي په دې خپل بوډاوالي کي د خپل عزت او د خپل ابرو څه خیال نه ساتي د دوی دا سپین وربښتان ده ته غیرت او حیا ورکوي مګر دَی د هغه سره په ګناهوکي مست وي.

حسرت دې وي پر داسي بوډا باندي چي ځواني ور څخه تېره سوه او بوډاوالي ته راورسېدی او بیا هم د نیکی وطرفته نه سو مائل.

## د ځوانی تلاش:

د مرګ دپاره تیاري کول دا زموږ د زندګی مقصد دئ او ځواني خو د یو څو ورځو خبره ده نن کوچنی والی دئ سبا هلک والی دئ دریم سبا ځواني ده او څلورمه ورځ بیرته بوډاوالی دئ، د هرانسان ترتیب په دا شکل باندي روان دئ.

په یو کتاب کي لیکلي دي چي یو بوډا روان دئ د بوډاوالي په وجه د هغه ملا کږه ده او په لاس کي یې لکړه ده او پر سترګو یې عینکي لګېدلي دي لاندي

ګوري يو څو نوجوانان نزدې ور سره تيريږي د مذاق او مسخرو په شکل باندي ورته وايي چي ای بوډا! په څه پسي ګرځې او د څه شي طلب کوې؟
ده چي کله دې نوجوانانو ته وکتل ورته وايي چي ای بچيانو! د ځوانۍ طلب کوم او په ځواني پسي ګرځم تاسو لږ انتظار وکړئ ډېر ژر به زما غوندي په ځوانۍ پسي وګرځئ او د ځوانۍ به تلاش وکړئ.

## دآخرت د زندګۍ مثال:

يو بزرګ به فرمايل چي ای دوسته! چي څومره دي په دنيا کي زندګي وي هغومره د دنيا د زندګۍ دپاره کوشش کوه، او چي څومره په آخرت کي زندګي درته ګوري هغومره دآخرت د زندګۍ دپاره محنت کوه.
امام غزالي رحمة الله عليه د آخرت د زندګۍ مثال ليکلی دی هغه به ويل کچيري يو انسان يو مټ د "ايږدن دانې" را واخلي نو د ده په مټه کي د زرو په تعداد دانې راځي او کچيري د مټ پر ځای باندي لمڅ د "ايږدن" په دانو باندي ډکه کړي نو په کرورو، او اربو دانې پکښي زاځي.
اوس کچيري په ټوله دنيا کي د "ايږدن" دانې داسي سره وغوړوې او يو پر بل باندي يې لوړوې چي تر آسمانه پوري ورسيږي يعني د آسمان او د ځمکي ټوله درمياني خلا د "ايږدن" د دانو څخه ډکه سي، او يو مرغه په زرکاله کي يوه يوه دانه ور څخه خوري او زرکاله بعد بيا بله دانه خوري او بيا زرکاله بعد دريمه دانه خوري نو يو وخت به راسي چي هغه دانې به ختم سي مګر ای انسانه! ستا د آخرت زندګي نه ختميږي.(¹)
نو زموږ دپاره مناسبه دا ده چي د دنيا د ژوندګۍ مهلت غنيمت وبولو او په ډېر همت سره د آخرت دپاره تياري وکړو.

---

(¹) موت کی تیاری صفحہ ۴۷

چي د کم انسان په زړه کي آخرت یا دوې هغه د کوچنی کوچنی خبرو څخه هم عبرت ازده کوي.

## دآخرت فکر:

عقلمند انسان هغه دئ چي هر وخت دآخرت د ټیارۍ په فکر کي مشغول وي.

يَامَنْ بِدُنْيَاهُ اِشْتَغَل مُدْغِرُهُ وَطُوْلَ الْاَمَلِ
اَوَلَمْ يَزَلْ فِي غَفْلَةٍ حَتّٰى وَفِي مِنْهُ الْاَجَل
وَالْمَوْتُ يَأْتِيْ بَغْتَةً وَالْقَبْرُ صَنْدُوْقُ الْعَمَلِ
اِصْبِرْ عَلٰى اَهْوَالِهَا لَامَوْتَ اِلَّا بِالْاَجَلِ

اې انسانه! چي په دنیا کي مشغوله يې، د دنیا دوکه او امیدونه ډیر اوږده دي، آیا ته به همېشه په داسي غفلت کي يې؟ حتی چي په داغه حالت کي به تاته مرګ راځي، او مرګ خو اچانک انسان ته راځي، او قبر د انسان د عمل صندوق وي، د مرګ پر سختیو باندي صبر کوه، مرګ پر خپل وخت باندي راځي.

## د یو ماشوم دآخرت فکر:

بهلول دانا رحمة الله علیه یو بزرګ دئ هغه په لاره کي روان دئ یو څه ماشومان ویني چي هغه په بازۍ او ساتیري باندي مصروفه دي د دوی څخه یو څه فاصله مخته سو یو کوچنی ماشوم خاموشه ناست دئ د هغه پر مخ باندي سنجیدګي او پرېشاني معلومېږي.
بهلولؒ دانا وايي چي ما په خپل زړه کي قیافه ورته ولګوله چي دا ماشوم به نور بچیان د ځانه سره په بازۍ کي نه پرېږدي شاید په دې وجه به دی پرېشانه ناست وي، نو ما د ځانه سره دا فکر وکړئ چي زه به د ده کومک او تسلي کوم چي دی خوشحاله سي، نو زه هغه ماشوم ته ور نژدې سوم ما ورته وویل: چي تا دغه نور

ماشومان د ځانه سره په ساتیري کي نه پرېږدي په دې وجه باندي ته پرېشانه یې؟

ده ماته وکتل او دا یې راته وویل چي ای بهلوله!

چي د الله تعالی خو دا فرمان دئ: ﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا﴾(۱) آیا ستاسو دا ګمان دئ چي ما تاسو بې فائدې پیدا کړي یاست؟

نو الله تعالی خو موږ د ساتیري دپاره نه یو پیدا کړي بهلول دانا رحمة الله علیه وایي چي زه حیران سوم چي په دومره کم عمر کي او دومره پخه او کره خبره، نو زما په زړه کي دا خیال راغلئ چي دا ماشوم ډېر هوښیار معلومېږي، نو ما ورته وویل چي بچیه! ماته یو څه نصیحت وکړه نو هغه ماته یو څو اشعار وویل چي د هغه مطلب دا وو.

چي ای مسافره! ستا سفر ډېر اوږد دئ د خپل سفر تیاري وکړه بهلول دانا رحمة الله علیه وایي چي ما کله دا خبره واورېده نو ما ژړا شروع کړه د ژړا څخه وروسته ما د ده څخه پوښتنه وکړه چي أی بچیه! ستا عمر خو ډېر کم دئ اوس بیا ته ولي د دوزخ څخه دومره زیات بېرېږې او د الله تعالی د ذات د هیبت څخه دومره زیات کېږې؟

هغه بچي راته وویل چي أی بهلوله! زه په خپل کورکي وینم چي زما مور کله اور بلوي نو کوچني کوچني لرګي سره جمعه کړي په هغه باندي اول اور بل کړي وروسته بیا لوی لرګي ورته اړدي چي په هغه سره اور ډېر تیزېږي.

بهلوله! چي زه کله دا منظر وینم نو زما بدن بلګېږي او په زړه کي دا خیال راځي چي الله رب العزت خو هم د جهنم د بلېدلو وعده کړې ده داسي نه وي چي د محشر په ورځ باندي د کم عمر بچیان را جمعه کړي او د جهنم اور اول په دوی بل

(۱) المؤمنون آیت نمبر ۱۱۵

کړي او بیا د لوی خلکو واری راسي زه په دې وجه باندي ژاړم چي الله تعالی دي ماته د جهنم څخه فنا راکړي.

بهلول دانا رحمة الله عليه وایي چي ما کله دا خبره واورېده نو زه د ډیري ژړا څخه بېهوښه سوم د بېهوښی څخه وروسته چي کله ما سر را پورته کړئ، نو هغه بچی د هغه ځایه څخه تللی وو(۱).

## د حبیب عجمي رحمة الله عليه د زکندن خوف:

حضرت حبیب عجمي رحمة الله عليه د حضرت حسن بصري رحمة الله عليه مرید وو چي کله يې د مرګ وخت را نزدې سو نو ډېر په خوف او په بېره کي دئ د ده يو مرید ورته وایي چي حضرت! ته خو د الله جل جلاله يو ولي انسان يې ته ولي دومره زیات بېرېږې چي د دې څخه مخکي مو دې په دومره بېره کي ته نه يې لیدلی؟

دی په جواب کي ورته وایي، سفر ډېر اوږد دئ، توښه را سره نسته، د دې څخه مخکي مي هیڅ کله پر دې لاره باندي سفر نه دی کړی.

د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم زیارت کول دي د دې څخه مخکي مي هیڅ کله د ده زیارت نه دئ کړی.

او داسي خو فناکه مناظر لیدل دي چي د دې څخه مخکي مي هیڅ نه دي لیدلي.

اوتر خاورو لاندي تر قیامته پوري پرېوتل دی چي هلته به هیڅ غمخوار را سره نه وي.

او بیا د الله تعالی په حضور کي پېښېدل دي زه د دې څخه بیرېږم که الله تعالی دا پوښتنه را څخه وکړي چي اي حبیبه! چي په شپېته کاله کي یوه داسي "سبحان الله" پېش که چي په هغه کي د شیطان دخل نه وي نو زه به څه جواب ورکوم(۲).

(۱) موت کی تیاری صفحه ۴٦
(۱) موت کی تیاری صفحه ۴۷

نو محترمومشرانو! حقیقت دا دئ چي حبیب عجمي رحمة الله علیه په شپېته کاله زندګي کي دې دنیا ته په زړه کي هیڅ ځای ور نه کړئ، او نه یې د دې دنیا سره تعلق وساتئ، چي کله د دومره زیات تقوئ داره انسانانو د ژکندن پرحالت باندي د بیري دا حال دی نو زموږ غریبانو به څه حال وي؟ چي یو وخت هم دنیا خو څه کوې د دنیا تعلق خو پرېږده د ګناهو څخه خالي نه را باندي تیرېږي هر وخت د شیطان په خوشحاله کولو کي اخته یو.

## د ابراهیم بن ادهم رحمة الله علیه د څلورو کارو فکر:

په "تنبیه الغافلین" کي لیکلي دي چي و حضرت ابراهیم بن ادهم رحمة الله علیه ته یو چا دا عرض وکړئ چي حضرت! کچیري ته ماته یو څه نصیحت کوې نو زه به ستا په خدمت کي حاضر سم چي ستا د وعظ او نصیحت څخه یو څه ګټه واخلم؟
ده په جواب کي ورته و فرمایل چي زما سره د څلورو خبرو ډېر فکر را سره دئ في الحاله خو څه نسم کولای کچیري زه د دا څلورو خبرو د فکر څخه فارغه سم بیا تاته وعظ او نصیحت کولای سم.
هغه سړی پوښتنه کوي چي حضرت هغه څلور کمي خبري دي؟
دی په جواب کي ورته وایي چي هغه څلور خبري دا دي:

۱. چي الله رب العزت دا زله څخه دا فرمایلي دي چي یوه ډله به جنتیان وي او بله ډله به دوږخیان وي زما سره هر وخت دا فکر وي چي دانه ده معلومه چي زه به په کمه ډله کي یم.
۲. د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دئ: ﴿حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوقُ " إِنَّ خَلْقَ أَحَدِكُمْ يُجْمَعُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا، ثُمَّ يَكُونُ عَلَقَةً مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ يَكُونُ مُضْغَةً مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ يَبْعَثُ إِلَيْهِ

مَلَكٌ فَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ: فَيَكْتُبُ رِزْقَهُ، وَأَجَلَهُ، وَعَمَلَهُ، ثُمَّ يَكْتُبُ شَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ، ثُمَّ يَنْفُخُ فِيهِ الرُّوحَ﴾(۱).

چي کله بچی د مور نس ته راسي نو څلوېښت شپې دی د نطفې په شکل وي او بیا دوهمه څلوېښتي "علقه" سي یعني د وېني یوه ټوټه، او دریمه څلوېښتي بیا دی د غوښي یوه ټوټه سي او دا دې درېو څلوېښتیو څخه وروسته د ده څلور میاشتي پوره کېږي.

نو الله تعالی یوه ملائکه ورته را واستوي په ده کي د روح پوه کولو دپاره د روح پوه کولو څخه مخکي د ده څلور خبري لیکي د ده عمل لیکي چي دی به څه کاروبار کوي د ده اجل لیکي چي دی به څومره عمر زندګي کوي او د ده رزق لیکي او د ده نیک بختي او بدبختي لیکي.

نو ابراهیم بن ادهم رحمة الله علیه هغه سړي ته وایي چي زه په دې فکر کي یم چي زه به په نیک بختانو کي لیکل سوی یم او که په بدبختانو کي.

۳. چي کله فرشته د انسان روح قبض کړي نو دا فرشته د الله جل جلاله د حضور څخه دا سوال کوي چي د دې انسان روح د مسلمانانو د روحانو سره په "اعلی علیین" کي کېږدم، او که د کافرانو د روحانو سره یې په "سجین" کي کېږدم؟

نو زما سره هر وخت دا فکر وي چي نه معلوم چي د الله تعالی د طرفه به وهغه فرشتې ته څه جواب ورکول سي.

۴. چي کله د قیامت ورځ سي نو الله تعالی د انسانانو پر وړله باندي داړغ او آواز کوي چي ﴿وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ﴾(۲) اي مجرمانو! زما د نیکو بندګانو څخه جدا سئ.

(۱) سنن ابي داؤد حدیث نمبر: ۴۷۰۸
(۲) سورة یٰس آیت نمبر ۵۹

نو همېشه زما سره دا فکر وي چي نه معلوم چي زما شمار به په مجرمانو کي وي که په فرمانبردار وکي چي تر څو پوري په دي څلورو خبرو کي مصروف يم او د دي څلورو خبرو فکر زما پر دماغ باندي سپور وي نو زما سره د هيڅا سره د خبرو فرصت نه وي.(۱)

تاسو ګورئ چي هغه حضراتو د زندګۍ په کم شکل باندي قدر کوی او په خپله زندګي کي يې د آخرت په باره کي څومره سوچ او فکر درلودئ او خپله زندګي يې د آخرت په تياري کي څنګه تېرولئ

## روزانه دري قرآن کريمه ختم کول:

شيخ الحديث مولانا محمد زکريا رحمة الله عليه په "فضائل صدقات" کي ليکلي دي چي يو بزرګ به په ورځ کي دري ځله د قرآن کريم ختم کوي نور عبادات به يې د دي څخه علاوه وه.

يو شاګرد پوښتنه ور څخه وکړه چي حضرت تا خپل نفس ولي په دومره مشقت کي اچولی دئ چي ورځ او شپه دي ټوله په عبادت کي مصروفه ده؟

دی په جواب کي ورته وايي چي د ټولي دنيا عمر څومره دئ؟

هغه ورته وايي چي اوه زره کاله شاو خوا.

نو دی بيا ورته وايي چي د قيامت يوه ورځ څومره اوږده ده؟

هغه په جواب کي ورته وايي چي پنځوس زره کاله نو دی ورته وايي چي د دي مطلب خو دا دی چي د دنيا ټوله عمر د قيامت د ورځي اوومه حصه ده نو بيا خو

(۱) موت کی تیاری صفحہ ۴۹

د انسان دپاره مناسب دا ده چي د ورځي په آومه حصه کي محنت وکړي، نو به دا ورځ ټوله په راحت او آرام سره تیره سي(۱)

## د یوه ځوان په زړه کي د الله جل جلاله عشق

د انسانانو دپاره مناسب دا دئ چي د دنیا ژندگي د الله جل جلاله په عشق او د آخرت په تیاري کي تېره کړي نو د دې ثمره او نتیجه به د جنت په شکل الله تعالی و دوی ته ضرور ورکوي.

د حضرت مولانا پیرذوالفقار احمد نقشبندي رحمة الله علیه یو کتاب چي د هغه نوم دئ (موت کی تیاری) په هغه کي لیکلي دي چي د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کي یو عبادت کونکی ځوان وو چي هغه به همیشه په عبادت کي مصروفه وو او په زیات کثرت سره یې عبادت کوی.

چي حضرت عمر رضي الله عنه غوندي جلیل القدر صحابي د ډیر عبادت کولو په وجه باندي و هغه ځوان ته حیران وو د دې ځوان یو بوډا پلار وو چي دا ځوان به د ما خوستن د لمانځه وروسته ټوله شپه د خپل پلار په خدمت کي مصروف وو.

چي پر کمه لاره به دَی مسجد نبوي ته د عبادت کولو دپاره تلی نو په لاره کي یوه زنانه د دې ځوان پر حسن او جمال باندي عاشقه وه چي کله به هم دی تېرېدئ هغې به دا کوشش کوي چي دی خپل ځان ته متوجه کړي د ده و خپل ځان ته د متوجه کولو کوشش کوي.

مګر د هغه ځوان په زړه کي د الله جل جلاله محبت په داسي شکل باندي ځای نیولی وو چي د هغه زناني حسن او بنائست د ده و مخته هیڅ حیثیت نه درلودئ.

---

(۱) موت کی تیاری صفحہ: ۴۹

یوه ورځ هغه نوجوان چي کله د ماښستن د لمانځه څخه فارغه سو واپس خپل کور ته را روان وو نو هغه زنانه حسب معمول د شیطان درسي په شکل د ده ومخته راغله او دی یې په زوره باندي ونیوی او د خپل کور پر طرف باندي یې کشوی.

چي کله هغه زناني تر خپل کور تر دروازې پوري راوستی نو د هغه ځوان په دماغ کي د قرآن کریم دا آیات راغلئ: ﴿إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوا فَإِذَا هُمْ مُبْصِرُونَ﴾(١) چي کم انسانان تقوی داره دي چي کله د شیطان د طرفه و دوی ته خطره پیداسي نو دوی د الله تعالی ذات په یاد ساتي او الله جل جلاله حقیقت وربنکاره کړئ.

په دې وخت کي د دې ځوان په زړه کي دومره خوف پیداسو چي دی پر مځکه باندي غوځار او بېهوښه سو.

هلته د ده بوډا پلار د ده په انتظار کي دئ چي کله کافي وخت تېرسو او هغه ځوان نه راغلئ، نو پلار یې د ده په تلاش د کوره څخه را ووتئ که ګوري چي زوی یې په لاره کي بېهوښه پروت دئ را پورته یې کړئ او کور ته یې راوړئ.

چي کله هغه په هوښ کي راغلئ نو پوښتنه ورڅخه کوي چي بچیه په تا باندي څه وسوه چي بېهوښه سوې؟

بچي چي هغه خپله واقعه ورته بیانوي د واقعې بیانولو په دوران کي یې هغه آیت بیا پر خوله باندي راغلی او د آیت د ویلو په وخت کي د ده د خولې څخه یوه چغه ووتله د هغه څخه فورًا ورروسته وفات سو.

خلکو په شپه کي د ده د غسل او د کفن بندوبست وکړئ او خاورو ته یې وسپاری سهار چي کله حضرت عمر رضي الله عنه په دې واقعه باندي خبر سو، نو د ده پلار ته د فاتحې دپاره راغلی او ورته وایي چي تاسو د شپې ولي زه نه خبرولم؟

---

(١) الاعراف آیت نمبر ٢٠١

هغه پلار يې په جواب کې ورته وايي چې اې اميرالمؤمنين! ته د ورځې د خلافت په امورو کې مصروفه يې نو د شپې تاته تکليف درکول موږ مناسب نه وبلل.

نو حضرت عمر ﷺ و ملګرو ته وايي چې درځئ يوار يې قبر ته ورسـ يي کله دوی د هغه ځوان قبر ته راغله حضرت عمر ﷺ د دې آيت تلاوت کوي ﴿وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ﴾(١) چې کم انسـان د الله ﷻ وحضور ته د درېدو په وجه باندې ګناه پرېږدي د هغه دپاره دوه جنته دي چې کله حضرت عمر ﷺ د دغه آيت تلاوت وکړئ.

نو هغه ځوان د قبره څخه په لوړ آواز دوه ځله دا وايي أی اميرالمؤمنين! زمارب يقينا ماته دوه جنتونه راکړه(٢).

﴿سُبْحَانَ اللهِ﴾ هغه حضراتو په دې شکل د تقوی او پرهېزګارۍ زندګي تېروله.

## د عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه د آخرت فکر:

حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه چې هغه ته "عمر ثاني" هم ويل کيږي د ده معمول داوو چې روزانه به يې د شپې د علماء کرامو مجمع راټوله چې هغوی به و ده ته د مرګ او د آخرت خبري کولې.

ده به د مرګ او د آخرت د خبرو په اورېدلو سره داسې ژړل لکه يو چاته چې د يو ډېر خوږ قريب جنازه مخته پرته وي(٣).

---

(١) الرحمن آيت نمبر ٤٦

(٢) موت کی تیاری صفحہ ٥١

(٣) موت کی تیاری صفحہ ٥١

## د عمر بن عبدالعزيز د يو قبر سره مكالمه:

يو ځل حضرت عمر بن عبد العزيز رحمة الله عليه د يو قريب د جنازې سره قبرستان ته راغلی چي كله و هديرې ته را ورسېدی نو د هديرې په يوه كونج كي د خلكو څخه جلا ډېر د سوچ او فكر په شكل كي ناست دئ يو سړی ورته راغلئ ورته وايي چي ای اميرالمؤمنين! ته خو د دې جنازې "ولي" يې ته "ولي" دلته يواځي ناست يې؟

دی په جواب كي ورته وايي چي هو زه خو يې "ولي" يم ليكن ماته دا مخامخ قبر آواز را وكړئ او راته ويې ويل چي أی عمر بن عبدالعزيزه! ته ولي زما څخه پوښتنه نه كوې چي زه زما وغيړې ته د راتلونكو انسانانو سره څه سلوك كوم ما ورته وويل چي ضرور راته ووايه.

دې قبر په جواب كي راته وويل چي كله انسانان ماته راسي زه د دوی كفن څيرم، او زه د دوی بدن ټوكرې ټوكرې كوم، او زه يې ټوله وينه زبېښم، او ټولي غوښي يې خورم، بيا ما ورته وويل چي د انسان د بندو او د هډوكو سره څه كوې؟

ده راته وويل چي لاسونه يې د څنګلو څخه جلاكوم، او څنګلي يې د بازوګانو څخه جلاكوم، او بازوګان يې د بدن څخه پرې كوم، او پښې يې د پنډۍ څخه جلا كوم، او پنډۍ يې د ورنو او د بدن څخه جلا كوم.

حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه چي كله دا وفرمايل نو ډېر زيات يې ژړل او دا به يې ويل چي په دنيا كي هستوګنه ډېره كمه ده او د دې دوكه ډېره زياته ده چي كم انسان په دې دنيا كي ځان عزتمند بولي هغه انسان به په آخرت كي ذليل

وي او چي کم انسان په دې دنیا کي ځان دولت مند بولي هغه به په آخرت کي فقیرېږي او د دې دنیا ځوانډېر ژر بوډا کېدونکی دئ(۱).

## د نادیدي سودا عجیبه واقعه:

محترمو مشرانو! ما مخکي درته وویل چي دنیا د آخرت د تجارت میدان دئ چي انسان به په دې کي یا د جنت تجارت کوي او یا د جهنم، خو لېکن دا سودا هلته فائده کوي چي انسان د سودا په میدان یعني د دنیا په زندگي کي وي ځکه هلته د انسان د جنت سودا صرف پر یقین باندي وي ځکه نه انسان جنت او نه یې نعمتونه لیدلي وي نو هلته سودا نادیده وي نو هغه سودا د انسان په حق کي ډېره گټمنه وي.

لیکن کچیري انسان جنت او د جنت نعمتونه ویني او انسان د دنیا د زندگی څخه و آخرت ته انتقال سي بیا که انسان هر څومره د جنت د پیدا کولو کوښښ وکړي بیا ده ته هیڅ هم په لاس نه ورځي.

مولنا محمد یونس پالنپوري په خپل کتاب (بکھرے موتی) کي یوه واقعه لیکلې ده چي یوه ورځ "هارون رشید" باچا د خپلي کوروالا "زبیده خاتون" سره چي ډېره نیکه زنانه وه د (دریاء دجله) پر غاړه باندي د سیر او منظرې په خاطر د ماځیگر په وخت کي را روان دئ دی مخکي روان دئ او "زبیده خاتون" لږ فاصله وروسته ور پسي روانه ده "هارون رشید" که گوري چي "بهلول دانا" د دریاب پر غاړه باندي په رېگ او په خاورو کي ناست دئ د ماشومانو د بازۍ غوندي د رېگ د کورو څخه په لاس باندي خوني او دېوالونه جوړوي.

هارون رشید باچا د سلام څخه وروسته ورته وایي چي "بهلوله" دا څه کوې؟

(۱) موت کی تیاری سفر ۵۲

دَی ورته وایي چي د دې رنګ څخه محل جوړوم او بیا یې خرڅوم "هارون رشید" ورته وایي چي په دې کي به څه فائده وي او د دې به څو مره قیمت وي؟

دَی ورته وایي چي د دې محل قیمت یو دینار دئ که هر چا رانیوئ زه هغه ته دعاء کوم چي الله جل جلاله د دې محل پر ځای په جنت کي بنائسته محل ورکړي "هارون رشید" د بهلول دانا رحمة الله علیه خبره پر څه باندي نه وبلله او د یوه لیوني په نظر یې ورته وکتل او پر خپله لاره باندي ولاړئ.

وروسته چي "زبیده خاتون" را ورسېده هغه هم د سلام څخه وروسته د بهلول دانا رحمة الله علیه څخه پوښتنه کوې چي دا څه کوې؟

بهلول دانا رحمة الله علیه ورته وایي چي دا محل جوړوم یو دینار یې قیمت دئ او هر چا چي رانیوئ په جنت کي د بنائسته محل دعاء ورته کوم.

"زبیده خاتون" د خپل جېب څخه یو دینار راوکښئ او بهلول دانا رحمة الله علیه ته یې د محل د قیمت په شکل ورکړئ او پر خپله لاره باندي ولاړه.

چي کله شپه راغله "هارون رشید" د شپې خوب ویني په خوب کي جنت دئ او په جنت کي بنائسته محل دئ او د هغه محل پر دروازه باندي لیکلي دي چي قصر "زبیده" چي دا د زبیدې محل دئ هارون رشید د ورننوتلو کوښښ کوي، لېکن د جنت ملائکي یې نه ور پرېږدي دَی دا ورته وایي چي دا خو زما د کور والا محل دئ نو زه ځکه ور ننوزم هغه ورته وایي چي دا خو څه دنیا نه ده دلته هر انسان خپل محل ته پخپله ورننوزي.

"هارون رشید" چي کله د خوب څخه را پورته سو، نو یې دستي دا یقین سو چي د بهلول دانا رحمة الله علیه دعاء د "زبیده خاتون" په حق کي قبوله سوې ده او د هغه دینار په مقابل کي الله جل جلاله و "زبیده خاتون" ته په جنت کي دا محل ورکړی دئ.

نو د ځانه سره په شپه کي ډېر افسوس او ارمان کوي چي کاشکي ما هم هغه دینار و بهلول دانا رحمة الله علیه ته ورکړی وای نن به زما د پاره هم په جنت کي دا محل.

واى نو ټوله شپه د افسوس او د ارمانه څخه خوب نه ورځي او تر سهاره پورې ويښ پاته سو.

او دا سوچ او فکر کوي چي کله به بهلول دانا رحمة الله عليه پيدا کړم چي په هغه دينار سره د جنت سودا ور سره وکړم او دا ورځ هم ټوله انتظار کوي چي کله ماځيګر سو نو د هغه سودا په اراده باندي د(درياء دجله) پر کناره باندي بيا را روان سو چي کله به بهلول دانا رحمة الله عليه پيدا کړم چي هغه خپله سودا ور سره تکميل کړم چي کله تر يو ځايه راغلئ که ګوري چي بهلول دانا رحمة الله عليه بيا په هم هغه شکل باندي ناست دئ او د بازۍ غونډي د رېګ څخه خوني جوړوي.

هارون رشيد بيا پوښتنه ورڅخه کوي چي بهلول دانا رحمة الله عليه دا څه کوي؟

دَی بيا په جواب کي ورته وايي چي کور جوړوم اوکه چا را څخه رانيوئ د هغه دپاره د جنت د محل دعاء کوم چي د دې کور په بدله کي به الله تعالى وهغه ته په جنت کي محل ورکوي.

هارون رشيد ورته وايي چي څومره قيمت يې دئ؟

بهلول دانا رحمة الله عليه په جواب کي ورته وايي چي د ټولي مځکي د مخ بادشاهي راکول د دې محل قيمت دئ او د ټولي مځکي د مخ بادشاهي چونکي د "هارون رشيد" په وس او طاقت کي نسته، نو "هارون رشيد" ډېر حيران سو ورته وايي چي اي بهلول دانا! دا ولې چي پرون يې يو دينار قيمت وو لېکن نن يې بيا د ټولي مځکي د مخ بادشاهي قيمت دئ؟

بهلول دانا رحمة الله عليه په جواب کي ورته وايي چي بادشاه سلامت! پرون خو ناديده سودا وه نن چي کله سودا ديده سوه بيا په هغه قيمت باندي نه پيدا کيږي چي پرون په کم قيمت سره پيدا کېدله هارون رشيد پر دې خپل حال باندي ډېر افسوس وکړئ(۱).

(۱) بحرالی سرق جلد: ۵ صفحه: ۲۲۳

نو زموږ دپاره هم في الحاله په دنیا کي د جنت سودا کول نادیده ده او په ډېره آسانه سره پیدا کیږي لېکن خدانخواسته که مو د دنیا څخه سترګي پټي سي او جنت او جهنم په سترګو ووینو او سودا راباندي دیده سي بیا په ډېر څه د انسان ولاس ته نه راځي او که بیا انسان هرڅومره افسوس او آرمانونه وکړي بیا انسان ته هیڅ فائده نه لري.

څکه قرآن کریم فرمایي: ﴿يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ، وَصَاحِبَتِهِ وَأَخِيهِ، وَفَصِيلَتِهِ الَّتِي تُؤْوِيهِ، وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنْجِيهِ﴾(١).

مجرم به په دې ورځ باندي دا وایي چي یاالله! زما بچیان و جهنم ته ور واچوه او ما د جهنم څخه خلاص که او زما د کور زنانه او زما وروڼه ور واچوه او زما ټوله خاندان و جهنم ته ور واچوه خو ما خلاص که او د مځکي د مخ ټوله انسانان و جهنم ته ور واچوه لېکن ما ته نجات راکه.

لېکن الله تعالی به ورته فرمايي: ﴿أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾(٢) هر ګز داسي نه ده چي هرچا په دنیا کي جرم کړی دئ هغه به د خپل جرم سزا پخپله نن برداشته وي.

## د يو نوجوان واقعه:

جعفر بن سلیمان رحمة الله علیه وایي چي زه د حضرت مالک بن دینار رحمة الله علیه سره يو ځل د "بصرې" په کوڅو کي روان وم موږ د يو ډېر عالي شان محل سره نزدې تېرېدو چي د هغه د تعمیر کارروان وو او يو نوجوان ورته ناست وو چي هغه کاریګروته به يې ښوونه کوله چي دلته به داشی جوړېږي او دلته به دا شی جوړېږي.

(١) المعارج آيت نمبر ١١، ١٢، ١٣، ١۴

(٢) النجم آيت نمبر ٣٨

مالک بن دینار رحمة الله علیه چي کله هغه ځوان ولیدئ جعفر بن سلیمان رحمة الله علیه وایي چي ماته یې وویل چي دا ځومره ښائسته نوجوان دئ او په چشي کي پسا او سوی دي او په دې تعمیر کي څه رنګه مشغوله دی.
زما د طبیعت دا تقاضا ده چي زه د الله جل جلاله د ذات څخه د دې نوجوان په حق کي دعاء وغوارم چي دَی الله جل جلاله په خپلو مخلصو بندګانو کي شمار کړي او دا به ښکه ښه وي چي دَی د جنت په نوجوانانو کي شمارسي.
نو ماته وایي چي ای جعفره! درځه چي هغه نوجوان ته ور سو جعفر رحمة الله علیه وایي چي کله موږ هغه نوجوان ته راغلو نو و هغه ته مو سلام ووایه او هغه د سلام جواب راکړئ دغه ځوان د مالک بن دینار رحمة الله علیه د نامه اورېدلي وه لیکن نه یې پېژندئ.
لږ وخت بعد یې وپېژندئ په ډېر اکرام ورته ولاړسو او په ډېر عزت سره یې مالک بن دینار رحمة الله علیه کښېنوئ او د هغه یې ډېر اکرام او عزت وکړئ او ورته وایي چي حضرت! تاسو څنګه دلته راغلاست؟
مالک بن دینار رحمة الله علیه ورته وایي چي پر دې محل باندي دي د څومره پیسو لګولو اراده کړې ده؟
هغه نوجوان په جواب کي ورته وایي چي دیولک دراهم لګولو اراده مي کړې ده.
مالک بن دینار رحمة الله علیه ورته وایي کچیري دغه دراهم و ماته راکړې زه به ستا دپاره په جنت کي د یو مکان ذمه واخلم چي هغه به په ډېرو درجو د دې څخه بهتر وي او په هغه کي به ډېر زیات خادمان او نوکران وي.
او د هغه جوړښت به په دا شکل وي:
﴿لَبِنَةٌ مِنْ يَاقُوتٍ حَمْرَاءَ﴾ یوه دانه خښته به یې د سرو یاقوتو څخه وي.
﴿وَلَبِنَةٌ مِنْ زُمُرُّدٍ خَضْرَاءَ﴾ او یوه خښته به یې د زرغونو زمردو څخه وي.
﴿وَلَبِنَةٌ مِنْ لُؤْلُؤٍ بَيْضَاءَ﴾ یوه خښته به یې د سپینو ملغلرو څخه وي.

﴿مِلَاطُهَا الْمِسْکُ﴾ د مشکو په ختې به لګېدلي وي.
﴿حَصْبَائُهَا لُؤْلُؤٌ﴾ د هغه لاري او کوڅې به د ملغلرو څخه جوړي وي.
﴿بَطْحَائُهَا يَاقُوْت﴾ د هغه په درمیان کي به غونډۍ د یاقوتو څخه وي.
﴿حَشِيْشُهَا الزَّعْفَرَان﴾ د هغه وابنه او چمنیان به د زعفرانو وي.
﴿وَسَقْفُهَا عَرْشُ الرَّحْمن﴾(۱) د هغه د خونو چت به د الله جَلَّ جَلَالُهُ عرش وي.
هغه به نه زړېږي او نه به ماتېږي او هغه به معمار او کار ګرونه وي جوړ کړی بلکه هغه به د الله تعالی د ﴿کُنْ﴾ په امر سره جوړ سوی وي.
هغه نوجوان ورته وایي چي ماته د سوچ کولو دپاره تر سبا پوري وخت راکه چي کله ته سبا راغلې نو زه به خپله رأیه درته ښکاره کړم، حضرت مالک بن دینار رحمة الله علیه واپس راغلئ او ټوله شپه د هغه نوجوان په فکر کي دئ او د شپې په آخر کي یې د هغه نوجوان دپاره په ډېره عاجزي سره دعاء وکړه چي کله سهار سو، نو جعفر بن سلیمان رحمة الله علیه وایي چي موږ دواړه د هغه نوجوان مکان ته یا راغلو هغه نوجوان د دروازې څخه دباندي زموږ په انتظار کي ولاړ دئ چي کله یې مالک بن دینار رحمة الله علیه ولیدئ، نو ډېر خوشحاله سو.
حضرت مالک بن دینار رحمة الله علیه ورته وایي چي د پرون په خبره کي دي څه رأیه ده؟ هغه نوجوان ورته وایي د کم شي چي تا پرون ضمانت واخیستئ ته پر هغه باندي ولاړ یې؟
حضرت مالک بن دینار رحمة الله علیه ورته وایي چي پر هغه ضمانت یقینًا ولاړ یم.
نو هغه نوجوان د دراهمو غوټه د ده ومخته کښېښوله قلم او کاغذ یې هم ور سره کښېښوله حضرت مالک بن دینار رحمة الله علیه قلم او کاغذ را واخیسته پر هغه یې د "بسم الله" څخه وروسته دا ولیکل.

(۱) صفة الجنة لابي نعیم الاصبهاني حدیث نمبر ۱۸۱

چي دا اقرارنامه ده چي مالک بن دینار رحمۃ اللہ علیہ د فلانکي سړي ذمه اخستې ده چي د دې محل په بدله کي به الله تعالی وده ته په جنت کي داسي محل ورکوي چي د هغه صفتونه مخکي بیان سوه بلکه چي د دې صفاتو څخه به ډېر عمده او ډېر زیات وي او د جنت په عمده سایو کي به دا نوجوان د الله تعالی سره ډېر قریب او نزدې هستوګنه لري.

هغه پرچه یې ولیکله وهغه نوجوان ته یې ورکړه او هغه دراهم یې را واخیسته خپل کور ته راغلئ حضرت جعفر رحمۃ اللہ علیہ وایي چي تر مابنامه پوري د صدقه کولو څخه دومره حصه نه سوه پاته چي د ده د روژه مات بندوبست په سوی وای. د دې واقعې څلوېښت ورځي نه سوې تیري یوه ورځ مالک بن دینار رحمۃ اللہ علیہ د سهار د لمانځه څخه فارغه سو، نو د مسجد په محراب کي یې یوه پرچه ولیدله او دا هغه پرچه وه چي مالک بن دینار رحمۃ اللہ علیہ و هغه نوجوان ته ور لیکلې وه او د هغه پر شا باندي بغیر د رنګ څخه دا لیکلي وه چي دا د الله جل جلالہ د جانبه د مالک بن دینار رحمۃ اللہ علیہ د ذمې برأت دئ او کم محل چي د هغه ذمه تا اخستې وه موږ هغه نوجوان ته پوره پوره ورکړئ او د هغه څخه مو اویا درجې زیات ورکړئ.

مالک بن دینار رحمۃ اللہ علیہ چي کله دا پرچه وکتله ډېر حیران سو، د هغه څخه وروسته حضرت جعفر رحمۃ اللہ علیہ وایي چي موږ د هغه نوجوان و مکان ته ور غلو پر هغه باندي د غم آثار وه او د هغه څخه د ژړا آوازونه را وتل چي کله موږ پوښتنه وکړه نو دا موږ ته معلومه سوه چي هغه نوجوان پرون وفات سوی دئ موږ بیا پوښتنه وکړه چي ودې نوجوان ته غسل چا ورکړئ؟

نو هغه غسل کونکی موږ را وغوښتئ او د هغه څخه مو د کفن او دفن کیفیت و پوښتئ، نو هغه په جواب کي راته وویل چي دې نوجوان د مرګ څخه مخکي ماته یوه پرچه راکړه او دا یې راته وویل چي کله ته ماته غسل راکړې او په کفن کي مي وپېچې نو دا پرچه به زما سره په کفن کي کښېږدې.

موږ چي کله ده ته غسل ورکړئ، نو هغه پرچې مو په کفن کي ورسره کښېښووله.
حضرت مالک بن دینار رحمۃ اللہ علیہ هغه پرچې د خپله جېب څخه راوکښه او ده ته یې ورښکاره کړه ورته ویې ویل چي آیا دغه پرچې وه؟ هغه په جواب کي ورته وایي چي زما دي په هغه ذات قسم وي چي کم چا پر دې نوجوان باندي مرګ راوستلی دئ دا هغه پرچې ده چي کمه پرچې ما د ده سره په کفن کي ایښې وه.
یو بل نوجوان چي کله دا منظر ولیدئ، نو را وغورځېدئ مالک بن دینار رحمۃ اللہ علیہ ته وایي چي زما څخه دوه لکه دراهم واخله لېکن ماته هم داسي پرچې را ولیکه حضرت مالک بن دینار رحمۃ اللہ علیہ په جواب کي ورته وایي چي هغه خبره اوس تېره سوې ده اوس نسي کېدای الله جل جلالہ چي څه غواړي هغه کوي.
د دې څخه وروسته چي به کله هم مالک بن دینار رحمۃ اللہ علیہ د دې نوجوان ذکر کوی، نو ډېر زیات به یې ژړل او د هغه نوجوان په حق کي به یې دعاء کوله(۱).
نو مقصد مي دا دئ چي د دنیا زندګي د جنت د سودا میدان دئ د عقلمند انسان علامه دا ده چي د دنیا په زندګي کي د خپل ځان دپاره د جنت سودا وکړي او نادان انسان هغه دئ چي د دنیا زندګي په غفلت کي ورباندي تېره سي او د مرګه څخه وروسته د پرېشانی او پښېمانی نور هیڅ هم په لاس ورنسي.
او د الله جل جلالہ په حضور کي د رسوایي او شرمندګي سره مخامخ سي.
الله تعالی دي مو په زړو کي د آخرت د تیاری سوچ او فکر راپیدا کړي او الله جل جلالہ دي موږ او تاسو ته د دنیا په زندګي کي د نیکو اعمالو توفیق را په نصیب کي او الله تعالی دي دا څوخبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمین)

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ

---

(۱) موت کا منظر ص ۲۷۰

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الایه)

# د جهاد بیان

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــــريظ | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتــي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشــــاعــت | ثلـــــــــــــورم |
| تــاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تــعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَوُونَ عِنْدَ اللَّهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (١٩) الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللَّهِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ﴾(١).

وقال رسول اللهﷺ: ﴿إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى بَعَثَنِي بِالسَّيْفِ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ، وَجَعَلَ رِزْقِي تَحْتَ رُمْحِي أَوْ ظِلِّ رُمْحِي، وَجَعَلَ الذُّلَّ وَالصَّغَارَ عَلَى مَنْ خَالَفَنِي، وَمَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ﴾(٢).

اٰمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا العَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الكَرِيم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الحَمْدُلله رَبِّ العَالَمِيْن.

**تمهید:**

محترمو مشرانو! جهادي مجلس روان دئ او مجاهدین حضرات موجود دي. مشرانو علماء کرامو خبري و کړي، الله تعالى دي يې قبولي او مقبولي وګرځوي.

زه هم د بعضو ملګرو د تمنی او اصرار په خاطر زموږ په دین کې د جهاد پر اهمیت باندي يو څه مختصره خبره کوم، الله تعالى دي موږ او تاسو ټولو ته پر

(١)سورة التوبة الآية: ٢٠

(٢)شرح السير الكبير ج١ ص٦١

دې باندې د عمل کولو توفيق را نصيب کړي. او الله تعالیٰ دې يې په خپل دربار کې قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمين).

د پيغمبر عليه السلام دوه اکاګان مبارکان دي، يو حضرت عباس رضي الله عنه او بل حضرت حمزه رضي الله عنه. يو ځل حضرت عباس رضي الله عنه د ځانه سره دا فيصله وکړه، چې زه به د حاجيانو د خدمت په شکل باندې د دوی د اوبو بندوبست کوم او ټوله زندګي به دا خدمت پرغاړه اخلم.

ليکن په دې کې شکمن دئ چې ايا دا به زما د اخرت د نجات دپاره کافي وي او که نه.

او دوهم اکا حضرت حمزه رضي الله عنه دا فيصله وکړه، چې زه به د بيت الله په حرم کې کښېنم او عبادت به کوم، يعني بيت الله به ځلېروېشت ساعته په عبادت اباده ساتم.

ليکن دی هم په دې کې شکمن دئ چې ايا دا به زما د آخرت د نجات دپاره کفايت وکړي او که نه.

دواړو مبارکانو دا خپله فيصله د حضرت عمر رضي الله عنه سره شريکه کړه، حضرت عمر رضي الله عنه ورته وايي: حضور اقدس صلی الله عليه وسلم ژوندی دئ دا خبره به د هغه ومخته کښېږدو چې هغه مبارک په دې باره کې څه وايي او الله تعالیٰ ته کمه فيصله خوښه ده.

د جمعې ورځ وه حضور اقدس صلی الله عليه وسلم د جمعې د لمانځه او خطبې څخه فارغ سو، حضرت عمر رضي الله عنه د حضرت حمزه او عباس رضي الله عنهما په موجودګۍ کې د دوی دواړو خبره د پيغمبر صلی الله عليه وسلم ومخته د مشورې غوښتلو په شکل پېش کړه.

د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د خپلې رايې د ښکاره کولو څخه مخکې الله تعالیٰ "جبرائيل امين" د عرش څخه را واستوئ او دا فيصله يې په لاس ور کړې وه: ﴿أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَوُونَ عِنْدَ اللَّهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾ ايا تاسو ګرځوئ اوبه ور کول حاجيانو ته او

ابادول د مسجد حرام لکه هغه څوک چي پر الله تعالی باندي ايمان راوړی وي او پر ورځ د آخرت ايمان لري او د الله تعالی په لار کي جهاد کوي؟ نه دي برابر د الله تعالی په نزد باندي او الله ﷻ هدايت نه کوي داسي قوم ته چي ظالمان وي.
مطلب دا چي زما په لار کي جهاد کول د حاجيانو د اوبه کولو سره يا د بيت الله د عبادت کولو سره چي څوک برابر بولي هغه ظالم دئ. او دا اعمال چي څوک د جهاد سره برابر بولي دا ظلم دئ.
﴿وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾(١) الله تعالی ظالمانو ته هدايت نه ور نصيب کوي.
﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِندَ اللَّهِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ﴾(٢) بلکي هغه خلګ چي ايمان يې را وړي دئ او د ايمانه سره د دين د حفاظت په خاطر باندي هجرت و کړي او د الله ﷻ په لار کي په خپل نفس او مال سره جهاد و کړي.
دا لوړي درجې والا خلګ دي، او دا کامیابه انسانان دي دوی ته به الله ﷻ څند نعمتونه ور کوي،
يو خو به د الله ﷻ د طرفه د رحمت زيری وي د دوی د پاره.
او بل به د همېشه استوګني د پاره د نعمتونو ډک جنت الفردوس وي چي دوی به د همېشه د پاره په هغوی کي اوسيږي(٣).
داغه رنګه به الله تعالی خپله رضا دوی ته ور نصيب کړي.

---

(١) التوبه آيت: ١٩
(٢) التوبه آيت: ٢٠
(٣) مسلم شريف جلد: ١ صفحه: ١٣٢ باب فضائل الشهادة

## جنة الفردوس الله تعالى په خپل قدرت سره جوړ کړی دئ:

هسي خو الله ﷻ ايمان والا ته جنت ور کوي، ليکن په دې جنتو کي يو جنت دئ چي الله تعالى په خپل قدرت سره جوړ کړی دئ او الله تعالى په خپل امر د ﴿كُنْ﴾ سره جوړ کړی دئ.

الله تعالى فرمايي: ﴿غَرَسْتُ اَشْجَارَهَا، وَجْرَيْتُ اَنْهَارَهَا﴾ په دې کي ما درختي په خپله لګولي دي او په دې کي ما نهرونه په خپله بهولي دي. د دې جنت نوم "جنة الفردوس" الله ايښی دئ. په دې کي بيا سل درجې دي د يوې درجې څخه بيا تر بلي درجې پوري دومره فاصله ده لکه د مځکي او اسمان تر منځ چي څومره فاصله ده. او "جنة الفردوس" تر نورو جنتو دومره لوړ دئ، چي لاندي جنتو والا ته جنة الفردوس داسي ور معلوميږي لکه موږ او تاسو ته چي د اسمان پر مخ ستوري را معلوميږي.

نو لاندي جنتو والا چي جنة الفردوس ويني. نو د دوی تر خوله به دا نعره خيږي چي ﴿أَعظَمُ دَرَجَةً عِندَ الله﴾ چي د الله په دربار کي دې جنتيانو ته ډېره لوړه درجه ور کول سوې ده.

او عام مفسرين هم د ﴿أَعظَمُ دَرَجَةً﴾ څخه جنة الفردوس اخلي.

نو چي کم چا ته الله ﷻ ايمان په نصيب ور کړي، او د دين د حفاظت لپاره هجرت و کړي، او زندګي په جهاد کي تېره کړي، نو هغوی ته به الله تعالى په جنة الفردوس کي استوګنه ور نصيب کوي.

## د جنة الفردوس جوړښت:

الله تعالى چي کله په خپل امر او قدرت مبارک سره جنة الفردوس جوړ کړئ بيا يې پر هغوی باندي مهر و لګوئ، چي جنة الفردوس تر اوسه پوري هيڅ چا هم نه دئ ليدلی.

څکه روايت کي راځي:

﴿لَم يَرَهَا اَحَدٌ مِن خَلقِهٖ﴾ هيڅ چا نه دئ ليدلی د مخلوق څخه.
﴿لَا نَبِيٌّ مُرسَلٌ وَلَامَلَکٌ مُقَرَّبٌ﴾ نه حضور اقدس ﷺ ليدلی دئ او نه جبرائيل امين عليه السلام ليدلی دئ، ځکه چي هغه بند دئ.
﴿إِنَّ اللّٰهَ يَفتَحُهَا کُلَّ يَومٍ خَمسَ مَرَّاتٍ﴾ الله تعالٰی يې د ورځي پنځه واره خلاصوي او دا امر ورته کوي.
﴿وَازدَادِيْ طِيبًا لِأَولِيَائِي وَازدَادِيْ حسنًا لِأَولِيَائِي﴾ ای جنته زما د دوستانو دپاره په ورځ کي پنځه واره خوشبويه کېږه او پنځه واره پاکېزه کېږه!
﴿لَهُم فِيهَا قُصُورٌ﴾ الله د دې جنتيانو لپاره په دې جنة الفردوس کي قصور او بنګلې جوړي کړي دي، چي هغه د غامو جنتيانو په مثل نه دي؛ ځکه په عامو جنتو کي چي کم قصور او ماڼۍ دي په هغه کي يوه خښته د سرو زرو وي او يوه د سپينو زررو وي.
ليکن په دې جنة الفردوس کي الله ﷻ داسي کورونه جوړ کړي دي چي د هغوی په باره کي فرمايي:
﴿ لَبِنَةٌ مِن يَا قُوتَةٍ حَمرَاء﴾ چي يوه خښته به د سرو ياقوتو وي.
﴿ لَبِنَةٌ مِن زَمُرُدَةٍ خَضرَاء﴾ يوه خښته به د زرغونو زمرودو وي.
﴿لَبِنَةٌ مِن لُؤلُؤٍ بَيضَاءَ﴾ يوه خښته به د سپينو ملغلرو وي.
﴿مِلَاطُهَا المِسکُ﴾ د هغې خټه چي دا خښتي په لګېدلي وي هغه به مشک وي.
﴿حَصبَاءُهَا اللُّؤلُؤ﴾ د هغو کورو په ميان کي به لاري او کوڅې د ملغلرو وي.
﴿بَطحَاءُهَا يَاقُوتٌ﴾ د هغه کورو په درميان کي د غړونو غونډي کښنی غونډۍ به د ياقوت وي.
﴿حَشِيشُهَا الزَّعفَرَان﴾ د هغه کورو په درميان کي چي کم وابنه او چمنيان وي هغه به زعفران وي.
﴿وَ سَقفُهَا عَرشُ الرَّحمٰنِ﴾(۱) او د هغوی چت به د الله عرش وي.

(۱) صفة الجنة لابي نعيم الاصبهاني حديث نمبر ۱۸۱

الله تعالٰی چي څومره مخلوق پیدا کړی دئ په هغه کي د ټولو څخه زيات ښائسته مخلوق د الله عرش دئ. نو د جنة الفردوس د کورو چت د الله تعالٰی عرش دئ. او دا په خپلو کورو کي د الله تعالٰی په همسایه توب کي شپې تېروي.
عامو جنتیانو ته د خپلي مرتبې مطابق د عرش دیدار ور کول کیږي. چا ته په ورځ کي یو ځل، چا ته په هفته کي یو ځل، چا ته په میاشت کي یو ځل، چا ته په کال کي یو ځل او چا ته په ټوله جنتي زندګي کي یو ځل.
لیکن د جنة الفردوس استوګن چي کله د خپلي خوني وچت ته وګوري، نو نظر به یې د الله ﷻ پر عرش لګیږي. نو د دغه انسانانو په باره کي الله فرمایي: ﴿أعظَمُ دَرَجَةً عِندَالله﴾ دا ډیري لوړي درجې والا خلک دي د الله ﷻ په دربار کي.
﴿وَ أُولٰئِکَ هُمُ الفَائِزُون﴾(١) دغه خلک یقینا کامیابه دي.

## ای مسلمانه! ته د چا امتي یې؟

محترمو مسلمانانو! موږ د هغه نبيٍ امتیان یو چي د هغه نبي نوم «نبي السیف» د توري والا نبي او «نبي الملحمه» د سختو جنګونو والا نبي دئ.
هغه خپله ټوله مدني زندګي په جهاد کي تېره کړې ده. هغه په خپل ژوند کي په اوویشتو (۲۷) غزاګانو کي بنفس نفیس شریک سوی دئ او په خپله یې شپږ پنځوس (۵٦) جنګي تشکیلونه په خپل لاس مختلفو علاقو ته استولي دي.
هغه په خپل ژوند کي د دین د دفاع د پاره سخت جنګونه کړي دي.
او پر دې دین باندي یې خپله وینه توی کړې ده، سر مبارک یې زخمي او غاښونه یې شهیدان سوي دي. او هغه فرمائي:
﴿إنَّ الله بَعَثَنِيْ بِالسَّيفِ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ وَجَعَلَ رِزْقِيْ تَحْتَ رُمْحِيْ أَوْ ظِلِّ رُمْحِيْ وَجَعَلَ الذُّلَّ وَالصَّغَارَ عَلٰى مَنْ خَالَفَنِيْ وَ مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ﴾(٢) بېشکه زه الله ﷻ د قیامت څخه

---

(١) ماخوذ از خطبات طارق جمیل صفحه ١١١
(٢) شرح سیر کبیر جلد ١ ص ١٦

لږ مخکي په توره سره را استولی یم، او زما رزق یې زما د نیزې یا د نېزې د سایې لاندې ګرځولی دئ.

او کم قوم چې زما په نقش قدم ژوند نه تېروي هغه به ذلیل او رسوا وي. او څوک چې د هر قوم سره مشابهت اختیار کړي هغه به د هغوی څخه وي.

علامه سرخسي رحمة الله عليه وايي: د ﴿بَعَثَنِي بِالسَّيْفِ﴾ څخه مراد ﴿بَعَثَنِي بِالْقِتَالِ﴾ دئ، چې زما رب زه د قتال في سبيل الله دپاره را لېږلی یم. لکه په بل حدیث کې راځي: ما ته الله جل جلاله حکم کړی دئ ﴿أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ﴾ (¹) زه د خلکو سره تر هغه وخته وجنګېږم چې دوی د ﴿لا اله الا الله﴾ کلمه نه وي ویلې.

او حقیقت دا دئ چې جنګ او قتال د نورو پیغمبرانو په حق کې دا رنګه نه وو لکه څرنګه چې یې دا نبي ﷺ د جنګ او قتال لپاره خاص کړی دئ. لکه په تورات کې چې وايي:

﴿نَبِيُّ الْمَلْحَمَةِ وَعَيْنَاهُ حَمْرَاوَانِ مِنْ شِدَّةِ الْقِتَالِ﴾ یعني هغه به د سختو جنګونو والا نبي وي، او د جنګ د سختۍ په وجه به یې سترګې تکې سرې وي.

او د نبي ﷺ د امت په صفت کې تورات داسې وايي: ﴿أَنَاجِيلُهُمْ فِيْ صُدُوْرِهِمْ، سُيُوْفُهُمْ عَلَى عَوَاتِقِهِم. وَإِلَيْهِ اَشَار عليه السلام: اَلسُّيُوْفُ أَرْدِيَةُ الْغُزَاةِ﴾(²).

یعني د قرآن کریم تعلیمات به یې په سینو کې وي او توري به یې په اوږو کې وي. لکه څرنګه چې نبي ﷺ ورته اشاره کړې ده چې توري د غازیانو څادرونه دي.

(¹)بخاري حديث نمبر ۲۵
(²)نداء الجهاد ص ۱۷

## په دنيا کي د مسلمانانو حالات:

نن په دنيا کي د مسلمانانو کم حالت دئ! او موږ او تاسو د کمو حالاتو سره مخامخ يو! په خداى قسم چي د هغې د ادراک کولو څخه عقل عاجز دئ. او د هغوى د بيانولو طاقت ژبه نه لري.

نن مسلمانان د امريکايي وحشيانو او د برطانوي جنايت کارانو د کمو ظلمونو سره مخامخ دي! نن د مسلمانانو هغه صنفِ نازک چي زنانه دي هغه د دې وحشي کافرانو د طرفه په کمو ظلمو کي شپې تېروي!!!

او هغوى ما او تا ته چيغې او فرياد کوي ﴿وَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ﴾ اى د محمد امته! تاسو په کم غفلت کي ياست چي زموږ فرياد او چيغه نه اورئ.

د (ابو غريب) جېل څخه يو زنانه خط را لېږي چي اى مسلمانانو! زما سره امريکايي ځناورانو په ورځ کي نه (۹) واره جنسي تېرى او زنا کوي. ستاسو ايمان او غيرت به کله په جذبه کي راځي.

په دنيا کي دا سي زندان څوک نه سي ښوولاى، چي په هغه کي دي د مسلمانانو صنفِ نازک د قيديانو په شکل صرف په دې جرم چي تاسو ولي د مجاهدينو خيرخوا ياست او تاسي ولي د اسلام سره مينه لرى ژوند نه تېروي.

باګرام، قندهار، ابو غريب او ګوتانامو خو د چا څخه پټ نه دي. حالانکه د فقهي حنفي مشهوره فتاوٰى بزازيه کي وايي: ﴿وَلَوْ اَنَّ امْرَءَةً سُبِيَتْ بِالْمَشْرِقِ وَجَبَ عَلٰى اَهلِ الْمَغرِب تَخْلِيْصُهَا مِنَ الْاَسرِ﴾ (۱).

کچيري يوه مسلمانه زنانه په مشرق کي د کافرانو په قيد کي بندي سي، نو د مغرب پر مسلمانانو د هغې آزادول واجب دي.

نن تا ته معلومه ده چي په دنيا کي څومره مسلماناني زناني د کافرانو په قيد خانو کي د ظلم او وحشت په حالاتو کي ژوند سبا کوي. په وار وار سره امريکايي وحشيانو بدکاري وکړه، بيا يې شهيداني کړې او ويې غورځولې.

(۱)بحر الرائق ج ۵ ص۷۲

عبدالله ابن مبارک رحمة الله عليه د دې حالاتو په باره کې د مسلمانانو پر غفلت باندې د افسوس يو دوه شعرونه وايي:

كَيْفَ الْقَرَارُ وَكَيْفَ يَهْدَأُ مُسْلِمٌ ..... وَالْمُسْلِمَاتُ مَعَ الْعَدُوِّ الْمُعْتَدِي
الضَّارِبَاتُ خُدُوْدَهُنَّ بِرَنَّةٍ..... الدَّاعِيَاتُ نَبِيَّهُنَّ مُحَمَّدًا
الْقَائِلَاتُ إِذَا خَشِيْنَ فَضِيْحَةً .....جهور المقالة يَا لَيْتَنِي لَمْ نُولَدَا
مَا تَسْتَطِيْعُ وَ مَالَهَا مِنْ حِيْلَةٍ ..... إِلَّاالتَّسَتُّرُ مِنْهُ بِالْيَدِ(١)

دې حالاتو کې به الله تعالی مسلمانانو ته څنګه آرام ور کړي، چې د مسلمانانو زنانې د هغو وحشي درندګانو په جېلو کې د ﴿وا محمدا !﴾ نعرې وهي. چې د رسوايي په حالت کې هغوی خپلو مخانو ته د افسوس څپېړې ور کوي او وايي: کاشکې په دنيا کې مېندو نه وای زېږولي.

چې کله وحشي ذرنده ورباندې را مخته سي او دا سر تور سر د جېل په پنجره کې ناسته وي او د هغه وحشيانو څخه د خپلې بې وسۍ په خاطر باندې د خپل ستر خوندي کولو دپاره نور طاقت نه لري، نو دا لاس و مخته ونيسي او په لاس سره د خپل مخ پرده کوي.

نارينه خو څه کوې نن د مسلمانانو هغه صنفِ نازک چې زنانه دي هغوی په داسې حالاتو کې شپې او ورځې تېروي. نو په دې حالاتو کې به الله جل جلاله مسلمان ته څنګه سکون او آرام په نصيب ور کړي.

محمد ابن قاسم رحمة الله عليه د "پاکستان" د "سند" و علاقې ته د مدينې منورې څخه د يو مظلومي زنانې پر فرياد ځان را ورسوئ، "سکهر" او "ملتان" يې فتح کړل، شپږ ويشت زره کافران يې قتل کړل او علاقه يې په اسلام منوره کړل. نن زما او ستا او د دې علاقې اسلام د محمد ابن قاسم رحمة الله عليه په کاته کې راځي.

(١) کتاب الجهاد لعبدالله ابن مبارک صفحه ١٠٠

## د طارق ابن زیاد رحمة الله علیه واقعه:

د اسلام عظیم جرنیل "طارق ابن زیاد" چي کله په "اسپین" او "اندلس" باندي د یو عیش پرسته عیسائي حکومت وو، نو هغه حاکم د یو عیسائي منصب دار د لور (فلورنډا) سره په زوره زنا و کړه.
او هغه عیسائي منصب دار د مسلمانانو د والي "موسی ابن نصیر" څخه مدد وغوښتئ. نو هغوی "طارق" د دوولس زره (۱۲۰۰۰) لښکر سره ورولېږئ. په سنه۹۲هجري کي د "اندلس" پر ساحل باندي د کښتیو څخه شوه سول. "طارق ابن زیاد" د ټولو کښتیو د سوځلو حکم و کړئ.
چي کله کښتی وسوځل سوې، نو خپل یو فوجي منصب دار ورته وویل: دادي ښه ونه کړه، که خُدا نخواسته ماتي او شکست راغلئ، نو بیا به پر کمه تښتو.
طارق ورته وویل: چي موږ د تښتېدو دپاره نه یو راغلي.
او بیا یې ټولو ملګرو ته تقریر و کړئ او ورته ویې ویل: ای مسلمانانو! د میدانِ جنګ څخه د تښتېدلو هیڅ لاره نسته، مخته دښمن او شاته دریاب دئ.
اوس صرف ثابت قدمي کي ستاسو خیر دئ. ای مسلمانانو! د ذلت په ژوند هیڅ کله مه راضي کېږئ! د محنت او سختی ژوند خپل کړئ!
او بیا یې لښکر ته امر و کړئ او پر دښمن یې سخته حمله و کړه.
"علامه اقبال" د "طارق بن زیاد" قصه په شعرونو کي داسي بیانوي:

طارق چون بر کنار اندلس سفینه سوخت .... گفتند کار تو بنگاه خرد خطاست
دوریم از سواد وطن باز چون رسیم .... ترک سبب از روئ شریعت کجاست
خندید و دست بر سر شمشیر برد و گفت .... هر ملک ملک ماست که ملک خدای ماست

چي آخر یې هغه عیسائي بادشاه (راډرګ) قتل کړئ چي بیا اته سوه (۸۰۰) کاله "اندلس" د مسلمانانو په لاس کي وو (۱).
اوس یو ځل بیا "اندلس" د "طارق ابن زیاد" غوندي بهادر په انتظار دئ.

---
(۱) نداء الجهاد صفحه ۱۵

په جامع مسجد قرطبه کي چي د اسلام د عظیمو مساجدو څخه یو دئ، نن د عیسایانو بتان پراته دي او هلته دروازې بندي دي او د لمانځه هیڅ اجازت نشته.

ما ته یو ملګري وویل: موږ چي ور ننوتلو، نو بوټونه مو ویستل، لیکن عیسایانو راته وویل: بوټونه به نه کاږئ او د بوټو سره به ور ننوزئ.

ما ته ډېر افسوس ودرېدئ او دننه مي وکتل، د محراب سره بتان ولاړ وه. نن د مسلمان په دې خوار او زار حالت باندي ډېر افسوس دئ!!!

طارق د یو غیر مسلمي په فریاد "اندلس" ته ځان ورسوئ او د هغې انتقام یې واخیستئ.

نن موږ ته په "عراق، افغانستان او کشمیر" کي په سوونو مسلماني خویندي اواز کوي او زموږ ایماني غیرت په جوش نه راځي او په موږ کي هیڅ درد او فکر نه پیدا کېږي.

## د مسلمانانو عددي قوت او وسائل:

حالانکي په دې وخت کي چي د مسلمانانو کم طاقت او حیثیت دئ، هغه ډېر لوی عظیم الشان طاقت او حیثیت دئ، لیکن د هغه سره بیا ولي مسلمان په هر ځای تکول کېږي او د دربدرۍ زندګي تېروي او د نورو قومونو سره د غلامۍ په شکل ژوند سبا کوي.

د ټولو څخه مخکي زه د مسلمانانو د طاقت په باره کي دا عرض کوم، چي د افرادي قوت په اعتبار سره مسلمان په ټوله دنیا کي د یو «ارب» انسانانو څخه زیات دئ. او د مسلمان تعداد د سوا «ارب» ته رسېدونکی دئ.

ځه! بالفرض «سوا ارب» دي نه وي، یو «ارب» ور ته وواياست! یا اتیا کروړه یا شپېته کروړه وواياست خو بیا هم د مسلمانانو ډېر لوی اکثریت دئ.

د مسلمانانو په مقابله کي د ټولو څخه زيات تعداد د عيسايانو دئ، چي دو پنځوس ۵۲ کروړه دي.
دي دوپنځوس کروړه عيسايانو د سوا ارب مسلمانانو په پزه کي مهار ور اچولی دئ چي څه يې زړه غواړي هغه په کوي او د غلام په شکل يې استعمالوي.
دوی سرداران دي او مسلمانان د دوی د غلامانو په شکل ژوند سبا کوي. نور قومونه د دوپنځوس کروړه څخه هم کم دي.
که چيري تاسي د حکومتونو موازنه سره و کړئ، نو د مځکي پر ګره باندي د مسلمانانو څلور پنځوس حکومته دي، چي د نورو مذهبو د حکومتونو څخه د مسلمانانو د حکومتونو تعداد ډېر زيات دئ. هغه نور مذهبونه که عيسايان دي، که يهودان دي، که هندوان يا نور غير مسلم قومونه دي.
يا د مسلمانانو حکومتونه په "جغرافيايي" اعتبار سره د مځکي په داسي خطه واقع دي، که چيري دوی پوره دنيا جام او بندول و غواړي، نو په يوه ورځ کي د ټولي دنيا بحري، بري او فضائي ټولي لاري بندولای سي.
که چيري تاسو د جغرافيه دانانو څخه پوښتنه و کړئ، چي پر کم سنټر او محل باندي اسلامي ملکونه واقع دي، هغه د ټولي دنيا دپاره په منزله د بنارګ دي.
يا د اقتصادياتو په لحاظ سره په دنيا کي د ترقۍ بيرغ د هغه چا بلند وي، چي په وافر مقدار سره د چا سره "سياه سونا" موجود وي. چي د کم چا سره "سياه سونا" نه وي، هغه د ترقۍ په اعتبار سره و شا ته وي.
د "سياه سونا" څخه مراد تېل، پټرول او معدانيات دي. په دې لحاظ سره د مځکي پنځه اويا (۷۵) فيصده معدانيات د مسلمانو ملکو په ملکيت کي دي.
د رقبې په لحاظ سره د مځکي دو څلوېښت (۴۲) فيصده رقبه د مسلمانانو زيري تسلط ده. پر نورو حصو د مځکي نور قومونه آباد دي.

نو د مځکي پر مخ چي د چا حکومتونه زيات او چي د چا تعداد او شمار زيات او چي کم څوک په اقصادي حيثيت سره د ټولو څخه زيات مستحکم او مضبوط دي هغه مسلمان قوم دئ.

ليکن د هغه سره سره مسلمان د نورو قومو سره د غلام په شکل ژوند تېروي اخر دا ولي؟

## د صديق اکبر ﷛ وينا:

په دې خبره د سر خلاصولو دپاره يو اديب نوجوان پردې شيانو باندي نظر ساتي، که څه هم ما په کتاب کي نه دي ليدلي، مگر د يو لوی عالمه څخه اورېدل سوي دي.

چي هغه نو جوان په خوب کي حضرت ابو بکر صديق ﷛ وليدئ او پوښتنه يې ځني و کړه، چي ای صديق اکبره! دا راته ووايه چي په هر لحاظ سره موږ مسلمانان زيات يو، بيا ولي هر ځای د غلامی زندگي تېروو او هر ځای تکول کېږو؟

صديق اکبر ﷛ په جواب کي ورته وايي: چي کمه طريقه د حضور اقدس ﷺ او د هغه د صحابه ؤ وه، چي تر څو پوري هغه اختيار نه کړي او د هغه پر نقش قدم چي جهاد دئ روان نه سئ، نو تاسو به د ذلت او رسوايی زندگي تېروئ.

د صديق اکبر ﷛ مشهور قول دئ: ﴿مَا تَرَکَ قَوْمٌ الجِهَادَ اِلَّا وَ قَدْ ذُلَّ﴾ چي کم قوم جهاد پرېښوئ، هغه به په ذلت او رسوايی کي زندگي او ژوند تېروي.(۱)

## د مسلمانانو د ذلت سبب:

داغه رنګه د ابو داؤد شريف يو روايت دئ: ﴿إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ، وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ، وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ، وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ، سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ﴾ (۱)

(۱) ماخوذ از علمي تقريرونه جلد ۲ صفحه ۲۰۸

يعني چي تاسو کله فاسدي سوداګاني شروع کړئ او په ذراعت کي مشغوله سی او د غويو لکی ونیسئ او جهاد پرېږدئ.
نو الله تعالیٰ به پر تاسو ذلت مسلط کړي، تر هغه وخته پوري به په ذلت کي ژوند تېروئ چي تر څو خپل دين يعني جهاد ته متوجه کېږئ.
ټيک دئ، زه منم چي موږ او تاسو ګنهګاره يو او زموږ اعمال کمزوري دي، ليکن يو ګنهګاره مسلمان هم د يو کافر، مشرک، ملحد او دهري په مقابله کي نسي راتلای.
حالانکي دا مسلمان د ګناه اقرار هم کوي او پر خپله ګناه پښېمانه هم دئ دا عجيبه خبره ده!!!
نو د مسلمانانو د ذلت بنيادي وجه دا ده چي کم د غالبه کېدلو والا نقشه ده، هغه مسلمانانو پرې ايښې دئ. لکه په حديث شريف کي حضور اقدس ﷺ فرمايي: ﴿يُوشِكُ الأُمَمُ تَدَاعٰى عَلَيكُمْ كَمَا تَدَاعٰى اٰكِلَةُ اِلى قِصعَتِهَا﴾ يعني نور قومه به تاسو يو وره او لنده ګوله بولي او يو به بل ته پر تاسو بلنه ورکوي.
صحابه کرام ډېر حيران سول د پيغمبر ﷺ دې وينا ته نو دستي يې پوښتنه ځني وکړه: ﴿اَوَ نَحنُ قَلِيلُونَ يَومَئِذٍ﴾ آيا موږ به ډېر کم يو په دې وخت کي؟
ليکن حضور اقدس ﷺ په جواب کي ورته وايي: چي تاسو به ډېر هم ياست. ليکن د دې ډېر والي سره سره به تاسو د لندې ګولې په مثل ياست! او تاسو به د اوبو د څک غوندي سپک ياست! او تاسو به د پراړه د هغه خاشې په مثل ياست چي اوبو پر سر اخيستې وي. او ستاسي رعب او دبدبه به الله تعالیٰ د کافرانو د زړه څخه پورته کړې وي.
صحابه کرام پوښتنه کوي چي د دې وجه به څه وي؟ حضور اقدس ﷺ په جواب کي ورته وايي: چي د هغې بنياد به دوه شيان وي، چي په تاسو کي به زيات

(¹)ابو داؤد حديث نمبر ۴۲۶۲.

سي ﴿حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ﴾ يعني د دنيا محبت په زړو كي لوېدل او د مرګ څخه بد وړل او هغه د ځان دپاره مكروه بلل(١).

لكه چي الله تعالیٰ فرمايي: ﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾(٢) چي ما پر تاسو قتال فرض كړى دئ، ليكن قريبه ده چي تاسو يې د ځان دپاره تاوان وبولئ ليكن په حقيقت كي به ستاسو دپاره خير وي.

او ډېر شيان تاسو د ځان دپاره خير بولی هغه به ستاسو دپاره په حقيقت كي شر وي؛ ځكه چي الله تعالیٰ ستاسو په خير او شر سره عالم دئ او تاسو په خپل خير او شر ناخبره ياست.

نو د دې مطلب دا دئ چي تاسو به بُزدله سئ، ميدانِ جهاد ته به نه وړاندي كېږئ، د مرګ څخه به ېېرېږئ او د هغه په نتيجه كي به جهاد در څخه پاته سي. او دا ستاسو دپاره ډېر لوى شر او نقصان دئ.

نو په دنيا كي د مسلمان قوم عزت الله تعالیٰ د جهاد په كولو كي ايښى دئ. تاسو د مدينې منورې حالات وګورئ، چي كله صحابه كرامو جهاد شروع كړئ. نو الله تعالیٰ دوى ته هغه عزت وركړئ.

چي د "قيصر" او "كسرىٰ" خزانې د دوى په مسجدونو كي د مال غنيمت په شكل تقسيمېدلې. او د "قيصر كسرىٰ" لوڼو به د مينځو په شكل د دوى د كورونو خدمت كوئ او د دوى بسترې به يې هوارولې.

نو نن هم كه دا مسلمان قوم د صحابه وو پر نقش قدم روان سي او د جهاد فريضه خپله كړي، نو خداى هغه خداى دئ چي په هغه وخت كي دوى ته په جهاد سره عزت وركولاى سي او هم د جهاد په بركت سره مسلمان قوم د عزت خاوند كېدلاى سي.

---

(١) علمي تقريرونه جلد ٢ صفحه: ٢٠

(٢) سورة البقره آيت نمبر ٢١٦

الله دي خیر او برکت ور کړي دغه چند کسانو مجاهدینو ته چي هغوی د جهاد وظيفه په ښه طریقه سره روانه کړې ده.

او د دوی په برکت سره په ټوله نړۍ کي د مسلمان قوم د فخر سترګي لوړي سوي دي. او الله تعالی دي د مجاهدینو په درمیان کي اتحاد او اتفاق پیدا کړي. او الله تعالی دي د دوی نیت خالص د خپلي رضا دپاره و ګرځوي. او الله تعالی دي دوی ته اخلاص کامل په نصیب ور کړي.

الله تعالی دي د دوی د شهیدانو ملګرو شهادتونه قبول کړي. او الله تعالی دي د هغوی د مبارکو وینو په برکت سره د "افغانستان" پر مځکه د اسلامي نظام ګلشن یو ځل بیا سر سبز او شاداب و ګرځوي.

او الله تعالی دي د دوی د قیدیانو ملګرو د خلاصون بندوبست د غیبو د طرفه څخه و کړي. الله تعالی دي عامو مسلمانانو ته په مالي لحاظ او نفسي لحاظ سره د مجاهدینو د کومک کولو توفیق ور کړي.

او الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي و ګرځوي.

﴿آمِین یَا رَبَّ العَالَمِیْنَ﴾

وَصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْن.

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآيه)

# د حج فضيلت

(بيان)

مولوي اطيع الله صاحب
استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

ترتيب وتخريج:
مفتي حافظ كليم الله صاحب (فاضل دار العلوم كراچی)
استاذ جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

مكتبه سلطانيه الهاشميه
كانسی روډ كوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشــاعت | خلـــــــورم |
| تاريــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تعــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِه خَيْرِالْوَرٰى وَعَلٰى آلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ نُجُوْمِ الْاِهْتِدٰى.

اَمَّابَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ:

﴿الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى وَاتَّقُونِ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ﴾(۱).

﴿قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسلم: مَنْ حَجَّ لِلَّهِ فَلَمْ يَرْفُثْ، وَلَمْ يَفْسُقْ، رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ﴾(۲).

اٰمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمِ، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو مشرانو! ستاسو په حضور کي ما د قرآن کریم د "سُورة البقره" د یو آیت تلاوت وکړئ، او د پیغمبرﷺ د یو حدیث مبارک روایت مي پیش کړئ چي د هغه آیت او حدیث دواړو تعلق د اسلام د یو اهم رکن او فریضې سره دئ چي هغه فریضه د حج ده.

حج در حقیقت د اسلام په پنځو ارکانو کي یو رکن دئ او دا پنځه ارکان د اسلام بنیاد دئ او پر داغه پنځو ارکانو باندي د اسلام او د ایمان عمارت قائم او ولاړ دئ.

(۱) البقرة آیت نمبر ۱۹۷

(۲) بخاري شریف حدیث نمبر: ۱۵۲۱

ځکه د اسلام بنیاد پر پنځو ارکانو باندي قائم دئ اول توحید، دوهم لمونځ، دریم زکوة، څلورم روژه، او پنځم حج.
نو په دې وخت کي زما اراده دا ده چي ستاسو په مخکي د حج یو څه تفصیل پیش کړم الله تعالی دي ماته د صحیح تفصیل کولو توفیق راکړي او داغه رنګه دي الله موږ او تاسو ټولو ته پر دې تفصیلاتو باندي د عمل کولو توفیق راکړي.

## د حج تعارف:

حج په "لغت" کي د قصد او ارادې په معنی سره راځي او د شریعت په "اصطلاح" کي په یو خاصه زمانه کي چي د حج میاشتي دي په یو خاص لباس کي چي احرام د ئ، د خاصو افعالو په شکل چي ارکان د حج دي د یو څو مخصوصو مقاماتو چي مکه، مِنٰی، مُزدلفه او عرفات دي زیارت کولو ته حج وايي.

## حج کله فرض سوی دئ؟

د حج په فرضیت کي مختلف اقوال دي بعض علماؤ لیکلي دي چي حج په پنځم کال د هجرت فرض سوی دئ لېکن بعض نورو علماؤ بیا په شپږم کال د هجرت د حج د فرضیت قول کړئ.
مګر راجح قول دا دئ چي حج په نهم کال د هجرت فرض سوی دئ او په داغه نهم کال د هجرت باندي پیغمبر ﷺ صدیق اکبر رضی الله عنه د حج د قافلې امیر جوړ کړی دئ او حج لره یې استولی دئ.
په راروان کال یعني (۱۰) کال د هجرت بیا حضور اکرم ﷺ په خپله د څلوېښتو زرو صحابه کرامو په قافله کي حج ته راغلی دئ او دا حج د پیغمبر ﷺ په حجة الوداع سره مشهوره دئ، چي د حج د فرضېدو څخه وروسته د پیغمبر ﷺ اولنی او آخرنی حج دئ.

د حج فرضیت د قرآن کریم په واضحو آیاتو سره ثابت دئ بیا د پیغمبر ﷺ ډېر احادیث مقدسه د حج پر فرضیت باندي گواه دي، او د حج پر فرضیت باندي د فقهاؤ اجماع ده او تمام علماء د حج په فرضیت باندي قائل دي.

لهذا زموږ په شریعت کي چي کم څوک د حج د فرضیت څخه انکار کوي هغه کافر بلل کیږي او کم سړی چي د استطاعت باوجود حج نه کوي هغه فاسق بلل کیږي.

حج په ټول عمر کي پر انسان باندي یو ځل فرض دئ او د دې علاوه بیا نفل دئ په حرام مال سره حج کول مکروه تحریمي دئ داغه رنګه اهل عیال بغیر د نفقې پرېښول او په خپله حج ته تلل هم مکروه تحریمي دي.

بلکه د خپلي واپسی پوري د خپل اهل او عیال د خرچې انتظام کول بیا حج ته تلل دا ضروري امر دئ. چي کله پر انسان حج فرض سي نو باید مسلمان فوراً د حج د تللو کوشش وکړي په ځنډ او تاخیر کي یې گناه ده؛ پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: ﴿مَنْ أَرَادَ الْحَجَّ فَلْيَتَعَجَّلْ﴾(1) چي څوک د حج اراده لري نو تلوار دي پکښي وکړي ځکه دا ممکنه ده چي راراوان کال د انسانه سره بیا د حج کولو بندوبست او استطاعت نه وي.

## حج پر چا باندي فرض دئ:

په قرآن کي الله ﷻ انسانان په حج کولو مکلف گرځولي دي خو د هغه سره یې قید د استطاعت لګولی دئ یعني چي پر صاحب استطاعت باندي حج فرض دئ.

(1) ابو داؤد حدیث نمبر: ۱۷۳۲

لکه الله جل جلاله په قرآن کي فرمايي: ﴿وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾(١). يعني د الله دپاره حج پر هغه چا فرض دئ چي هغه د حج کولو استطاعت لري فقهاء کرامو د استطاعت جلا جلا تشريح او وضاحت کړی دئ.

امام شافعي رحمة الله عليه او امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه د استطاعت ترجمه په مال او دولت سره کړې ده يعني چي د يو سړي سره مال او دولت وي که څه هم هغه سړی په پښو شل وي يا په سترګو ړوند وي يا داسي بيمار وي چي د بستري څخه نسي ولاړېدای خو د ده سره مال او دولت سته نو حج پر ده باندي فرض دئ.

او چونکه دی په خپله د تللو طاقت نه لري نو د خپل طرفه څخه دي يو بل څوک د خپل ځان پر ځای باندي حج ته واستوي او د هغه د خرڅ مکمل انتظام دي وکړي، هغه سړی دي ولاړ سي د ده دپاره دي حج وکړي نو په دې سره د ده فرض آدا سو.

امام مالک رحمة الله عليه وايي: چي د استطاعت څخه مراد د بدن صحت دئ چي کله يو سړی په بدن جوړ او تندرست دئ نو پر ده باندي په هر حال کي حج فرض دئ، که مال لري او که يې نه لري نو دی دي د حج پر لار روان سي په لاره کي دي مزدوري کوي او په هغه سره دي د راروان منزله پوري ځان رسوي، او بيا دي مزدوري کوي هغه دي بيا د لاري خرڅ کوي چي تر څو پوري "بيت الله" ته ځان رسوي، ځکه چي ده ته الله جل جلاله صحت ور کړی دئ نو بيا دی نور د کم شي آرزو او تمنی لري.

امام ابو حنيفه رحمة الله عليه وايي: چي د استطاعت څخه مراد "زاد" او "راحله" ده يعني د تللو او راتللو خرچه او د لاري کرايه يا خپل سواري درلودل.

نو دا ښکاره خبره ده چي د دې په ضمن کي د بدن صحت هم ضروري دئ او د دې سره سره د لاري امن هم ضروري دئ البته د مکې والا او د مکې د اطرافو د

---

(١) آل عمران آيت نمبر: ٩٧

خلگو دپاره د سوارۍ موجودېدل ضروري نه دي ځکه هغه بغير د سوارۍ هم حج ته ځان رسولای سي.

## پر حج نه کولو باندي وعيد:

که چيري يو چاته الله تعالی د حج کولو استطاعت ور کړی وي لېکن هغه د خپلي سستۍ او غفلت په خاطر حج نه کوي نو بيا خو پيغمبرﷺ د هغه سړي متعلق ډېر سخت وعيد ذکر کړی دئ.

لکه: د مشکوة شريف حديث دئ: ﴿مَنْ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنَ الْحَجِّ حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ أَوْ سُلْطَانٌ جَائِرٌ أَوْ مَرَضٌ حَابِسٌ فَمَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ فَلْيَمُتْ إِنْ شَاءَ يَهُودِيًّا وَإِنْ شَاءَ نَصْرَانِيًّا﴾(۱).

حضرت ابو امامهؓ روايت کوي چي نبي کريمﷺ به موږ ته ويل چي کم سړی د حج کولو څخه يو ښکاره ضرورت يا يو ظالم بادشاه يا يو سخته يماري نه راوګرځوي او دی د هغه سره حج نه وکړي بغير د حج کولو مړ سي.

نو د ده اختيار دئ که د يهودو په مرګ مري او که د نصاراوو په مرګ مري مړ دي سي يعني دا معنی چي پيغمبرﷺ وايي د هغه سړي حشر به د قيامت په ميدان کي زما په امت کي نه وي.

داغه رنګه د حضرت عمرؓ څخه هم دا مضمون رانقل سوی دئ چي ده به درې ځله دا ويل چي داسي سړی به يا په يهودو کي مري يا به په نصاراوو کي مري.

او صاحب د "کنز العمال" هم رانقل کړي دي چي حضرت عمرؓ به دا ويل چي کم سړی د حج طاقت لري او حج نه وکړي زه په خدای قسم خورم چي هغه به يا په نصاراوو کي يا په يهودو کي مري.

(۱) مشکوة المصابيح حديث نمبر: ۲۵۳۵

او د "اتحاف" مصنف لا دا هم رانقل کړي دي چي حضرت عمر ﷺ به دا هم ويل چي زما زړه غواړي چي په ټولو ښارو کي دا اعلان وکړم چي کم سړی د قدرته باوجود حج نه وکړي پر ده دي جزيه مقرره سي دا مسلمان نه دئ دا مسلمان نه دئ. او جزيه پر کافرانو مقرره کيږي پر مسلمان جزيه نه وي.

نو د دې احاديثو څخه دا معلوميږي چي دا د انسان ډېره لويه کم نصيبي ده چي الله ﷻ ورده ته مال او دولت او جوړ صحت ور کړی وي ليکن د هغه باوجود دی د قبر توري کندي ته په داسي حال کي ورسي چي د حج د اهمي فريضې څخه محرومه او بې نصيبه پاته سوی وي.

## حج د مغفرت ذريعه ده:

که چيري الله تعالى انسان ته استطاعت د حج کولو ور کړی وي بيا خو حج د انسان دپاره د ګناه څخه د مغفرت لويه ذريعه ده ځکه حضرت ابو هريرة ﷺ د پيغمبر ﷺ يو حديث را نقل کوي: ﴿مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرْفُثْ، وَلَمْ يَفْسُقْ، رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ﴾(١). چي کله يو سړی د الله ﷻ دپاره حج وکړي هغه دا رنګه چي په دې حج کي نه رفث وي يعني (فحش خبري) او نه فسق وي يعني (د الله ﷻ د حکم مخالفت) دا سړی چي کله د حج څخه واپس راځي داسي دئ لکه: په داغه ورځ چي د مور څخه پيدا سوی وي.

بچی چي کله د مور څخه پيدا سي پر هغه هيڅ ګناه نه وي دا آثر د هغه حج هم دئ چي د الله ﷻ دپاره يې انسان وکړي.

په حديث کي پيغمبر ﷺ درې خبري ذکر کړي دي:

---

(١) بخاري شريف حديث نمبر: ١٥٢١

اوله خبره دا ده چي حج به د الله ﷻ دپاره وي يعني په دې حج کي به هيڅ دنيوي غرض، شهرت، رياء کاري، وغيره شامل نه وي ډېر خلګ حج د شهرت او د عزت دپاره کوي هغه دا دومره تکليف او خرچه د ثواب په اعتبار سره ضائع کوي.

که څه هم داغه رقم د انسان فرضي حج ادا کيږي او غاړي يې خلاصيږي ليکن که په حج کي محض د الله ﷻ د رضا نيت وي نو د فرض اداکېدو سره سره انسان د ډېر لوی ثواب لائق جوړيږي.

دومره لوی ثواب محض په څو خلګو کي د عزت پيدا کولو په نيت سره ضائع کول څومره غټه د نقصان خبره ده نو پکار دا دئ چي په حج کي د انسان نيت صرف د الله رضا وي.

لکه په يو حديث مبارک کي دا رنګه هم راځي: ﴿يَأْتِيْ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَحُجُّ اغْنِيَاءُ النَّاسِ لِلنُّزَاهَةِ وَاَوْسَاطُهُمْ لِلتِّجَارَةِ وَقُرَّاؤُهُمْ لِلرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ وَفُقَرَاؤُهُمْ لِلْمَسْئَلَةِ﴾(¹).

چي قيامت ته په نزدې زمانه کي به زما د امت اميران حج صرف د سيل او تفريح په اراده کوي (ګويا د لندن او د پيرس د تفريح کولو پر ځای د حجاز تفريح کوي).

او زما د امت متوسطه طبقه د تجارت په نيت باندي حج کوي څه مال د دې خواه يوسي او څه د هغه طرفه راوړي.

او علماء کرامو او قاريان د رياء کارۍ او شهرت په وجه حج کوي (چي خلګ به وايي چي فلان مولوي صاحب پنځه حجه کړي يا يې لس حجه کړي دي) او فقيران او غريبان به د فقر او سوال په نيت باندي حج کوي.

علماء دا ليکلي دي چي کم خلګ په اجرت سره حج بدل کوي چي د دې حج څخه يو څه دنيوي نفع پيدا کړي هغه هم تر دې حديث لاندي راځي ګويا دا حج دوی د تجارت دپاره کوي.

(¹) کنز العمال حديث نمبر، ۱۲۳۶۲

د حديثو په کتابو کي دا واقعه هم ذکر ده چي حضرت عمر ﷺ د "صفا" او "مروا" په مابين کي يو ځل ناست وو يوه قافله راغله چي کله هغه د خپلو اوښانو څخه راکښته سوه او د "بيت الله" شريف طواف يې وکړئ او د "صفا" او "مروئ" په مابين کي يې سعي وکړه.
حضرت عمر ﷺ پوښتنه ځني وکړه چي تاسي څوک ياست؟
دوی په جواب کي ورته وويل چي موږ د "عراق" څخه راغلي خلک يو.
حضرت عمر ﷺ ورته وويل څنګه راغلي ياست؟
دوی په جواب کي ورته وويل د حج دپاره راغلي يو.
حضرت عمر ﷺ ورته وويل چي د حج څخه ما سوا بل غرض خو مو نه وو مثلا د خپل ميراث د يو چا څخه طلب کول يا د يو قرض داره څخه خپلي پيسې وصولول يا بل يو تجارتي غرض؟
دوی په جواب کي ورته وويل چي نه د حج څخه ماسوا زموږ د راتګ دلته هيڅ غرض نه وو. حضرت عمر ﷺ ورته وويل چي خپل اعمال د نوي سره څخه شروع کړئ يعني ستاسو مخکني ټوله ګناهونه الله ﷻ در معاف کړل.
نو د حج دپاره اولنی شرط پيغمبر ﷺ دا بيان کړی دئ چي حج به صرف د الله ﷻ د رضا دپاره وي. د الله ﷻ د رضا څخه ماسوا به بل هيڅ غرض په حج کولو کي نه وي.
دوهمه خبره په دې حديث کي پيغمبر ﷺ دا ذکر کړې ده چي په دې حج کي به رفث يعني (فحش خبري) نه وي لکه: قرآن کريم هم ددې کلمې تذکره کړې ده علماء ليکلي دي چي دا داسي جامع کلمه ده چي په دې کي هر قسم لغو او بې هوده خبره داخله ده.
حتی د خپلي زناني ومخته د صحبت ذکر کول هم په دې کي داخل دي. او يا په سترګو يا په لاس سره اشاره کول هم پکښي دا خليږي څکه دا قسم قيصې کول د انسان شهوت راپورته کوي.

علماؤ لیکلي دي چي بد نظري کول هم په رفث کي داخل دي، نو حاجي لره پکار دي چي د بد نظرۍ څخه خپل ځان وساتي.

بیا خاص د حج په دوران کي ډېر لوی مجمع وي او هر قسم نارینه او زنانه پر یو ځای سره راجمع وي نو ځکه په ډېر اهتمام سره د حج په دوران کي د خپل نظر حفاظت کول ضروري دي.

داسي نه وي چي د بد نظرۍ په وجه یا د یو پردۍ زناني د آواز اورېدو د لذت په وجه یا د یو ناجائز لفظ د خپلي ژبي څخه د را ایستلو په وجه نیکي برباد او پر انسان باندي ګناه لازمه نه سي.

لکه یو حدیث مبارک داسي راځي: ﴿كَانَ الْفَضْلُ بن عباس رَدِيفَ رَسُولِ اللهِ ﷺ مِنْ عَرَفَةَ، فَجَعَلَ الْفَتَى يُلَاحِظُ النِّسَاءَ وَيَنْظُرُ إليهن، وجعل رسول الله يَصْرِفُ وَجْهَهُ بِيَدِهِ مِنْ خَلْفِهِ مِرَارًا، وَجَعَلَ الفتى يُلَاحِظُ إِلَيْهِنَّ. فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ ﷺ يَا ابْنَ أَخِي، إِنَّ هَذَا يَوْمٌ مَنْ مَلَكَ فِيهِ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ وَلِسَانَهُ غُفِرَ لَهُ﴾(۱). چي فضل بن عباس رضي الله عنهما د پیغمبر ﷺ سره د عرفات په ورځ باندي پر یو حیوان سپور وو هغه به په خپل نظر سره و زنانو ته کتل پیغمبر ﷺ څو ځله لاس تر شاه ورته راواړوئ او د هغه نظر به یې د زنانو د طرفه راوګرځوئ.

هغه به بیرته خپل نظر نه سو محفوظ کولای آخر پیغمبر ﷺ ورته وویل ای وراره دا هغه ورځ ده چي کم سړی په دې ورځ کي خپل غوږ او ژبه او سترګي محفوظه کړي الله جل جلاله به د ګناهونو مغفرت ورته وکړي.

صرف د عرفات ورځ نه په عامو حالاتو کي چونکه د نارینه وو او د زنانه پر یو ځای ازدحام او رش وي نو په هر ځای کي باید حج کوونکی انسان د خپل نظر حفاظت وکړي. ځکه د الله جل جلاله په کور کي په بد نظري کولو سره الله جل جلاله انسان ته ډېر په غوصه کي راځي.

---

(۱) اتحاف حدیث نمبر: ۲۵۹۱

امام غزالي رحمة الله عليه ليکلي دي چي په بيت الله کي د ګناهو کول سخت منع دي او دا قريبه ده چي د الله جل جلاله د غضب او غوصې سبب او موجب جوړ سي.

وهب بن الورد رحمة الله عليه يو بزرګ دئ فرمايي: چي يوه ورځ مي په حطيم کي لمونځ کوئ او د "کعبې" د پردو څخه دننه مي دا آواز وارېدئ چي "بيت الله" دا وايي چي زه اوګا الله جل جلاله ته شکايت کوم او د دې څخه وروسته اى جبرائيله! تاته دا شکايت کوم د هغه خلګو چي زما پر شاه وخوا باندي په مذاق او په لغو خبرو او په بد نظريو مشغوله دي که چيري دا خلګ د دې خپلو غلطو حرکتو څخه رامنع نه سي زه به داسي سره وچاودل سم چي زما هره هره ډبره به زما څخه جدا جدا ولاړه سي([1]).

حضرت عمر رضي الله عنه يو ځل د قريشو و خلګو ته داوويل چي ستاسو څخه مخکي د "عمالقه" قبيله د "بيت الله" متوليان وه هغوى د "بيت الله" په احترام کي غفلت وکړئ او د "بيت الله" د تعظيم حق يې ادا نه کړئ نو الله جل جلاله هغه هلاک کړل.

د هغه څخه وروسته "جُرهم" قبيله د دې متوليان جوړ سول چي کله هغوى هم د "بيت الله" بې حرمتي وکړه نو الله جل جلاله هغوى هم هلاک کړل لهذا تاسو "قريش" د "بيت الله" زيات تعظيم کړئ او د دې په تعظيم کي غفلت مه کوئ او په بيت الله کي د ګناهونو څخه ځان ګورئ([2]).

محمد ابن موسىٰ رحمة الله عليه وايي چي يو ځل يو عجمي سړي طواف کوئ نېک او ديندار سړی رو د طواف په دوران کي د يو ښائسته زناني چي طواف يې کوئ د پښې د پازېب شرنګې د دې سړي غوږ ته راورسېدئ او دا سړي هغه ښځي ته وکتل.

---

([1]) احياء علوم بحواله فضائل حج صفحه: ۱۲۲.

([2]) کنز العمال بحواله فضائل حج صفحه: ۱۲۳.

د "ركن يماني" څخه يو لاس راووتئ او په ډېر زور سره يې د هغه عجمي سړي پر مخ باندي چپلاخه وركړه چي د هغه سترګه د خپله ځايه ووتله.
او د بيت الله شريفي د ديواله څخه يو آواز راووتئ چي زما د كور طواف كوې او زما څخه سوا بل چاته ګورې دا چپلاخه د هغه بد نظر بدله ده. كه چيري په آئنده كي يو بل داسي حركت وكړې نو موږ به د دې څخه زياته بدله دركړو(¹).
نو دوهم شى پيغمبر ﷺ په دې حديث مبارك كي دا بيان كړى دئ چي په حج كي به د فحش كارو او لغوياتو څخه انسان ځان ګوري. بيا خاص اوس په موجوده دور كي چونكه د پردې زيات خيال نه ساتل كيږي د بعض ملكو زناني په پرده كي نه وي، نو كم سړى چي خپل حج د ګناهونو څخه د مغفرت ذريعه ګرځوي نو د هغه دپاره د ټولو څخه زيات دا ضروري ده چي د حج په دوران كي قدم پر قدم د خپل نظر حفاظت وكړي.
دريم شى چي په دې حديث كي پيغمبر ﷺ ذكر كړى دئ هغه د فسق لفظ دئ، چي د قرآن كريم په آيت كي هم دا لفظ ذكر سوى دئ.
علماء كرامو ليكلي دي چي دا هم يو جامع كلمه ده چي د الله ﷻ هر قسم نافرماني ته شامله ده په دې كي جګړه كول هم داخل دي او د مسلمان دل ازاري كول او مسلمان ته تكليف ورسول او د مسلمان سره د بد اخلاقى ګذاره كول، دا ټولو ته دا كلمه ورغلې ده.
نبي اكرم ﷺ په يو حديث شريف كي داسي هم فرمايلي دي چي د حج خوبي دا ده چي د انسانانو سره نرمي خبري كول او د انسانانو خدمت كول.
لهذا د يو سړي سره په سختي سره خبري كول دا د نرم كلام منافي دي نو ضروري خبره دا ده چي انسان پر خپلو ملګرو باندي بار بار اعتراض نه وكړي او د خپلو

---

(¹) مشاهرات بحواله فضائل حج صفحه: ۱۲۳.

ملګرو سره په سختيو سره پېش نسي، او د هر ملګري سره د تواضع او د ښو اخلاقو ګذاره وکړي.
بيا خاص چونکه د حج سفر دئ هلته په حجره کي يا په عامه ګذاره کي د مختلفو انسانانو سره ژوند د انسان تيرېږي، او د مختلفو انسانانو مختلف قسم مزاجونه او د مزاجو د اختلاف په وجه ځه ناځه مشکلات پېښيږي بايد چي انسان د ټولو مشکلاتو حل په ښه طريقه سره وکړي، او ځان د ټولو ملګرو خادم شمار کړي د حج دورانيه د ملګرو په خدمت کي تېره کړي دا به د يو حاجي دپاره لويه نېک بختي وي.
که چيري يو سړی د دې درو شرائطو چي پيغمبرﷺ په دې حديث مبارک ذکر کړي دي خيال وساتي نو بيا خو د انسان دپاره د حج دورانيه ټوله بهترين عبادت او د الله جل جلاله د رحمتو پيدا کولو غوره او ښه سفر بلل کيږي لکه: په يو حديث مبارک کي راځي حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: چي پيغمبرﷺ به موږ ته ويل:
﴿كُلُّ يَوْمٍ عَلَى حَجَّاجِ بَيْتِهِ الْحَرَامِ عِشْرِيْنَ وَمِائَةَ رَحْمَةٍ سِتِّيْنَ لِلطَّائِفِيْنَ وَأَرْبَعِيْنَ لِلْمُصَلِّيْنَ وَعِشْرِيْنَ لِلنَّاظِرِيْنَ﴾(۱). چي روزانه پر بيت الله باندي يو سل و شل رحمته راځي شپېته د طواف والا دپاره دي څلوېښت د لمانځه کونکو دپاره دي او شل د هغه چا دپاره دي چي صرف بيت الله ته ګوري.

## بيت الله ته کتل لوی عبادت دئ:

حضرت سعيد بن المسيب رحمة الله عليه تابعي دئ دی مبارک وايي چي کم سړی په ايمان او تصديق سره بيت الله ته ګوري هغه الله تعالى د ګناهو څخه داسي پاکوي لکه: په داغه ورځ چي د موره پيدا سوی وي.

(۱) الترغيب والترهيب حديث نمبر: ۱۷۶۷

ابو السائب مدني رحمة الله علیه وایي چي په ایمان او تصدیق سره کعبه ته کتل د انسان گناهونه داسي رژوي لکه: د درختي پاڼي چي د خزان په موسم کي رژیږي. او چي کم سړی په "حرم" کي ناست وي صرف بیت الله ته گوري نه طواف کوي او نه نفلي لمونځ کوي دا سړی تر هغه چا ډېر افضله دئ چي هغه په خپل کور کي پر نفلي لمانځه ولاړ وي.

حضرت عطاء رحمة الله علیه وایي چي بیت الله ته کتل هم عبادت دئ او بیت الله ته کتونکی داسي دئ لکه: یو سړی چي ټوله شپه پر عبادت تېروي او د ورځي روژه نیسي او د الله جل جلاله په لار کي جهاد کوي او د الله جل جلاله و طرفته رجوع کوي.

د حضرت عطاء رحمة الله علیه څخه دا هم رانقل دي چي دی مبارک فرمایي: چي یو ځل بیت الله ته کتل دا د یو کال د نفلي عبادت سره برابر دي.

د حضرت طاؤس رحمة الله علیه څخه دا رانقل دي چي بیت الله ته کتل دا افضل دي د هغه سړي تر عبادت چي د ورځي روژه نیسي او د شپې په عبادت کي ولاړ وي او د الله جل جلاله په لار کي جهاد کوي.

ابراهیم نخعي رحمة الله علیه وایي: چي بیت الله ته صرف کتونکی د بیت الله څخه دباندي چي کم څوک په عبادت کي اخته وي د هغه سره برابر دئ([1]).

## د بیت الله د لمانځه فضیلت:

پیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیث مبارک دئ چي حضرت انس ابن مالک رضي الله عنه را نقل کړی دئ چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم به ویل:

﴿صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي بَيْتِهِ بِصَلَاةٍ، وَصَلَاتُهُ فِي مَسْجِدِ الْقَبَائِلِ بِخَمْسٍ وَعِشْرِينَ صَلَاةً، وَصَلَاتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي يُجَمَّعُ فِيهِ بِخَمْسِ مِائَةِ صَلَاةٍ، وَصَلَاتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى بِخَمْسِينَ أَلْفِ صَلَاةٍ،

([1]) در منثور بحواله فضائل حج صفحه نمبر، ۱۱۴

وَصَلَاتُهُ فِي مَسْجِدِي بِخَمْسِينَ أَلْفِ صَلَاةٍ، وَصَلَاةٌ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ بِمِائَةِ أَلْفِ صَلَاةٍ﴾(۱). که چیري یو سړی په خپل کور کي لمونځ کوي نو د هغه ثواب یو په یو دئ او د محلې په مسجد کي پنځه ویشت درجې ثواب لري او په جامع مسجد کي پنځه سوه درجې ثواب لري او د "بیت المقدس" په مسجد کي د پنځوسو زرو لمنځو ثواب لري او زما په مسجد کي یعني په "مسجد نبوي" کي د پنځوسو زرو ثواب دئ او د "مکې مکرمې" په مسجد کي د یو لک لمنځو ثواب دئ.

او دا مضمون په متعددو نورو حدیثو کي هم راغلی دئ چي د "مکې مکرمې" په مسجد کي لمونځ کول د یو لک لمنځو د ثواب سره برابر دئ.

## د حج په سفر کي د روژې ثواب:

حضرت حسن بصري رحمة الله علیه فرمایي: چي په "مکه مکرمه" کي یوه ورځ روژه نیول د مکې څخه دباندي د یو لک روژو سره برابره ده.

او په "مکه مکرمه" کي یو درهم صدقه کول د مکې څخه دباندي د یو لک دراهمو د صدقې کولو سره برابر دي. داغه رنګه هلته یوه نېکي کول هره نېکي چي وي د مکې څخه دباندي د یو لک نیکیو سره برابر دي(۲).

د ډیرو احادیثو څخه دا معلومیږي چي د "مسجد نبوي" ثواب د "مسجد اقصیٰ" څخه زیات دئ لیکن په دې حدیث مبارک کي د دواړو ثواب په پنځوس زره راغلی دئ.

په دې وجه علماء د دې روایاتو دا توجیه کړې ده چي دلته د هر مسجد ثواب د هغه څخه د مخکني مسجد په اعتبار سره دئ. یعني د جامع مسجد ثواب د کلي

(۱) ابن ماجه حدیث نمبر: ۱۴۱۳

(۲) اتحاف بحواله فضائل حج صفحه نمبر: ۱۲۱

د مسجد د ثواب څخه پنځه سوه مرتبې زیات دئ په دې صورت کې د جامع مسجد ثواب دولس زره پنځه سوه (۱۲۵۰۰) ته رسیږي.
او د مسجد اقصی ثواب دو شپېته کروړه پنځوس لکه (۶۲۵۰۰۰۰۰۰)ته رسیږي. او د مدینې منورې د مسجد ثواب درې نیل دولس کربه پنځوس اربه (۳۱۲۵۰۰۰۰۰۰۰۰) ته رسیږي. او د مسجد حرام ثواب یویشت سنکه پنځه ویشت پدم (۲۱۲۵۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰)ته رسیږي[1].
په عامو روایاتو کې د مسجد حرام ثواب چې په یو لک (۱۰۰۰۰۰) دئ نو دا هغه څخه ډېر زیات سو.
نو بهتره خبره دا ده چې کله انسان په حرم شریف کې داخل سي نو د اعتکاف نیت دي وکړي اوګا خو دا د هر مسجد حکم دئ چې د لمانځه دپاره انسان ورتوځي نو د اعتکاف نیت دي کوي چې څومره دی په مسجد کې وي نو د اعتکاف جلا ثواب ده ته رسیږي. او په مسجد حرام او مسجد نبوي کې خو په خاصه طریقه باید انسان د دې خیال وساتي.
امام نووي رحمة الله علیه لیکلي دي چې دا ډېره اهمه خبره ده باید حاجي مبارک د دې ډېر زیات اهتمام وکړي.

## د حج ډېر لوی ثواب:

په حدیث مبارک کې راځي حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما فرمایي: چې زه د حضور اقدس ﷺ په خدمت کې د منٰی په مسجد کې حاضر وم دوه کسان یو انصاري او بل ثقفي د پیغمبر ﷺ خدمت ته راغلل او د سلام څخه بعد یې پیغمبر ﷺ ته دا عرض وکړئ چې موږ د یو څه معلومات کولو دپاره راغلي یو.

[1] فضائل حج صفحه نمبر: ۱۲۲

پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وايي: که ستاسو زړه غواړي خو خپله پوښتنه و کړئ او که تاسو ماته اجازه راکوئ زه به درته ووايم چي تاسو زما څخه په څه باره کي پوښتنه کوئ؟
دوی په جواب کي ورته وويل چي ای د الله ﷻ رسوله! زموږ د طرفه اجازت دئ ته راته ووايه چي موږ څه پوښتنه کوو.
پیغمبر ﷺ ورته وويل چي تاسو زما څخه دا پوښتنه کوئ چي يو سړی د حج په اراده د کوره څخه راووځي هغه ته الله څه ثواب ور کوي او د طواف څخه وروسته چي دوه رکعته لمونځ د دې څه فائده او د "صفا او مروٰی" په مابين کي د منډي کولو څومره ثواب دئ، او پر "عرفات" باندي درېدل او شيطان په کاڼو ويشتل او قرباني کول او "طواف زيارت" کول په دې کي الله ﷻ بنده ته څومره ثواب ور کوي؟
هغه دوو کسانو ورته وويل چي زموږ دي د الله ﷻ په ذات قسم وي کم الله ﷻ چي د نبي په شکل ته دنيا ته را استولی يې، دا غه سوالونه زموږ په ذهن کي وه.
د هغه څخه وروسته پیغمبر ﷺ ورته وايي: چي کله تاسو د حج په اراده د کوره څخه راوځئ ستاسو سواري چي يو قدم پر مځکه ايږدي يا يې پورته کوي د هغه په بدله کي ستاسو په عمل نامه کي يوه نېکي ليکل کيږي او يوه مو ګناه معافيږي.
او د طواف څخه وروسته د دوه رکعته لمانځه ثواب داسي دئ لکه: انسان چي يو عربي غلام ازاد کړي، او د "صفا او مروٰی" په مابين کي د سعی کولو ثواب د (۷۰) غلامانو د ازادولو سره برابر دئ.
د "عرفات" په ميدان کي چي کله خلک را جمع سي نو الله ﷻ فرښتو ته د فخر په طريقه وايي: چي زما بندګان د ليري ليري څخه خيرن او د خاورو ډک ورېښتان راغلي دي او زما د رحمت اميد او طمع لري که چيري د دې بندګانو

ګناهونه د ریګ د زرو برابر وي، یا د باران د څاڅکو برابر وي، یا د سمندر د ځګ برابر وي لا هم ما ور معاف کړي دي.

د دې څخه وروسته بندګانو ته وایي: ای زما بندګانو! د دې ځای څخه بخښل سوي ولاړسئ ستاسو ګناهونه معاف سول د کم چا چي تاسو ماته شفاعت او سفارش کوئ د هغه ګناهونه هم معاف دي.

د دې څخه وروسته پیغمبر ﷺ و فرمایل: چي پر شیطان باندي ډبري اورول داسي دي چي د هري ډبري په بدله کي داسي لویه ګناه چي انسان د هلاکت سره مخامخ کوي معاف کیږي.

او د قرباني بدله د الله جل جلاله په دربار کي ستاسو دپاره ذخیره او خوندي ده او د "احرام" خلاصولو په وخت کي چي انسان سر خروي او یا یې کوچنی کوي د هر وریښته په بدله کي یوه نېکي ده او یوه ګناه معاف کیږي.

د دې څخه وروسته چي کله انسان "طواف زیارت" کوي نو په داسي حال کي یې کوي چي پر ده باندي هیڅ ګناه نه وي او یو فرښته د ده د اوږو په مابین کي لاس کښېږدي او وایي: چي آئنده د سره خپل عملونه شروع کړی ستاسو تیري ګناوي ټولي معاف سوې(¹).

## د حاجي د لبیک آواز:

زموږ مشائخو لیکلي دي: چي حاجي چي کله "لبیک" وایي: دا د هغه اعلان جواب دئ چي د الله جل جلاله په حکم سره حضرت ابراهیم علیه السلام کړی وو، نو په دې وجه لکه انسان چي د یو حاکم پر دربار باندي آواز کوي نو د امید او د ویري د دواړو په حالت کي وي نو د حاجي شان هم باید داسي وي چي د الله جل جلاله پر دربار

(¹)الترغیب والترهیب حدیث نمبر: ۱۱۱۲

بانډي "لبیک" وایي، ډېره بېره ور سره وي چي داسي نه د خپلو بد عملیو په وجه زما د رب په دربار کي زما حاضري قبوله نه وي.

## د حج په دروان کي د بزرګانو واقعات:

مطرف ابن عبدالله رحمه الله د عرفات په میدان کي دا دعا کوله چي یا الله! دا ټوله انسانان زما د بدعملی په وجه د نن ورځي د برکاتو څخه محرومه مه ګرځوه.
بکر مزني رحمة الله علیه وایي: چي یو بزرګ د "عرفات" په میدان کي حاجیانو ته کتل او دا به یې ویل چي زما دا خیال دئ که چیري زه نه وای نو الله جل جلاله به د دي ټولو مغفرت کړی وای.
حضرت علي زین العابدین رحمة الله علیه چي به کله د حج احرام وتړئ نو مخ به یې تک ژړ او بدن به یې بلګ واخیستئ او "لبیک" به یې په خوله نه سوای ویلای، یو چا پوښتنه څني وکړه چي حضرت د "احرام" په شروع کي تا "لبیک" نه وایئ ده به په جواب کي ورته ویل چي زه د دې څخه بېربېږم هسي نه چي زما د "لبیک" په جواب کي "لا لبیک" راته وویل سي، یعني چي ستا حاضري معتبره نه ده.
د هغه څخه وروسته یې په ډېر مشکل سره "لبیک" ووایئ نو بېهوښه سو او د خپلي اوښي څخه را ایله سو، بیا چي به یې هر کله "لبیک" وایئ داغه به یې حال وو ټول حج یې دا رقم پوره کړئ(۱).

## د یو بزرګ واقعه:

- حضرت مولانا ذکریا کاندهلوي رحمة الله علیه په فضائل حج کي پر (۲۷) صفحه د یو بزرګ واقعه را نقل کړې ده.

(۱) اتحاف بحواله فضائل حج صفحه نمبر: ۲۶

چي یو بزرګ په مکه مکرمه کي اوولس کاله اوسېدئ او همېشه به یې حج او عمرې کولې لېکن چي کله به هغه د حج او یا د عمرې احرام وتړئ او "لبیک" به یې وایئ نو په جواب کي به "لا لبیک" ورته ویل کېدئ.

یو ځل یو نوجوان د ده سره احرام وتړئ، وده ته چي په جواب کي "لا لبیک" وویل سو نو هغه نوجوان هم واورېدل نو هغه ورته وایي اکاجانه تا ته خو په جواب کي "لا لبیک" ویل کیږي، یعني (چي ستا حاضري د الله ﷻ په دربار کي قبوله نه ده) هغه بزرګ ورته وایي بچیه تا هم واورېدل هغه نوجوان ورته وایي چي هو ما هم واورېدل.

پر دې باندي شیخ ډېر زیات وژل او ورته وایي چي بچیه د اویا کالو راهیسي داغه جواب اورم.

نوجوان ورته وایي بیا ولي دومره زیات مشقت او تکلیف ګالې.

هغه بزرګ ورته وایي بچیه د دې څخه ماسوا بله کمه دروازه سته چي زه یې وټکوم او د دې څخه ماسوا بل کم ذات دئ چي هغه ته ورسم، زما کار کوشش کول دي دا د هغه خوښه ده چي دی یې قبلوي او که یې ردوي، او بیا ورته وایي بچیه د غلام دپاره دا مناسبه نه ده چي پر دومره خبره باندي د خپل بادار دربار پرېږدي.

بزرګ چي کله دا وویل دومره زیات یې وژړل چي د هغه اوښکي د هغه پر سینه باندي راوبهېدلې، او د هغه څخه وروسته یې د "لبیک" وینا شروع کړه.

هغه نوجوان وایي چي ما دا وارېدل چي د ده د "لبیک" په جواب کي دا وویل سوه چي ستا "لبیک" زما په دربار کي قبول دئ، او موږ دا غسي کوو د هر هغه سړي سره چي پر موږ باندي د ښو ګمان ساتي، په خلاف د هغه سړي چي د خپلو خواهشاتو اتباع کوي او پر موږ باندي ښه امید نه ساتي.

هغه نوجوان چي کله دا جواب واربدئ ورته وايي چي اکاجانه وادي وربدل، نو شيخ ورته وايي چي هو ما هم واربدل د هغه څخه وروسته شيخ دومره وژړل چي د هغه چيغي په ټولو انسانانو کي سره خوري سوي.

ابو عبدالله جلاء رحمة الله عليه وايي: چي زه په "ذوالحليفه" کي وم يو نوجوان د "احرام" ترلو اراده وکړله او بار باريې دا ويل اى زما ربه! زما سره دا بېره ده که زه "لبيک" ووايم هسي نه چي ته په جواب کي "لا لبيک" راته وايې، څو ځله يې دا ويل آخر يې يو ځل په زور سره "لبيک اللهم لبيک" وويل او په داغه کي د هغه روح د بدن څخه جلا سو(۱).

## د ابن موفق رحمة الله عليه واقعه:

علي ابن موفق رحمة الله عليه وايي: چي زه د عرفات په شپه د منٰى په مسجد کي يو ګړى ويده سوم نو ما په خوب کي وليدل چي دوې فرښتې په زرغونو لباسو کي د آسمان څخه راښوه سوې، دغه يوې د دوهمي څخه پوښتنه وکړه.

چي سږ کال څومره انسانانو حج وکړئ. دوهمي په جواب کي ورته وويل چي ماته معلوم نه دي، نو هغه اولي فرښتې بيرته پخپله ورته وويل چي سږ کال شپږ لکو انسانانو حج کړى دئ.

هغې اولي فرښتې بيا پوښتنه وکړه چي تاته معلومه ده چي په دې ټولو انسانانو کي د څومره کسانو حج قبول سو هغه دوهمي فرښتې جواب ورکړئ، ماته معلومه نه ده.

دې اولي فرښتې بيا د ځانه ورته وويل چي په شپږ لکه انسانانو کي صرف د شپږو کسانو حج قبول سو، چي کله يې دا سره وويل نو دواړي فرښتې د آسمان طرفته ولاړي.

(۱) مسامرات بحواله فضائل حج صفحه نمبر: ۱۲۸

ابن موفق رحمة الله علیه وایي: چي د دې خوب په وجه ډېر زیاته په پرېشاني کي زما سترګي را روڼي سوې او پر ما باندي ډېر فکر او غم سپور سو، او د خپل ځان زیات سوچ راسره سو، چي په دې دومره انسانانو کي صرف د شپږو کسانو حج قبول دئ زه به څنګه په هغه شپږو کي راسم.

د دې څخه وروسته چي د "عرفات" څخه واپس رارروانېدلم نو زه ډېر پرېشانه وم چي دومره لویه مجمع لېکن په هغه کي صرف د شپږو کسانو حج قبول سو.

چي کله "مزدلفې" ته راغلم، نو بیا مي سترګي سره ورغلې هغه دوې فرشتې مي بیا ولیدلې نو هغو هغه سوال او جواب سره تکرار کړئ د هغه څخه وروسته هغه فرشتې ورته وویل چي تاته معلومه ده چي الله جل جلاله کم حکم صادر کړئ، هغه بلي بیا په نا معلومتیا جواب ور کړئ.

نو هغه اولي فرشتې بیا ورته وویل چي الله جل جلاله دا حکم صادر کړئ چي د هغه شپږو کسانو په برکت چي نن یې حج قبول سو، د هر یوه سره د یو لک انسانانو حج خدای جل جلاله قبول کړئ.

ابن موفق رحمة الله علیه وایي: چي د دې څخه وروسته زما سترګي را روڼي سوې نو زه دومره خوشحاله سوم، چي زما خوشحالي د بیان څخه دباندي وه([1]).

د داغه بزرګ یوه بله واقعه هم لیکل سوې ده هغه وایي چي ما یو کال حج وکړئ د هغه څخه وروسته زما دا "رحم" راغلئ چي بعض خلک به داسي وي چي د هغوی حج نه وي قبول سوی نو ما دا دعاء وکړه چي ما خپل حج هغه چاته ور بخښلی دئ چي د هغه حج نه وي قبول سوی.

د دې واقعاتو څخه دا معلومېږي چي حاجي باید د الله جل جلاله د لطف او کرم څخه دا امید وساتي چي الله جل جلاله به نن ما په خپل فضل او کرم سره نازوي.

---

([1]) فضائل حج صفحه: ۲۹۰

صاحب د "اتحاف" لا دا حديث هم رانقل کړی دئ: چي هغه سړی ډېر لوی ګنهګار دئ چي د عرفات په ميدان کي يې دا خيال وي چي الله جَلَّ جَلَالُهُ به زما مغفرت نه وي کړی.

نو حج د الله جَلَّ جَلَالُهُ ډېر لوی عبادت دئ، په کار دا دئ چي په ډېر احتياط سره او په ډېر پرهېز او په ډېر تقوی سره يې سر ته ورسوي. د خپلو ګناهو مغفرت خو څه کوې د دغه سړي حج د نورو انسانانو د ګناهونو څخه د مغفرت ذريعه ګرځي.

## د حاجي شفاعت قبول دئ:

د پيغمبر ﷺ حديث دئ: ﴿اَلحَاجُّ يَشْفَعُ فِيْ أَرْبَعِمِائَةٍ مِنْ أَهْلِ بَيْتٍ أَوْ قَالَ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ وَيَخْرُجُ مِنْ ذُنُوْبِهِ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ﴾(١).

د حاجي شفاعت په څلورو سوو کورنيو کي قبليږي يا يې داسي ويل چي د ده د کورنۍ د څلورو سوو انسانانو په باره کي قبليږي، او حاجي د خپلو ګناهو څخه داسي پاک سي لکه: په دغه ورځ چي د موره پيدا سوی وي.

د څلورو سوو انسانانو په باره کي د شفاعت قبلېدلو دا مطلب دئ چي د دومره کسانو د مغفرت خو د الله جَلَّ جَلَالُهُ د طرفه وعده او د دې څخه زيات هيڅ مانع نسته، چي الله جَلَّ جَلَالُهُ دي د حاجي شفاعت د نورو انسانانو په باره کي قبول کړي.

په ډېرو زياتو رواياتو کي دا هم راغلي دي: چي حاجي چي د چا دپاره د مغفرت دعاء کوي الله جَلَّ جَلَالُهُ يې قبلوي.

نو الله جَلَّ جَلَالُهُ دي و ټولو حاجيانو ته د صحيح حج کولو توفيق ورکړي، الله جَلَّ جَلَالُهُ دي د دوی حجونه قبول کړي، او الله جَلَّ جَلَالُهُ دي د دوی دعاګاني د ټوله امت مسلمه په باره کي قبولي وګرځوي. ﴿آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ﴾.

وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

(١) الترغيب والترهيب حديث نمبر: ٦٨٩

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الاية)

# د بیت الله تاریخ

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حافـظ كليم الله صاحب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | ثخلـــــــــــــورم |
| تـاريــــــخ | يكم ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تـعـــــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰي رَسُوْلِه خَيْرِالْوَرٰى وَعَلٰى آلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ نُجُوْمِ الْاِهْتِدٰى.

اَمَّابَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ:

وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى: ﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ﴾(۱).

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿نَزَلَ الحَجَرُ الأَسْوَدُ مِنَ الجَنَّةِ، وَهُوَ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ فَسَوَّدَتْهُ خَطَايَا بَنِي آدَمَ﴾(۲).

اٰمَنْتُ بِاللّٰه صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْمُ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمُ، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهید:**

محترمو مشرانو! ستاسو په مخکي ما د قرآن کريم د يو آيت تلاوت وکړئ چي په هغه کي الله جل جلاله "بيت الله" د ټولو کورو څخه په اعتبار د جوړېدو مخکنی کور بللی دئ.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه دا خبره رانقل سوې ده چي مکانات او کورونه د دې څخه مخکي هم وه لېکن د عبادت دپاره د ټولو مکانو څخه مخکني مکان "بيت الله" جوړه سوې ده.

بيت الله دا د الله جل جلاله کور بلل سوی دئ او دا د ټولي دنيا په "وسط" کي واقع ده چي و دې ته "سُرّة الدنيا" يعني د دنيا "نوه" هم ورته ويل کيږي. دا "بيت الله"

(۱) آل عمران آيت نمبر، ۹۶

(۲) سنن ترمذي حديث نمبر: ۸۷۷

يو دېر عظيم تاريخ لري چي زه يې په مختصره طريقه ستاسو مخته پېشوم الله جل جلاله دي دا زموږ وينا په خپل دربار کي قبوله او مقبوله وګرځوي.
د متعدد صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه دا خبره رانقل سوې ده، چي د مځکي د پيدا کېدو څخه مخکي دا د "بيت الله" محل د اوبو پر سر باندي د يو "کوبۍ" رنګه وو بيا دا کوبۍ الله جل جلاله سره وغوړوله چي د هغې څخه ټوله مځکه جوړه سوه، لکه: د ورو ځواله چي انسانان سره وغوړوي نو بيا د هغه څخه ډوډۍ جوړه سي.
په يو روايت کي لا دا هم راځي: چي په دې کائناتو کي صرف د الله جل جلاله ذات موجود وو نور هيڅ شي هم وجود نه درلودئ، بيا الله جل جلاله په خپل قدرت کامله سره يو زرغونه ملغلره پيدا کړه او پر هغه ملغلره الله جل جلاله خپل نظر قرار کړئ هغه ملغلره په اوبو باندي بدله سوه، لکه: قرآن کريم د دې تذکره کوي: ﴿وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ﴾(۱). چي د مځکو او آسمانو څخه مخکي د الله جل جلاله عرش پر اوبو باندي قائم وو.
بيا دوهم ځل الله جل جلاله د خپل عظمت او جلال نظر پر دې اوبو باندي قرار وساتئ نو هغه اوبه په جوش کي راغلې، او وچي سوې چي د هغه څخه پر لوړ طرف باندي يو "دود" پورته سو، د هغه "دوده" څخه الله جل جلاله آسمانونه پيدا کړه.
لکه: په قرآن کريم کي د دې تذکره موجوده: ﴿ثُمَّ اسْتَوَى إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ﴾(۲).
يعني الله جل جلاله د آسمان و طرفته متوجه سو، چي کله آسمان د "دود" غوندي وو د اوبو د جوش او د وچېدو څخه وروسته لاندي يو څه "لړ" او خټه پاته سوه چي د هغه څخه الله جل جلاله د مځکي بنياد وغوړوئ، او دا هغه ځای دئ چي پر هغه باندي اوس د "بيت الله" خونه او کوټه ولاړه ده(۳).

(۱) هود آيت نمبر، ۷
(۲) الدخان آيت نمبر: ۱۱
(۳) علمي تقريرونه: جلد: ۲ صفحه، ۱۳۲

## د بیت المعمور تذکره:

بعض روایاتو لا دا هم راوړي دي چې الله ﷻ چې کله د فرشتو ومخته د حضرت آدم علیه السلام د پیدا کولو خبره پېش کړه، نو فرشتو د خپل سر خلاصولو په نیت باندې یو سوال وکړئ چې پر هغه باندې الله ﷻ ناراضه سو، نو فرشتو د "عرش عظیم" طواف په دې نیت شروع کړی چې الله ﷻ را څخه راضي سي.

د څه زماني طواف کولو څخه وروسته الله ﷻ د فرشتو د طواف دپاره د عرش څخه لاندې یو کوټه د "بیت المعمور" په نامه جوړه کړه، او فرشتو ته یې د هغه د طواف کولو حکم وکړئ.

لکه په یو حدیث شریف کې داسي راځي: چې هلته روزانه اویا زره فرشتې طواف کوي او د یو وار طواف کولو څخه وروسته دوباره د طواف کولو موقع هغوی ته نه پیدا کیږي(۱).

## د بیت الله اولنی جوړښت:

په روایاتو کې راځي حضرت آدم علیه السلام چې کله الله ﷻ د جنت څخه د مځکې طرفته راشوه کړئ نو د هندوستان پر علاقه "سراندېب" باندې راشوه سو، او حضرت "حوا" غالبا په "جده" کې راشوه سو، او شیطان د "ایران" په علاقو کې راشوه سو.

حضرت آدم علیه السلام چونکه په جنت کې د فرشتو په مجلسو کې عادت نیولی وو نو چې کله مځکې ته راغلئ نو د الله ﷻ څخه یې دا غوښتنه وکړه چې ای الله! په دې دنیا کې خو، زما د "انس" او "الفت" دپاره یو فرد موجوده نسته نه ستا د عبادت دپاره یو مکان سته الله ﷻ ورته وایي: چې افراد خو به ستا د اولاد څخه

---

(۱) علمي تقریرونه، جلد: ۲ صفحه: ۱۳۳

پیدا کوم، او زما د عبادت دپاره زما پر نامه باندي اول کور جوړ کړه، بیا د هغه څخه وروسته د خپلي استوګني دپاره خپل مکان جوړ کړه.
او زما کور د "بیت المعمور" په برابري کي پر مځکه باندي جوړ کړه، حضرت آدم علیه السلام دا معلومات وغوښتل چي یا الله! هغه کور پر کم ځای جوړ کړم؟ الله جل جلاله ورته فرمایي: چي د کمه ځایه څخه ما ټوله مځکه سره غوړولې ده، او چي پر کم ځای ځلوښت کاله ستا "خمېر" پروت وو پر هغه ځای یې جوړه کړه، حضرت آدم علیه السلام ورته وایي: چي ماته د هغه ځای نښاندهي وکړه، الله جل جلاله حضرت جبرائیل علیه السلام ته حکم وکړئ، چي ورسه د مکې مکرمې د مځکي نښاندهي ورته وکړه، او پر هغه ځای باندي د "بیت الله" په جوړولو کي د ده مدد وکړه.
چنانچه حضرت جبرائیل علیه السلام د فرښتو سره مځکي ته تشریف راوړئ او بیا یې د بیت الله د ځای نښاندهي وکړه، او فرښتو ته دا حکم وسو، چي دلته بنیادونه وکاږئ او د ډبرو یې ډک کړئ چنانچه فرښتو د "بیت المعمور" په برابر کي یو لوی کندي وکښلې او هغه یې د ډبرو ډکي کړې.
چي کله بنیادونه پوره سوه او د مځکي سره سم سوه، نو د فرښتو په ذریعه باندي "بیت المعمور" راشوه کړل سو، او پر هغه بنیادو کښېښول سو، او آدم علیه السلام ته دا حکم ورکول سو، چي دې طرفته به لمونځ کوې، او هم به پر دې باندي طواف کوې. (۱)

## د بیت الله متعدد تعمیرونه:

د مشهور قول مطابق د ټولو څخه مخکي د "بیت الله" تعمیر فرښتو کړی دئ، د حضرت آدم علیه السلام د پیدائش څخه دوه زره کاله مخکي.

---

(۱) علمي تقریرونه: جلد: ۲ صفحه: ۱۳۴

د بعض حضراتو دا قول دئ چي دا دوهم تعمير وو د دې ځخه مخکي الله ﷻ د خپل امر ﴿كُن﴾ په ذريعه سره د دې تعمير کړی دئ چي په هغه کي د فرشتو دخل هم نه وو.

په بعض رواياتو کي دا راغلي دي چي حضرت آدم عليه السلام د "بيت الله" هغه بنيادي حصه تعمير کړه او د دې پر سر بيا د آسمان ځخه "بيت المعمور" را شوه کړل سوه، او د حضرت آدم عليه السلام د وفات ځخه وروسته يا د طوفان نوح په وخت کي بيرته "بيت المعمور" فرشتو آسمان ته پورته کړئ.

په يو روايت کي د حضرت شيث عليه السلام چي د حضرت آدم عليه السلام بچی وو، د هغه هم د بيت الله د تعمير ياد او تذکره سوې ده(١).

## د حضرت ابراهيم عليه السلام تعمير:

د حضرت آدم عليه السلام د وفات ځخه وروسته د حضرت نوح عليه السلام په زمانه کي چي کله سېلاب راغلئ، نو "بيت المعمور" فرشتو بيرته اووم آسمان ته پورته کړئ، او د "بيت الله" پر ځای باندي د سېلاب په وجه د خاورو لوی غونډه جوړي سوې، او د "بيت الله" د بنيادو "نوم" او "نشان" ورک سو، البته د "بيت الله" پر ځای باندي يو سرخ رنګه پورته خاوره ښکاره وه.

د ابراهيم عليه السلام د تعمير ځخه مخکي به خلګ دغه خاوري ته راتلل، او طواف به يې کوئ، بعض رواياتو کي دا هم سته چي په طوفان نوح کي د نوح عليه السلام کښتی د اوبو پر سر هم د "بيت الله" د مقام طواف وکړئ(٢).

حضرت ابراهيم عليه السلام چي کله د الله ﷻ په امر سره د "فلسطين" ځخه "حجاز مقدس" ته راغلئ د ده سره خپله زنانه او بچی ورسره وو.

---

(١) علمي تقريرونه: جلد ٢ صفحه ١٣۴

(٢) علمي تقريرونه، جلد ٢ صفحه ١٣۴

او بيا يې هغه زنانه چې حضرت هاجره رضي الله عنها او بچى حضرت اسماعيل عليه السلام وو. د "بيت الله" پر ځاى پرېښول، او دى واپس "فلسطين" ته راغلئ، نو دى به په څه زمانه كي د خپل بچي او زناني د ديد دپاره تلئ او راتلئ، او بيا د اسماعيل عليه السلام د ذبح واقعه پيښه سوه.

د ذبح د واقعې څخه وروسته يو ځل حضرت ابراهيم عليه السلام د حضرت هاجرې رضي الله عنها او اسماعيل عليه السلام و طرفته تشريف را وړئ حضرت اسماعيل عليه السلام ته يې وويل چې ماته زما رب پر دې ځاى د خپل عبادت دپاره د يو كور جوړولو حكم را كړى دئ.

حضرت اسماعيل عليه السلام په جواب كي ورته وويل چې د خپل رب حكم ومنه، حضرت ابراهيم عليه السلام ورته وويل ته په دې تعمير كي زما معاونت وكړه، هغه ورته وويل چې زه حاضر يم.

په در منثور كي د ابن سعد رحمة الله عليه يو روايت دئ، چې په دې وخت كي د ابراهيم عليه السلام عمر (۱۲۰) كاله وو، او د حضرت اسماعيل عليه السلام عمر (۳۰) كاله وو. چې دوى دواړو د "بيت الله" د تعمير اراده وكړه نو الله جل جلاله دوى ته د معلومات وركولو دپاره حضرت جبرائيل عليه السلام را واستوئ هغه د "بيت الله" د دېوالو نښانات ورو ښوله او پلار او بچى دواړه په دې مقدس كار كي مشغوله سول.

## د بيت الله فضيلت:

علماء كرامو ليكلي دي چې د دې څخه زيات افضل كم ځاى كېداى سي، چې د جوړېدو حكم يې الله جل جلاله كړى دئ، حضرت جبرائيل عليه السلام يې نقشه ښولې ده، حضرت ابراهيم عليه السلام غوندي نبي د هغه معمار سوى دئ، د حضرت اسماعيل ذبيح الله غوندي نبي د هغه په تعمير كي مدد ګارسوى دئ د دې مكان به څومره عظمت وي؟

د حضرت آدم علیه السلام تر بنیادو پوري مځکه وکندل سوه، او خاوري لیري سوې، بیا دېوالونه ورباندي شروع سوه، چي کله دېوالونه یو څه لوړ سوه، نو ابراهیم علیه السلام ته یو ډبره راغله، چي دی به پر هغه باندي درېدئ او دېوالونه به یې جوړول، او هغه ډبري به د یو خود کاره "ځینې" کار کوئ، چي په کم ځای کي به ضرورت وو، لوړ یا کښته یو طرف یا بل طرف هغه ډبري به ابراهیم علیه السلام هغه طرفته وړئ.

د دې ډبري نوم اوس "مقام ابراهیم" دئ چي تر ننه پوري د ابراهیم علیه السلام د پښو نښانات پکښي معلومېږي چي بغیر د چوتي دي، او په چینه کي بنده ده.

په (۱) ذوالقعده باندي دا تعمیر شروع سوی دئ او (۲۵) ذوالقعده باندي تکمیل ته رسېدلی دئ. حضرت اسماعیل علیه السلام به د یو طرف او بل طرف څخه لوی لوی کاڼي راوړل او حضرت ابراهیم علیه السلام د "بیت الله" پر بنیادو باندي دېوالونه جوړول، او دواړو به د خپل عمل او برکت دپاره د قبولیت دعاوي غوښتې.

## د بیت الله حدود:

حضرت ابراهیم علیه السلام چي د "بیت الله" کم تعمیر وکړئ، د هغه لوړوالی (۹) گزه وو، او د هغه دېوالونه په څلور سره طرفه کي په دې شکل وه.

د "حجر اسود" څخه تر "رکن شامي" پوري یعني تر "حطیمه" پوري (۳۲) گزه فاصله وه، او د "رکن شامي" څخه تر "رکن غربي" پوري یعني د "حطیم" د یوه کنجه څخه بیا تر بل کنجه پوري فاصله (۲۲) گزه وه، او د "رکن غربي" څخه تر "رکن یماني" پوري فاصله (۲۱) گزه وه، او "رکن یماني" څخه بیا تر "حجر اسود" پوري فاصله (۲۰) گزه وه.

حضرت ابراهیم علیه السلام پر "بیت الله" باندي چت نه واچوئ او د دروازو ځایونه یې وه مگر دروازې یې نه پکښي ولگولې، او دواړي دروازې د مځکي سره

متصلي وې، بيا په وروسته زمانو کي يو بادشاه ""تُبَّعْ" حميري" په هغه کي د لرګيو دروازې ولګولې او په هغه کي يې قلفان ولګول او پر "بيت الله" باندي يې پوښ را وپيچئ.

حضرت ابراهيم عليه السلام د "بيت الله" سره داسي يو ځای هم جوړ کړئ چي د "بيت الله" دپاره کمي هدايا وي او نذر او نياز راتلئ هلته به جمع کېدئ.

داغه رنګه "حجر اسود" پر اوس موجود مقام باندي حضرت ابراهيم عليه السلام ولګوله، دا ډبره د جنت څخه راغلې وه، او سپينه وه مګر د انسانانو ګناهونو توره کړه، د طوفان نوح په وخت "جبل ابو قبيس" په امانت طور دا په خپل ځان کي محفوظه ساتلې وه.

بيا جبرائيل عليه السلام راوړه او حضرت ابراهيم عليه السلام ته يې ور کړه حضرت ابراهيم عليه السلام "حجر اسود" په دغه دېوال کي ولګوله.

حضرت ابراهيم عليه السلام چي کله د "بيت الله" تعمير مکمل کړی نو دی د "مقام ابراهيم" پر ډبره ودرېدئ او د الله په حکم سره يې خلک د حج دپاره دا رنګه راوبلل: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ رَبَّكُمْ اتَّخَذَ بَيْتًا فَحُجُّوهُ﴾. ای خلکو! ستاسو رب ستاسو دپاره يو خپل کور جوړ کړی دئ تاسو د هغه د زيارت قصد وکړئ.

چنانچه دغه آواز الله جل جلاله تر ټولو انسانانو ته ورسوئ چي کم چا پر دې آواز باندي "لبيک" ويلي وي هغه به ضرور حج کوي، او کتابو ليکلي دي چي د ابراهيم عليه السلام د تعمير اکثره ډبري اوس هم د "بيت الله" په دېوالو کي موجودي دي.

د دې څخه وروسته "عمالقه" او "جرهم" دا د عربو دوې قبيلې وې د حضرت نوح عليه السلام په اولاد کي وې، دوی هم يو ځل "بيت الله" د نړېدو څخه وروسته د حضرت ابراهيم عليه السلام پر نقشه باندي د "بيت الله" تعمير کړی دئ، او د "قُصَی"

تعمير هم کتابو ليکلي دئ ، چي د پيغمبرﷺ د نيکه ګانو په سلسله کي د پيغمبرﷺ د طرفه پر پنځم نمبر باندي نيکه وو(¹).

## د قريشو تعمير:

چي کله د پيغمبرﷺ عمر پنځه دېرش (۳۵) کاله ته ورسېدئ په دې وخت کي هم د "بيت الله" تعمير ډېر کمزوری سوی وو، نو قريشو دا غوښتل چي د "بيت الله" تعمير نوی کړي.

اتفاقًا په دې وخت کي په "جده" باندي يو سمندري جهاز هم مات سوی وو، چي په هغه کي ډېر اعلیٰ قسم لرګي وه، نو قريشو دا موقع غنيمت وبلله، چي د "بيت الله" تعمير به وکړو، او دا قيمتي لرګي به پکښي کار کړو.

چي کله سهار دوی راغله د "بيت الله" د تعمير په نيت نو د "بيت الله" پر دېوالو به يو لوی "اژدها" مار پروت وو، او هيڅ څوک به نږدې نه سوو ورتلای، او قريش په دې وجه ډېر پرېشانه وه.

آخر يو سهار يو مرغه راغلئ او په خپله منوکه يې هغه مار پورته کړئ، او ليري يې وغورځوئ، قريش ډېر خوشحاله سوه چي دا موږ ته د "بيت الله" د تعمير اجازت راکولو يو علامه وه.

بيا يو قريشي خپل "ګلنګ" د "بيت الله" پر دېوال ووهئ چي کم کاڼي به د "بيت الله" د دېوال څخه را ايله سو، هغه به بيرته پر هغه ځای ولګېدئ، قريشو آخر دا عهد وکړئ، چي د "بيت الله" په تعمير کي به يوه پيسه حرامه نه لګوو.

"وليد ابن مغيره" اولنی سړی وو، چي د "بيت الله" د دېوالو نړول يې شروع کړه، او بيا ټول قريش پر را جمع سول، او د "بيت الله" دېوالونه يې ونړول، او بنيادونه يې ښکاره کړه.

---

(¹) ماخوذ از فضائل حج صفحه: ۱۰۹

د هغه ځخه وروسته د نوو دېوالو تعمیر شروع سو، ټولو قریشو قبائلو په دې کې حصه واخیسته، پیغمبر ﷺ په خپله د "بیت الله" د دېوالو دپاره د کاڼو او ډبرو په راوړلو کې حصه واخیسته.

بیا د "حجر اسود" پر خپل ځای باندې د اېښولو په خاطر د قریشو په مابین کې تنازعه ولاړه سوه، هر سردار دا غوښتل چې "حجر اسود" پر خپل ځای باندې زه نصب کړم، چې دا زما یادګار سي، ډېره نژدې وه چې خبره خون رېزي ته ورسېږي.

لېکن پیغمبر ﷺ د ټولو په مابین کې داسې فیصله وکړه، چې په هغه ټوله خوشحاله سوه، په خپل چادر مبارک کې یې "حجر اسوده" کېښېښوله او د چادر کونجان د قبیلو سردارانو ونیول او د "بیت الله" تر دېوالو یې "حجر اسوده" ورسوله او بیا ټولو پیغمبر ﷺ وکیل کړئ ده په خپل لاس مبارک "حجر اسوده" پر خپل محل باندې ولګوله.

قریشو په دې تعمیر کې د ابراهیم علیه السلام په نقشه یو څه تغیر او تبدل وکړئ:

اول خو دا چې د حلالو پیسو کمېدو په وجه دوی د "حطیم" حصه دباندې پرېښوله دا شپږ پوټه ځای وو، چې د "بیت الله" داخلي حصه وه.

دوهم تغیر یې دا وکړئ چې د دوو دروازو پر ځای یې یوه دروازه پکښې کېښېښوله، او د "رکن یماني" سره چې کمه دروازه وه هغه یې بنده کړه.

او دریم تغیر یې دا وکړئ، چې د "بیت الله" دروازه یې د مځکې ځخه ډېره لوړه کړه، چې هر څوک و هغه ته نسي ورننوتلای. بلکه چې قریش څوک غواړي هغه به ورننوځي، که قریشو نه غوښتل هغه نسي ورننوتلای.

پیغمبر ﷺ چې کله مکه فتحه کړه نو د ده د دې تغیراتو د سمولو او د ابراهیم علیه السلام پر نقشه باندې د "بیت الله" د جوړولو تمنی ښکاره کړه، لېکن فرصت یې نه کړئ پیدا د حضرت آدم علیه السلام تر بنیادو پورې مځکه وکندل سوه، او خاورې لیرې سوې، بیا دېوانو ورباندې شروع سوه، چې کله دېوالونه بو څه لوړ

سوه، نو ابراهیم علیه السلام ته یو ډبره راغله، چي دی به پر هغه باندي درېدئ او دېوالونه به یې جوړول، او هغه ډبري به د یو خود کاره "څینې" کار کوئ، چي په کم ځای کي به ضرورت وو، لوړ یا کښته یو طرف یا بل طرف هغه ډبري به ابراهیم علیه السلام هغه طرفته وړئ.

د دې ډبري نوم "مقام ابراهیم" دئ چي تر نن پوري د ابراهیم علیه السلام د پښو نښانات پکښي معلومېږي چي بغیر د چوټي دي، او په چینه کي بنده ده(١).

## د عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه تعمیر:

په (٦۴) هجري کي د "یزید" عسکرو چي کله پر حضرت عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه باندي په مکه کي محاصره راوستهٔ، نو د منجنیق یعني (د چلومبي) په ذریعه سره یې پر ده باندي اورونه را غورځول، او دی یې د مکې په حرم کي محاصره کړی وو.

چي د هغه اورونو څخه د کعبې پرده هم وسوځول سوه، او د کعبې و دېوالو ته نقصان ورسېدئ، په داغه دوران کي "یزید" مړ سو، او د "یزید" فوجیانو محاصره ماته کړه، واپس ولاړه.

نو حضرت عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه کعبه ونړوله او د نوي سره څخه یې تعمیر د کعبې تعمیر جوړ کړئ، چي په هغه کي د پیغمبر ﷺ د خواهش مطابق د حطیم حصه یې په "بیت الله" کي دننه راوستله او دروازه یې د مځکي سره نزدې ولګوله، چي هر سړی و هغه ته ور ننوتلای سي.

او دوهمه دروازه یې د اولي دروازې په مقابل کي په دېوال کي ولګوله چي خلګ په یوه دروازه ور ننوځي او د بلي څخه راوځي، او په تګ او راتګ کي تکلیف نه وي.

---

(١) ماخوذ از فضائل حج صفحه: ١١٠

په جمادي الاخرى (٦۴) سنه هجري کي دا تعمير شروع سو، او چي کله (٦۴) يا (٦٥) هجري سنه پوره کېدله، تعمير هم پوره سو.

حضرت عبدالله ابن زبير رضي الله عنه په دې خوشحالي کي يو ډېر لوی دعوت و کړئ چي په هغه کي يې سل اوښان حلال کړل.

و کعبې ته رسول سوي نقصانات خو ابن زبير رضي الله عنه بيرته په خپل تعمير کي دُرست کړل.

لېکن په دې حادثه کي يو اهم نقصان دا وسو، چي د حضرت اسماعيل ذبيح الله عليه السلام په فديه کي د جنت څخه راغلی پسه ذبح سوی وو، د هغه ښکر تر دې وخت پوري د کعبې شريفي په "مېزاب رحمت" را ځړېدئ او په کعبه کي محفوظه وو، لېکن په دې حادثه کي هغه وسوځل سو.

## د حجاج ابن يوسف تعمير:

د حضرت عبدالله ابن زبير رضي الله عنه د وفات څخه وروسته د عبدالملک ابن مروان په زمانه کي "حجاج ابن يوسف، عبدالملک ابن مروان" ته وويل: چي ابن زبير رضي الله عنه خو په کعبه کي تغير راوستولی دئ او اوس پر هغه نقشه نه ده پاته، چي پر کمه نقشه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په زمانه کي وه.

نو "عبدالملک" اجازت ور کړئ چي پر هغه نقشه يې جوړه کړه، نو "حجاج ابن يوسف" د قديم طرز موافق شرقي دروازه يې لوړه کړه، او د دې په مقابل کي هغه بله دروازه يې بنده کړه.

او د "حطيم" د طرف دېوال يې مات کړی، او دننه طرفته يې وشکوئ، او د "حطيم" حصه يې بيرته څني ويسته، دا غالبا په (۷۳) هجري سنه کي دا تغير وسو، د دې څخه وروسته پر دا غه حال باندي تر ډېري زماني پوري، "بيت الله" قائمه وه، د هغه درې طرفه د حضرت عبدالله ابن زبير رضي الله عنه تعمير وو، او د "حطيم" جانب د "حجاج" تعمير وو.

د بعض خلګو رایه دا ده چي تر اوسه پوري چي "بیت الله" ولاړه ده دا هغه تعمیر دئ او دا وروسته تغیرات صرف مُرمتونه دي، مستقل تعمیرونه نه دي.
محدثینو یو روایت را نقل کړی دئ، چي "هارون رشید" او بعض نورو بادشاهانو دا اراده وکړه چي "بیت الله" به د حضرت عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه د تعمیر موافق جوړوو، ځکه دا د پیغمبر ﷺ تمنی وه.
مګر امام مالک رحمة الله علیه په ډېر اصرار سره د بادشاهانو دا اراده پر شاه کړه، د دې وجهي څخه چي په مستقبل کي کعبه شریفه او د هغه تعمیر د بادشاهانو یو کهیل او بازی جوړي نسي هر بادشاه به د خپل نامه په خاطر د هغه رنګارنګ تعمیرونه کوي.

## د سلطان احمد ترکي تعمیر:

په سنه (۱۰۲۱) هجري کي "سلطان احمد ترکي" د "بیت الله" چت ور بدل کړی، او په دېوالو کي چي په کمو کمو ځایو کي زړ والی راغلی وو، د هغه یې نوی والی وکړئ، "میزاب الرحمة" یې سمه کړه، در حقیقت دا پوره جدید تعمیر نه، بلکه صرف اصلاح او مرمت وو.
په (۱۰۳۹) سنه کي د سلطان مراد په زمانه کي چي کله د سیلاب د اوبو څخه حرم ډک سو، او د "بیت الله شریفي" بعض دېوالونه هم و نړېدل نو "سلطان" مراد د هغه تعمیر و کړئ، غالبه خو دا ده چي کمه حصه و نړېدله نو هغه یې اباده کړه، په دې وجه باندي و دې ته هم بعض مورخینو صرف ترمیم ویلی دئ، او تعمیر جدید نه دئ.
حضرت شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه په خپل تفسیر کي لیکلي دي چي د "حجر اسود" څخه علاوه د نورو اړخو تعمیر سوی دئ.

په دې صورت کې په دې وخت کې د "بيت الله شريفي" د "حجر اسود" د جانب څخه د عبد الله ابن زبير رضي الله عنه تعمير دئ، او د نورو طرفو څخه د "سلطان" مراد تعمير دئ(۱).

## مقامات مقدسه:

هسې خو ټوله مکه مکرمه د برکاتو ځاى دئ د هغې هر کونج او د هغې هر در او دېوال او د هرې ډبرې او د رېګ زره د برکته ډک دي.
لېکن چند داسې ځايونه نور هم زيات خوصيات لري چې په مستقل احاديثو کې د هغه فضائل ليکلي دي:

۱. د حضرت خديجة الکبرى رضي الله عنها "دولت کده" چې هلته حضرت "فاطمه الزهراء" پيدا سوې ده، او د حضرت ابراهيم عليه السلام څخه علاوه، ټوله اولاد پيغمبر ﷺ په داغه کور کې پيدا سوي دي، تر هجرت تر وخته پورې حضور اقدس ﷺ په داغه کور کې اوسېدئ، علماء کرامو ليکلي دي، چې د "مسجد حرام" څخه ماسوا د مکې د ټولو مکاناتو څخه دغه کور افضل دئ.
۲. د حضور اقدس ﷺ د پيدائش ځاى چې د "مولد النبي ﷺ" په نامه سره مشهوره دئ، د "جبل ابو قبيس" په لمن کې چې اوس د سعودي حکومت پر هغه باندې کتب خانه جوړه کړې ده.
۳. د حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه هغه کور چې د "زقاق صواغين" يعني (د زرګرانو په کوڅه) کې دئ چې و هغه ته "دار الهجره" هم ويل کېږي ځکه چې د هجرت ابتداء د دې کور څخه وسوله، د هجرت څخه مخکې پيغمبر ﷺ به روزانه دلته راتلئ چې په هغه کور کې دوې ډبرې وې د

(۱) ماخوذ از فضائل حج صفحه: ۱۱۱

يوې نوم "متكلم" وو چې هغې به پيغمبر ﷺ ته سلام کوئ او د دوهمې نوم "مُتكا" وو چې پر هغه باندې به پيغمبر ﷺ تکيه کوله.

۴. مولد علي د حضرت علي رضي الله عنه د پيدائش ځای.

۵. "دار ارقم" چې په "دار خيزران" سره هم مشهوره وو، چې د صفا غره ته ډېر نږدې وو، چې په هغه کې حضرت عمر رضي الله عنه اسلام راوړئ او د څلوېښتو مؤمنانو عدد د ده په ايمان راوړلو باندې پوره سو، او د قرآن کريم دا آيت دلته رانازل سو: ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللَّهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾(¹). چې اوس "دار ارقم" د "صفا" او "مروا" په تعمير کې راغلی دئ.

٦. "جبل ثور" هغه غار چې په هغه کې د هجرت په وخت کې پيغمبر ﷺ او حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه پټ وه، د قرآن کريم په دې آيت کې: ﴿ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ﴾(²). د دغه غار ذکر دئ.

۷. د "جبل حرا" غار چې په هغه کې پيغمبر ﷺ د نبوت څخه مخکې څو څو ورځې عبادت کوئ او په تنهائي کې به اوسېدئ، او په داغه غار کې پر ده باندې د ټولو څخه مخکې جبرائيل عليه السلام د "اِقْرَءْ" سورة را نازل کړئ.

۸. "مسجد الراية" چې په مکه مکرمه کې د "معلی" و طرفته دئ، پيغمبر ﷺ پر دې ځای باندې لمونځ کړی دئ، او د فتحې مکې په وخت کې پر دې ځای باندې جنډه درولېده.

۹. "مسجد الجن" چې پر کم ځای د جناتو اجتماع وه او حضور اکرم ﷺ د حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه سره هغه ځای ته ورغلئ، او حضرت

---

(¹) الانفال آيت نمبر: ٦۴

(²) التوبه آيت نمبر: ۴٠

عبد الله ابن مسعود ﷺ يې يو طرفته ته كښېنوئ او په خپله مخته ورغلئ، او جناتو ته يې د اسلام تعليم او د قرآن تلاوت وكړئ.

۱۰. "مسجد الشجرة" چي د مسجد جن په مقابل كي دئ، پر دې ځاى باندي يو درخته وه چي پېغمبر ﷺ را طلب كړه هغې مځكه سره څيرله او د پېغمبر ﷺ په خدمت كي حاضره سوه، بيا پېغمبر ﷺ ورته وويل، واپس ولاړه سه، نو هغه خپل ځاى ته واپس ولاړه.

۱۱. "مسجد الغنم" چي هغه ته "مسجد الاجابة" هم وايي پر دې ځاى پېغمبر ﷺ په فتحه مكه كي د مسلمانانو څخه بيعت اخيستئ.

۱۲. "مسجد جبل ابو قبيس" چي د جبل ابو قبيس په لمن كي او منارې يې د حرم شريف څخه معلوميږي.

۱۳. "مسجد طوىٰ" چي د "تنعيم" په لار كي دئ پېغمبر ﷺ چي به كله حج يا عمرې ته راتلئ نو د ده به پر دې ځاى باندي استوګنه وه.

۱۴. "مسجد عائشه ﷺ" چي مسجد "تنعيم" هم ورته وايي چي عام حاجيان د هغه ځاى څخه د عمرې احرام تړي.

۱۵. "مسجد العقبة" چي د "مِنٰى" سره قريب دئ پر هغه ځاى باندي د هجرت څخه مخكي پېغمبر ﷺ د انصارو څخه بيعت واخيستئ دا مسجد چي كله د "مكې" څخه و "مِنٰى" ته حاجيان ځي نو چپه طرفته د لاري څخه راځي.

۱٦. "مسجد الجعرانة" چي پېغمبر ﷺ د فتحې مكې څخه وروسته د "طائف" څخه راتلئ نو د دې ځاى څخه يې احرام وتړئ، او د "غزوه حنين" غنيمتونه د صحابه وو په مابين كي د دې مسجد پر ځاى پېغمبر ﷺ سره تقسيمول.

۱۷. "مسجد الكبش" چي هغه ته "منحر ابراهيم عليه السلام" هم وايي: چي په "منیٰ" كي راځي دا پر هغه ځای جوړ دئ چي حضرت ابراهيم عليه السلام د حضرت اسماعيل عليه السلام د ذبح دپاره پرېښتئ.

۱۸. "مسجد خيف" په "منیٰ" كي مشهور مسجد دئ چي د هغه په باره كي دا مشهوره ده چي په ده كي د (۷۰) انبياؤ دفن راغلي دئ.

۱۹. "غار مرسلات" چي د "مسجد خيف" سره ډېره نزدې ده پر پيغمبر صلی الله علیه وسلم "سورة المرسلات" په دغه غار كي نازل سوی دئ.

۲۰. "جنة المعلیٰ" د مكې مكرمې هديره ده چي هلته د حضرت خديجې رضي الله عنها او د عبدالله ابن زبير رضي الله عنه او د نورو صحابه وو قبرونه دي. د دې څخه علاوه نور هم ډېر مبارک مقامات دي هسي هم په مكه مكرمه كي به هغه كم داسي ځای وي چي هلته د پيغمبر صلی الله علیه وسلم او د صحابه كرامو قدمونه لګېدلي نه وي، لېكن ملا علي قاري رحمة الله عليه دغه څو خاص ځايونه ذكر كړي دي.

## د دعاء د قبوليت ځايونه:

نو كم چاته چي الله جل جلاله د "بيت الله" د سفر سعادت ور نصيب كړي نو د هغه دپاره ضروري دا وي چي هغه خپل وخت قيمتي كړي، او د هغه شكل دا دئ چي په عباداتو او په دعاګانو كي خپل وخت مصرف كړي. چي څومره د دعاګانو د قبوليت مواضع الله جل جلاله د حاجي په نصيب كړي دي، د مځكي پر بله حصه به شايد داسي د دعاګانو د قبوليت ځايونه ډېر كم د چا په نصيب سوي وي.

## د حضرت حسن بصري رحمة الله عليه خط:

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه چي كم خط "مكې" والا ته ليكلي وو، په هغه كي دا ليكلي وه چي ای مكې والا! هلته پنځلس داسي ځايونه دي، چي پر هغه باندي الله جل جلاله دعاګاني قبلوي:

① د طواف کولو په وخت کي. ② پر ملتزم باندي.
③ د مېزاب رحمت لاندي. ④ په کعبه شریفه کي دننه.
⑤ د زمزم پر ځاه باندي. ⑥ د صفا پر غونډۍ باندي.
⑦ د مَروۀ پر غونډۍ باندي. ⑧ د صفا او مروۀ د سعی په وخت کي.
⑨ پر مقام ابراهیم باندي. ⑩ د عرفات پر میدان باندي.
⑪ په مزدلفه کي. ⑫ په مِنٰی کي.
⑬⑭⑮ د درې سره وو شیطانانو د ویشتلو په وخت کي. (حصن حصین)

او د "دُر منثور" په یو روایت کي لیکلي دي: چي پر "ملتزم" باندي او د "مېزاب رحمت" څخه لاندي او پر "رکن یماني" باندي، او پر "صفا" او "مروا" او د دوی په مابین کي او د "حجر اسود" او "مقام ابراهیم" په مابین کي، او د "کعبې شریفي" په نس کي، او د "مِنٰی، مزدلفه، عرفات" او پر درېو سره وو شیطانانو د ویشتلو په وخت کي، الله جل جلاله د حاجیانو دعاګاني قبلوي.
حضرت شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه په خپل تفسیر کي دا روایت خوښ کړی دئ.
بعض علماء د دې څخه علاوه په مطاف یعني (د طواف) کولو په ځای کي او پر "بیت الله شریف" باندي د اول نظر لګېدلو په وخت کي او په "حطیم" کي، او د "حجر اسود" او د "رکن یماني" په مابین کي هم په خصوصیت سره د دعاء د قبلېدو ځایونه بللي دي. الله جل جلاله دي د حاجیانو عبادتونه قبول کړي، الله جل جلاله دي د دوی دعاګاني د خپلو ځانو او د خپلو کورنیو او زموږ په حق کي او د ټوله امت مسلمه په باره کي قبولي او مقبولي وګرځوي، او چي د کم چا نصیب تر اوسه د حج نه دئ سوی الله جل جلاله دي د هغوی نصیبونه د حج کولو وکړي. او چي کم چا ته الله جل جلاله حج کول ور نصیب کړي دي، الله جل جلاله دي بار بار دوی ته د حج کولو توفیق ور کړي، او الله جل جلاله دي د حج کولو اسباب ورته برابر او آسانه کړي. او الله جل جلاله دي دا ټول خبري په خپل دربار الهي کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الايه)

# د مديني منورې فضائل

(بيان)

مولوي اطيع الله صاحب
استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

ترتيب وتخريج:
مفتي حافظ کليم الله صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانيه الهاشميه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صـاحب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالوذود |
| اشـــاعــت | ثلــــــــــــورم |
| تـاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِه خَيْرِالْوَرٰى وَعَلٰى آلِهِ وَ اَصْحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِهْتِدٰى.

اَمَّابَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ:

وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى: ﴿مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا﴾(١).

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿لاَ يَكِيْدُ أَهْلَ الْمَدِيْنَةِ أَحَدٌ، إِلَّا انْمَاعَ كَمَا يَنْمَاعُ الْمِلْحُ فِيْ الْمَاءِ﴾(٢).

اٰمَنْتُ بِاللّٰه صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمُ، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو مشرانو! ستاسو مخته ما د "بخاري شريف" يو روايت پيش کړئ چي په هغه کي پيغمبر ﷺ د مديني منورې فضيلت بيان کړی دئ.
حضرت سعد رضي الله عنه د پيغمبر ﷺ دا خبره را نقل کړې ده چي کم سړی د مديني منورې د استوګنو خلکو سره مکر او چم کوي، هغه به داسي ويلېږي لکه: مالګه چي په اوبو کي ويلېږي.
داغه رنګه د "مسلم شريف" يو بل حديث هم دئ:

---

(١) الفتح آيت نمبر ٢٩،
(٢) بخاري شريف حديث نمبر ١٨٧٧

﴿وَلَا يُرِيدُ أَحَدٌ أَهْلَ الْمَدِينَةِ بِسُوءٍ إِلَّا أَذَابَهُ اللهُ فِي النَّارِ ذَوْبَ الرَّصَاصِ، أَوْ ذَوْبَ الْمِلْحِ فِي الْمَاءِ﴾(١) چي کم سړی د مديني والاوو سره د هر قسم بدۍ اراده و کړي الله جل جلاله به يې په اور کي داسي ويلي کړي، لکه په اور کي چي "سرف" ويليږي، يا په اوبو کي مالګه ويليږي.

حضرت جابر رضي الله عنه يو ځل و فرمايل: چي برباد دي هغه سړی وي چي د الله رسول ببروي، بچي پوښتنه ځني و کړه چي ای پلاره! پيغمبر صلی الله عليه وسلم خو وفات سوی دئ، نو يو څوک به اوس پيغمبر صلی الله عليه وسلم څنګه و ببروي؟ ده په جواب کي ورته وويل چي ما په خپلو غوږو د پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي، چي کم سړی د مديني والا ببروي، هغه سړی هغه شی ببروي چي زما د دوو اړخو په مابين کي دئ، يعني زما زړه(٢).

## د مديني منورې محل وقوع:

د مکي مکرمي څخه د شمال و طرفته تقريبا پر (٢٠٠) ميله يعني (سوا (٣٠٠) کيلو ميټره) فاصله باندي د يو ډيري زرخيزي علاقې آبادي واقع ده.

چي په هغه کي د ټولو څخه د لوی آبادۍ نوم "يثرب" دئ. د هغه دواړو طرفو ته دېرلوړ غرونه دي چي هغوی ته "لابتين" وايي او "حرتين" هم ورته ويل کيږي. د مشرق و طرفته تقريبا تر اته ميله پوري کوچنۍ کوچنۍ آبادۍ دي هغوی ته "عوالي" وايي: چي په هغه کي د "قباء" طرف هم راځي، او دوهم طرفته چي کمي آبادۍ دي هغه ته "اسافل" وايي.

---

(١) مسلم شريف حديث نمبر، ٣٦٠

(٢) فضائل حج صفحه، ٢٣٤

"يثرب" چونکه کښته او لاندې علاقه وه په دې کې اکثريت د بارانو او به ډيرې درېدلې نو د دې ځای آب او هوا به ډېره مرطوب او تره وه د دې علاقې ته چې هغه ته "حمٰی يثرب" ويل کېدل په ټولو عربو کې مشهوره وه.
او په دې ټوله علاقه کې به زراعت کېدئ، مګر خاص زراعت او خاص باغونه به د خورماؤ وه، او د دې ځای خورماوې به تر ډېرو ځايو پورې رسېدلې.

## د مدينې منورې نومونه:

د مدينې منورې د "يثرب" څخه علاوه نور هم ډېر نومونه راغلي دي مثلاً: مدينة المنورة، مدينة الرسول، دار الايمان والهجرة، طابة، طيبه، طائبة، د مدينې منورې تقريبا (۷۰) ته نزدې نمونه دي، صاحب د "اتحاف" د مدينې منورې ډېر نومونه ليکلي دي خو په آخري کې يې دا ويلي دي چې د نومو کثرت هم د دې پر شرافت دلالت کوي خو د ټولو څخه زيات مشهوره نوم "مدينة منوره" دئ.
علماؤ ليکلي دي چې د دې نامه وجه د تسميه دا وه چې مدينه منوره نهايت پاک مقام وو د نجاساتو معنويه وو څخه هم لکه: شرک او کفر، او د نجاساتو ظاهره وو څخه هم.
او د هغه ځای د در او دېوال او د هر شي حتی چې د خاورو څخه هم نهايت ښائسته خوشبويي ولاړېدله، چې هغه خوشبويي بيا په بل شي کې نه پيدا کېدله.
د دغه خوشبويي ادراک اکثر اهل ايمان کولای سي خاص بيا هغه خلګ چې د هغوی زړونه د حضرت "سيد المرسلين" د محبت څخه لبرېز وي، هغه خلګ د دې "دلربا" خوشبويي د کيفيت څخه زيات خبر دي.

حضرت شيخ شبلي رحمة الله عليه فرمايلي دي: چي د مديني منورې په خاورو کي يو عجيبه خوشبويي ده چي هغه خوشبويي بيا په مشک او عنبرو کي هم هرگز نسته.

د مديني منورې په صفت کي د شيخ ابو عبدالله عطاء رحمة الله عليه دا شعر هم را نقل سوی دئ:

بِطِيْبِ رَسُوْلِ اللهِ طَابَ نَسِيْمُهَا...... فَمَا الْمِسْکُ وَالْکَافُوْرُ وَالصَّنْدَلُ الرَّطْبُ

د رسول الله د خوشبويي څخه د مديني هوا خوشبو داره ده نه مشک د هغه برابري کولای سي، او نه کافور، او نه تازه صندل.

امام مالک رحمة الله عليه به ويل چي کم څوک مدينه منوره خرابه وبولي يا د هغه ځای هغه خوشبو داره هوا خرابه وبولي نو هغه "واجب التعزير" دئ بايد چي په قيد کي واچول سي، تر دې وخته پوري چي په صداقت سره توبه و کاږي.

امام نووي رحمة الله عليه فرمايلي دي چي مدينه د دين څخه مشتق دئ چي معنی يې د اطاعت ده او په دې وجه دې ښار ته د غه نوم ور کول سوی دئ، چي په دې کي هم د الله اطاعت کيږي.

## د مديني منورې عظمت او فضيلت:

چي کم ښار الله جل جلاله د خپل محبوب دوجهان د قيام دپاره تجويز کړی وو نو د هغه ښار دپاره به تر دې زيات بل کم فضيلت وي چي الله جل جلاله د خپل محبوب د استوگني دپاره خوښ کړئ.

قاضي عياض رحمة الله عليه فرمايلي دي: چي هغه ځايونه چي د وحي په نزول سره آباد وه او قرآن پاک پکښي رانازلېدئ، او حضرت جبرائيل او مکائيل عليهما السلام به همېشه ورته حاضرېدل او د هغه په ميدانو کي به د الله جل جلاله د ذکر او تسبيح ږوږ وو، او د هغه خاوره به د حضور صلى الله عليه وسلم پر جسم اطهر باندي لگېدله، او هلته به د پېغمبر صلى الله عليه وسلم د ولاړي او د ناستي د تگ او راتگ ځايونه وه نو دا د دې قابل دي

چې د هغه ځايو انسانان تعظيم و کړي او د هغه خوشبو ګاني انسانان بوی کړي او د هغه په ذر او ديوال باندي خپل شونډان مشرف کړي.

د مديني منورې به د دې ځخه زيات عظمت او فضيلت نور څه وي چې دلته سردار دو جهان احمد مصطفٰی محمد مجتبٰی ﷺ د خپلي زندګی لس کاله تېر کړه او دلته د ده مسجد وو چې په هغه کي ده او د ده پاکو ملګرو لمنځونه کول.

او دلته هغه ميدان وو چې پر هغه باندي د حق او باطل معرکې راغلې او پر دې پاکه مځکه باندي د ميدان بدر او د ميدان احد شهيدان آرام کوي چې د هغو شهادتونه د ټوله امت دپاره يو د فخر نسبت دئ.

او پر دې مځکه باندي هغه "سعيد" اروحان ارام کوي چې کم چاته نبي صادق ﷺ په خپل ژوند کي د جنت زيري ور کړي وه، او پر دې مځکه مبارکه باندي په خپله نبي کريم ﷺ تشريف لرونکی دئ.

## د مديني منورې دپاره د برکت دعاء:

پيغمبر ﷺ به همېشه دعا غوښتله چي ای الله! د "ابراهيم خليل الله" په دعا باندي تا "مکه مکرمه" د امن ښار جوړ کړی دئ او د ټولي دنيا ځخه په راتلونکو مېوو دي آباد کړی دئ يا الله! زموږ په زړو کي د "مديني منورې" محبت واچوه او د "مديني منورې" برکات د "مکې مکرمې" ځخه دو چنده کړه.

الله جل جلاله د خپل حبيب دعاء د مديني په هکله قبوله کړې ده لکه ځنګه چي په "بيت الله" کي د سهاره ځخه بيا تر ماښامه پوري اويا زره فرشتې، او د ماښام ځخه بيا تر سهاره پوري هم اويا زره فرشتې طواف کوي.

داغه رنګه په "مدينه منوره" کي هم د سهاره څخه بيا تر مابنامه پوري، او د مابنامه څخه بيا تر سهاره پوري ملائکي راځي ﴿يَحُفُّوْنَ بِقَبْرِ النَّبِيِّ ﷺ﴾(۱) او د پيغمبر ﷺ پر قبر اطهر باندي خپل وزران وهي او برکت څني حاصلوي او درود او سلام پر وايي.

## د مدينې منورې قبائل:

زيات و کم د پيغمبر ﷺ د هجرت څخه زر (۱۰۰۰) کاله مخکي د "يمن" څخه دوه ورونه را مهاجر سوه او د "مدينې منورې" پر مځکه باندي آباد سوه، د يوه نوم "اَوس" وو او د بل نوم "خزرج" وو، د دوی د پلار نوم "حارثه" او د مور نوم يې "قيله" وه په دې وجه د "اَوس" او "خزرج" قبائلو ته "بنو قيله" وايي.
چي کله پيغمبر ﷺ "مدينې" ته هجرت را وکړئ نو په دې وخت کي په "مدينه" کي دوې لوی قبيلې د "اوس او خزرج" آبادي وې.
هغه دوو قبيلو ډېر زيات ښاخونه په جلا جلا نومو مشهوره وه بنو نجار، بنو ساعده، بنو عوف، بنو عمرو، او په دې وخت کي د "مدينې منورې" آبادي د "عوالي" او "اسافلو" سره تقريبا شپږ زره وه، دوی به د يو مشهور بت چي د هغه نوم "المنات الطاغيه" وو عبادت کوئ.
د "اَوس" او "خزرج" مشران دوه کسان "عبدالله ابن ابی ابن سلول" د "خزرج" قبيلې سردار وو، او "ابو عامر ابن سيفي ابن نعمان" د "اوس" قبيلې رئيس او امير وو(۲).

---

(۱) سلوة الكئيب بوفاة الحبيب: جزء ۱ صفحه: ۱۸۲
(۲) خطبات کريم جلد: ۱ صفحه: ۲۷۰

## په مدينه منوره کي د پيغمبر ﷺ انتظار:

د تورات، د پيشگويانو مطابق يهود د يو راتلونکي نبي متنظر وه چي هغوی به د هغه علامې هم بيانولې، او د هغو علامو څخه دا معلومېدله چي "مدينه منوره" به د هغه د هجرت ځای وي.
او د هغه نبي د راتلو په اُميد د يهودو ځه اباء او اجداد دلته آباد سوه، چي دې ځکه ته به د "نبي آخر الزمان" راتګ وي.

## په مدينه منوره کي د اسلام ابتداء:

په "مدينه منوره" کي زياته آبادي د "اَوس" او د "خزرج" وه، چي هغه مشـركان او بت پرسته وه او د دوی سره يهود هم اوسېدل چي هغه به اهل کتاب او اهل علم وه، يهود چونکه ډېر لږ وه، د دوی چي به کله د "اَوس" او د "خزرج" سره يو جګړه راغله، نو يهودو به دا ويل چي ډېر ژر به دې ځکي ته "نبي آخر الزمان" راځي موږ به د هغه ملګري کوو، او تاسو به د قوم "عاد" او قوم "اِرم" غوندي هلاک او برباد وو.
يو ځل چي کله د حج موسم راغلئ نو د "خزرج" يو ځه کسان "مکې مکرمې" ته راغله دا غالبا د نبوت يوولسم کال وو پيغمبر ﷺ د دوی سره ملاقات و کړئ، او دوی ته يې د قرآن تلاوت وکړئ، او د اسلام دعوت يې ور کړئ.
دې خلکو چي کله پيغمبر ﷺ وليدئ دستي يې و پيژندئ او په خپل مايين کي به يې يو او بل ته سره ويل چي دا هغه نبي دئ چي "يهود" د کم "نبي" ذکر موږ ته په "مدينه" کي کوي، هسـي نه چي په دې فضيلت او سعادت کي "يهود" زموږ څخه مخته سي، نو دوی د دغه مجلس د ولاړېدو څخه مخکي اسلام قبول کړئ.
او پيغمبر ﷺ ته يې وويل چي ای د الله رسوله! موږ خو پر تا باندي ايمان راوړئ د "يهودو" سره اکثره زموږ جګړې وي که ته موږ ته اجازت راکړې، نو

موږ به واپس ولاړ سو، هغوی ته به هم د اسلام دعوت ور کړو، که چیري هغه هم دا دعوت قبول کړي، او موږ او هغه سره متفق سو، نو بیا به الله ﷻ اسلام ته ډېر قوت او غلبه ور کړي.
دغه ایمان راوړونکي انسانان د قبیله "خزرج" څو کسان وه چي د هغو نومونه په دې شکل وه: اسعد بن زراره، عوف بن الحارث، رافع بن مالک بن عجلان، قطبه بن عامر، عقبه بن عامر، جابر بن عبدالله بن رباب ﷺ(۱).
دا شپږ حضراتو د پیغمبر ﷺ څخه رخصت را واخیستئ "مدینې منورې" ته راغله په هر مجلس کي به یې د پیغمبر ﷺ ذکر کوئ، آخر نوبت دې حد ته راورسېدئ چي د "مدینې منورې" هیڅ کور او مجلس د پیغمبر ﷺ د ذکره څخه خالي نه وو.

## د انصارو اولنی بیعت:

چي کله دوهم کال راغلئ د نبوت دولسم کال وو نو دوولس کسان د پیغمبر ﷺ ملاقات ته "مکې مکرمې" ته حاضر سوه، پنځه کسان خو د هغه مخکني شپږو څخه وه او اووه نور کسان د دوی څخه علاوه وه.
دې دولسو کسانو د شپې په وخت کي د "منٰی" په دره کي و "عقبه" ته نږدې د پیغمبر ﷺ پر لاس باندي دا بیعت وکړئ.
چي موږ به شرک نه کوو، نه به غلا او زنا کوو، او نه به اولاد قتل کوو، او نه به پر چا باندي بهتان او تهمت وایو.
دا د انصارو اولنی بیعت وو چي هغه ته بیعت "عقبه اولٰی" وایي، چي کله دا خلګ د بیعت کولو څخه وروسته "مدینې منورې" ته راغله، نو پیغمبر ﷺ عبدالله ابن مکتوم ﷺ او مصعب ابن عمیر ﷺ د اسلام د احکامو او د قرآن د

(۱) ابن هشام عبدالملک سیرة النبي جلد ۲ صفحه ۴۰

تعليم ور كولو دپاره د دوى سره واستول، او په "مدينه منوره" كي د "اسعد ابن زراره" په كور كي اوسېدله.
مصعب ابن عمير ﷺ به خلكو ته د اسلام دعوت ور كوئ، او هم به په "مدينه" كي د مسلمانانو امام وو هغوى ته به يې د جماعت لمونځونه ور كول(١).

## د پيغمبر ﷺ مديني منورې ته راتګ:

لكه څنګه چي د نبوت ابتداء په رويائي صالحه (رشتني خوبونه) سره وه داغه رنګه د هجرت ابتداء هم په په رشتني خوبو سره وه په اول سر كي پيغمبر ﷺ ته په خوب كي الله ﷻ د هجرت ځاى ور ښكاره كړئ لېكن نوم او مقام يې نه ور وښوئ، صرف اجمالا الله ﷻ دومره ور ښكاره كړه چي ته به يو "نخلستان" ځكي ته يعني (د خورماؤ د درختو) څخه ډكي ځمكې ته هجرت كوې.
د پيغمبر ﷺ خيال دا وو چي زما د هجرت ځاى به شايد "يمامه" يا "حجر" وي، دى په داغه تَرَدُّد او فكر كي وو چي الله ﷻ د وحى په ذريعه باندي د "مديني منورې" تعين ورته وكړئ، پيغمبر ﷺ خپلو صحابه وو ته د "مديني منورې" و طرفته د هجرت كولو مشوره ور كوله(٢).

## په دارُ الندوه كي د پيغمبر ﷺ د قتل مشوره:

صحابه كرامو يو د بل څخه وروسته كرار كرار "مدينې" ته هجرت شروع كړئ اكثر صحابه كرام د "مكې" څخه "مدينې" ته د هجرت كولو په غرض ولاړل.

(١) خطبات كريم جلد ١ صفحه ٢٧٣
(٢) زرقاني شرح مواهب لدنيه جلد ١ صفحه ٣١٨

د پيغمبر ﷺ سره د ابوبکر رضي الله عنه او د حضرت علي رضي الله عنه څخه ماسوا داسې خاص څوک نه وو مګر يو څو کمزوري او بې کسه مسلمانان چې د کفارو تر لاس لاندې وو هغه هم په "مکه" کې ګرځېدل.
قريشو چې کله دا وليدل چې صحابه کرام کرار کرار هجرت کوي او پيغمبر ﷺ هم نن سبا د هجرت په فکر کې دئ، نو د مشورې د پاره په "دارُالندوه" کې سره را جمع سول او مشوره يې پر دې باندې وکړه، چې محمد ﷺ به قتل کوو، نو د پيغمبر ﷺ پر قتل باندې مشوره او مجلس ختم سو.
بل طرفته جبرائيل عليه السلام د الله جل جلاله وحی پيغمبر ﷺ ته را وړې او په هغه کې يې د قريشو د مشورې حال ورته ښکاره کړئ: ﴿وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ﴾(۱). ای پيغمبره! هغه وخت در ياد کړه چې کافرانو ستا په باره کې تدبيرونه کول چې يا به تا قيد کوو يا به دې قتل کوو يا به دې د وطن څخه باسو او رنګارنګ تدبيرونه يې کول الله جل جلاله بهترين تدبير کوونکي ذات دئ.
نو جبرائيل عليه السلام پيغمبر ﷺ د قريشو په مکمله مشوره خبر کړئ او د الله جل جلاله د طرفه يې د مدينې طرفته د هجرت کولو پيغام ورته راورسوئ او هم يې د دې دعاء تلقين ورته وکړئ: ﴿وَقُلْ رَبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَلْ لِي مِنْ لَدُنْكَ سُلْطَانًا نَصِيرًا﴾(۲). او دا دعاء غواړه چې ای پروردګاره! ما په رښتني رسېدو سره ورسوې او په رښتني را وتلو سره مي راوباسې او يا الله! زما مدد او نصرت وکړې.

(۱) الانفال آيت نمبر: ۳۰
(۲) الاسراء آيت نمبر: ۸۰

## د حضرت ابو بكر ﷛ نېک بختي:

د حضرت علي ﷛ روايت دئ چي نبي اكرم ﷺ د جبرائيل ؈ څخه پوښتنه وكړه چي زما سره به څوک هجرت كوي حضرت جبرائيل ؈ ورته وويل ابوبكر ﷛ (¹).

په "بخاري شريف" كي د حضرت عائشي ﷝ روايت دئ چي پېغمبر ﷺ د غرمې په وخت كي د ابوبكر ﷛ كورته راغلئ او دا يې وويل چي ماته خو د هجرت اجازت د الله ﷻ د طرفه وسو.

ابوبكر ﷛ ورته وفرمايل چي زما مور او پلار دي تر تا قربان وي ايا ما به د ځان ملګرى كړې؟ پېغمبر ﷺ ورته ويل هو ته به زما ملګرى يې.

د "ابن اسحاق" روايت دئ ابوبكر ﷛ چي دا واورېدل نو د خوشحالۍ څخه په ژړا شروع سو، "حضرت عائشه" وايي چي د دې څخه مخكي زما په دې سر نه خلاصېدئ چي د ډېري خوشحالۍ څخه هم يو څوک ژړا كوي.

حضرت ابوبكر ﷛ د وختي څخه لا د هجرت دپاره دوه اوښان تيار كړي وه چي د څلورو مياشتو څخه يې هغو ته صرف د "كيكر" د درختو پاڼي ور اچولې، پېغمبر ﷺ ته يې وويل چي زما مور او پلار دي تر تا قربان وي چي په دې دوو اوښانو كي دي كم يو خوښ دئ نو هغه تاته هديه دئ.

پېغمبر ﷺ ورته وويل چي بغير د قيمته يې نه اخلم، نو پېغمبر ﷺ هغه اوښه د ابوبكر ﷛ څخه په قيمت واخيسته او پېغمبر ﷺ د ابوبكر ﷛ په ملګرتيا كي د هجرت په سفر د "مكې مكرمې" څخه "مدينې منورې" ته روان سو.

---

(¹) رواه الحاكم وقال صحيح الاسناد وقال الذهبي صحيح غريب.

## د "تُبَّعْ" بادشاه مدينې ته راتګ:

د پیغمبرﷺ د نبوت څخه (۷۰۰) کاله مخکي د "یمن" يو بادشاه "تُبَّعْ" وو، "مدينې منورې" ته راغلئ د دې ځای د خلګو سره يې جنګ سو او د "مدينې" عجيب خلګ وه.
ورځ به يې د ده سره په جنګ کي تېروله او ماښام به يې د يو مېلمه په شکل ده او د ده فوج ته د خپلو کورو څخه خورکه ور استوله، او ده ته به يې د مېلمه په نظر کتله.

نو "تُبَّعْ" بادشاه ته ډېره حيا ودرېدله چي زه د ورځي د دوی سره جنګېږم او ماښام دوی زما مېلمستياوي کوي نو هغه خپل بچی د ځان پر ځای نائب جوړ کړئ دلې يې پرېښوئ دی په خپله "مکې" ته ولاړئ.
ددې څخه وروسته په يو جنګ کي د ده بچی "مدينې والا وو" قتل کړی نو هغه "تُبَّعْ" بادشاه په ډېره زياته غصه کي واپس "مدينې" ته راغلئ او دا يې فيصله کړې وه، چي زه به دا ښار نېست او نابود ګرځوم.
لېکن د ده سره ملګري (۴۰۰) د تورات علماء وه هغوی دا ورته وويل چي دا خو هغه ښار او مځکه ده چي زموږ په کتابو کي دا ليکلي دي چي دا به "نبي آخر الزمان" مسکن وي.
نو هغه علماء يو دا خواست څني وکړئ چي دا ښار مه خرابه وه او دوهم خواست يې دا وکړئ چي موږ دلې پرېږده او په دې ښار کي د قيام کولو اجازت راکړه.

## د پيغمبرﷺ دپاره مکان تيارول،

"تُبَّعْ" بادشاه هغه علماؤ ته په "مدينه منوره" کي د قيام کولو اجازت ور کړئ او د هر يوه دپاره يې عليحده عليحده مکان تيار کړئ او د ټولو نکاحونه يې وکړل او هر يوه ته يې په ډېره غټه اندازه مال ور پرېښوئ.

او يو خاص مکان يې د پيغمبرﷺ پر نامه باندي جوړ کړی او دې علماء ته يې داوويل چي کله نبي آخر الزمان دې ځکې ته راسي نو هغه به په دغه مکان کي قيام کوي او د پيغمبرﷺ پر نامه يې يو خط وليکئ چي په هغه کي يې د خپل اسلام او د پيغمبرﷺ د ديدار شوق ښکاره کړئ، چي د هغه خط مضمون په دې ډول وو:

شَهِدْتُ عَلَى أَحْمَدَ أَنَّهُ ... نَبِيٌّ مِنَ اللهِ بَارِي النَّسَمْ

فَلَوْ مُدَّ عُمْرِي إِلَى عُمْرِهِ ... لَكُنْتُ وَزِيرًا لَهُ وَابْنُ عَمْ

وَجَاهَدْتُ بِالسَّيْفِ أَعْدَاءَهُ ... وَفَرَّجْتُ عَنْ صَدْرِهِ كُلَّ هَمْ(۱)

زه ګواهي ورکوم چي "احمد" د الله ﷻ بر حق رسول دئ، که چيري زما عمر د ده عمر ته ورسيږي زه به ضرور د ده معاون او مددګار يم، او د ده د دښمنانو سره به جهاد کوم، او د ده د زړه څخه به هر غم ليري کوم.

او دا خط يې يو عالم ته په لاس ور کړئ او دا يې ورته وويل که چيري هغه "نبي" ستا په زمانه کي راغلئ نو دا زما عارضه ورته پيش کړه ورنه خپل اولاد ته دا وصيت وکړه چي زما خط هغه "نبي" ته ورسوي.

## د خوشحالۍ اظهار:

پيغمبرﷺ چي کله د هجرت په سفر د ابو بکرؓ په ملګرتيا کي "مديني منورې" ته راورسېدئ.

د "بخاري شريف" روايت دئ چي "اهل مدينه" په يو شي باندي دومره خوشحاله نه وه ليدل سوي لکه: د رسول اللهﷺ په راتګ باندي چي څومره خوشحاله وو(۲).

(۱) اعلام النبوة لماوردي جزء ۱ صفحه ۱۷۳

(۲) بخاري شريف جلد ۱ صفحه ۵۸۵

د حضرت انس ﷺ روايت دئ چي کله پيغمبر ﷺ "مدينې" ته تشريف راوړئ نو د "مدينې" هره زره زره دېره روښانه وه او چي په کمه ورځ باندي پيغمبر ﷺ د دنيا څخه رحلت وکړئ نو هر شی د "مدينې والا" په سترګو کي تاريک معلومېدئ. "مدينې والاؤ" د پيغمبر ﷺ پر قبر د خاورو اړولو څخه خپل لاسونه لا نه وه صفا کړي چي هغه بيا د خپلو زړونو په متغير کېدلو پوه سوه(١).

چي "مدينې" ته راورسېدل د "مدينې" په لاره کي د پيغمبر ﷺ اوښه مبارکه په ډېر کرار کرار شان راروانه وه د ده راسته او چپه طرفته د نبوت عشاق "اهل مدينه" ورسره وه، هر سړي دا کوښش کوئ چي د پيغمبر ﷺ د اوښي مهار ونيسي او په خپل کور کي يې مېلمه کړي لېکن پيغمبر ﷺ به ورته ويل: ﴿خلوا سبلها فإنها مأمورة﴾(٢) لاړ ور ايله کړئ دا د الله ﷻ د طرفه مامور ده.

بالآخر هغه اوښه د "بني نجار" په قبيله کي چي د پيغمبر ﷺ د ماماوالي قرابت هم ورسره وو، خود بخود پر هغه ځای باندي کښېنستله چي پر کم ځای اوس د "مسجد نبوي" باب السلام دروازه ده.

پيغمبر ﷺ د اوښي څخه نه سو شوه يو څه وخت بعد هغه اوښه بيا پورته سوه او د حضرت ابو ايوب انصاري ﷺ د مکان پر دروازه کښېنستله او يو وخت بعد بيا ولاړه سوه بيرته هغه اول ځای ته راغله کښېنستله او خپله غاړه يې پر مځکه کښېښوله په دې وخت کي پيغمبر ﷺ د اوښي څخه را شوه سو، او حضرت ابو ايوب انصاري ﷺ د ده سامان خپل کورته دننه کړئ.

(١) جامع الترمذي جلد ٢ صفحه ٢٠٣
(٢) شرف المصطفى حديث نمبر: ١١٨

## د پيغمبرﷺ په خپل مکان کي قيام کول:

ابو ايوب انصاريؓ د هغه عالم په اولاد کي وو او دا مکان هم هغه وو، چي "تُبَّعْ" بادشاه د پيغمبرﷺ دپاره جوړ کړی وو او دا نور د "مديني منورې" انصار دا د هغه څلورو سوو علماء اولاده وه چي د پيغمبرﷺ د راتګ په انتظار کي يې دلته کورونه جوړ کړي وه.

نو د پيغمبرﷺ اوښه د هغه مکان پر دروازه باندي چوکه سوه.

شيخ زين الدين مراغي رحمة الله عليه فرمايي که څيري انسان دا ووايي چي پيغمبرﷺ په "مدينه منوره" کي د ابو ايوب انصاريؓ په مکان کي نه بلکه په خپل مکان کي قيام شروع کړی نو هم به بې ځايه نه وي.

ځکه چي دا مکان په اصل کي د ده دپاره تيار سوی وو، او ابو ايوب انصاريؓ قيام په دې مکان کي صرف د پيغمبرﷺ د راتلو پوري اوسېدئ.

د پيغمبرﷺ د راتګ څخه وروسته حضرت ابو ايوب انصاريؓ هغه رکعه لو خط چي په هغه کي اشعار ليکلي وه د "تُبَّعْ" بادشاه د طرفه څخه د ده په خدمت کي پېش کړئ: وَاللهُ أَعلَم(١).

## د پيغمبرﷺ په لاندي مکان کي قيام کول:

د حضرت ابو ايوب انصاريؓ هغه مکان په دې وخت کي دوه چته وو نو ده ډېر اصرار و کړئ چي ای د الله رسوله! ته پورته په بالا خانه کي اوسېږه او موږ به لاندي اوسېږو.

لېکن پيغمبرﷺ په دې نيت چي ماته خو ډېر خلک راځي که څيري ابوايوب انصاريؓ په لاندي مکان کي وي هسي نه چي د انسانانو د آمد او رفت څخه

---

(١) سهيلي، روض الانف جلد: ١ صفحه: ٢۴

د ده و کورنۍ ته تکليف وي نو په دې وجه باندي ده په بالا خانه کي استوګنه اختيار نه کړه لاندي مکان يې د ځان دپاره خوښ کړئ او په لوړ مکان کي حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه او د هغه اهل اوسېدئ.
يو ځل داسي پېښه راغله چي د دوی په کور کي د اوبو لوښی مات سو دوی په ډېره بيره کي چي هسي نه چي اوبه لاندي مکان ته ورونه وزي حضرت ابو ايوب او ام ايوب رضي الله عنهما د کور په کپړو باندي اوبه وچولې تر دې حده پوري چي د دوی په ټوله کور کي وچه کپړه پاته نه سوه(۱).

## د پېغمبر ﷺ پياز او وږه ناخوښه وه:

حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه وايي: چي موږ به روزانه د پېغمبر ﷺ دپاره خوړکه تياروله او بيا به مي ور استوله، د پېغمبر ﷺ د خوړلو څخه وروسته چي څه به پاته وه هغه به واپس راتله.
چي په کم ځای باندي به د رسول ﷺ د ګوتو نښان وو په هغه ځای کي به ابو ايوب او ام ايوب رضي الله عنهما تبرګا خپلي ګوتي اچولې او خوړک به يې ځني کوئ.
حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه وايي: چي يوه ورځ موږ په خوړکه کي وږه او پياز ګډ کړه چي کله د پېغمبر ﷺ څخه خوړکه واپس راغله نو په هغه کي د پېغمبر ﷺ د ګوتو نښان نه وو موږ په ډېر خوف کي ورغلو چي ای د الله رسوله! تا خوړکه داسي را استولې ده چي په هغه کي ستا د ګوتو نښان نه دئ لګېدلئ، نو زه او أمّ أيوب چي کله په خوړکه کي ستا د ګوتو نښان نه وينو نو د څه څخه به برکت حاصل کړو.

---

(۱) خطبات کريم جلد ۱ صفحه: ۲۸۴

پيغمبرﷺ ورته وفرمايل چې په دې خورکه کې د ورې او پيازو بوی وو نو تاسو يې وخورئ زه چونکه د فرشتو سره خبرې کوم نو ځکه د دې خورکې څخه پرهېز کوم.

حضرت ابو ايوب انصاري ﷺ وايي چې د دې څخه وروسته بيا مونږ هيڅکله هم د پيغمبرﷺ په خورکه وره او پياز ګډ کړي نه دي(۱).

## د مسجد نبوي بنياد:

په دې زمانه کې پيغمبرﷺ د "مسجد نبوي" بنياد کېښښوئ د "مسجد نبوي" ځمکه د دوو بچيانو په قبضه کې وه چې د هغو نوم "سهل" او "سهيل" وو هغو به دلته خورماوي وچولې نو هغه دوو بچيانو پيغمبرﷺ ته وويل چې مونږ دا ځمکه بلا عوضه تاته درکوو.

لېکن پيغمبرﷺ انکار وکړئ بيا د "مسجد نبوي" د ځمکې اولنۍ قيمت حضرت ابوبکر صديق ﷺ ادا کړئ د هغه څخه وروسته پر دې ځمکه باندې د خورماوو يو څه درختې وې هغه يې کاټ کړې او د مشرکانو يو څه قبرونه وه هغه يې هوار کړه.

بيا کچه خښتې جوړېدلې پيغمبرﷺ په خپله په هغه کې مصروف وو او په دې کار کې انصار او مهاجر هم د ده سره شريک وه پيغمبرﷺ به چې کله خښتې راوړلې نو دا رجز او دا شعر به يې ويلئ:

هٰذَا الحِمَالُ لاحِمَالَ خَيْبَرْ * هٰذَا أَبَرُّ رَبَّنَا وَأَطْهَرْ

اَللّٰهُمَّ إِنَّ الأَجْرَ أَجْرُ الآخِرَة * فَارْحَمِ الأَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَة. (۲)

---

(۱) الروض الانف جزء ۲ صفحه ۲۷۹

(۲) السيرة النبوية لابن كثير باب الهجرة، صفحه ۲۵۱

دا د خيبر د خورماؤ بوج نه دئ اى پرودګاره دا بوج د ټولو څخه عمده او بهتر دئ، اى الله! بلا شبه اجر خو د آخرت اجر دئ پس ته پر انصارو او مهاجرو باندي رحم وکړه چي د آخرت د اجر غوښتونکي دي.

او د صحابه کرامو ﷺ پر ژبو به دا وه:

لَئِنْ قَعَدْنَا وَالنَّبِيُّ يَعْمَلُ * لَذَاكَ مِنَّا الْعَمَلُ الْمُضَلَّلُ

که چيري موږ کښېنو او نبي کار کوي نو دا ناسته زموږ دپاره بدترين کار دئ([1]).

په خښتو راوړلو کي عثمان ابن مظعون ﷺ هم وو هغه چونکه ډېر "نظيف الطبع وو" په مزاج کي يې صفائي ډېره وه چي کله به يې خښتي راوړلې نو د کپړو څخه به يې ليري نيولې وې او چي پر کپړو به يې لږ ګرز راغلئ نو هغه به يې دستي څنډئ، حضرت علي ﷺ به بطور مذاق د حضرت عثمان ﷺ د اورېدلو دپاره دا اشعار ويل:

لَا يَسْتَوِي مَنْ يَعْمُرُ الْمَسَاجِدَا

يَدْأَبُ فِيهِ قَائِمًا وَقَاعِدًا

وَمَنْ يُرَى عَنِ الْغُبَارِ حَائِدًا. ([2])

چي کم سړی د مسجد په تعمير کي په ناسته او ولاړه سرګردان دئ او هغه سړی چي خپلي کپړې د خاورو څخه ګوري سره برابر نه دي.

## د ازواج مطهرات د حجرو بيان:

په مدينه منوره کي قِبله چونکه د جنوب په طرف کي راغې پيغمبر ﷺ د مسجد په مشرقي طرف کي دوې حجرې جوړي کړې، يوه د حضرت سوده ﷺ او

---

([1]) سيرة ابن هشام الباب اخبار الرسول ﷺ بعمار، صفحه: ۴۹۶

([2]) سيرة ابن هشام الباب وصاة الرسول ﷺ بعمار، صفحه: ۴۹۷

دوهمه د حضرت عائشې ﷺ وه چې په هغه کي اوس د پيغمبر ﷺ قبر دئ د قبر د پښو طرفته چې کم ځاى خالي دئ بعض حاجيان هغه ته هم سلام وايي دا د حضرت سودې ﷺ حجره وه.

او د دې وشاته د حضرت ام سلمة ﷺ حجره وه د "باب النساء" سره د پيغمبر ﷺ د نورو زنانو مباركانو حجرې وې په اږدوالي (۱۵) پوټه او په پراخ والي (۹) پوټه يوه حجره وه چې د هغه سره يو غولى وو او د هغه چت د خورماؤ د پانو څخه وو او پر هغه باندي پرده را ځړېدله دا د پيغمبر ﷺ حجره مباركه وه.

د (۸۰) هجري څخه بعد چې د "وليد ابن عبدالملک" په زمانه کي د "مسجد نبوي" د پراخ والي ضرورت راغلئ دا "حجرې مباركي" ونړول سوې، او په "مسجد" کډي سوې.

حضرت سعيد ابن المسيب رحمة الله عليه فرمايلي دي: چې کله حجرې نړېدلې په دې ورځ د "مديني" انسانانو دومره وژړل چې د دې څخه مخکي يې هيڅ کله دومره نه وه ژړلي او دا به يې ويل چې کاشکي دا حجرې ولاړي پاته واى، چې تر قيامته څومره حاجيان راتلاى او د پيغمبر ﷺ زيارت ته يې حاضري را ورلاى.

او د پيغمبر ﷺ دا حجرې مباركي يې ليدلاى چې د کائناتو امام د خپل زهد او پرهيز زندگي په کم شکل او په کم قسم مکانو کي تېره کړه.

چې پر کم ځاى باندي حاجيان درېږي او روضې ته سلام وايي دا د حضرت حفصې ﷺ حجره وه، چې تر هغه تېر سي نو بيا د ابوبکر ﷺ سر ته سلام وايي، او چې تر هغه څو قدمه تېر سي، نو بيا پر حضرت عمر فاروق ﷺ باندي سلام وايي.

## د ټولو څخه افضل ځای:

د مدینې منورې متعلق د ابن قیم رحمة الله علیه او ابن عقیل رحمة الله علیه څخه پوښتنه وسوه چې دا ځای یعني "مدینه منوره" افضله ده او که بیت الله؟ حج خو په "بیت الله" کې ادا کیږي لېکن فضیلت به د کم مکان زیات وي؟
ده په جواب کې ورته وویل که چیرې ستاسو مراد دېوالونه وي نو بیا خو د بیت الله دېوالونه ډېر افضله دي او که چیرې ستاسو هغه ذات مراد وي چې په "روضه مبارکه" کې آرام کوي، (انسان په هغه ځای کې دفن کیږي چې د هغه ځایه څخه ملائکې یو زره د خاورې را واخلي د ده د پلار په نطفه یې ګډه کړي او دی ځنې پیدا سي هم پر هغه ځای د انسان قبر جوړیږي) نو بیا خو دا ځای "بیت الله" خو څه کوې د اوو آسمانو او د اوو مځکو او د الله د "عرش" څخه هم افضل دئ.
ځکه "عرش" هم یو مخلوق الله جل جلاله خو د مکان څخه پاک دئ دا نه چې الله جل جلاله پر "عرش" باندې ناست دئ، پر "عرش" صرف د الله جل جلاله تجلیات راځي، داغه رنګه په "بیت الله" کې هم موږ د دېرو طواف نه کوو بلکه هلته چې کم د الله جل جلاله رحمت راځي موږ د هغه طواف کوو ځکه الله جل جلاله د کوره څخه هم پاک دئ نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ټولو مخلوقاتو کې هغه که "عرش" وي، هغه که "جنت" وي، هغه که "بیت الله" وي، هغه که آسمانونه وي، او که مځکې وي افضل دئ نو په کم ځای کې چې آرام کوي هغه د ټولو څخه افضل دئ.

## د یو اعرابي د مغفرت واقعه:

حافظ ابن کثیر رحمة الله علیه لیکلي دي چې "محمد ابن حرب هلالي" وایي زه "مدینې منورې" ته راغلم، او د "قبر" زیارت مې وکړئ او مخته کښېنستم یو "اعرابي" راغلئ او دا یې وویل چې ای د الله جل جلاله رسوله! الله جل جلاله خو فرمایي:
﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا

رَّحِيمًا﴾(١). كه چيرې دا خلك پر خپل ځان ظلم و كړي او ـ تا ته راسي د الله ﷻ نه بخښنه وغواړي او د رسول ﷺ هم د دوی دپاره معافي وغواړي، نو ضرور الله ﷻ د دوی توبه قبلوي.

د هغه ځخه وروسته هغه "اعرابي" وويل چي بېشكه ما پر خپل ځان ظلم كړی دئ او ای د الله رسوله! د ګناهو څخه استغفار كوم او تا د خپل ځان دپاره د شفيع جوړوم او بيا يې پر دې قبر باندي ډېر زيات وژړل او د رسول الله ﷺ په عشق كي يې يو دوه اشعار پېش كړه.

چي څوارلس سوه كاله بعد اوس هم د پيغمبر ﷺ د روضې پر جالۍ باندي ليكلي دي:

يَا خَيْرَ مَنْ دُفِنَتْ بِالْقَاعِ أَعْظُمُهُ * فَطَابَ مِنْ طِيبِهِنَّ الْقَاعُ وَالْأَكَمُ

نَفْسِي الْفِدَاءُ لِقَبْرٍ أَنْتَ سَاكِنُهُ * فِيهِ الْعَفَافُ وَفِيهِ الْجُودُ وَالْكَرَمُ.(٢)

ای بهترين تر هغه ټولو خلكو! چي د هغو هډونه په مځكه كي ښخ سول، چي ستا د ښخ سوو هډو خوشبويي په مځكه او اطرافو راغله.

زما نفس دي قربان تر هغه قبر وي چي ته پكښي مقيم يې چي په هغه كي عفت دئ او په هغه كي جود او كرم دئ.

د هغه څخه وروسته هغه "اعرابي" د استغفار طلب وكړئ او ولاړئ. "عتبي" وايي چي زما سترګي سره ورغلې نبي اكرم ﷺ په خوب كي را حاضر سو او راته ويې ويل چي ورسه هغه "اعرابي" ته ووايه چي ما ستا شفاعت د الله ﷻ په دربار كي وكړئ، او الله ﷻ قبول كړئ.

---

(١) النساء آيت نمبر: ٦۴

(٢) ابن كثير سورة النساء، آيت ٦۴ الى ٦٥

اکثر حضراتو داغه دوه شعرونه رانقل کړي مګر امام نووي رحمة الله علیه په خپل مناسک کې د دې څخه وروسته د "اعرابي" يو دوه نور شعرونه هم رانقل کړي دي:

أَنْتَ الشَّفِيْعُ الَّذِيْ تُرْجٰى شَفَاعَتُهُ * عَلَى الصِّرَاطِ إِذَا مَا زَلَّتِ الْقَدَمُ
وَصَاحِبَاكَ فَلَا أَنْسَاهُمَا أَبَدًا * مِنِّي السَّلَامُ عَلَيْكُمْ مَا جَرَى الْقَلَمُ. (۱)

ته داسي شفاعت ګرېې چي موږ ټول ستا د شفاعت امید واران يو په هغه وخت کي چي قدمونه پر پل صراط باندي ښوييږي.
او ستا دوه ملګري هيڅ کله نه سم هېرولای زما د طرفه دي پر تاسو باندي سلام وي چي تر څو پوري په دنيا کي د ليکلو دپاره قلم چليږي.

## د مديني حفاظت:

يو ځل د "انطاکيه" څخه يو څه بد بخته عيسايان د مسلمانانو په شکل کي راغلل او هغوی دا غوښتل چي موږ "انطاکيه" ته د رسول پاک ﷺ جسد مبارک يوسو.
چي کله دوی "مديني" ته را داخل سوه نو په "مدينه منوره" کي يو زوزوره سيلۍ او هواء راغله چي دوی يې ووهل د "مديني" څخه يې دباندي وغورځول.
بيا دوهم ځل يو څه کسانو دا شرارت وکړئ د "انطاکيه" بادشاه چي کله خبر سو نو هغه شرير انسانان يې ونيول او د آسانو په لکيو پوري يې وتړل او آسان يې په ټوله ښار کي وګرځول او د هغه انسانانو څخه يې پوستونه واړول او دا يې وويل که يو چا دوهم ځل دا نيت وکړئ د هغه به دا حال وي.

(۱) تاريخ الخميس الباب ذکر زيارة النبي ﷺ صفحه: ۱۷۵

**سلطان زنګي رحمة الله عليه او د مدينې حفاظت:**

سلطان نور الدين زنګي رحمة الله عليه ډېر عابد انسان وو چې د يو عظيم سلطنت د بادشاهت سره سره داسې مرد درويش وو چې د هغه شپې به ټول ـ مصلي باندې تېرېدلې او ورځ به يې د جهاد په ميدان کې تېرېدله.

د هغه به همېشه دا معمول وو چې د شپې به يې ډېر زيات نوافل کول او بيا به يې ډېر زيات درود ويلئ، لږ وخت به يې آرام کوئ بيا به تر سهاره پورې په عبادت کې مشغوله وو.

**په خوب کې د پيغمبر ﷺ زيارت:**

په (۵۵۷) هجري کې يوه شپه د خپلو وظيفو او نوافلو څخه چې کله فارغ سو نو په خوب کې درې ځله پيغمبر ﷺ ورته حاضر سو.

په بعض رواياتو کې راځي چې سلطان متواتر درې شپې پيغمبر ﷺ په خوب وليدئ هر ځل پيغمبر ﷺ دوو کسانو ته اشاره کوې او دا وايي چې اې نورالدين! دا کسان ماته تکليف را کوي، او د دوی د شر څخه ما خلاص کړه.

سلطان "نورالدين" چې کله دا خوب وليدئ په سخت اضطراب کې سو، بار بار استغفار او درود شريف وايي؛ او د ځان سره دا وايي چې زما مال او زما آل او اولاد دې ټول پر سردار د "مدينې" قربان وي الله تعالی دې "نور الدين" ته نور ژوند نه ورکوي چې حضور ﷺ ته به تکليف رسيږي او دی به په "دمشق" کې په آرامه سره ژوند تېروي.

**د سلطان نورالدين پرېشاني:**

سلطان نورالدين بې آرامه سو د ده دا يقين سو چې په "مدينه منوره" کې ضرور يو پرېشانونکې واقعه ده چې د هغه څخه د "سردار کونين" و روح اقدس ته تکليف رسېدلی دئ.

چي کله د خوب څخه راپورته سو شل کسان يې د خپل دولت وزيران د ځان سره ملګري کړه او ډېره لويه خزانه يې پر آسانو او اوښانو را بار کړه د "مدينې" پر طرف را روان سو. "اهل دمشق" چي کله د سلطان يو دم د سفر کولو عزم وليدئ ډېر حيران سو، لېکن چاته معلومه نه وه چي اصل قيصه څه ده.

## د اهل مدينې دعوت:

د "دمشق" څخه "مدينې منورې" ته په رارسېدلو کي عام طور شل پنځه ويشت ورځي لګېدلې لېکن سلطان دا فاصله په نهايت تېزي سره پرې کړه او شپاړسمه ورځ "مدينې منورې" ته راورسېدئ او د "مدينې" خلګ د سلطان پر نابيره راتګ باندي ډېر حيران وه.

سلطان چي څنګه راغلئ دستي يې د "مدينې منورې" د تګ او راتګ ټولي دروازې بندي کړې بيا د ده د طرفه يو منادي دا اعلان وکړئ چي نن به ټوله "اهل مدينې والا" د سلطان سره مېلمانه وي او پر يو دسترخوان به خورک کوي.

"مدينه والاؤ" په ډېره خوشحالي سره د سلطان دعوت قبول کړی په دې طريقه سره د "مدينې منورې" ټول خلګ د سلطان تر نظر ووتل لېکن په هغو کي هغه انسانان نه وه چي کم شکلونه پېغمبر ﷺ ده ته په خوب کي ور ښولي وه.

سلطان د ښار د مشرانو څخه پوښتنه وکړه چي دلته خو به داسي خلګ نور نه وي پاته چي زموږ په دې دعوت کي نه وي شريک سوي هغه په جواب کي ورته وويل چي د "مدينې والاؤ" څخه يو سړی هم داسي نه دئ پاته چي ستا په دعوت کي نه وي شريک سوی.

البته دوه عابدان او زاهدان او مغربي زيارت کونکي چي د ډيري مدې څخه دلته مقيم دي هغه دعوت ته نه وه راغلي. دا دواړه بزرګان همېشه په عبادت کي مشغول اوسېږي، که چيري څه فارغه وخت پيدا کړي نو په "جنة البقيع" کي

خلګو ته د چیښلو او به ور تقسیموي د دې څخه ماسوا د هیڅ چا سره تعلق نه ساتي.

## د سلطان وینه جوش شېدل:

سلطان حکم وکړئ چي هغه دوه کسان ضرور دلته راولئ چي کله د "مدینې" خلګو هغه دوه کسان د سلطان مخته حاضر کړل سلطان په اول نظر دواړه و پېژندل چي دا خو هغه دوه کسان دي چي پېغمبر ﷺ ده ته په خوب کي ور ښولي وه.
چي کله يې دوی وليدل د سلطان وینه دستي په جوش کي راغله لېکن تحقیق کول ډېر ضروري وه ځکه د هغوی لباس ډېر زاهدانه او شکل او صورت يې د مؤمنانو وو.
سلطان د دوی څخه پوښتنه وکړه چي تاسو چیري اوسیږئ دوی په جواب کي ورته وویل چي د روضه اقدس ﷺ سره نزدې یو مکان مو په کرایه نیولی دئ په هغه کي هر وخت د الله ﷻ په ذکر او عبادت سره مشغول یو.

## خوف ناکه انکشاف:

سلطان هغه دوه کسان پر داغه ځای باندي د خپلو کسانو په نګراني کي پرېښول او په خپله د ښار د مشرانو سره د هغوی مکان ته ورغلئ چي هغه یو ډېر کوچنی مکان وو، چي په هغه کي نهایت مختصر سامان د دې دوو کسانو پر زاهدانه زندګی باندي دلالت کوئ، او د ښار ټوله کسان د دې دوو کسانو په تعریفو نه ورته مړېدل، او په ظاهر هم یو شی قابل د اعتراض نه وو.
لېکن د دې هر څه باوجود د سلطان زړه اطمینان نه کوئ هغه د دې مکان فرش را ټول کړئ او مخکه يې کتله چي یو دم سلطان ته تر یو چټائي لاندي فرش ښورېدونکی ور محسوس سو، چټائي چي يې کله پورته کړه او ویې کتل نو

لاندې يو سوري دئ او پر هغه باندې سرپوښ پروت دئ چې کله يې هغه پورته کړئ نو بادشاه ته يو ډېر خوف ناکه انکشاف مخته راغلئ. چې په حقيقت کې دا يو ټونَل وو چې د روضه اقدس ﷺ و طرفته کندل سوی وو د سلطان دستې ټوله معامله ګړی په ګړی په دماغ کې راغله او بې اختياره د ده تر خوله دا ووتل ﴿صَدَقَ اللهُ وَصَدَقَ رَسُوْلُ النَّبِيُّ الْکَرِيْمُ﴾.

## د عبادت ګزارو په شکل بدترين لېوان:

اهل مدينې والا چونکه ډېر ساده ميزاج خلګ وه هغوی چې هم د دې خلګو د دې لېوانو غوندې عمل وليدئ ټول حيران سوه. "سلطان نورالدين زنګې" په ډېر قهر او جلال کې وو او سترګو يې د ډېره خښمَه څخه د اور شغلې غورځولې هغه دواړه ملعون انسانان يې په ځنجيرانو کې تړلې وخپل مخته را پېش کړه.

چې کله دوی د سلطان مخته راپېش سوه نو ده د دوی څخه په نهايت غضب ناکه لهجه کې پوښتنه وکړه ويل رشتيا رشتيا راته ووياست تاسې څوک ياست او د دې ناپاکه حرکت څخه ستاسو څه مقصد وو؟

هغه دواړو ملعونانو په نهايت بېشرمې او سپين سترګې سره جواب ورکړئ چې ای بادِشاه! موږ خو نصرانيان يو (په بعض رواياتو کې دا دي چې دا دواړه يهوديان وه) د خپل قوم د طرفه څخه ستاسو د پېغمبر ﷺ د جسد په وړلو او غلا کولو باندې مامور سوي يو، زموږ په نزد د دې څخه زيات زموږ دپاره بل د ثواب کار نه وو.

لېکن افسوس چې عين پر هغه وخت چې زموږ کار ډېر کم پاته وو تا موږ ګرفتار کړو.

په يو روايت کې دا هم راځي چې دا ټونَل د حضرت عمر رضي الله عنه تر جسد مبارک پورې رسېدلی وو تر دې حد چې د هغه يوه پښه هم لڅه سوې وه.

**د هغه ملعونانو انجام:**

د سلطان د صبر پيمانه ډکه سوه هغه په خپل لاس باندي توره را واخيسته او د دې دواړو بدبختانو گردنونه يې په توره والوزول او د هغه بدنونه يې په بل اور كي واچول او ايره ايره يې كړه. چي كله يې دا كار وكړئ نو پر سلطان باندي ډېر رقت طاري سو او د ډيري ژړا څخه يې زبان گويي بنده سوه او د "مديني" په كوڅو كي يې ژړل او گرځېدئ، او دا يې ويل: "زهي نصيب" چي د دې خدمت دپاره حضور ﷺ د دې غلام انتخاب وكړئ، چي كله لږ په قرار سو نو سلطان دا حكم وكړئ چي د روضه نبي ﷺ شاوخوا په مځكه كي يو ډېر ژور خندق وكينديُ او د ويلي سرفو او اوسپني څخه يې ډک كړئ.

**• د روضه رسول ﷺ د حفاظت انتظام:**

د سلطان د حكم د تعميل په خاطر د "روضه اطهر" په څلورو طرفو باندي دومره ژور خندق وكيندل سو چي د مځكي څخه اوبه را ووتې او د هغه څخه وروسته يې اوسپنه پكښې واچوله چي د انسانانو د هر قسم لاس رسي څخه محفوظ وي، او دا د اوسپني دېوالونه د روضه اقدس ﷺ پر شاوخوا په مځكي كي تر اوسه موجود دي او انشاء الله تر ابده پوري به قائم وي.

نن هم "اهل مدينه" د سلطان نورالدين زنگي رحمة الله عليه نوم په ډېر محبت او احترام سره اخلي او د ده شمار په "نفوس قدسي وو" كي كوي چي پر هغه باندي سيد البشر ﷺ په خپله د اعتماد اظهار كړی دئ او د ده د "محب رسول" كېدلو تصديق يې كړی دئ. دا لوړه مرتبه هغه چاته ور كول سوه چي د الله جل جلاله پر پېرزو وه(۱).

(۱) بحواله نورالدين محمود زنگي، مصنف طالب هاشمي، ۱۸۶ الی ۱۹۰

## شيخينو ته تكليف رسول او په مځكه ننوتل:

يو ځل "مديني منورې" ته چند بدبختان راغله چي هغوی د "شيخينو" يعني د حضرت صديق اكبر ﷺ او د حضرت عمر ﷺ سره بغض وو هغوی د شپې په وخت كي كلنگ او رسياني را اخيستي وې چي پر كم ځای د پيغمبر ﷺ منبر وو تر دې چي يو څو قدمه را تېر سې اوس هم كه چيري غالبۍ پورته كړې نو يو گول دائره او نښان معلوميږي چي كله دې ځای ته راورسېدل نو هغه چوكيدار په ډېر افسوس او غم سره ژړل پر هغه ځای باندي مځكي ور ونيول او ټلو ښت سره په مځكه ننوتل.

وروسته راتلونكو "خلفاء" دا وويل چي دا حجره پاک (يعني د حضرت عائشې مباركې حجره او د سيد الاولين او آخيرين روضه) د دباندي څخه دېوالونه پاخه كړی چي څوک دوباره بيا حمله ونه كړي نو د دباندي څخه هم پاخه دېوالونه ور باندي جوړ سوه، چي هيڅ سوری په هغه كي پاته نه سو اوس هم هيڅ څراغ په هغه كي نسته كه څوک ورسي نو صرف تر جالۍ پوري ورتلای سي لېكن د دې څخه مخته تر قبره پوري هيڅ د ورتگ لار نسته.

ركن الدين رحمة الله عليه د مصر يو نېک بادشاه وو د "هلاكو او چنگېزخان" په زمانه كي د ده په بركت د تاجرانو په ذريعه سره په روس كي د الله دين سره وغوړېدئ هغه په اوياوو اوښانو دغه مقصوره او د دباندي جالۍ راوړه او پر قبر باندي يې شاوخوا د جال انتظام وكړئ.

الله دي د "مديني منورې" حفاظت وكړي او چي كم څوک "مديني منورې" ته په كاږه نظر گوري الله جل جلاله دي اول هدايت ورته وكړي كه به يې هدايت په نصيب نه وي، الله جل جلاله دي هغه قوم د تباهۍ او هلاكت سره مخامخ كړي، او الله جل جلاله دي د حرمينو شريفينو حفاظت په خپل غيبي نظم او انتظام سره وكړي.

او الله جل جلاله دي دا څو خبري په خپل دربار كي قبولي او مقبولي وگرځوي.

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د ریاء کارۍ بیان

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعة اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صـاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | ثلـــــــــــورم |
| تـاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَ نَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾(١).

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

﴿مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللَّهُ بِهِ وَمَنْ يُرَائِي يُرَائِي اللَّهُ بِهِ﴾(٢).

آمَنْتُ بِاللهِ. صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

## د حديث ترجمه او مطلب:

محترمو سامعينو! ستاسو په مخکې ما د پيغمبرﷺ يو روايت پيش کړئ، چې د هغه روايت راوي حضرت جندب بن عبد الله بن سفيانؓ دئ.

دَی مبارک فرمايي: چې ما د پيغمبرﷺ څخه دا اورېدلي دي، چې هغه به فرمايل چې کم سړی يو کار د شهرت دپاره کوي، نو د هغه نتيجه به بالاخره دا وي، چې الله تعالٰی به دَی بدنامه کړي.

او چې کم سړی د رياء کارۍ په خاطر يو نېک کار کوي، د هغه انجام به بالاخره دا وي، چې الله تعالٰی به د هغه حقيقت پر خلګو ښکاره کوي، چې دا سړی چې څه کوي، نو هغه ټوله د رياء کارۍ دپاره کوي.

په دې حديث کې پيغمبرﷺ د انسانانو توجه د دوو ناجوړيو و طرفته راګرځولې ده.

(١) آل عمران آيت ٨٥.

(٢) [illegible]

او له ناجوړي "رياء كاري" ده،
او دوهمه ناجوړي "سمعة" دئ، يعني شهرت پسندي.
د "سمعة" معنی دا ده چي د دين يو كار انسان د شهرت په خاطر كوي.
کچیري يو كار دِ ځان ښكاره كولو دپاره ځوک و کړي، نو هغه ته رياء كاري وايي.
د تيرو جمعو څخه موږ دا خبره مسلسله كوو، چي د اخلاقو باطنوو حاصول د هر مسلمان دپاره فرض دي.
په اخلاقو باطنوو كي يو خُلق حسن "اخلاص" دئ. د اخلاص مطلب دا دئ: چي انسان کم کار کوي، هغه صرف د الله تعالی د رضا دپاره وي، او دنيا مقصود نه وي، نو په خپلو اعمالو كي اخلاص پيدا كول فرض او د دې برعكس يعني په اعمالو كي رياء كاري كول حرام دي.
در حقيقت اخلاص د ټولو اعمالو روح دئ کچیري اخلاص نه وي، چي هر څومره لوی عمل وي، د الله تعالی په دربار كي څه قدر او قيمت نه لري.
او چي په څومره اندازه كي په اعمالو كي د اخلاص كمى وي، نو په هغه اندازه كي د الله تعالی په دربار كي د اعمالو د وزن هم كمى وي.
لهذا اخلاص د اعمالو روح او مغز دئ، او سمعة او رياء د اعمالو د بربادولو اسباب دي.
بيا خاصكر رياء كاري داسي بيماري ده، چي د هغې څخه په اسانه انسان ځان نسي خلاصولای بلكي د ځان خلاصولو دپاره د انسانه څخه محنت غواړي.
ځكه چي دا داسي باريكه ناجوړي ده، چي د هر ځله په رياء كاري باندي اخته مريض ته د خپل مرض دا معلومات نه وي، چي دی بيماره او ناجوړه دئ.
نو ځكه اول ځل د رياء لږ حقيقت ښكاره كول بيا د بزرګانو تجويز كړه علاج بيانول ضروري دي.

## د رياء كارۍ بنياد:

په حقيقت كي رياء كاري په اعمالو كي دا د "حُب جاه" يو شعبه ده، او د دوی دواړو په مابين كي فرق دا دئ چي "حُب جاه" په يو دا سي طريقه سره، حاصلېداى سي، چي په هغه سره انسان د خلكو زړونه و خپل طرف ته متوجه كړي.

ليكن رياء كاري په يو داسي عبادت كي كيږي، چي انسان يې په دې غرض و كړي، چي د خلكو په زړو كي زما وقعت پيدا سي، يا زيات سي.

مثلاً يو سړی شهرت غواړي، او د هغه په خاطر هره ورځ په اخباراتو او په ريډيو گانو كي خپل نوم ور كوي چي د خلكو په ذهنو كي د ده نوم په ښه طريقه سره كښېني او دَی مشهوره سي، نو د ده دا عمل جاه طلبي او "حُب جاه" ده.

ليكن رياء دې ته نه وايي: ځكه رياء په عبادت كي كيږي او په اخبار كي نوم ور كول يا په ريډيو كي خپل نوم ښكاره كول دا خو څه عبادت نه دئ.

د رياء مثال داسي دئ، لكه يو انسان چي د خلكو په مخ كي د ځان ښكاره كولو دپاره لمونځ كوي، يا صدقه ور كوي په دې غرض باندي چي خلك د ده تعريف و كړي، نو دا رياء ده.

نو په حقيقت كي "حُب جاه" يو عام شی دئ، چي د هغه يوه شعبه رياء كاري ده، چي د هغې حقيقت دا دئ: چي د عابد نظر د خالقه څخه واوړي او د مخلوق طرفته سي.

## د رياء اوله درجه:

د انسانانو په لحاظ سره د رياء څو درجې دي، چي په هغوی كي بعضي درجې خو داسي دي، چي د هغوی څخه تر كفره او شركه پوري د انسان حالت رسيږي. بعضي د دې څخه كم او بعضي تر هغه هم كمي درجې دي.

مثلاً د ټولو څخه لويه او خطرناكه رياء په ايمان كي رياء كاري ده، چي د انسان په زړه كي ايمان نه وي ليكن د خلكو په مخكي د خپلو دنياوي مقاصدو

حاصلولو دپاره خپل ځان د مسلمان او يو عبادت ګذاره انسان په شکل ښکاره کوي.
چي هغه ته په نورو الفاظو باندي "نفاق" وايي: يعني چي په زړه کي يې يو څه وي، او په ظاهر کي بل څه ښکاره کوي، نفاق هم د رياء کارۍ هغه اعلی ترين قسم دئ.
او د منافقينو په باره کي قرآن کريم فرمايي:
﴿إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ﴾(١).
منافقين به د جهنم د ټولو څخه په لاندي طبقه کي وي، يعني د کفارو څخه به زيات عذاب منافقينو ته ورکول کيږي ځکه چي کافران هم دي، او د کفر سره سره دوکه هم کوي چي د ټولو څخه خطرناکه خبره ده.

## د رياء دوهمه درجه:

دوهمه درجه رياء کاري په فرائضو کي ده.
د هغې مثال داسي دئ، چي د يو سړي د لمانځه کولو عادت نه وي، ليکن پر يو موقعه او محل باندي د خلکو په مابين کي راسي چي هلته د لمانځه کولو بغير بله چاره نه وي ځکه که دی لمونځ نه و کړي، نو خلک يې بې لمانځه او بې دينه بولي.
نو د خلکو په مخکي د خپلې بې لمانځې پټولو دپاره دی و لمانځه کولو ته مجبوره سي.
اوس په دې وخت کي يو صورت خو دا دئ: چي د ده په زړه کي کچيري دا خيال راسي چي يا الله مخکي خو مي لمونځ نه کوئ، ليکن اوس ماته د لمانځه کولو توفيق او موقعه را کول سوه، نو زه لمونځ کوم.
په دې صورت کي دا اميد دئ، چي انشاء الله د رياء کارۍ څخه به محفوظه سي.

---

(١) النساء ١۴۵.

ليکن که د ده په زړه کي د تيښتي او لمانځه نه کولو اراده وي، ليکن د موقع نه پيدا کولو په وجه په لمانځه کي ودريږي، او لمونځ ادا کړي، نو دا په فرائضو کي رياء کاري بلل کيږي.

دغه رياء کاري که څه هم د شرک څخه کمه ده، ليکن د صوفياء کرامو په نزد دا هم شرک دئ، ځکه چي کم لمونځ دَی کوي، هغه د خالق دپاره نه بلکي د مخلوق دپاره يې کوي.

چي کم سړی همېشه د خپل لمانځه کولو پابنده وي، هغه به انشاء الله په داسي رياء کاري کي نه مبتلاء کيږي.

## د رياء کارۍ دريمه درجه:

دريمه درجه رياء کاري په نوافلو کي ده:

د هغه مثال داسي دئ، چي يو سړی خو په عامو حالاتو کي د نفلي عباداتو کولو عادت نه لري او نه الله تعالیٰ توفيق ور کوي او نه د نفلو کولو اراده لري ليکن په يو داسي مجمع کي راغلئ چي هلته ټول خلګ نفلي عبادات کوي، نو دَی هم ونفلو کولو ته مجبوره سي.

کچيري په دې وخت کي د ده په زړه کي دا تصورَ راسي، چي مخکي خو ماته د نفلي عباداتو کولو توفيق الله تعالیٰ نه وو راکړئ.

ليکن نن الحمد لله الله تعالیٰ د نفلي عباداتو توفيق او موقعه را کړه نو په دې نيت باندي نفلي عبادات شروع کړي، نو دَی به د رياء کارۍ څخه محفوظ سي.

په دې شرط چي مقصود يې د الله تعالیٰ رضا وي، او د دې موقعې څخه ګټه واخلي.

ليکن که دَی په دې فکر کي وو، کچيري لار راته خلاصه سوه نو زه به تښتم مګر د لاري نه پيدا کولو په وجه صرف د خلګو په مابين کي د ځان عابد ښکاره کولو دپاره دَی په نفلي عباداتو کي شروع سي، نو دا رياء کاري په نوافلو کي بلل کيږي.

## د رياء كارۍ څلرمه درجه:

د رياء كارۍ څلرمه درجه د لمانځه په كيفيت كي رياء ده:
مثلاً په عامو حالاتو كي انسان لمونځ په ډېره چابكي باندي كوي، يعني چي كله په كور كي يواځي پر لمانځه ولاړ وي، او عام خلګ يې نهويني نو په دې وخت كي دَى لمونځ په داسي شكل باندي كوي چي په هغه كي د ادابو او مستحباتو هيڅ رعايت نه كوي.
ليكن په يو داسي ځاى كي راغلئ چي هلته ده ته دا ور معلومه سوه، كچيري زه لمونځ پر هغه شكل و كړم، چي زه يې يواځي كوم، نو خلګ به دا زما لمونځ ډېر بد وبولي او ما به د لمانځه سره لاوباله وبولي نو دَى په هغه ځاى كي لمونځ په ډېره خشوع او خضوع او اطمينان سره كوي.
نو دا د لمانځه په كيفيت كي رياء كاري ده، او د دې مقصد هم د خلګو په مخ كي ځان لمونځ ګذاره ښكاره كول دي نو دا هم باعث د ګناه ده.

## د رياء كارۍ پنځمه درجه:

د رياء كارۍ پنځمه درجه د نوافلو په كيفياتو كي رياء كاري ده:
مثلاً يو سړى په خپل لمانځه كي د طويل قرائت او د طويل ركوع او سجدې عادت نه لري ليكن د خپلو معتقدينو په مخكي لمونځ په اوږده شكل كوي.
مثلاً يو پير دئ، د خپلو مريدانو په مابين كي راغلئ، يا يو امام دئ، د خپلو مقتديانو يا يو استاذ دئ، د خپلو شاګردانو په مخكي په اوږده شكل سره د لمانځه اركان ادا كوي، په دې نيت چي زما معتقدين زما څخه بدظنه نسي، نو د خلګو پر خپل ځان د اعتقاد را وستلو په خاطر د لمانځه په اركانو كي طوالت كول هم رياء كاري ده.
او دا معامله په كثرت سره هر هغه سري ته ور پېښيږي، چي د چا په ليدلو سره دَى په لمانځه كي خشوع او خضوع پيدا كوي.

اوس سوال دا دئ: چې د دې رياء کارۍ څخه د خپل ځان بچاوولو دپاره انسان څه وکړي؟ ايا د چا په ليدلو سره دغه پيدا سوې خشوع او خضوع پر داغه ځاى پرېږدي يا خو لمونځ په داغه خشوع او خضوع سره وکړي، صرف نيت صحيح کړي.
په دې باره کې "حکيم الامة حضرت اشرف علي تهانوي قدس الله سره" ليکلي دي، چې په دې باره کې د محققينو او صوفياء کرامو آراء مختلف دي.
بعضې وايي: چې دا رقم انسان دي، پر خپله عامه طريقه باندې لمونځ کوي، او د هغه خشوع او خضوع چې د بل چا په ليدلو سره د انسان په عبادت کې پيدا سوې ده، د هغه دې خيال نه ساتي.
او بعضې وايي: چې د دغه خشوع او خضوع خيال دې وساتي او په دې وخت کې دې د خپل نيت صحيح کولو کوشش وکړي.
حضرت تهانوي رحمة الله عليه فرمايي: چې دغه دوهمه طريقه زياته بهتره ده، او پر داغه طريقه بايد انسان عمل وکړي.
ليکن چونکه په داسې حالاتو کې نيت صحيح کول عام طور ډېر مشکل وي، نو ځکه اسانه تدبير دغه دئ، چې په خپل لمانځه کې دې تبديلي نه پيدا کوي، او په هغه طريقه سره دې لمونځ کوي چې د ده څنګه عادت وي.
دا خبرې دا سې دي، انسان يې په خپله نسې حل کولاى نو په دې وجه د رياء کارۍ يو علاج بزرګانو دا بيان کړى دئ، چې د خپلو اعمالو اصلاح د يو شيخ يا مرشد څخه انسان وکړي، او د هغه څخه مشورې اخلي او د هغه پر مشورو باندې عمل کوي.

## رياء په هر عبادت کې کېداى سي:

رياء کارې کول دا صرف د لمانځه پورې خاص نه ده بلکې په تمامو عباداتو کې رياء کارې کېداى سي.
مثلاً يو سړى وچا ته صدقه او خيرات ورکوي نو د ده اراده د پنځو روپو ورکولو وي.

ليکن چي کله د نورو خلګو په مخکي صدقه کوي نو په زړه کي يې دا خيال پيدا سي چي کچيري په دې وخت کي زه دې فقير ته پنځه روپۍ ور کړم نو خلګ به ما ته طعنه او پيغور راکوي چي دومره مالدار سړی دئ، او پنځه روپۍ و فقير ته په خيرات کي ور کوي.
نو د دې طعنې څخه د ځان خلاصولو په خاطر دَی د پنځو روپو پر ځای لس روپۍ په صدقه او خيرات کي ور کړي.
نو دا اضافه د الله دپاره نه سوه نو کمي پنځه روپۍ چي ده په صدقه کي ور کولې نو د ده په زړه کي د هغه داعيه وه، نو هغه د الله دپاره سوې او دا زائدي پنځه روپۍ په رياء کاري کي ولاړې.
نو مقصد مي دا دئ: چي رياء کاري د لمانځه څخه علاوه په هر عبادت کي د انسان څخه کېدلای سي.
او دا د شيطان ډېره مؤثره حربه ده، ځکه چي انسان کله د خپل زړه توجه په اعمالو کي د الله و طرفته پيدا کړي، نو شيطان ډېر پرېشانه سي، دا وايي: چي دا انسان که داغسي سو، نو بيا خو زما د منګلو څخه ووتئ.
نو په دې وخت کي شيطان پر انسان باندي د رياء کارۍ حربه استعمالوي، چي په هغه سره د انسان اعمال ور خرابوي.

## د رياء يوه بله خفي درجه:

صوفياء کرامو ليکلي دي، کچيري يو انسان په تنهائي کي د الله د رضا حاصلولو دپاره په پوره اخلاص سره يو عمل کوي.
ليکن وروسته يو سړی راسي د ده د دې عمل تعريف کوي او ورته وايي: چي په فلانکي وخت کي مي پر عبادت وليدلې چي په ډېر اخلاص سره دي، عبادت کوئ نو نيت مي ډېر درباندي ښه سو، الله تعالٰی دې مونږ ته هم ستا غوندي اخلاص را نصيب کړي.
نو هغه عمل کونکی سړی چي دغه تعريفي جملې واوري ډېر خوشحاله سي، او پر دې باندي خوند اخلي د صوفياء کرامو په نزد دا هم د رياء يو خفي درجه ده.

چي د هغې نتيجه دا وي، چي بيا انسان ته د خپل تعريف اوريدلو عادت په زړه كي راسي، او بيا انسان د خپل تعريف اوريدلو په خاطر نيک اعمال كوي.

## د يو صحابي واقعه:

يو ځل يو صحابي د حضور اقدس ﷺ څخه پوښتنه كوي، چي اى د الله رسوله! بعضي اوقات موږ په پوره اخلاص سره يو عمل كوو، وروسته د يو چا د خولې څخه خپل تعريف واورو نو زړه مي خوشحاله كيږي، دا څنگه ده؟ پيغمبر ﷺ په جواب كي ورته وايي:

﴿تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤْمِنِ﴾(¹).

دا د مومن دپاره ډېره ژر خوش خبري ده.

چونكه د ده په دې عمل كي مُحَرِک د الله تعالى رضا وه نو ځكه الله تعالى پر دې عمل باندي په دنيا كي هم خپلو بندگانو ته د نورو بندگانو په ذريعه خوشخبري وركوي، چي ستا دا عمل د الله په دربار كي قبول دئ، نو ځكه دا رياء نه بلل كيږي.

ليكن دا هغه وخت وي، چي انسان خپل تعريف د يو چا د خولې څخه واوري په زړه كي د الله شكر ادا كوي.

چي الله تعالى زما ښه حال پر دې انسانانو ښكاره كړى دئ، ورنه كچيري دَى زما په حقيقت باندي خبر سي، نو د دې تعريف پر ځاى به پر ما باندي لعنت را واستوي.

نو په دې خيال سره به انشاء الله دَى د شيطان د حملې څخه خپل ځان محفوظه كواى سي.

ليكن كچيري دَى پر خپل تعريف اوريدلو باندي خوند او مزه اخلي نو دغه كيفيت په آئنده كي دَى په حقيقي رياء كي مبتلاء كولاى او تباه كولاى سي، نو په دې وجه د غه ته خفي رياء ويل كيږي.

---

(¹)في المشكوة ۴۵۴ عن ابي ذر رواه مسلم.

## د رياء په باره کي د پيغمبر ﷺ فرمان:

او رياء دومره خطرناکه بيماري او ناجوړي ده چي پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:
﴿مَنْ صَلّٰی یُرَائِیْ فَقَدْ اَشْرَکَ بِاللّٰہِ﴾(۱).
چي کم سړي د رياء کارۍ دپاره لمونځ کوي، نو هغه سړي مخلوق د الله سره په دې لمانځه کي شريک کړئ.
ځکه چي حق دا وو، چي ده الله تعالی راضي کړی وای، ليکن ده په دې رضٰی کي د الله تعالی سره مخلوق هم شريک کړئ، او مخته پيغمبر ﷺ فرمايي:
﴿وَ مَنْ صَامَ فَقَدْ اَشْرَکَ بِاللّٰہِ﴾(۲).
چي کم سړي د رياء کارۍ په خاطر روژه ونيوله نو ده مخلوق په دې روژه کي د الله تعالی سره شريک کړئ، نو رياء کاري داسي خطر ناکه بيماري ده، چي د هغې حدود د شرکه سره يو ځای سوي دي، او دومره عامه ده، چي پر قدم قدم باندي د انسان په زړه کي د رياء کارۍ شبهې پيدا کيږي.

## د رياء كارۍ علاج او د هغه مثال:

لکه څنګه چي ما مخکي دا خبره عرض کړه چي د رياء کارۍ علاج دا دئ چي انسان د الله د يو نېک بنده سره د بيعت او طريقت په شکل تعلق قائم کړي، او د دې بيماريو په هکله د هغه څخه هدايات اخلي او پر هغه باندي عمل کوي نو رفته رفته به د ده د زړه څخه د رياء کارۍ مرض ختم کيږي او د هغه پر ځای به د ده په زړه کي اخلاص راځي، او بيا به يې هر عمل د الله تعالی د رضا دپاره د اخلاص په شکل وي.
او بزرګانو د رياء کارۍ علاج دا هم ليکلی دئ، چي د دې بيمارۍ بنياد د الله تعالی د عظمت او محبت کمي ده، چي په کمه اندازه کي د انسان په زړه کي د الله عظمت او محبت پيدا سي.

---

(۱) مشکوة شريف ص ۴۵۵.
(۲) مشکوة شريف ص ۴۵۵ رواه احمد عن شداد ابن لوس.

په هغه درجه کې به دَی د رياء کارۍ څخه ليرې کيږي يا به په اعمالو کې د ده نظر د خالق پر طرف وي، او د مخلوق و طرفته به د ده نظر نه څي.
د دې مثال داسې دئ، لکه يو بادشاه چې کله لوی دربار جوړ کړي او بادشاه په دې خپل دربار کې يو سړی د يو کار دپاره را طلب کړي، او هغه سړی د بادشاه و مخته خو ودريږي، ليکن نه نظر د بادشاه پر طرف کوي، او نه يې خيال او توجه د بادشاه پر طرف ده.
او بل طرفته د دربار په يو کنج کې يو حبشي غلام ولاړ دئ، نو دا سړی د هغه و طرفته ګوري او توجه يې هم د هغه پر طرف ده نو دا د بادشاه و طرفته بې توجهي او نظر نه کول د بادشاه ډېر لوی توهين بلل کيږي.
او دا هغه سړی کولای سي، چې د چا په زړه کې د بادشاه هيڅ وَقعَت نه وي، ځکه کچيرې د ده په زړه کې د بادشاه وَقعَت وای نو د بادشاه څخه علاوه وبل طرفته به د ده نظر او توجه نه کېدای.
داغه رنګه چې کله د يو چا په زړه کې د الله تعالیٰ محبت او عظمت راسي نو بيا د مخلوق و طرفته د هغه انسان توجه او نګاه نه څي. او حُب جاه او د رياء کارۍ غوندې بيمارياني د انسان په زړه کې ختم کيږي.
چې کمو خلګو ته الله تعالیٰ خپل محبت په نصيب ور کړی دئ، نو هغه د هيڅ چا و طرفته خپل نګاه او نظر نه کوي، ځکه د الله تعالیٰ د محبت مثال داسې دئ.
لکه لمر چې کله را وخيږي، نو ستوري د هغه نور نسي برداشولای نو د لمر په راختو سره د هغو رڼا ورکه سي، داغه رنګه چې د کم چا په زړه د الله د محبت رڼا راسي نو د هغه په زړه کې د نورو مخلوقاتو محبت ختم سي.

## د صوفياء کرامو اصطلاحات:

د صوفياء کرامو وينا ده چې کم سړی په زړه کې د الله تعالیٰ محبت پيدا کول غواړي نو د هغه دپاره د الله و طرفته سير کول ضروري دي.
د الله و طرفته سير کول دا دوه قسمه دي:
١. يو سير الی الله دئ.

۲. او دوهم سېر في الله دئ.
سېر الی الله دې ته وايي: چې انسان توجه ټوله د مخلوق څخه را وګرځي او د الله و طرفته برابره سي.
او سېر في الله دې ته وايي: چې د الله تعالی په صفات جماليه وو، او جلاليه وو کي انسان مستغرق سي، يعني چې الله تعالی انسان ته څومره قوتونه ور کړي دي، په هر قوت کي ضرور د الله تعالی د صِفاتو يو تجلا وي.
سېر الی الله د صوفياء کرامو په اصطلاح متناهي دئ، او سېر في الله غير متناهي دئ، نو ځکه د سېر الی الله منتهاء وصول دئ.
او وصول نوم دئ، د پناه عن مشاهدة الغير يعني چې د غير د مشاهدې څخه مکمل د انسان نظر را وګرځي بلکي غير په درجه د عدم کي وبولي نو دې ته وصول وايي.
په نورو الفاظو که زه دا ووايم چې کم انسان مخلوق پرېږدي د الله و طرفته متوجه سي، نو هغه انسان درې قسمه دئ:
اول سالک هغه ودې ته وايي: چې کم سړی خپل ظاهر د افعالو ذميمه وو څخه خالي کړي او خپل باطن د اخلاقو رديه وو څخه محفوظ کړي.
د سالک ابتدايي حال پر شرائعو باندي عمل کول او انتهائي جال په اخلاقو حسنه وو سره خپل ځان ښائسته کول.
دوهم عارف دئ، عارف دې ته وايي: چې د الله تعالی د معرفت قصد و کړي، او د عارف ابتداء د سالک د انتهاء څخه شروع کيږي او ابتهاء يې پر وصل باندي راځي.
او دريم واصل هغه ودې ته وايي: چې دی په مقام د مشاهدې او د وصول کي راسي او مشاهده او وصول هغه حالت ته وايي: چې بنده د ټولو مخلوقاتو څخه اعراض و کړي، او د باري تعالی و طرفته متوجه سي او د الله تعالی د ذاته څخه بغير وده ته نور هيڅ نه ور معلوميږي.
نو ځکه محي الدين ابن عربي رحمة الله عليه فرمايي:

﴿فَمَنْ شَهِدَ الخَلْقَ لَا فِعْلَ لَهُمْ فَقَدْ فَازَ وَ مَنْ شَهِدَ الخَلْقَ لَا حَيَاتَ لَهُمْ فَقَدْ جَازَ وَ مَنْ شَهِدَ الخَلْقَ عَيْنَ العَدَمِ فَقَدْ وَصَلَ وَهَذَا مَرْتَبَةُ عَيْنِ الْيَقِيْنِ وَ عِنْدَ هَذَا يَتِمُّ اَلسَّيْرُ إِلَى اللهِ﴾(١).

چي كم سړى مخلوق ته په دې نظر ګوري چي ددې په لاس كي هيڅ نسته بلكي د ټولو افعالو خالق الله تعالى دئ، نو هغه سړى كامياب سو.

او چي كم سړى مخلوق موجود بولي ليكن ژوند نه پكښيويني نو هغه په سير الى الله كي نوره ترقي و كړه.

او چي كم سړى مخلوق د عدم په درجه كي بولي نو هغه سړى وصول ته ورسېدئ، او دا مرتبه د عين اليقين ده، او سېر الى الله پر دې ځاى باندي ختم سي، لكه مولنا روم رحمة الله عليه دې ته اشاره كوي:

جمله معشوق است عاشق پرده‌ئی ... زنده معشوق است وعاشق مرده‌ئی

ذلته د معشوق څخه مراد د الله تعالى ذات دئ، او د عاشقه څخه بنده مراد دئ.

او دې طرفته د پيغمبر صلى الله عليه وسلم يو حديث هم اشاره كوي، حديث قدسي دئ، چي الله تعالى فرمايي: چي بنده كله نفلي عبادات كوي، نو ماته دومره را نژدې سي، چي زه د ده سره محبت كوم.

چي كله زه د ده سره محبت كوم، زه د ده لاس سم، او زه د ده غوږ سم، او زه د ده نظر سم، چي دَى بيا په ما سره را نيول كوي او په ما سره اورېدل كوي او په ما سره ليدل كوي(٢).

يعني په دې كائناتو كي بيا زما بغير وده ته نور هيڅ په نظر نه ورځي صوفياء كرام ودې ته "وحدت الوجود" وايي: چي انسان ته په كائناتو كي د الله د ذاته بغير نور هيڅ په نظر نه ورځي.

(١) التقرير الحاوي على البيضاوي صفحه ١١٣.
(٢) بخاري شريف حديث نمبر: ٦٥٠٢

## د منصور حلاج رحمة الله عليه قيصه:

منصور حلاج رحمة الله عليه چي کله د وصول درجې ته ورسېدئ نو په دې کائناتو کي د الله تعالیٰ د ذاته بغير نور هيڅ په نظر نه ورتله، ځکه د کائناتو په هر شي کي د الله تعالیٰ د وجود نښي او نښاني معلومېدلې لکه يو بزرګ وايي:

﴿اَلْبَعْرَةُ تَدُلُّ عَلَى الْبَعِيْرِ وَذَاتُ الْأَقْدَامِ تَدُلُّ عَلَى الْمَسِيْرِ فَهٰذِهِ السَّمَاءُ ذَاتُ اَبْرَاجٍ وَالْأَرْضُ ذَاتُ فِجَاجٍ كَيْفَ لَاتَدُلُّ عَلَى الْعَلِيْمِ الْخَبِيْرِ﴾.

چي کله يو ځای پچه پرته وي، نو هغه د اوښ پر تېرېدو دلالت کوي.

او چي کله يو ځای قدم لګېدلی وي، هغه پر قدم لګونکي دلالت کوي.

نو دا لوی اسمان چي په هغه کي برجونه دي، او دا لويه مځکه چي په هغه کي درې دي، دا به څنګه د الله تعالیٰ پر وجود باندي دلالت نه کوي.

چي کله پچه بغير د اوښه نسي پيدا کېدای او داغه رنګه قدم بغير د قدم لګونکي نسي جوړېدای نو دا اسمان او مځکه بغير د الله جل جلاله د جوړولو وجود ته څنګه راغې.

نو "حضرت منصور حلاج" چي کله د "وحدة الوجود" مسئلې ته ورسېدئ، نو پر هغه باندي د الله د ذات حقيقي وجود منکشف سو، نو ځکه هغه چي به هر شي ته وکتل نو به يې دا ويل چي دا حق دئ.

آخر چي يې خپل ځان ته وکتل نو په هغې کي هم د الله تعالیٰ د وجود نښاني ورښکاره سوې، نو ځکه د ځان په حق کي يې هم دا وينا وکړه، چي ﴿أَنَا الْحَق﴾ چي زه هم خدای يم.

چي کله د "منصور" د خولې څخه د ﴿أَنَا الْحَق﴾ نعره وتله نو د علماء يو جماعت پر ده باندي د کفر فتوی وکړه.

او د وخت خليفه او د علماء جماعت ټول د ده څخه ناراضه سوه، او تر يوه کاله پوري يې په قيد خانه کي واچوئ، ليکن د ده معتقدين به هلته ورتلل او ده به د هغوی د مسائلو تسلي بخش جواب ورکوئ.

يا د خليفه د طرفه څخه د خلکو پر راتګ باندي پابندي ولګېدله او تر پنځو مياشتو پوري تني تنها په جيل کي وخت تېر کړئ، چي په دې ټوله وخت کي ده ته يو سړی هم نه راغلئ.

په دې زمانه کي بعضي بزرګانو ده ته يو دوه کسان ورواستول او دا پيغام يې ور کړئ، چي "منصور" ته ووايه د ﴿أَنَا الْحَق﴾ څخه توبه و کاږه نو ته به د قيده څخه خلاص سې ده په جواب کي ورته وويل چي زه معذور يم.

يا يو ځل حضرت عطاء رحمة الله عليه پخپله د ده حضور ته راغلئ، او دا غه پيغام يې ورته پېش کړئ، ده دا غه جواب ور کړئ.

## د قيد خانې حالات:

چي په کمه ورځ دَی په قيد خانه کي واچول سو، نو د شپې په حالت کي چي کله خلک ورغله او ويې کتل نو دَی هلته نه وو.

او دوهمه شپه چي خلک ورغله نه دَی هلته موجود وو، نه قيد خانه موجوده وه، او دريمه شپه دَی او قيد خانه دواړه موجود وه.

خلکو چي کله د دې په باره کي پوښتنه ځني و کړه، نو ده ورته ويل چي اوله شپه خو زه د حضور اقدس صلی الله عليه وسلم خدمت ته تللی وم.

او دوهمه شپه حضور اقدس صلی الله عليه وسلم دلته راغلی وو، نو ځکه قيد خانه ورکه وه، او اوس يې زه د شريعت د حفاظت په خاطر بيرته دلته را واستولم.

## په قيدخانه کي عبادت:

حضرت منصور حلاج رحمة الله عليه به په قيد خانه کي په هره شپه او ورځ کي زر رکعته لمونځ ادا کوئ، يا چي کله خلکو پوښتنه ځني و کړه، چي کله ﴿أَنَا الْحَق﴾ پخپله ته يې نو بيا دا لمونځ د چا دپاره کوې، ده به په جواب کي ورته ويل چي زما مرتبه ماته تر هر چا بنه معلومه ده.

## د قيديانو خلاصول:

په قيدخانه كي د ده څخه علاوه دري سوه قيديان نور هم موجود وه، چي كله ده هغوی ته وويل: چي ايا تاسو د قيده څخه خلاص كړم، نو هغو په جواب كي ورته وويل: كه چيري دا طاقت ستا سره وي، نو بيا ته پخپله ولي په قيد خانه كي ناست يې؟

نو ده چي كله د دې قيديانو وزولنو ته اشاره و كړه نو هغه ټولي پر هغه ځاى ماتي سوې، او چي كله يې دوهم ځل اشاره و كړه نو د دروازو ټوله قلفونه مات سوه.

نو ده قيديانو ته وويل: چي ځئ د ننه څخه بعد تاسي خلاص ياست، قيديانو ورته وويل: چي ته هم زموږ سره راځه نو دَی په جواب كي ورته وايي: چي زما د خپل ربه سره يو راز وابسته دئ، چي د پانسي ختلوبغير نسي حل كېدلاى زه د خپل رب قيدي يم، او د شريعت د حفاظت په خاطر په قيد كي ناست يم.

چي كله سهار حكومت وليدل ټوله قيديان تښتېدلي دي، او د "حضرت منصور حلاج" بغير په قيد كي بل څوک نسته نو د ده څخه د قيديانو په اړه پوښتنه وسوه نو ده په جواب كي ورته وويل: چي هغه ټوله ما خلاص كړه او زه په دې وجه دلې پاته يم، چي زما د رب پر ما باندي عتاب نازل دئ.

## په دُرو باندي وهل:

چي كله خليفه ته اطلاع ورسېده نو هغه دا حكم و كړئ، چي دَی په دُرو باندي ووهئ او فورا يې قتل كړئ.

چنانچه د تعميل حكم په خاطر يې د قيد خانې څخه را ويستى چي كله دَی دري سوه دُرې وهل كېدئ، نو ده په ډېر صبر او تحمل سره هغه برداشت كړې.

او چي كم چا دَی په دُرو وهئ نو د هغه بيان دئ، چي د هري دُرې وهلو په وخت كي ما د دُرې څخه دا اواز اورېدئ:

﴿يَا اِبْنَ مَنصُوْر لَاتَخَفْ﴾ اى منصوره! چي خوف زده نسې.

**وصیت کول:**

چي کله د ده د پانسۍ وخت را نزدې سو، نو د ده یو خادم د وصیت په غرض سره پوښتنه ځني و کړه نو ده په جواب کي ورته ویل چي خپل نفس د دنیاوي علائقو څخه خالي کړه ورنه دا نفس به تاته په داسي شیانو کي پانسۍ در کوي، چي ستا په وس کي به هیڅ نه وي.

او چي کله د ده صاحب زاده د وصیت خواهش ځني و کړئ، نو ده په جواب کي ورته ویل چي ټوله دنیا د اعمالو صالحوو کوشش کوي، لیکن ته به د الله تعالیٰ د معرفت حاصلولو کوشش کوې.

ځکه د الله تعالیٰ د معرفت یوه نقطه پر ټولو اعمالو صالحوو باندي درنه ده.

او چي په کم وخت د پانسۍ طرفته دی را روانوي، نو په ډېر فرحت او خوشحالي کي پانسۍ ته را پېشېږي، نو خلګ پوښتنه ځني کوې، چي دومره خوشحاله ولي یې.

دی په جواب کي ورته وایي: چي د دې څخه زیاته لویه خوشحالي به بله کمه وي، چي زه و خپل منزل مقصود ته رسېدونکی یم.

**پانسۍ ور کول:**

چي کم وخت د پانسۍ تر رسۍ لاندي راغلئ نو د ټولو څخه مخکي د باب طاق یې مچ کړئ، او چي د پانسۍ پر ځینه پښه ایږدي.

نو خلګ پوښتنه ځني کوي، چي څه حالت دئ، دی په جواب کي ورته وایي: چي پانسۍ د نارینوو مزاج دئ. په دې وخت کي د یو لک کسانو اجتماع ده او ده و هر طرفته وکتل ﴿حَقٌ حَقٌ حَقٌ او اَنَا الْحَقُ﴾ یې وویل.

په دې وخت کي یو بزرګ پوښتنه ځني کوي، چي عشق څه ته وایي: دی ورته وایي: چي نن صبا او بل صبا به در معلومه سي.

چنانچه په داغه ورځ ده ته پانسۍ ور کول سوه، او صبا ورځ د ده بدن وسوځل سو، او دريمه ورځ د ده د بدن ايره په هوا کي سره والوزول سوه، نو د ده د قول مطابق د عشق صحيح مفهوم دغه وو.

د پانسۍ په وخت کي خلکو پوښتنه څني و کړه چي د مخالفينو او متبعينو متعلق ستا څه خيال دئ، ده په جواب کي ورته ويل چي متبعينو ته به يو اجر الله تعالیٰ ضرور ور کوي، چي هغوی پر ما باندي حسن ظن يعني ښه گمان کړی دئ.

او مخالفينو ته به دوه ثوابه ور کول کيږي ځکه چي هغه پر توحيد او شريعت باندي په سختي سره ودرېدل. او په شريعت کي اصلي شی توحيد دئ، او حسن ظن صرف د فرعي حيثيت لري.

حضرت شبلي رحمة الله عليه په دې وخت کي پوښتنه څني کوي، چي تصوف څه ته وايي: دی په جواب کي ورته وايي: چي داته چي څه وينې دا د تصوفو ادنی درجه ده ځکه په اعلی درجه خو يې هيڅ څوک ځان نسي خبرولای.

د دې څخه وروسته خلکو د ده په ډبرو سره سنگسارول شروع کړه ده په نهايت خاموشي سره هغه برداشت کول ليکن چي کله حضرت شبلي رحمة الله عليه د خاورو په يو کوچنۍ لوټه باندي دی وويشتئ نو ده يو د افسوس ساه را و کښله.

خلکو پوښتنه څني و کړه، چي دا ټوله اذيت دې په خاموشي سره برداشت کوئ، ليکن د خاورو په يو کوچنۍ لوټه باندي دې د خولې څخه د افسوس آه ولي را ووته؟ ده په جواب کي ورته وويل: چي په ډبرو ويشتونکي خو زما د حقيقت څخه ناخبره دي، ليکن "شبلي" په دې لوټه بايد زه نوای ويشتلئ ځکه چي هغه خو په حقيقت باندي ښه ترا خبر دئ.

بيا چي کله د پانسۍ پر ځينه باندي د ده لاسونه کاټ سوه، نو په ډېره خندا سره دا وايي: چي خلکو خو زما ظاهري لاسونه را کاټ کړل ليکن زما باطني لاسونه به څوک کاټوي.

او چي کله يې پښې ور پرې کړې، نو ده ويل چي زما ظاهري پښې خو پرې سوې، ليکن باطني پښې مي تر اوسه پوري پاته دي، چي زه په هغه سره د دواړو

جهانو سفر کولای سم، بيا يې په وينو لړلي لاسونه په خپل مخ پوري و موښل او ويل يې چي زما د سرخ روئي بنه ترا مشاهده و کړئ، ځکه چي ويني د جوان مردانو فخر وي.

بيا يې په وينو ډک لاسونه پر خپلو څنګلو باندي تېرول چي زه د عشق د لمانځه دپاره اودس کوم ځکه چي د عشق د لمانځه دپاره اودس په ويني باندي کيږي.

او چي کله يې سترګي ځني و کښي او د ژبي د پرې کولو اراده يې وسوه نو ده ويل چي ماته د يوې خبري موقعه را کړئ، چي موقعه ورکول سوه.

نو ده ويل اې الله! زما دواړه لاسونه ستا په لار کي پرې سوه او سترګي مي را و کښل سوې، او اوس مي سر کاټېږي.

ليکن زه ستا ډېر شکر ګذاره يم، چي تا زه ثابت قدمه وساتلم، او اې الله! زه ستا څخه دا التجاه کوم چي دې ټولو خلګو ته هغه دولت په نصيب ور کړه چي ماته دي را کړی دئ.

بيا چي کم وخت د ده ژبه پرې سوه، نو د خليفه حکم را ورسېدئ، چي سر هم ځني پرې کړئ، چي کله يې سر ځني پرې کړئ، ده په زوره قهقهه و کړه او وفات سو.

په دې حالت کي د ده د هر اندامه څخه د ﴿أَنَا الْحَق﴾ اوازونه پورته کيږي.

چي کله يې ټوله اندامونه د خليفه په امر ټکرې ټکرې سره او صرف غاړه او ملا يې پاته وه نو د دې دواړو حصو څخه يې د ﴿أَنَا الْحَق﴾ وِرد جاري وو، چي د هغې په وجه باندي په را روانه ورځ يې د دې ييري څخه وسوځی چي هسي نه نوره فِتنه جوړه سي، او اخر يې د ده د جسم ايره په درياب "دجله" کي وا چوله.

چي کله يې ايره په اوبو کي وا چول سوه نو په اوبو کي يو قسم جوش راغلئ، او د درياب اوبه د مځکي تر سطحي پوري را پورته سوې، نو د ده خادم ته د ده هغه وصيت ياد وو، چي ده په خپله زندګي کي کړئ وو، چي کم وخت زما د جسم ايره په درياب دجله کي وغورځول سي.

نو په اوبو کي به داسي جوش او طوفان پيدا سي چي پوره "بغداد" به ځني غرق سي، ليکن چي کله تاسو دا کيفيت محسوس کړئ، نو زما ګدړئ به درياب

"دجله" ته ور ښکاره کړئ، چې کله خادم د ده په دې وصيت عمل و کړئ، نو اوبه پر خپل ځای باندې ارامې سوې.
او د ده د بدن ټوله ايره درياب خپلې غاړې ته را پورته کړه چې بيا خلګو را و کښه او تر خاورو لاندې يې دفن کړه. غرض دا چې دا مرتبه چې "منصور حلاج" ته الله تعالی ور کړې وه، د بل چا په نصيب نه سوه. حضرت عباس طوسي رحمة الله عليه وايي: چې د محشر په ميدان کې به "منصور حلاج" په دې وجه باندې په ځنځيرانو کې تړلی پېشوي، چې هسې نه ميدان حشر زېر وزبر نه سي.
مقصود مې دا دئ: چې الله تعالی کله ناکله انسانان وداسې درجې ته ورسوي چې د "وحدة الوجود" په مرتبه کې راسي نو په دې وخت کې بيا د الله تعالی د ذات څخه علاوه نور هيڅ په نظر نه ورځي(۱).

**د يو بزرګ څخه پوښتنه:**

د يو بزرګه څخه يو چا پوښتنه و کړه چې حضرت دا عجيبه معامله نه ده چې کله "فرعون" ﴿أَنَا الْحَقُّ، او أَنَا رَبُّكُمُ الأَعْلَى﴾ وويل نو قرآن هم پرده لعنت را واستوئ، او الله تعالی دی مردود انسان و ګرځوئ، او د ده د نامه سره ﴿عَلَيْهِ اللَّعْنَةُ﴾ ويل کېږي. او "منصور" هم د ﴿أَنَا الْحَقُّ﴾ نعره و کړه ليکن د ده د نامه سره "رحمة الله عليه" ويل کيږي د دې دواړو په مابين کې څه فرق وو. نو هغه بزرګ په جواب کې ورته وايي: چې "فرعون" چې کله ﴿أَنَا الْحَق﴾ وويل نو هغه د الله ذات محوه او ختم کړئ، د هغه پر ځای يې خپل ځان خدای و بالئ.
ليکن "منصور" چې کله ﴿أَنَا الْحَقُّ﴾ وويل: نو هغه خپل ځان محوه او مختم کړئ، صرف د الله ذات يې ثابت کړئ، نو ددې دواړو په مابين کې د ځمکې او اسمان فرق دئ. غرض مې دا دئ: چې د رياء کارۍ او د سمعة او د حُب جاه د ليرې کولو بنياد د الله تعالی محبت دئ، او د مخلوق څخه نګاه را اړول او د الله تعالی و طرفته متوجه کېدل دي.(۲)

(۱)مأخوذ ازتذکرة الاولياء ص ۲۲۶/۲۲۷/۲۲۸.
(۲)اصلاحي مواعظ ج۲ ص۱۳۲

## د حضرت شاه اسماعیل شهید رحمة الله علیه واقعه:

حضرت شاه اسماعیل شهید رحمة الله علیه یو ځل د دهلي په جامع مسجد کي درې ساعته مسلسل وعظ او تقریر و کړئ، د تقریر د ختم کېدو څخه وروسته چي کله دَی دباندي را وزي نو د مسجد په زینو کي یو سړی وینې چي په خپلو خولو کي غرق په منډه را خيږي. چي کله مسجد ته را ورسېدئ، نو که ګوري خلګ وځي ده ډېر افسوس و کړئ، چي د "شاه صاحب" تقریر زما څخه تېر سو، اتفاقاً د مسجد په زینو کي حضرت شاه اسماعیل شهید رحمة الله علیه په مخه ورغلئ، نو ده د خپلي ناعلمۍ پر بنا باندي پوښتنه ځني و کړه چي آیا د "مولوي اسماعیل" نصیحت ختم سو، نو "شاه صاحب" ورته وایي: چي هو ختم سو.

نو هغه سړي "انا لله" وویله چي زه خو د ډېر لیري ځایه څخه د وعظ اورېدلو دپاره راغلئ وم، ګویا هغه سړي ډېر حسرت او افسوس ښکاره کړئ.

نو شاه اسماعیل شهید رحمة الله علیه تر لاس ونیوئ او په زینو کي یې کښېنوئ، او ورته وایي: چي زما نوم "اسماعیل" دئ، ته دلته کښېنه چي کم نصیحت ما دې خلګو ته کړی دئ، هغه به اوس دوباره تاته کوم. نو په هغه زینو کي ورته ودرېدئ، هغه درې "ګنټې" نصیحت یې د هغه سړي دپاره دوباره تکرار کړئ.

وروسته یو چا ورته وویل چي حضرت تا ډېر لوی کمال و کړئ، چي د یوه سړي په خاطر دي په ګنټو نصیحت دوباره را وګرځوئ. "حضرت شاه صاحب" په جواب کي ورته وایي: چي خبره اصلاً دا ده ما مخکي هم د یو چا دپاره چي د الله ذات دئ، وعظ و کړئ، او اوس یې هم د هغه ذات دپاره کوم نو هغه مخکي هم یو وو، اوس هم یو دئ. زما مقصود د هغه یو ذات راضي کول دي، د مجمع د خوښي او ناخوښي زما سره څه پروا نسته. نو خلاصه د خبري دا ده چي "ریاء کاري" او "حُب جاه" غوندي بیمارياني د الله تعالی د عظمت او د محبت د کمي په وجه پیدا کیږي. نو د انسان دپاره په کار دا ده چي په خپل زړه کي د الله د محبت او د عظمت اضافه و کړي[1].

---

[1] اصلاحي مواعظ ج۲ص ۱۲۴

## د الله د محبت پيدا كولو طريقه:

حكيم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه ليكلي دي، چي د الله تعالی د محبت يوه طريقه خو دغه ده چي انسان د هغو انسانانو سره چي د هغو په زړه د الله تعالی محبت په پوره پيمانه وي تعلق پيدا كړي.

او د هغو په مجلسو كي كښېني او د هغې تعليمات واوري او پر هغه تعليماتو باندي عمل و كړي، نو به الله تعالی د ده په زړه كي هم خپل عظمت او محبت پيدا كړي. او يوه طريقه كسبي ده هغه دا چي انسان همېشه د الله تعالی د نعمتو استحضار كوي، چي الله تعالی پر ما باندي څنگه نعمتونه را اورولي دي.

او حضرت فرمايلي دي: چي د شپې د پرېوتو څخه مخكي دي په دې باره كي مراقبه كوي. د مراقبې مطلب دا دئ: چي خپل ذهن دي، د ټولو اشياء څخه خالي كړي صرف دا يو فكر دي، په ذهن كي را ولي چي الله تعالی كم نعمتونه ماته را كړي دي. او دوهم طرفته دي د خپلو تقصيراتو استحضار كوي، چي ما د الله تعالی د نعمتو كم حق ادا كړی دئ، صرف دا يوه سترگه د الله تعالی داسي نعمت دئ. كچيري دا يوه سترگه خرابه سي، نو انسان په لكونو روپۍ خرڅولو ته تيار وي، او الله تعالی ماته په مفته كي دا سترگه را كړې ده، ايا ما د دې څه حق ادا كړی دئ. نو يو طرفته د الله تعالی د نعمتو استحضار كول او بل طرفته د خپلو تقصيراتو سوچ او فكر كول نو په دې مراقبه او طريقه سره به "رفته، رفته" د انسان په زړه كي د الله تعالی محبت او عظمت پيدا كيږي.

او چي كله محبت او عظمت را غلئ، نو بيا به د انسان د زړه څخه د "رياء كارۍ" او "حُب جاه" بيمارۍ ليري كيږي، او د دې پر ځای به د انسان په ټولو اعمالو كي اخلاص په نصيب كيږي.

الله تعالی دي موږ او تاسو ته اخلاص او خپله رضاء كامله را نصيب كړي، او الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار كي قبولي او مقبولي و گرځوي.

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَ أَصحَابِهِ أَجمَعِين.

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الایه)

# شپږ نصیحتونه

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كـليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | ثلـــــــــــورم |
| تـاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾(١).

﴿وَعَنْ أَبِي جُرَيٍّ جَابِرِ بْنِ سُلَيمٍ، قَالَ: رَأَيْتُ رَجُلًا يَصْدُرُ النَّاسُ عَنْ رَأْيِهِ، لَا يَقُولُ شَيْئًا إِلَّا صَدَرُوا عَنْهُ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: هَذَا رَسُولُ اللَّهِ ﷺ، قُلْتُ: عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَرَّتَيْنِ، قَالَ: لَا تَقُلْ: عَلَيْكَ السَّلَامُ، فَإِنَّ عَلَيْكَ السَّلَامُ تَحِيَّةُ الْمَيِّتِ، قُلْ: السَّلَامُ عَلَيْكَ ' قَالَ: قُلْتُ: أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ؟ قَالَ: أَنَا رَسُولُ اللَّهِ الَّذِي إِذَا أَصَابَكَ ضُرٌّ فَدَعَوْتَهُ كَشَفَهُ عَنْكَ، وَإِنْ أَصَابَكَ عَامُ سَنَةٍ فَدَعَوْتَهُ، أَنْبَتَهَا لَكَ، وَإِذَا كُنْتَ بِأَرْضٍ قَفْرَاءَ أَوْ فَلَاةٍ فَضَلَّتْ رَاحِلَتُكَ فَدَعَوْتَهُ، رَدَّهَا عَلَيْكَ، قَالَ: قُلْتُ: اعْهَدْ إِلَيَّ، قَالَ: لَا تَسُبَّنَّ أَحَدًا قَالَ: فَمَا سَبَبْتُ بَعْدَهُ حُرًّا، وَلَا عَبْدًا، وَلَا بَعِيرًا، وَلَا شَاةً﴾(٢).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم، وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمُ، وَ نَحْنُ عَلٰی ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو سامعينو! ستاسو په مخ كي ما د پيغمبر ﷺ د يو طويل حديث د يو څه حصې روايت پيش كړئ.

---

(١) الحجرات آيت ١١

(٢) ابي داؤد حديث ۴٠٨۴

ځکه چي د حضور اکرمﷺ د احاديثو معنی خو نور ده، او د حديثو په الفاظو کي هم نورانيت دئ، او د احاديثو ويل دا د خير او برکت باعث دئ.
الله تعالی دي، د دې د صحيح فهم کولو او پر دې حديث باندي د عمل کولو توفيق را کړي.

## د حضور اقدسﷺ سره اول ملاقات:

حضرت جابر بن سُليم﷜ په دې حديث کي د پيغمبرﷺ سره د خپل اول ملاقات واقعه بيانوي.
چي کله پيغمبرﷺ نه پيژني نو دی وايي:
﴿رَأَيْتُ رَجُلًا يَصْدُرُ النَّاسُ عَنْ رَأْيِهِ، لَا يَقُولُ شَيْئًا إِلَّا صَدَرُوا عَنْهُ﴾.
چي ما يو سړی وليدئ: چي خلک په هره معامله کي د ده طرفته رجوع کوي، او په خپلو معاملاتو کي د ده څخه مشوره اخلي او هغه سړی چي کله خبره ورته و کړي.
نو د خلکو پر هغه خبره اطمينان کيږي.
﴿قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: هَذَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قُلْتُ: عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رَسُولَ اللهِ، مَرَّتَيْنِ، قَالَ: لَا تَقُلْ: عَلَيْكَ السَّلَامُ، فَإِنَّ عَلَيْكَ السَّلَامُ تَحِيَّةُ الْمَيِّتِ، قُلْ: السَّلَامُ عَلَيْكَ﴾ ما د دې خلکو څخه پوښتنه و کړه چي دا صاحب څوک دئ، خلکو راته وويل: چي دا د الله رسولﷺ دئ.
چي کله ماته دا معلومات وسو، چي دا محمدﷺ دئ، نو زه ده ته نږدې ورغلم او په دې الفاظو مي سلام ورته و کړئ.
چي ﴿عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رَسُولَ اللهِ﴾ دا الفاظ مي دوه ځله ورته وويل: ده راته وويل: چي ﴿عَلَيْكَ السَّلَامُ﴾ مه وايه بلکي ﴿السَّلَامُ عَلَيْكَ﴾ وايه.

په دې وجه چي ﴿عَلَيْكَ السَّلامُ﴾ دا د مړو سلام دئ، يعني چي کله مړو ته انسان سلام ور استوي، نو په هغه کي لفظ د "سلام" وروسته وي، او لفظ د ﴿عَلَيْکَ﴾ مخکي وي.

## د سلام د جواب ور کولو طريقه:

د دې حديث مطلب دا دئ: کچيري انسان د سلام ابتداء کوي نو ﴿السَّلامُ عَلَيْكَ﴾ ويل مناسب دي.

ليکن چي کله د سلام جواب ور کوي، نو د هغه طريقه په حديث شريف کي دا بيان سوې ده، چي ﴿وَعَلَيْکَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ﴾ يعني په جواب کي به د ﴿عَلَيْکَ﴾ لفظ مخکي ويل کيږي.

کچيري يو سړی د ﴿ السَّلَامُ عَلَيْكَ﴾ په جواب کي ﴿السَّلَامُ عَلَيْكَ﴾ ووايي نو واجب خو ادا سو، ليکن سنت طريقه دا ده چي په جواب کي دي، ﴿وَعَلَيْکَ السَّلَامُ﴾ وويل سي.

نن سبا د عصري تعليم سره د اشنا انسانانو په طبيعت کي دا خبره کښېنستلې ده چي ذوی د ﴿السَّلَامُ عَلَيْکَ﴾په جواب کي هم ﴿السَّلَامُ عَلَيْکَ﴾ وايي: حالانکي دا د سنتو خلاف طريقه ده.

## پر دواړو جواب ور کول واجب دي:

کچيري دوه انسانان يو د بله سره ملاقات کوي، او هر يو و بل ته ابتداءً سلام ووايي: چي د هغه په نتيجه کي دواړه په يو وخت کي ﴿السَّلَامُ عَلَيْكَ﴾ وايي.

نو په دې صورت کي پر دواړو باندي د سلام جواب ور کول واجبيږي نو دواړه دي ﴿وَعَلَيْکَ السَّلَامُ﴾ ووايي.

ځکه په دوی کي هر يو وهغه بل ته د سلام کولو ابتداء کړې ده نو پر هر يو باندي د هغه بل جواب ور کول واجب دي.

## په شریعت کي الفاظ هم مقصود وي:

د دې حدیثه څخه یوه بله بنیادي خبره معلومه سوه چي نن سبا خلک د هغې څخه په غفلت کي دي.

هغه دا چي د احادیثو معنی او مفهوم خو مقصود دئ، لیکن په شریعت کي د الله ﷻ او د الله ﷻ د رسول ﷺ ښودل سوي الفاظ هم مقصود وي.

تاسو ګورئ! د ﴿السَّلَامُ عَلَيْكُمْ﴾ او ﴿عَلَيْكُمُ السَّلَامُ﴾ د دواړو معنی خو یوه ده یعني پر تا دي سلامتي وي.

لیکن حضور اقدس ﷺ حضرت جابر بن سُلَیم ﷺ ته په اول ملاقات کي پر دې خبره تنبیه ور کوي چي د سلام کولو سنت طریقه او صحیح طریقه دا ده چي ﴿السَّلَامُ عَلَيْكُمْ﴾ انسان ووایي.

دا ولې؟ ځکه چي ددې په ذریعه سره پیغمبر ﷺ خپل امت ته دا تعلیم ور کړی دئ، چي "شریعت" په خپله خوښه سره لار جوړول او پر هغه د تګ کولو نوم نه دئ.

بلکي "شریعت" د الله او د الله د رسول ﷺ د اتباع نوم دئ.

نو د پیغمبر ﷺ په ښودل سوو الفاظو کي چي کم نور او برکت پروت دئ، هغه په بل لفظ باندي انسان نسي حاصولای.

نن سبا د پیښن پرسته انسانانو په ذهنو کي د سلام بجائې نور الفاظ راځي، څوک "ادا بي عرض" وایي: څوک "تسلیمات" وایي: او څوک "سلام مسنون" وایي.

لیکن په دې الفاظو سره د سنت طریقې ثواب او د سنت طریقې نورانیت انسان نسي پیدا کولای.

په دې حدیث کي تاسو و کتل چي پیغمبر ﷺ یو معمولي لفظ بدلول هم نه خوښوي.

## د يو صحابي واقعه:

يو صحابي ته پيغمبرﷺ يو دعاء وربنودلې وه، او ورته ويلي يې وه، چي کله د شپې د بيدېدلو اراده وکړې، نو دا دعاء وايه: په دې دعاء کي دا الفاظ هم دي:
﴿اللَّهُمَّ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ، وَنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ﴾(١).
يعني ما پر هغه کتاب باندي ايمان را وړئ دئ، چي تا را نازل کړئ دئ، او پر هغه نبي مي ايمان را وړئ دئ، چي تا را استولی دئ.
څو ورځي بعد حضور اقدسﷺ هغه صحابي ته وايي: کمه دعاء چي ما در ازده کړې وه هغه ماته يو ځل تکرار کړه، چي ته يې څنګه وايې.
هغه صحابي د دعاء اورولو په وخت کي په يو لفظ کي لږ بدلون کوي، او دعاء دا رنګه وايي:
﴿اللَّهُمَّ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ، وَبِرَسُوْلِكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ﴾ په دې دعاء کي د لفظ "نبي" پر ځای باندي د "رسول" لفظ وايي: حضور اقدسﷺ ورته فرمايي: چي هغه لفظ وو وايه؟ چي ما څنګه در ښوولی وو.
حالانکي د نبي او د رسول په لفظ کي خاص فرق نسته بلکي د اصطلاحي فرق په اعتبار سره د رسول درجه تر نبي يو څه لوړه ده.
ليکن د دې باوجود حضور اقدسﷺ ورته وايي: چي کم الفاظ ما در ښوولي وه، دا دعاء په هغه الفاظو باندي وايه.

## پر اتباع سنت باندي اجر او ثواب:

د حکيم الامت اشرف علي تهانوي رحمه الله عليه يو خليفه خاص حضرت عبدالحی رحمه الله عليه فرمايلي دي: کچيري تاسو يو کار د خپل طرفه څخه او د خپلي مرضا مطابق وکړئ.

---

(١)بخاري شريف حديث ٢٤٧

او بل طرفته دا غه کار د اتباع سنت په نیت د پیغمبر ﷺ پر طریقه باندي و کړئ، ددي دواړو په مابین کي به د مځکي او اسمان فرق محسوس کړئ.
ځکه چي کم کار ته د خپل طرفه څخه او په خپله رضا کوې، هغه ستا کار بلل کیږي، او پر هغه باندي ستا دپاره څخه اجر او ثواب نه وي.
او چي کم کار ته د اتباع سنت په نیت سره کوې، نو په هغه کار کي د سنتو د اتباع اجر او ثواب او د سنت طریقې برکت او نور شاملیږي.

## د ابو بکر او عمر رضی الله عنهما د تهجد واقعه:

په حدیث شریف کي راځي چي پیغمبر ﷺ به د شپې ګښت کاوۍ، او د صحابه کرامو د حالاتو خبر به یې اخستۍ.
یو ځل چي کله پیغمبر ﷺ د حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه د خېمې سره تیریږي، نو و یې لیدل چي هغه د تهجد په لمانځه کي په ډېر کرار کرار آواز سره تلاوت کوي.
د دې څخه وروسته د حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه د خېمې سره تیریږي نو که غوږ نیسي هغه په ډېر لوړ آواز سره د تهجد په لمانځه د قرآن کریم تلاوت کوي.
چي کله د سهار لمونځ ادا سو، نو دواړه حضرات یې را وبلل.
د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه څخه پوښتنه کوي، چي د شپې د تهجد په لمانځه کي دي ولي په ډېر اهسته آواز تلاوت کوئ؟
حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه په جواب کي ورته وایي: "أَسْمَعْتُ مَنْ نَاجَيْتُهُ" چي د کم چا سره مي مناجات کوئ په هغه مي اوریدئ د هغه ذات دپاره په لوړ آواز د تلاوت کولو ضرورت نه وو.
هغه ذات یې په آهسته آواز هم اوریدای سي، په دې وجه مي په آهسته آواز تلاوت کوئ.

د دې څخه وروسته د حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه څخه پوښتنه کوي، چي تا ولي د قرآن کریم تلاوت په دومره لوړ آواز سره کوئ؟ هغه په جواب کي ورته وایي:

﴿أُوقِظُ الوَسْنَانَ وَأَطْرُدُ الشَّيْطَانَ﴾ يعني بيده خلک مي را کښېنول او شيطان مي ترټې نو په دې وجه مي د قرآن کريم تلاوت په لوړ آواز سره کوئ.
ليکن حضور اقدس ﷺ حضرت صديق اکبر رضي الله عنه ته وايي:
﴿ارْفَعْ قَلِيلًا﴾ ته خپل آواز يو څه لوړ کړه او حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه ته وايي:
﴿اخْفِضْ قَلِيلًا﴾(١) ته خپل آواز يو څه کښته کړه.

## د پيغمبر ﷺ پر طريقه عمل کول:

د دې حديث په شرح کې د حديثو شارحينو ليکلي دي، چې د پيغمبر ﷺ مقصود د دې دواړو حضراتو قرائت د قرآن کريم د دې حکمه سره برابرول وو.
﴿وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا﴾(٢).
يعني په لمانځه کې به نه آواز ډېر لوړېږي او نه به ډېر کښته کېږي او د دواړو په مابين کې يو متوسطه طريقه اختيارول ضروري دي.
ليکن صوفياء کرام د دې واقعې په باره کې فرمايي: چې د حديث د شارحينو بيان کړئ حکمت پر خپل ځای باندي ډېر صحيح دئ.
ليکن په دې کې يو لوی حکمت دا دئ، چې پيغمبر ﷺ دې حضراتو ته دا تعليم ورکوي چې ای صديق اکبره! او ای فاروق اعظم! تر اوسه پوري تاسو په خپله رأيه او په خپله خوښه د ځان دپاره د تلاوت يوه طريقه متعينه کړې وه، او تلاوت مي کوئ.
او آئنده چې کم تلاوت کوئ، نو هغه به زما پر طريقه باندي کوئ، ستاسو پخپله طريقه کې د اتباع سنت نور او برکت نسته کچيري تاسو زما پر طريقه عمل و کړئ، نو د تلاوت د ثوابه سره سره د اتباع سنت د نور او برکت او د اجر او ثواب مستحقين جوړ سی.

---

(١) ترمذي شريف حديث نمبر ۴۴۷
(٢) الاسراء آيت ۱۱۰

لهذا د دې حديث څخه دا اصل معلوم سو چې د هر کار کولو په وخت کې دا نيت د انسان باید نه وي چې بس دا کار وسي.

بلکې په دې کې دا طريقه اختيار ول چې محمد رسول اللهﷺ انسانانو ته ور ښودلې ده، او حتى الامکان هغه اختيار ول چې پیغمبرﷺ بیان کړې ده. نو بیا به په هغه کې د سنتو نور او برکت راځي.

## زه د رشتوني خدای رسول يم:

حضرت جابر بن سُلَيمؓ فرمايي: چې ماته کله پیغمبرﷺ د سلام کولو طريقه را وښوله.

﴿قُلْتُ أَنْتَ رَسُولُ اللّٰهِ؟ قَالَ: أَنَا رَسُولُ اللّٰهِ الَّذِي إِذَا أَصَابَكَ ضُرٌّ فَدَعَوْتَهُ كَشَفَهُ عَنْكَ﴾ نو ما پوښتنه څنې وکړه چې ته د الله رسول یې؟

ده په جواب کې راته وویل: چې د هغه الله رسول يم کچيري تاته يو تکليف در ورسيږي، یا په يو مصيبت کې ګرفتار سې د هغه مصيبت د ليري کولو دپاره ته هغه الله را وبولې نو هغه الله ستا دا مصيبت او تکليف ليري کوي.

د جاهليت په زمانه کې به خلګو د بُتانو عبادت کوئ، او هغه به یې خدايان جوړ کړي وه.

ليکن په هغوی کې يو صفت وو، چې کله به په مصيبت کې ګرفتار سو، نو بيا به يې نعره د ځان خلاصولو دپاره صرف د الله تعالى پر نامه کوله لکه قرآن کريم چې وايي:

﴿فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾(١).

چې کله به هغو خلګو په کښتۍ کې سفر کوئ، او په درياب کې به طوفان راغلئ، او د بچاوېدو لار به نه وه.

---

(١)عنکبوت آيت ٦٥

نو هغه وخت به د دوی څخه لات، عزی، منات، هېر سول په هغه وخت کې به يې صرف د الله تعالی پر نامه باندې نعره کوله چې يا الله موږ ته د دې مصيبت څخه نجات را کړې.

نو په دې حديث کې پيغمبر ﷺ دا وفرمايل: چې زه د هغه درواغجنو خدايانو رسول نه يم، بلکې د رښتوني واحد خدای رسول يم.

بيا پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل:

﴿وَإِنْ أَصَابَكَ عَامُ سَنَةٍ فَدَعَوْتَهُ، أَنْبَتَهَا لَكَ، وَإِذَا كُنْتَ بِأَرْضٍ قَفْرَاءَ أَوْ فَلَاةٍ فَضَلَّتْ رَاحِلَتُكَ فَدَعَوْتَهُ، رَدَّهَا عَلَيْكَ﴾.

چې زه د هغه الله رسول يم چې کله پر تاسو باندې قحطي راسي نو تاسو هغه الله را بولی نو ستا سو قحطي ليرې کوي.

او زه د هغه الله رسول يم، چې کله تاسو په يو بتې بيبان صحراء کې سفر کوئ، او هلته ستاسو اوښ ورک سي.

او تاسو د الله پر نامه باندې فرياد و کړئ، چې ياء الله! زما اوښ ورک دئ، هغه دې ماته واپس راسي نو الله تعالی ستاسو هغه ورک سوی اوښ تاسو ته بيرته را ولي.

## د بزرگانو څخه نصيحت طلبول:

نو حضرت جابر بن سُلَيم ﷺ ورته وايي: ﴿قُلْتُ: اعْهَدْ إِلَيَّ﴾ چې ای د الله رسوله! ماته يو نصيحت وکړه.

ددې څخه بزرگانو دا اصول را ايستلي دي، چې کله يو سړی يو مشر ته ورسي بيا خاص داسي سړي ته چې په دين کې الله تعالی لوړ مقام او مرتبه ور کړې وي، نو د هغه څخه دې يو نصيحت طلب کړي.

ځکه چي بعضي اوقات د نصيحت کلمه د هغه د خولې ځخه په داسي انداز سره ادا سي، چي هغه د دې نصيحت طلبونکي پر زړه باندي اثر و کړي، او د هغه نصيحت په وجه د ده په زندګي کي انقلاب راسي.

د هغې وجه دا ده چي کله انسان په رشتوني زړه سره او په صادق طلب سره د يو بزرګ ځخه د نصيحت طلب و کړي الله تعالٰی د هغه بزرګ پر زړه باندي داسي نصيحت را واريدوي چي په دې وخت کي د دې سړي د شانه سره مناسب وي.

ګورئ، د بزرګ په ذات کي هيڅ نسته هدايت ورکونکی الله تعالٰی دئ، ليکن کچيري د انسان طلب صادق وي، نو الله تعالٰی ده ته د يو چا په ذريعه سره داسي نصيحت پيشوي، چي د ده په حق کي فائده مند وي، او په هغه سره د ده هدايت په نصيب سي، نو ځکه بزرګان وايي: چي تاسو يو بزرګ ته ورسئ نو د هغه ځخه د نصيحت طلب کوئ.

## اولنی نصيحت:

بهر حال چي کله حضرت جابر بن سُلَيم ﷺ د نصيحت غوښتنه و کړه نو پيغمبر ﷺ اولنی نصيحت حضرت جابر ﷺ ته دا کوي:

﴿لا تَسُبَّنَّ أحَدًا﴾ چا ته ښکنځل او بد ګويي مه کوه؟ يعني هره کلمه چي د ښکنځلو او بدو الفاظو په زمره کي راځي داسي کلمه د چا دپاره مه استعمالوه.

تاسو ګورئ! حضرت جابر ﷺ د پيغمبر ﷺ سره اول ملاقات دئ، او په هغه کي اول نصيحت دا ورته کوي، چي بل چا ته بده کلمه مه استعمالوه.

د دې ځخه تاسو اندازه ولګوئ چي د حضور اقدس ﷺ په نزد د بل مسلمان د دل ازارئ ځخه د بچاوېدلو څومره اهميت دئ. او دا چي د يو مسلمان د ژبي ځخه يو غلطه او بده کلمه د چا دپاره نه را ووځي.

## د حضرت صدیق اکبر ﷺ واقعه:

حضرت صدیق اکبر ﷺ یو ځل خپل غلام ته په غوصه دئ، او په غوصه کې یې د هغه غلام دپاره د لعنت یو کلمه د خولې څخه را ویسته.

چې کله حضور اقدس ﷺ هغه کلمه واورېده نو ورته وایي:

﴿لَعَّانِيْنَ وَصِدِّيْقِيْنَ كَلَّا وَرَبِّ الْكَعْبَةِ فَعَتَقَ أَبُوْ بَكْرٍ يَوْمَئِذٍ بَعْضَ رَقِيْقِهِ﴾(۱).

یعنې انسان چې لعنت هم کوي، او صدیق هم وي، په رب د کعبې دې مې قسم وي، چې داسې نسې کېدای ځکه چې کم څوک صدیق وي هغه لعنت نه کوي.

ګورئ! حضور اقدس ﷺ حضرت ابو بکر ﷺ ته په دومره سختو الفاظو باندې تنبیه ورکوي. او حضرت ابو بکر صدیق ﷺ د دې خبرې تلافي په دې رنګه سره کوي. چې هغه غلام د کفارې په طور آزادوي.

## پر دې نصیحت تول ه زندګي عمل کول:

لهذا یو چاته بد ویل او د هغه دپاره غلط الفاظ استعمالول ښه خبره نه ده، نن سبا زمونږ پر ژبو باندې دا قسمه بد الفاظ عادت سوي دي، مثلاً خبیث، احمق، کم بخت، بدبخت، وغیره دا داسې الفاظ دي.

چې د یو مسلمان دپاره استعمالول خو حرام دي، مسلمان خو څه کوې، بلکې د یو جانور او کافر دپاره هم دا الفاظ استعمالول ښه خبره نه ده، چنانچه حضرت جابر بن سُلیم ﷺ فرمایي:

﴿لَمَّا سَبَبْتُ بَعْدَهُ حُرًّا، وَلَا عَبْدًا، وَلَا بَعِيْرًا، وَلَا شَاةً﴾ د دې نصیحت د اورېدلو څخه وروسته ما بیا هیڅ کله نه یو غلام ته او نه ازاد ته نه اوښ ته نه یو پسه ته بده کلمه استعمال کړې ده.

---

(۱) الترغیب والترهیب حدیث ۲۷۸۵

دا هغه صحابه کرام وه، چي کم نصیحت به یې واورېدئ، نو هغوی به پر خپل زړه باندي داسي نقش کړئ چي د ټولي زندګۍ به یې د ستور العمل جوړ کړئ.

## د پیغمبر ﷺ سنت خپلول:

صحابه د پیغمبر ﷺ د دین محافظین وه، او د پیغمبر ﷺ د عاشقانو مجمع وه، چي هغوی به د پیغمبر ﷺ هره خبره پر خپل زړه نقش کوله او پر خپل بدن به یې جاري کوله.
په مدینه منوره کي د صحابه کرامو د پیغمبر ﷺ سره د عقیدت دا حال وو، چي د ټولو صحابه ؤ لباس ناسته ولاړه او د زندګۍ ټوله ضروریات د پیغمبر ﷺ په شکل باندي دي.
چي کله به د مدینې منورې د بهر څخه وفدونه را تلل او د پیغمبر ﷺ ملاقات به یې کوئ، چي کتل به یې نو ټولو خلګو به په یو شکل لباس در لودئ، او د ټولو خلګو ناسته او ولاړه به په یو شکل وه، نو دېر ځله به هغوی ته دا مشکل پیداسو، چي په دې انسانانو کي امتي کم دئ، او نبي کم دئ.
نو بیا به دوی پوښتني کولو ته مجبوره سوه، د پوښتني کولو څخه وروسته به دا ور معلومه سوه، چي دا نبي دئ، او دا نور امتیان دي، نو د صحابه ؤ د پیغمبر ﷺ خبره منل او د هغه په سنتو عمل کول د زندګۍ لوی شعار وو.

## د یو حبشي صحابي د سنتو اتباع:

په مدینه منوره کي یو صحابي دئ، هغه د حبشې او سېدونکی دئ، د هغه د سر وربښتان پېچلي وه، چي ده به هر څومره کوشش و کړئ، نو په هغه وربښتانو کي لار نه جوړېدله او هغه وربښتان د پیغمبر ﷺ پر سنت طریقه نه برابرېدله نو دی به همېشه پرېشانه وو.

او دا به يې تمنا وه، چې کاشکي مي د سر وربښتان د پيغمبرﷺ پر طريقه باندي جوړ واى.

خو د ډېر کوشش څخه وروسته هم په هغه کي لار نه وتله او هغه د پيغمبرﷺ پر طريقه نه برابرېدله.

آخر يې دا ترتيب په سوچ کي را وستئ چي او سپينه يې ګرمه کړه او بيا يې د سر پر نيمايي باندي کښېښوله د سر پوست يې وسوځل سو، چي کله جوړ سو، نو بيا به هغه پوست سپين معلومېدئ، او وربښتان به نه پر راتلل او د سر د لاري غوندي شکل به يې وو.

صحابه کرامو به ورته ويل چي آخر د دومره تکليف ضرورت خو نه وو، ده به ورته ويل چي تکليف مي لږ و کړئ، ليکن سر مي ټوله زندګي د محمد رسول اللهﷺ پر طريقه برابر کړئ، او په دې به ډېر خوشحاله وو(¹).

نو د صحابه کرامو د پيغمبرﷺ سره په داسي شکل محبت وو، او هغوی به په داسي شکل باندي د پيغمبرﷺ وخبرو ته په خپل زړه او دماغ کي ځای ور کوئ او د پيغمبرﷺ سنت طريقه به يې پر خپل ځان عملي کوله.

## د دې نصيحت دوهم مطلب:

بعضو نورو محدثينو د دې حديث دا معنی هم کړې ده، چي چاته بد نه ويل يعني يو سړی که هر څومره بې کاره کار کوي، ګناه کوي، معصيت او نافرماني کوي، ته به د ده دغه فعل بد بولې او بد به ورته وايې.

ليکن د ده ذات ته به بد نه وايې او د ده ذات به حقير او ذليل نه بولې.

ځکه تاته څه معلومه ده، چي د ده انجام به څنګه وي، يقينًا هغه سړی به نن بد کار کوي، او د هغه په وجه به ته دی بد بولې.

---

(¹) خطبات فقير جلد ٨ صفحه ١٥٩

لیکن څه معلومه ده، چي الله به د ده اصلاح و کړي او د مرګه څخه مخکي به د توبې او د ښو اعمالو توفیق ور کړي، چي کله د الله تعالی حضور ته ورسي، نو بالکل به د ګناه څخه صاف وي.

نو ځکه د یو چا ذات حتی چي د کافر ذات هم باید انسان بد نه وبولي ځکه چي نه معلوم الله تعالی به ده ته د ایمان توفیق ور کړي، او دی به ستا څخه په نیکو اعمالو کي مخته ولاړ سي.

په حدیث شریف کي راځي حضور اقدس ﷺ فرمایي:

﴿الْعِبْرَةُ بِالْخَوَاتِيمِ﴾(۱).

یعني اعتبار د خاتمې دئ، چي خاتمه پر کم حالت وي.

کچیري د ده پر ایمان او عمل صالح باندي خاتمه وي، نو هغه الله تعالی ته مقبول دئ، نو هغه ستا څخه هم مخکي سو.

## د شپانه عجیبه واقعه:

د غزوه خیبر موقع وه، یو شپانه د پیغمبر ﷺ خدمت ته راغلئ، چي هغه د یهودو رمه څاروله دې شپانه چي کله و کتل چي د خیبره څخه دباندي د مسلمانانو لښکر راغلئ دئ، د ده په زړه کي دا خیال راغلئ، چي زه به ورسم د هغو سره به ملاقات و کړم، او دا به معلومه کړم، چي مسلمانان څه وایي: او څه غواړي.

چنانچه خپل پسونه یې را روان کړه او د مسلمانانو خېمو ته راغلئ، او د هغو څخه یې پوښتنه و کړه چي ستاسو سردار څوک او چیري دئ، صحابه کرامو ورته وویل: چي زموږ سردار محمد ﷺ دئ، او په دې خېمه کي دننه دئ.

---

(۱) ابن ماجه حدیث ۴۱۹۹.

اول خو د شپانه د دوی پر خبرو باندي یقین نه راتلئ د هغه دا فکر وو، چي دومره لوی سردار او په دومره معمولي خېمه کي څنګه کښېني.
د هغه په ذهن کي دا وه چي کله پیغمبرﷺ دومره لوی بادشاه دئ، نو هغه به په ډېر لوی شان او شوکت سره اوسېږي، لیکن هلته د خور ما د پاڼو څخه یو چیتایي خېمه جوړه ده.
خیر! هغه شپانه دې خېمې ته دننه راغلئ، او د پیغمبرﷺ سره یې ملاقات وسو، او د پیغمبرﷺ څخه یې پوښتنه و کړه، چي تا څه پیغام را وړئ دئ، او د کمي خبري دعوت پېشوې.
حضور اقدسﷺ د ده و مخته د اسلام او د ایمان دعوت پېش کړئ، ده پوښتنه څني و کړه کچیري زه د اسلام دعوت قبول کړم زما به څه انجام وي، او زما به کمه مرتبه وي.
پیغمبرﷺ ورته فرمایي: چي د اسلام را وړلو وروسته به ته زموږ ورور جوړ سې، او موږ به ستا سره غاړه په غاړه سو.
هغه شپانه ورته وايي: چي تاسو زما سره مذاق کوئ زه چیري او تاسو چیري زه یو معمولي شپانه یم، او په رنګ تک تور انسان یم، نو زما د بدنه څخه بدبویي ولاړېږي، په داسي حالت کي به ته زما سره څنګه غاړه په غاړه سې؟
پیغمبرﷺ ورته فرمایي: چي زه به ضرور ستا سره غاړه په غاړه کېږم، او ستا د جسم توروالی به الله تعالی په سپین والي دربدلوي، او الله تعالی به ستا د جسم څخه پورته کېدونکې بدبویي په خوشبویي دربدلوي.
هغه شپانه چي کله دا خبري واورېدې نو مسلمان سو، او کلمه د شهادت یې وویله، د کلمې د وینا څخه وروسته د پیغمبرﷺ څخه پوښتنه کوي، چي ای د الله رسوله! اوس زه څه و کړم، پیغمبرﷺ ورته وايي: چي تا خو په داسي وخت کي اسلام را وړئ، چي نه د لمانځه وخت دئ، چي زه په تا لمونځ و کړم.

او نه د روژې وخت دئ، چې زه به تا روژه ونيسم نه زكوة پر تا فرض دئ، په دې وخت كي صرف يو عبادت دئ، چې هغه تر توري لاندي سرته رسول كيږي، هغه دئ، جهاد في سبيل الله.
هغه شپانه ورته وايي: چې اى د الله رسوله! زه به په دې جهاد كي ستاسو ملګرئ سم، ليكن چې كم سړى جهاد ته ورسي، نو د دوو خبرو څخه يوه ضرور پېښيږي يا غازي يا شهيد.
كچيري زه په دې جهاد كي شهيد سم، نو ته زما دپاره كم ضمانت اخلې پيغمبرﷺ ورته وايي: زه د دې خبري ضمانت اخلم كه ته په دې جهاد كي شهيد سې الله تعالى به تا جنت ته رسوي او ستا د بدن بدبويي به په خوشبويي بدلوي، او ستا د مخ تور والى به په سپين والي بدلوي.

## پسونه واپس كړه او بيا راسه:

چونكه هغه شپانه د يهودو پسونه كتل او هلته راغلئ وو نو حضور اقدسﷺ ورته وايي: تا خو د يهودو پسونه را وستلي دي، ورسه دا هغوى ته واپس كړه څكه چې دا پسونه ستا سره امانت دي.
د دې څخه بايد انسان اندازه ولګوي، چې د كمو انسانانو سره جنګ شروع دئ، او پر هغوى باندي محاصره را څرخېدلې ده، او د هغو مال مال غنيمت دئ.
ليكن چونكه هغه شپانه هغه پسونه په معاهده را وستلي وه، نو پيغمبرﷺ حكم ورته كوي، چې اول هغه پسونه واپس كړه او بيا راسه په جهاد كي شامل سه.
چنانچه هغه شپانه پسونه واپس بوتله او بيا راغلئ په جهاد كي شامل سو او شهيد سو.

## جنة الفردوس ته ورسېدئ:

چي کله جنګ ختم سو، نو حضور اقدس ﷺ د خپل لښکر جائزه اخلي یو ځای که ګوري صحابه کرام را ټول دي، پیغمبر ﷺ چي قریب ورغلئ، پوښتنه ځني کوي، چي څه خبره ده؟

صحابه کرام ورته وایي: چي کم کسان چي په دې جنګ کي شهیدان سوي دي، په هغوی کي یو داسي سړی هم سته چي مونږ یې نه پېژنو پیغمبر ﷺ ورته وایي: چي ماته یې را ښکاره کړئ چي کله یې ولیدئ.

نو پیغمبر ﷺ وفرمایل: تاسو دا سړی نه پېژني مګر زه یې پېژنم دا شپانه وو، او دا هغه عجیب او غریب بنده وو، چي د الله په لار کي یې یوه سجده هم نه وکړه زه د دې خبري ګواهي ورکوم چي الله تعالیٰ دی سیده "جنة الفردوس" ته ورسوئ.

او زما سترګي ویني چي ملائکي ده ته غسل ورکوي، او د ده تور والی په سپین والي بدل سو، او د ده بدبویي په خوش بویي بدله سوه([1]).

## اعتبار خاتمې ته دئ:

تاسو ګورئ! کچیري یو څه زمانه مخکي هغه شپانه ته مرګ راغلئ وای نو سیده به "جهنم" ته تللی وای، لیکن اوس په داسي حال کي مرګ ورته راغلئ، چي ده ایمان را وړئ دئ، او د پیغمبر ﷺ غلامي یې قبوله کړې ده، نو الله تعالیٰ د هغه په زندګي کي دومره لوی انقلاب را وستئ.

نو ځکه پیغمبر ﷺ فرمایي: ﴿اَلْعِبْرَةُ بِالْخَوَاتِيمِ﴾([2]).

چي اعتبار خاتمې ته دئ.

---

([1])اصلاحي خطبات ج٦ ص٢٢٥

([2])ابن ماجه حدیث ۴۱۹۹

ډېر لوی‌لوی بزرگان په ډېر خوف کې وي، او دا دعاء کوي، چې یا الله خاتمه پر ایمان را نصیب کړې، او حسن خاتمه راته را کړې، پر کمه خبره به انسان ناز و کړي، او په کمه خبره به انسان فخر و کړي، ځکه څه معلومه ده، چې سبا څه کیږي، نو ځکه پیغمبر ﷺ فرمایي: ﴿لا تَسُبَّنَّ أَحَدًا﴾ چې چاته په سپک نظر مه ګوره؟

## د یو بزرګ نصیحت آموز واقعه:

حضرت مفتي محمد شفیع رحمة الله علیه د یو بزرګ واقعه لیکلې ده، چې هغه پر یو لار روان وو، خلکو پر ده باندي مذاق او مسخرې کولې لکه نن سبا چې یو صوفي یو ساده بزرګ او ملا خلګ تر خپلو مسخرو لاندي را ولي.

بهر حال د مذاق په شکل یو سړي د هغه بزرګه څخه پوښتنه و کړه، چې دا راته و وایه؟ ته به ډېر ښه یې که زموږ دا سپی به ډېر ښه وي.

د هغه بزرګ پر دې سوال باندي په طبیعت کي هیڅ تغیر او تکدر نسو پیدا په جواب کي ورته وایي: چې زه اوس ددې خبري جواب نسم در کولای چې زه به ډېر ښه یم او که ستاسو سپی.

ځکه دا معلومه نه ده چې زما وفات به پر کم حالت باندي راځي کچیري پر ایمان او پر نېک عمل باندي زما خاتمه راسي، نو په دې صورت کي خو زه ستاسو د سپي څخه ښه یم.

او کچیري خدانخواسته زما خاتمه په بد حالت کي سي، نو یقینا به ستاسو سپی تر ما ښه وي. ځکه چې هغه خو جهنم ته نه ځي او نه څه عذاب ور کول کیږي.

او زه به هم جهنم ته ځم او هم بهٔ د عذابه سره مخامخ کېږم(¹).

---

(¹) اصلاحي خطبات جلد: ٦ صفحه: ٢٢٩

د الله د نيکو بندګانو دا حال وي، چې د هغوی نظر پر خپله خاتمه وي، نو ځکه پيغمبرﷺ فرمايي: چې هر څومره بدتر انسان وي، د هغه و ذات ته په سپک نظر مه ګوره! او مه هغه ته بد وايه ځکه د هغه اعمال به بېشکه بېکاره وي، ليکن د هغه و ذات ته بد ويل جائز نه دي، چې تر څو پورې دا نه وي معلومه سوې، چې د هغه انجام څنګه کېږي.

## د حکيم الامت غايت تواضع:

حضرت حکيم الامت مولانا تهانوي قدس الله سره فرمايي: چې زه هر مسلمان في الحال د ځانه څخه افضل بولم او هر کافر احتمالا د ځانه څخه افضل بولم.

يعني چې کم مسلمان دئ، د هغه په زړه کي نه معلوم چې څومره لوړي درجې والا ايمان وي، او د هغه به د الله تعالی سره خفيه تعلق وي، او زما هغه تعلق نسته نو ځکه هغه اوس تر ځان افضل بولم.

او کافر احتمالا په دې وجه افضل بولم چې په ظاهر خو هغه کافر دئ، ليکن څه معلومه ده، چې الله تعالی به هغه ته د ايمان توفيق ور کړي، او د هغه خاتمه به پر ايمان سي، او زما خاتمه نه ده معلومه.

چې کله حضرت تهانوي رحمة الله عليه دا وايي: نو زه او تاسو په کم شمار او قطار کي يو.

دا ټولي د دين خبري دي، د دين دغه خبري خلګو نن د دماغه څخه ايستلي دي، عبادات لمونځ او روژه او تسبيحات خو مو د دين حصه بولو ليکن دا خبري مو د دينه څخه خارج کړي دي، او چې د کم سړي پر خوله چې څه راځي هغه وايي: حالانکي د الله تعالی په دربار کي د يو يو شي حفاظت کېږي او د انسان څخه پوښتنه کېږي، او د الله تعالی فرمان دئ.

﴿مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ﴾(١).
انسان د خولې څخه يو لفظ نه ادا کوي، مګر د ده و حضور ته يو منتظره ناسته ملائکه وي.

## د حجاج بن يوسف غيبت کول:

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ په مجلس کي يو سړي "حجاج بن يوسف" ته بد ويل شروع کړه او د هغه غيبت يې کوئ، "حجاج بن يوسف" هر څوک پيژني چي د هغه ظلم او ستم په ټوله دنيا کي مشهوره وو.
په سوونو مسلمانان يې بې ګناه قتل کړه حضرت عبدالله بن عمر ﷺ هغه سړي ته وايي: چي ای سړيه! دا ته چي د "حجاج بن يوسف" غيبت کوې، دا مه وايه چي د "حجاج بن يوسف" پر غاړه د سوونو انسانانو خون دئ، نو د هغه غيبت ماته حلال سو.
چي کله د قيامت په ميدان کي د "حجاج بن يوسفه" څخه د سوونو انسانانو د خون بدله اخستل کيږي نو په هغه وخت کي به ستا څخه د "حجاج بن يوسف" د غيبت کولو مواخذه کيږي.(٢)
نو بلا وجه بايد سړی د هيڅ چا غيبت و نه کړي.
کچيري يو بل مسلمان د تکليف څخه د بچا وولو دپاره د يو خبري ضرورت راسي، نو دا رنګه انسان ويلای سي، چي وروره د فلانکي سړي سره هوښيار اوسه او د هغه څخه ځان بچاو کړه ليکن بلا وجه د مجلس د ښائسته کولو دپاره د مسلمان غيبت کول جائز نه دي.

(١) ق آيت ١٨
(٢) اصلاحي خطبات جلد ۴ صفحه ٩١.

## د انبياء کرامو عادات:

د انبياء کرامو عليهم السلام عادات مبارکه داسي وو، چي هغوی به هيڅ کله يو چاته د بنکنځلو جواب په بنکنځلو نه ور کوئ، حالانکي شريعت د هغه اجازه ودوی ته ور کړې ده، چي څومره پر تاسو باندي ظلم کيږي تاسو هم د هغه بدله ور کولای سئ.

ليکن انبياء کرام عليهم السلام هيڅ کله د بنکنځلو بدله په بنکنځلو نه ده ور کړې د قوم د طرفه څخه يو نبي ته ويل کيږي:

﴿قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ﴾ کافرانو به دوی ته ويل چي تاسو بې وقوف ياست او تاسو په حماقت کي مبتلاء ياست او زموږ خيال دا دئ: چي تاسو دروا غجن ياست.

کچيري زموږ غوندي يو څوک وي، نو هغه به په جواب کي دستي ورته ووايي: چي تاسو احمق ياست او ستاسو پلار احمق دئ.

ليکن د نبي جواب دا وو: ﴿قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي سَفَاهَةٌ وَلَكِنِّي رَسُولٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾(۱).

ای زما قومه! زه بې وقوف نه يم، بلکي د پرودګار د طرفه د رسول په شکل تاسو ته راغلئ يم.

## د شاه اسماعيل شهيد رحمة الله عليه واقعه:

حضرت شاه اسماعيل شهيد رحمة الله عليه د شاهي خاندان يو فرد وو، چي الله تعالی د ده په زړه کي د دين عشق او محبت پيدا کړی وو، او د دين خبره به يې تر خلګو پوري په داسي انداز رسوله چي په سينه کي به يې اور بل وو، او د شرک او بدعاتو خلاف به يې جهاد کوئ.

عام طور خلګ د داسي سړي دښمني هم زياته کوي.

---

(۱) الاعراف آيت ٦٦/٦٧

یوه ورځ د "دهلي" په جامع مسجد کي وعظ او نصیحت کوي، په زرونو مجمع ورته ناسته ده یو سړی د مجمع په مابین کي ولاړ سو، او ده ته د تکلیف رسولو په خاطر د ټولي مجمع په مابین کي دا وايي.

مولانا! موږ دا اورېدلي دي، چي ته حرام زاده یې تاسو اندازه ولګوئ! چي دومره لوی عالم او د شاهي خاندان یو فرد او هغه ته دومره سخت ښکنځل کول. کچیري یو بل څوک وي، نو هغه به پر هغه انسان خپله غوصه وکاږي که نور نه وي، په خپلو معتقدینو به هغه سړی سره وشلوي.

لیکن شاه اسماعیل شهید رحمة الله علیه چونکه د پیغمبرانو وارث دئ، نو دی مبارک په جواب کي ورته وايي.

سړیه! تاته غلطه اطلاع رسېدلې ده زما د مور د نکاح ګواه اوس هم د دهلي په ښار کي موجود دي.

دا وه پیغمبرانه اخلاق او پیغمبرانه سیرت چي چاته به د ښکنځلو جواب په ښکنځلو نه ورکوي.

نو پیغمبر ﷺ د نصیحت مقصد یو دا وو، چي چاته ښکنځل نه کول او دوهم دا چي پر بد عمل باندي څوک سپک نه ګڼل د بد عمله څخه نفرت کول لیکن د هغه بد عمله انسان د ذاته سره محبت او همدردي کول، او په ډېر شفقت او مینه سره هغه انسان د بدعمله څخه را ګرځول.

الله تعالی دي موږ او تاسو ته پر دې نصیحت باندي د عمل کولو توفیق را کړي. الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

﴿آمِيْنَ يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ﴾

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ أَصْحَابِهٖ أَجْمَعِيْنَ.

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د شهداؤو مقام

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كـليم الله صـاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــــاعـت | ثلـــــــــورم |
| تـاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلٰكِنْ لَا تَشْعُرُونَ﴾(١).

وقال رسول الله ﷺ: ﴿يُغْفَرُ لِلشَّهِيدِ كُلُّ ذَنْبٍ إِلَّا الدَّيْنَ﴾(٢).

هٰذَا كِتَابُ اللّٰهِ يَنْطِقُ بَيْنَنَا... لَيْسَ الشَّهِيدُ بِمَيِّتٍ لَا يَكْذِبُ

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

## تمهيد:

محترمو مشرانو! د يو مبارک او مغفور شهيد د فاتحې مراسم دي او مشران علماء كرام ناست دي.

زه د دې شهيد د شهادت متعلق يو څو د دين خبري كوم، الله تعالى دې قبولي او مقبولي وګرځوي.

په قرآن كريم كي الله تعالى انسانان منع كړي د دې خبري څخه چي و شهيد ته مړى ووايي: بلكي الله تعالى فرمايي، چي تاسو به شهيد ته مړى نه واياست، هغه ژوندي دي.

ستاسو په عقل او فهم كي دومره شعور او ادراک نسته چي د هغه ژوند و ځان ته معلوم كړئ.

---

(١) سورة البقره آيت نمبر ١٥٤

(٢) رواه مسلم

## شهيد ته د مړي نه ويلو وجه:

مفسرينو حضراتو! شهيد ته د مړي نه ويلو دوې وجهي ليکلي دي.

۱. اوله وجه خو دا ده، چي شهيد د يو فاني، او عارضي، او د پرېشانيو ډکه، او ژر ختمېدونکې، زندګۍ څخه ولاړئ، د دې په مقابل کي الله جل جلاله يو ډېره دائمي ابدي او د خوشحاليو ډکه او نه ختمېدونکې زندګي په نصيب ور کړه.

نو د انسان عقل هم دا وايي، چي يو څوک د فاني زندګۍ څخه رخصت سي او د هغې په بدل کي دائمي زندګي ور په نصيب سي، بايد هغه ته مړی نه وويل سي؛ ځکه چي پر حقيقي ژوند په حقيقت کي اوس برابر سو.

۲. دوهمه وجه دا ده، چي د مړي د نامه څخه پر انسان باندي يو هيبت، وحشت او دهشت راځي، چي د هغه څخه د ژوندی انسانانو حوصلې کښته کېږي.

ليکن د دې پر ځای د شهيد د نامه ويلو څخه د پاته انسانانو حوصلې نوري مضبوطه او بلندېږي او جذبه يې نوره را پورته کېږي.

چنانچه که د ملک زر انسانان پر يوه ځای مړه سي، نو د ټوله ملک نظام به درهم برهم سي او ضرور به د هنګامي حالت اعلان کېږي.

ليکن که د يو ملک زر کسان پر يوه ځای شهيدان سي، نو د پاته انسانانو د حوصله شکنۍ پر ځای جذبات نور بلند او لوړېږي. په دغه وجه باندي الله تعالیٰ "مقتول في سبيل الله" ته د مړي ويلو څخه انسانان منع کړي دي، بلکي هغه ته يې عظيم نوم د شهيد ور کړی دئ چي د ده د شهادت سره د نورو انسانانو جذبې کښته نه بلکي نوري بلندي او را پورته سي.

لکه د الله د دين او د اسلام د سر بلندۍ دپاره چي کم جنګ کېږي، نو اسلام و هغه جنګ ته د حرب يا نورو نومو پر ځای يو خوب صورته او ښائسته نوم د

جهاد ور کړی دئ، چې هر څوک یې واوري هغه په خپل زړه کې يو جذباتي کیفیت محسوسوي.

## د شهید عجیب او غریب خصوصیت:

شهید چونکې د الله د نامه د سربلندۍ دپاره خپل ځان قربانوي، د دې په بدله کې شهید په عجیبو او غریبو انعاماتو باندې الله تعالی نازوي.
لکه تفسیر قرطبي کې د پیغمبر ﷺ يو حديث را نقل سوی دئ، چې حضور اقدس ﷺ فرمايي: ﴿أَكْرَمَ اللهُ تَعَالَى الشُّهَدَاءَ بِخَمْسِ كَرَامَاتٍ لَمْ يُكْرِمْ بِهَا أَحَدًا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ وَلَا أَنَا أَحَدُهَا أَنَّ جَمِيعَ الْأَنْبِيَاءِ قَبَضَ أَرْوَاحَهُمْ مَلَكُ الْمَوْتِ وَهُوَ الَّذِي سَيَقْبِضُ رُوحِي وَأَمَّا الشُّهَدَاءُ فَاللهُ هُوَ الَّذِي يَقْبِضُ أَرْوَاحَهُمْ بِقُدْرَتِهِ كَيْفَ يَشَاءُ وَلَا يُسَلِّطُ عَلَى أَرْوَاحِهِمْ مَلَكَ الْمَوْتِ، وَالثَّانِي أَنَّ جَمِيعَ الْأَنْبِيَاءِ قَدْ غُسِّلُوا بَعْدَ الْمَوْتِ وَأَنَا أُغَسَّلُ بَعْدَ الْمَوْتِ وَالشُّهَدَاءُ لَا يُغَسَّلُونَ وَلَا حَاجَةَ لَهُمْ إِلَى مَاءِ الدُّنْيَا، وَالثَّالِثُ أَنَّ جَمِيعَ الْأَنْبِيَاءِ قَدْ كُفِّنُوا وَأَنَا أُكَفَّنُ وَالشُّهَدَاءُ لَا يُكَفَّنُونَ بَلْ يُدْفَنُونَ فِي ثِيَابِهِمْ، وَالرَّابِعُ أَنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمَّا مَاتُوا سُمُّوا أَمْوَاتًا وَإِذَا مُتُّ يُقَالُ قَدْ مَاتَ وَالشُّهَدَاءُ لَا يُسَمَّوْنَ مَوْتَى، وَالْخَامِسُ أَنَّ الْأَنْبِيَاءَ تُعْطَى لَهُمُ الشَّفَاعَةُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشَفَاعَتِي أَيْضًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَمَّا الشُّهَدَاءُ فَإِنَّهُمْ يَشْفَعُونَ فِي كُلِّ يَوْمٍ لِمَنْ يَشْفَعُونَ﴾(1).

## ترجمه:

﴿أَكْرَمَ اللهُ تَعَالَى الشُّهَدَاءَ بِخَمْسِ كَرَامَاتٍ لَمْ يُكْرِمْ بِهَا أَحَدًا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ وَلَا أَنَا﴾.
الله تعالی شهیدان په داسې کراماتو نازولي دي چې د مځکې پر مخ هغه کرامات هیڅ چا ته نه دي ور نصیب سوي. چې نه د يو نبي په نصیب کې راغلي دي، نه د يو ولي په قسمت سوي دي.
﴿أَحَدُهَا أَنَّ جَمِيعَ الْأَنْبِيَاءِ قَبَضَ أَرْوَاحَهُمْ مَلَكُ الْمَوْتِ وَهُوَ الَّذِي سَيَقْبِضُ رُوحِي وَأَمَّا الشُّهَدَاءُ فَاللهُ هُوَ الَّذِي يَقْبِضُ أَرْوَاحَهُمْ بِقُدْرَتِهِ كَيْفَ يَشَاءُ وَلَا يُسَلِّطُ عَلَى أَرْوَاحِهِمْ مَلَكَ الْمَوْتِ﴾.

---

(1) قرطبي ج ۴ ص ۲۷۶

اول د هغه کراماتو څخه دا دئ چي پر عامو انسانانو کله د مرګ وخت راسي، هغه که نبي وي، که ولي وي او که د هر څومره لوړي درجې انسان وي.
الله تعالی د هغه روح د عزرائیل علیه السلام په ذریعه قبض کوي. د پیغمبر علیه السلام روح هم عزرائیل علیه السلام قبض کړی دئ. او د ټولو انبیاءُ ارواحان هم الله د عزرائیل علیه السلام په ذریعه قبض کړي دي.
لیکن پر شهید مبارک باندي چي کله په میدان کار و زار کي د زکندن وقت راسي، نو الله تعالی په خپله میدان کار وزار ته د شهید د اکرام په خاطر د شهید د روح قبض کولو دپاره بلاکیف راځي.
ملائکو ته وایي: چي دې شهید زما د نامه د سر بلندۍ دپاره خپل نفس قربان کړئ دئ، نو زه د ده د اکرام په خاطر خپله ضابطه قربانوم، چي زما ضابطه خو دا ده، چي زه د عامو انسانانو روح په عزرائیل علیه السلام قبض کوم، لیکن د شهید مبارک روح زه په خپله قبض کوم.
نو د شهید د روح قبض کولو دپاره الله تعالی په خپله میدان جنګ ته بلاکیف راځي او د شهید روح په میدان جنګ کي الله جل جلاله په خپله قبض کوي. نو یو جزئي فضیلت د شهید پر عامو انسانانو باندي پیغمبر علیه السلام دا بیان کړی دئ.
﴿وَالثَّانِي أَنَّ جَمِيعَ الْأَنْبِيَاءِ قَدْ غُسِّلُوا بَعْدَ الْمَوْتِ وَأَنَا أُغَسَّلُ بَعْدَ الْمَوْتِ وَالشُّهَدَاءُ لَا يُغَسَّلُونَ وَلَا حَاجَةَ لَهُمْ إِلَى مَاءِ الدُّنْيَا﴾.
دوهم: جزئي فضیلت د شهید پر عامو انسانانو دا دئ: چي عام انسانان هغه که نبي وي، که ولي وي او که د هر څومره لوړي درجې والا انسان وي.
د مرګ څخه وروسته د غسل پر تخته ایښوول کیږي او غسل ورکول کیږي.
پیغمبر علیه السلام ته هم غسل ور کول سوی دئ او عامو انبیاؤ او اولیاؤ ته هم غسلونه ورکول سوي دي، لیکن د شهید مبارک په باره کي د الله تعالی فیصله دا ده، چي هغه په خپلو وینو لمبېدلی دئ او د دنیا و اوبو ته د هغه ضرورت نسته.

پرېږدئ چې د غسې په وینو ککړ د قیامت په میدان کي زما په حضور کي پېش سي.

او تاسو به دَی د اوبو په غسل څنګه صفا کړئ، هغه خو د توري په اول وار سره د ټولو ګناهو څخه صفا سو؛ لکه حدیث شریف کي راځي: ﴿إِنَّ السَّيْفَ مَحَّاءٌ لِلْخَطَايَا﴾(١) توره د ګناهو څخه انسان صفا کوي.

نو ځکه د امام شافعي رحمة الله عليه په مسلک کي پر شهید باندي د جنازې د لمانځه ضرورت نسته.

هغه فرمايي: چي کله شهید د توري په اول وار سره د ټولو ګناهو څخه صفا سو، نو بیا د ده دپاره د جنازې د لمانځه او مغفرت د دعاګانو څه ضرورت دئ.

لیکن امام ابو حنیفه رحمة الله عليه فرمايي: چي موږ هم دا منو چي شهید پاک او مغفور دئ.

او د جنازې لمونځ، استغفار او فاتحه د شهید د بخښلو دپاره نه کوو، ځکه زموږ دا عقیده ده چي شهید د الله ﷻ په دربار کي بخښل سوی دئ.

لیکن د شهید جنازه او فاتحه په دې نیت باندي کوو چي سبا د قیامت په میدان کي د الله ﷻ و دربار ته دا خبره پېښه وو چي یا الله ﷻ! زموږ مغفرت و که! ځکه چي موږ د یو مغفور شهید په جنازه کي درېدلي یو او د یو مغفور شهید په فاتحه کي شریک سوي یو.

نو د شهید جنازه او فاتحه د شهید دنفعي دپاره نه، بلکي د خپل ځان د نفعي د پاره کوو.

او دشهید وینه په ظاهر کي وینه ده، لیکن په حقیقت کي د جنت د حورو خال د شهید د مبارکي ویني څخه ایښنول کیږي. نو دوهم جزئي فضیلت د شهید دا دئ چي شهید ته د اکرام په خاطر په دنیا کي غسل نه ور کول کیږي(٢).

---

(١) مسند ابي داؤد طیالسي حدیث نمبر ١٣٦٣

(٢) علمي تقریرونه ص ٢٨

﴿وَالثَّالِثُ أَنَّ جَمِيعَ الْأَنْبِيَاءِ قَدْ كُفِّنُوا وَأَنَا أُكَفَّنُ وَالشُّهَدَاءُ لا يُكَفَّنُونَ بَلْ يُدْفَنُونَ فِي ثِيَابِهِمْ﴾.

دريم: جزئي فضيلت د شهيد دا دئ چي عامو انسانانو ته كه انبياء وي او كه اولياء وي د غسل څخه وروسته كفن وركول كيږي او په سپينو جامو كي پېچل كيږي.

ليكن د شهيد په باره كي د الله جل جلاله فيصله دا ده، چي دی دغسي پرېږدئ چي په وينو رنګ جامو كي د قيامت په ميدان كي زما په حضور كي پېش سي.

او ټول اهلِ قيامت يې دغسي ننداره و كړي او زه په ده سره د قيامت په ميدان كي پر ملائكو فخر و كړم، چي دا زما يو بنده دئ زما د دين د سر بلندی په خاطر په دنيا كي په دا شكل په خپلو وينو لمبېدلی دئ.

﴿وَالرَّابِعُ أَنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمَّا مَاتُوا سُمُّوا أَمْوَاتًا وَإِذَا مُتُّ يُقَالُ قَدْ مَاتَ وَالشُّهَدَاءُ لَا يُسَمَّوْنَ مَوْتَى﴾.

او څلورم فضيلت د شهيد دا دئ: چي عامُ انسانان كه د انبياء د قبيلي څخه وي او كه د اولياء د قبيلي څخه وي، نو هغوی ته د مرګ څخه وروسته د مړي نوم وركول كيږي.

حضور اقدس صلى الله عليه وسلم ته هم الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ﴾(۱) ته هم مړې او دوی هم مړي، نو څكه پيغمبر عليه السلام ته هم الله تعالی د مړي نوم وركړی دئ.

ليكن شهيد ته الله تعالی انسانان د مړي ويلو څخه منع كړي دئ. د الله جل جلاله فرمان دئ: ﴿وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ﴾(۲) كم څوک چي مقتول في سبيل الله سي، نو الله تعالی هغه ته انسانان د مړي ويلو څخه منع كړي دي. نو دا د شهيد څلرم جزئي فضيلت وو.

﴿وَالْخَامِسُ أَنَّ الْأَنْبِيَاءَ تُعْطَى لَهُمُ الشَّفَاعَةُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشَفَاعَتِي أَيْضًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَمَّا الشُّهَدَاءُ فَإِنَّهُمْ يَشْفَعُونَ فِي كُلِّ يَوْمٍ فِيمَنْ يَشْفَعُونَ﴾.

---

(۱) الزمر آيت ۳۰
(۲) البقرة آيت ۱۵۴

او پنځم جزئي فضيلت د شهيد دا دئ: چي عامو انسانانو او نبياؤ او اولياؤ ته د شفاعت اذن او اجازه د قبر د راپورته کېدو څخه وروسته د قيامت په ميدان کي ميلاويږي.

پيغمبر عليه السلام هم د قبر د راپورته کېدو څخه وروسته د قيامت په ميدان کي د خپل امت شفاعت کوي.

ليکن شهيد هغه مبارک انسان دئ، چي هغه ته د شفاعت اذن او اجازه د شهادت څخه وروسته د قيامت د ميدان څخه مخکي ميلاويږي.

شهيد په عالم برزخ کي چي کله د قبر په زندګي کي اوسيږي، نو هم د خپلو قريبانو شفاعت کولای سي. د ده چي کم قريبان د ده څخه مخکي وفات سوي وي او هغوی په قبرونو کي په عذاب کي مبتلی وي، الله تعالی د شهيد شفاعت د قيامت د ميدان څخه مخکي د هغوی په حق کي قبلوي. نو دا هم د شهيد يو بل جزئي فضيلت دئ.

## خلاصه:

خلاصه دا چي شهيد د الله ﷻ د نامه د عظمت او سربلندی د پاره خپل نفس او ځان قربانوي، الله تعالی هم په دنيا او آخرت کي ډېر لوړ اعزازات او اکرامات د شهيد په نصيب کي ورکوي.

چنانچي د شهيد د جسمه څخه چي کله روح وزي د جنت حوري د ده دفن کېدو څخه مخکي را رسيږي او د ميدان کارزار ګرد وغبار د ده مخ څخه صفا کوي او دا وايي: الله تعالی دي هغه سړی د خاورو سره خاوري کړي چي ستا ښائسته رخساريې په خاورو باندي لړلی دئ([1]).

---

([1]) علمي تقريرونه جلد ۱ صفحه ۲۸

## د قيامت په ميدان کي د شهيد عزت:

چنانچي د قيامت په ميدان کي به عام خلګ د حساب او کتاب ور کولو په سختيو کي را ګير وي او انسانان به په سخته ګرمي کي وي.
د چا د بدن خولې به تر بجلکو پوري وي او د چا د بدن خولې به تر ځنګنو پوري وي. او څوک به تر نامه پوري او څوک به تر غوږو پوري په خولو کي غرق وي. د هر سړي بد عملي به د هغه سړي خوله وي.
ليکن د شهيد مبارک روح به الله تعالی په زرغونو مرغانو کي واچوي او هغوی به د جنت پر باغونو ګرځي او منظرې به کوي.
لکه پيغمبر عليه السلام فرمايي: ﴿إِنَّ أَرْوَاحَ الشُّهَدَاءِ فِي طَيْرٍ خُضْرٍ تَعْلُقُ مِنْ ثَمَرِ الْجَنَّةِ أَوْ شَجَرِ الْجَنَّةِ﴾ (۱). يعني د شهداء روحان به الله تعالی په زرغونو مرغانو کي واچوي، هغه به د جنت پر مېوو او درختو ګرځي، ليکن عام انسانان به د حساب او کتاب ور کولو په سختيو کي را ګير وي.
شهيد چي کله د جنت په منظرو ستړی سي، نو بيا به راځي او د الله جل جلاله تر عرش لاندي به د انبياؤ او صالحينو په صفو کي کښيني او د حساب او کتاب ور کونکو خلګو ننداره به کوي.

## د شهيد دپاره جنة الفردوس دئ:

هسي خو الله تعالی هر ايمان والا ته جنت ور کوي، ليکن په دې جنتو کي يو جنت دئ چي الله تعالی په خپل قدرت سره جوړ کړی دئ او الله تعالی په خپل امر د ﴿كُن﴾ سره جوړ کړی دئ.
الله تعالی فرمايي: ﴿غَرَسْتُ أَشْجَارَهَا، وَجَرَيْتُ أَنْهَارَهَا﴾ په دې کي ما درختي په خپله لګولي دي او په دې کي ما نهرونه په خپله بهولي دي. د دې جنت نوم "جنة الفردوس" الله جل جلاله اېښی دئ.

---

(۱) سنن ترمذي، باب ما جاء في ثواب الشهداء، حديث نمبر ۱۶۴۱

په دې کي بيا سل درجې دي د يوې درجې څخه بيا تر بلي درجې پوري دومره فاصله او سفر دئ، لکه د ځمکي او آسمان په مابين کي چي څومره فاصله ده.
او "جنة الفردوس" تر نورو جنتو دومره لوړ دئ چي لاندي جنتو والا ته "جنة الفردوس" داسي ور معلوميږي لکه موږ او تاسو ته چي د آسمان په مخ ستوري را معلوميږي.
لاندي جنتو والا چي "جنة الفردوس" ويني، نو د دوی تر خوله به دا نعره خيږي چي ﴿أَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَاللهِ﴾ د الله ﷻ په دربار کي دې جنتيانو ته ډېره لوړه درجه ور کول سوې ده.
نو کم چا ته چي الله ﷻ ايمان ور نصيب کړي، د دين د حفاظت لپاره هجرت و کړي، زندگي په جهاد کي تېره کړي او الله تعالى د شهادت لوړ مقام ور نصيب کړي، نو هغوی ته به الله تعالى په جنة الفردوس کي استوگنه ور نصيب کوي.

## د جنة الفردوس جوړښت:

الله تعالى چي کله په خپل قدرت مبارک سره "جنة الفردوس" جوړ کړئ، بيا يې پر هغه باندي مهر و لگوئ، چي "جنة الفردوس" تر اوسه پوري هيڅ چا نه دئ ليدلی. ځکه روايت کي راځي:
﴿لم يَرَهَا اَحَدٌ مِّنْ خَلْقِهِ﴾ الله ﷻ "جنة الفردوس" په هيڅ چا نه دئ ليدلی.
﴿لا نَبِيٌّ مُرْسَلٌ وَلَامَلِكٌ مُقَرَّبٌ﴾ نه حضور اقدس ﷺ ليدلی دئ او نه جبرائيل امين ؑ ليدلی دئ؛ ځکه چي هغه بند دئ.
﴿إِنَّ الْجَنَّةَ يَفْتَحُهَا كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ﴾ الله تعالى يې د ورځي پنځه واره خلاصوي او دا امر ور ته کوي.
﴿وَزْدَادِيْ طِيْبًا لِاَوْلِيَائِيْ وَزْدَادِيْ حُسْنًا لِاَوْلِيَائِيْ﴾ ای جنته! زما د دوستانو دپاره په ورځ کي پنځه واره خوشبويه کېږه او پنځه واره پاکېزه کېږه!

﴿لَهُمْ فِيهَا قُصُورٌ﴾ الله جَلَّ جَلَالُهُ د دې شهيدانو لپاره په دې "جنة الفردوس" کې قصور او بنګلې جوړې کړې دي.

چې هغه د عامو جنتيانو په مثل نه دي؛ ځکه په عامو جنتو کې چې کم قصور دي په هغه کې يوه خښته د سرو زرو وي او يوه د سپينو زرو وي.

ليکن په دې "جنة الفردوس" کې الله جَلَّ جَلَالُهُ داسې کورونه جوړ کړي دي چې د هغوی په باره کې فرمايي:

﴿لَبِنَةٌ مِن يَاقُوتَةٍ حَمرَاءِ﴾ يوه خښته به د سرو ياقوتو وي.

﴿لَبِنَةٌ مِن زَمَرُدَةٍ خَضرَاءِ﴾ يوه خښته به د زرغونو زمرودو وي.

﴿لَبِنَةٌ مِن لُؤلُؤٍ بَيضَاءَ﴾ يوه خښته به د سپينو ملغلرو وي.

﴿مِلَاطُهَا الْمِسكُ﴾ د هغه خټه چې دا خښتې په لګېدلې وي، هغه به مشک وي.

﴿حَصْبَاؤُهَا اللُّؤْلُؤُ﴾ د هغو کورو په ميان کې لارې او کوڅې به د ملغلرو وي.

﴿بَطْحَاؤُهَا يَاقُوتٌ﴾ د هغه کورو په درميان کې د غرونو غوندې کشنی غونډۍ به د ياقوتو وي.

﴿حَشِيشُهَا الزَّعْفَرَانُ﴾ د هغه کورو په درميان کې چې کم واښه او چمنيان وي هغه به زعفران وي.

﴿وَ سَقْفُهَا عَرْشُ الرَّحمٰنِ﴾(¹) او د هغوی چت به د الله جَلَّ جَلَالُهُ عرش وي.

الله تعالی چې څومره مخلوق پيدا کړی دئ په هغو کې د ټولو څخه زيات ښائسته مخلوق د الله جَلَّ جَلَالُهُ عرش دئ.

نو د "جنة الفردوس" د کور چت د الله تعالی عرش دئ. او دوی به په خپلو کورو کې بلا کيف د الله تعالی په همسايه توب کې شپې تېروي.

عامو جنتيانو ته د خپلې مرتبې مطابق د عرش ديدار ور کول کيږي، چا ته په ورځ کې يو ځل، چا ته په هفته کې يو ځل، چا ته په مياشت کې يو ځل، چا ته په کال کې يو ځل او چا ته په ټوله جنتي زندګۍ کې يو ځل.

---

(¹) صفة الجنة لابي نعيم الاصبهاني حديث نمبر ۱۸۱

لیکن د جنة الفردوس استوګن شهیدان چي کله د خپلي خوني وچت ته وګوري، نو نظر به يې د الله ﷻ پر عرش لګيږي. نو د دغه انسانانو په باره کي الله فرمايي: ﴿أَعْظَمُ دَرَجَةً عِندَ اللهِ﴾ دا ډيري لوړي درجي والا خلک دي د الله په دربار کي.

﴿وَ أُولٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ﴾ دغه خلک يقينا کاميابه دي.

(په قرآن کريم کي راځي، چي الله تعالى به دوى ته مساکن طيبه ور کړي، چي هغه به بهترين، پاکيزه او خوبصورته کورونه وي)(۱).

## د جنة الفردوس د حورو خصوصيات:

په "جنة الفردوس" کي چي د شهيد د کمو حورو سره ژوند تېرېږي د هغه په باره کي د پيغمبر عليه السلام حديث مبارک دئ:

﴿إِنَّ فِي الْجَنَّةِ حَوْرَاءَ اِسْمُهَا لَاعِبَةٌ﴾ په جنت کي الله ﷻ يوه حوره پيدا کړې ده، چي د هغې نوم "لاعبه" ده.

﴿خُلِقَتْ مِنْ اَرْبَعَةِ اَشْيَاءَ﴾ الله تعالى د څلورو شيانو څخه يعني د مشک، عنبر، زعفران او کافور څخه پيدا کړې ده.

او بيا الله تعالى په دې کي "آب حيات" اچولي دي او په خپل قدرت سره يې هغوى ته ژوند ور کړى دئ.

د هغې داسي حسن او جمال وي چي جنتيان کله دې ته ګوري، نو کچيري مرګ نه واى ختم، نو د دې په حسن او جمال ليدلو سره به ټول مړه واى. لکه د حديث شريف الفاظ دي:

﴿لَوْلَا اَنَّ اللهَ قَضٰى لِاَهْلِ الْجَنَّةِ اَن لَّا يَمُوْتَ لَمَاتَ مِنْ حُسْنِهَا وَ جَمَالِهَا﴾ کچيري په جنت کي مرګ ختم نه واى، نو ټول جنتيان به د دې د حسن او جمال د ليدلو په وجه مړه واى، چي د دې د حسن او جمال برداشت به يې نه سو کولاى.

(۱)ماخوذ از خطبات جميل صفحه ۱۱۰

او روایاتو کي راځي:
﴿وَ جَمِيْعُ حُوْرِ الْعَيْنِ عُشَّاقٌ لَهَا﴾ دا زه د خپل طرفه تاسو ته عربي الفاظ نه وایم، بلکي دا د پیغمبر علیه السلام د حدیثو الفاظ دي:
﴿وَ جَمِيْعُ حُوْرِ الْعَيْنِ عُشَّاقٌ لَهَا﴾ چي د جنت ټولي حوري به پر دې "لاعبه" حوري باندي عاشقاني وي.
او د دې پر ورېه به لاس کښېږدي او و دې حوري ته به وايي:
﴿يَا لَاعِبَةُ لَوْ يَعْلَمُ الطَّالِبُوْنَ لَوَجَدُوْ فِيْكَ﴾ ای لاعبې! کچیري ستا د حسن او جمال معلومات انسانانو ته وسي، نو ستا د حاصلولو دپاره به خپل هر څه قربان کړي.
﴿أَوْ مَكْتُوْبٌ فِيْ نَحْرِهَا﴾ یو روایت دا دئ چي د دې پر غاړه به لیکلي وي.
﴿وَ مَكْتُوْبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهَا﴾ دوهم روایت دا سي دئ چي د دې د سترګو په در میان کي به لیکلي وي.
﴿مَنْ كَانَ يُرِيْدُ اَن يَّكُوْنَ لَهُ مِثْلِيْ﴾ چي کم سړی دا غواړي چي زما غوندي حوره د ده په نصیب سي، نو ﴿فَلْيَعْمَلْ بِرِضَاءِ رَبِّيْ﴾ نو زما رب دي راضي کړي او بیا دي آخرت ته راسي.
یو داسي وخت به یقینًا راسي چي پاک دامنه انسانان به د جنت د داسي حورو سره وي.
او کمو کسانو چي خپله زندګي په دنیا کي د زنا په غلاظت ککړه کړې وي، هغه به د جهنم په کندو کي د جنت په ترخو اوبو کي غوټې خوري.
یو داسي وخت به یقینا راسي چي د نن شراب چیښونکي به د جهنمیانو ګندګي چیښي؟ او چي کم چا په دنیا کي شونډان بند کړي وي، هغوی ته به الله تعالی په خپل قدرت سره د جنت شراب ور نصیب کوي.
څکه چي د قرآن کریم فرمان دئ: ﴿وَسَقَاهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُوْرًا﴾ یو وخت به داسي راسي چي په دنیا کي غلط استعمالونکي به په خپلو سترګو داسي منظر ويني چي د جهنم مېخونه به یې په سترګو کي ټک وهل کیږي.

او چي کم چا په دنيا کي خپل نظرونه د بې حيايۍ ليدلو په وخت کي کښته ساتلي وي، هغوی به د الله په ديدار کي مشغوله وي(۱).

## د جنة الفردوس د استوګني حالات:

په حديث شريف کي راځي چي يو جنتي به په جنت کي ناست وي او د لاس به يې تر زني لاندي نيولی وي.

او الله تعالی به ده ته يو منظر را پيش کړي، چي د هغه منظر په ليدلو کي به اويا کاله تېر سي او د ده څخه به دا لاس د يوې زني څخه د بلي زني و طرفته هېر سي، او دی به د جنت په دې منظر کي داسي محو او مستغرق وي.

نو په اويا کاله کي کم قسم انقلابونه راځي او د جنت يوه ورځ به د زرو کالو برابره وي، يوه هفته به په زر هاؤ کلو کي کي تېره سي.

ليکن هلته به وخت تېرېدل انسان ته محسوسوي. چونکي هلته وخت ولاړ دئ، ليکن د الله جلاله په حساب سره به زر کاله يوه ورځ تېرېږي او جنتيانو ته به داسي معلومېږي لکه يوه دقيقه چي تېره سي.

## د جنة الفردوس زنانه او خاوند چي کله يو بل ته ګوري:

خاوند ته به الله تعالی داسي حسن ور کړی وي، چي خپله زنانه به څلوېښت کاله مسلسل ده ته ګوري او د هغې د ليدلو شوق به پوره نسي.

او خاوند چي کله خپلي زناني ته ګوري، زما دې په رب قسم وي چي هغه به د خپلي زناني په حسن ليدلو کي داسي محوه وي چي څلوېښت کاله به ورته ګوري.

او په دې څلوېښت کاله کي به و ده ته د سترګو د رف موقع په لاس ور نسي. او دا څلوېښت کاله به دی د هغې په حسن کي داسي مستغرق وي.

(۱) صفة الجنة لابي نعيم الاصفهاني، جلد: ۱ صفحه: ۱۷۶

لکه الله تعالی د هغې د حسن داسي انداز بیانوي: ﴿عُرُبًا أَتْرَابًا وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا﴾ هم عمره او نوجواناني. الله تعالی فرمایي: ﴿لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ﴾ (۱) چي د ده څخه مخکي به هیڅ انسان یا جن هغې حورې ته لاس ور وړی نه وي. او نه به الله تعالی وچا ته پر دې حوره باندي د لاس ور وړلو طاقت ور کړی وي.

## د جنت الفردوس د حورې ښائست:

او د جنت الفردوس و حورې ته الله تعالی داسي حسن او زینت ور کړی دئ، کچیري د هغې یوه ګوته دې دنیا ته راښکاره سي، نو لمر به داسي بې نوره سي، لکه د لمر په مخ کي چي ستورې بې نوره دي.

جنتي حوره کچیري د دنیا په دې اوه دریابه کي د ناړي یو څاڅکی واچوي، نو ﴿أَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ﴾ دا اوه دریابه به تر عسلو زیات خواږه سي.

د جنتي حورو به دا نغمه وي، چي د جنتي انسان د راتلو په وخت کي د جنت په دروازه کي د استقبال او ښه راغلي په شکل یې دوی وایي:

أَلَا نَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَمُوتُ أَبَدًا.... وَ نَحْنُ رَاضِيَاتٌ فَلَا نَسْخَطُ أَبَدًا
وَ نَحْنُ نَاعِمَاتٌ فَلَا نَسْقُمُ أَبَدًا.... وَ نَحْنُ مُقِيمَاتٌ فَلَا نَرْحَلُ أَبَدًا
طُوبَى لِمَنْ كَانَ لَنَا وَ كُنَّا لَهُ

موږ به همېشه ژوندي یو، پر موږ همېشه مرګ نه راځي. موږ به همېشه صحتمند یو، موږ به همېشه نه مریضان کیږو. او زموږ به همېشه یو ځای والی وي، او موږ همېشه نه جدا کیږو. زموږ به همېشه صلح وي، موږ به همېشه نه ناراضه کیږو.

خوشحاله دي وي هغه څوک چي موږ د هغه چا دپاره انتخاب سوي یو.

---

(۱) سورة رحمان آیت ۷۴

د داسي حورو سره به د مبارک شهید زندګي تېرېږي. پیغمبر ﷺ فرمایي: هغه حوري د شهید سره په جنتو کي یو ځای کېږي، چي هغه به د مشک څخه جوړي وي، د عنبر څخه به جوړي وي، د زعفران او کافور څخه به جوړي وي.

کچیري هغه د مړو سره خبري و کړي، نو د دوی د خبرو د ذوق په وجه به مړي را ژوندي سي.

کچیري د ژوندو سره خبري و کي، نو د هغوی به سینې سره وچاودل سي.

کچیري هغه حوره خپل پوړنی په هوا کي سره وغوړوي، نو په ټولو کائناتو کي به د هغه خوشبویي سره ولاړه سي.

کچیري هغه خپل یو وربښته را مات کړي او پر مځکه باندي یې واچوي، نو په ټوله جهان کي به د هغه رڼا سره وغوړېږي.

چي کله دا حوره خبري کوي، نو په ټوله جنت کي به ږغېږغې وهل کېږي. او چي کله دا تګ کوي، د یو قدم پورته کېدو په حالت کي د هغې د پوره وجود څخه یو لک رقمه ناز او انداز ښکاره کېږي.

د هغې ناز داسي د هغې انداز داسي چي پر یو قدم به و جنتیانو ته په لکونو ناز او نخرې ښکاره کوي.

چي کله هغه مخامخ وي، د هغې مخ انسان ته ښکاره وي، چي کله انسان ته شاه ورو ګرځوي، هم به د هغې مخ ښکاره وي.

د هغې مخ د انسان د نظره څخه نه غائبېږي، که مخامخ وي او که فشالا وي. او په اوپا جوړو کي به د هغې ځلېدونکی جسم د برق غوندي ځلېږي.

چي کله یو بنده د الله ﷻ د ذات په خاطر د خپل دین د دفاع دپاره خپل سر قربان کي، نو د هغه په عوض کي الله تعالی د دې حوري سره زندګي ور کوي. ځکه د الله فرمان دئ: ﴿وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ عِينٍ﴾ نو الله تعالی به د داسي حورو سره د انسان زندګي تېروي.

## د جنت کورونه:

او د الله وعده ده: ﴿وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ﴾ الله تعالی به په جنت عدن کې د ې جنتيانو ته بهترين کورونه ور کوي.
د حضرت ابو هريره ﷺ څخه يو چا پوښتنه و کړه، چې ﴿يَا أَبَا هُرَيْرَة مَا مَسَاكِنُ طَيِّبَةٌ﴾ مسکن طيب څه شی وي؟ ده په جواب کې ورته وويل: چې په جنت کې يو کور دئ چې د جنتي دپاره الله تبارک وتعالی جوړ کړی دئ.
﴿لَهُمْ فِيهَا سَبْعُونَ دَارًا مِن يَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ﴾ د جنتي دپاره په هغه کې اويا کوره د سرو ياقوتو څخه دي.
﴿وَ فِيْ كُلِّ دَارٍ سَبْعُوْنَ بَيْتًا مِّنْ زَمُرُّدَةٍ خَضْرَاءَ﴾ او په هر کور کې اويا خوني د زرغونو زمرودو دي.
﴿وَ فِيْ كُلِّ بَيْتٍ سَبْعُوْنَ سَرِيْرًا﴾ او په هره خونه کې اويا پلنګه دي.
﴿وَ عَلٰى كُلِّ سَرِيْرٍ سَبْعُوْنَ فِرَاشًا﴾ پر هر پلنګ باندي اويا بستري دي.
﴿وَ عَلٰى كُلِّ فِرَاشٍ سَبْعُوْنَ جَارِيَةً﴾[1] او پر هره بستره باندي د جنت اويا حوري ناستي دي او هره يوه به داسي وي، چې د هغې جسم به په اويا جوړو کې انسان ته ور معلوميږي. چې نه يماري سته او نه بوډاوالی سته. نه غم سته او نه پريشاني سته. نه "بولي" سته او نه "تقاضائي حاجت" سته. نه "حيض" سته او نه "نفاس" سته. الله تعالی د خاورو څخه نه، بلکې په خپل قدرت سره پيدا کړي دي.
بيا په هره خونه کې اويا دسترخوانه دي. او پر هر دسترخوان باندي اويا قسمه نعمتونه دي.

---

([1]) المعجم الکبير للطبراني، جلد: ۱۸، صفحه: ۱۹۰، حديث، ۱۵۰۶۲

او حديث شريف کي راځي: ﴿يُعطى لِلمُؤمِنِ مِن قُوَّةٍ مَا يَأتِيَ عَلى ذٰلِکَ کُلِّهِ فِي الغَدَاةِ الوَاحِدَةِ﴾ الله تعالى دې جنتي ته داسي قوت ورکوي، چي په يو څاښت کي به دی د دې تولو زنانو سره نږدېکت کولای سي(١).

## د جنة الفردوس درخته:

په حديث شريف کي راځي چي په "جنة الفردوس" کي يو درخته ده، د هغې د تنې څخه د سرو ياقوتو آس جوړېږي او د ښاخو څخه يې د زرغنو ورېښمو جامه جوړېږي.

او چي کله جنتي ورسي او پر دې آس باندي سپور سي او دا جوړه واغوندي، نو په هوا باندي به د منظرې په شکل د نورو جنتو پر سر راسي.

د ده د مخ نور په ټوله جنت کي سره خور سي. او لاندي جنت والا چي کله د ده دا لوړ شان ويني، نو هغوی به دا وايي: ﴿بِمَ بَلَغَ هٰذِهِ الدَّرَجَةُ﴾ يا الله! دا جنتي دې درجې ته څنګه ورسېدئ؟

الله تعالى به په جواب کي ورته وايي: ﴿لِأَنَّکَ تَقعُدُ عِندَ أَهلِکَ فِي البَيتِ وَ هُوَ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ﴾ ته په خپل کور کي د خپلې زناني سره ناست وې او د خپل ژوند څخه دې راحتونه او خوندونه اخيستل او دی دربدره د الله ﷻ په لاره کي کرېدئ.

نو په دې وجه سره دا درجه ده ته ور نصيب سوه، چي د عامو جنتيانو دا درجه په نصيب او قسمت کي نسي راتللای(٢).

نو شهيد مبارک چي کله د دې کوره څخه هغه کور ته ورسي، نو د دې زناني څخه د ده د هغې زناني سره ژندګي سي او د دې نعمتو پر ځای د جنت نعمتونه الله تعالى ده ته ور نصيب کړي او د جنت د حورو سره يې ګذاره سي.

---

(١) صفة الجنة لابي نعيم الاصبهاني حديث نمبر ٣٧٧

(٢) الطب/ايانغار سلو ٢٢٣

نو ځکه الله تعالی فرمايي: ده ته مړی مه واياست! دی پر حقیقي ژوند باندي اوس برابر سو.

## په دنيا کي دوکه سوی انسان:

موږ په دنيا کي ډېر دوکه سوي انسانان يو، چي د دنيا د راحتو په مقابل کي موږ د آخرت راحتونه او نعمتونه د نظره څخه ايستلي دي.
ابن قيم رحمة الله عليه وايي: تر دې به لوی لوټ سوی مسافر څوک وي، چي جنت خرڅ کي او دنيا رانيسي، تر دې به لوی مظلوم څوک وي.
ابن قيم رحمة الله عليه خو يو بل لفظ ويلی دي، ليکن ما هغه بدل کړئ چي تاسو ناراضه نه سی؛ ځکه موږ ټوله داسي يو چي جنت مو پرې ايښی او دنيا مو رانيولې ده. موږ ټوله دوکه سوي انسانان يو.
د دې څخه به زيات لوی محروم څوک وي، چي د جنت د حورو سودا و کړي او د دنيا بې وفا زناني رانيسي. هغه پاکيزه زناني پرېږدي او د دنيا په زنانو پسي ګرځي.
او هغه سړی به څومره نادان وي چي د جنت عاليشانه کورونه پرېږدي او د دنيا په چند کورو پسي ګرځي.
نو الله تعالی دي زموږ د ټولو پر حال باندي رحم و کړي. او الله تعالی دي مو نظرونه د دنيا د حالاتو څخه د آخرت طرفته متوجه کړي(۱).

## د شهيد د قربانو دپاره تسلي:

د شهيد غم خو يقينًا نسته؛ ځکه چي هغه الله تعالی ډېر لوړ مقام ته ورسوئ او د دنيا د ژوند په مقابل کي الله تعالی بهترين ژوند ور کړئ.

(۱) مأخوذ از خطبات جميل صفحه نمبر ۱۲۳

لیکن بیا هم قربیانو ته یې موږ دا وایو چې دا یقیني خبره ده چې د پښتنو متل دئ چې مڅکه هغه سوځي چې پر سر یې اور بلیږي، ستاسو قریب شهید سوی دئ او ستاسو د کورنۍ یو ګران بچی په خپلو وینو لمبېدلی دئ، تاسو ته به یقینا غم وي.

خو دا غم د قیامت د ورځې د فخر او افتخار په جذبه برداشت کړئ؛ ځکه چې پر تاسو باندي اوس کم غم دئ او د دې شهید په وجه باندي د قیامت په میدان کي ستاسو کم افتخار په نصیب کیږي دا غم و هغه افتخار ته د ځاځکي او د دریاب حیثیت لري، چې اوس غم د ځاځکي غوندي او د قیامت د میدان افتخار به د دریاب په مثل وي د غم په وخت کي د پیغمبرﷺ د "اُحد" واقعه په یاد در ولئ.

## د اُحد د میدان واقعه:

چې کله د پیغمبر علیه السلام اکا حضرت حمزه رضي الله عنه د احد په میدان کي شهید سو او د هغه "مثله" وسوه یعني د هغه پزه او غوږونه پرې سوه او د هغه اندامونه ټول ټکرې ټکرې سوه.

نو پیغمبر علیه السلام چې کله د احد په میدان کي د شهیدانو تلاش کوئ نو د حضرت حمزه رضي الله عنه لاش ته ودرېدئ که ګوري چې د هغه جسم په کم شکل ټکره ټکره سوی وو، نو د پیغمبر علیه السلام زړه ډېر درد و کړئ او پیغمبرﷺ او د خپل اکا حضرت حمزه رضي الله عنه پر لاش باندي ډېره ژړا وکړه چې د هغه سلګی د. "اُحد" په میدان کي اورېدل کېدې.

حضرت حمزه رضي الله عنه چونکي د حضرت علي رضي الله عنه هم اکا وو، نو د پیغمبر علیه السلام د ژړا سره حضرت علي رضي الله عنه هم په ژړا سو. چې کله د پیغمبر او حضرت علي رضي الله عنه د دواړو ژړا ده، نو د "اُحد" په میدان کي د ټولو صحابه ژړا شروع سوه.

او پیغمبر علیه السلام د "أحد" په میدان کي پر حضرت حمزه رضی الله عنه اویا واره د جنازې لمونځ و کړئ.

او بیا یې دا قسم و خوړئ چي ای اکا جانه! په خدای دي مي قسم وي چي څه در سره سوي دي ستا په بدله کي به د اویا کسانو سره د غسي معامله کوم، یعني اندامونه به یې ټکري ټکري ځیني جلا کومه.

چي کله پیغمبر علیه السلام قسم و خوړی، نو دستي الله تعالی جبرائیل امین علیه السلام د "أحد" میدان ته را واستوئ او پیغمبر علیه السلام ته وایي: ﴿وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِلصَّابِرِينَ﴾(۱) ای پیغمبره! که ته بدله اخلې د غومره بدله اخستلای سې، لکه څومره چي یې تا ته تکلیف در رسولی دئ. یعني د یو کافر سره دغسي معامله کولای سې، لیکن د یوه په بدله کي د اویاوو سره داسي نه سې کولای. لیکن که ته صبر و کړې، نو ستا رب دا وایي: ستا د پاره صبر خیر دئ.

حضور اقدس صلی الله علیه وسلم داسي وایي: ای صحابه وو! زما رب زما د پاره صبر خیر بللی دئ، تاسو دا واورئ! چي زه صبر کوم، خپل قسم ماتوم او د هیڅ چا څخه بدله نه اخلم. او وروسته یې بیا د خپل قسم کفاره ادا کړه(۲).

ددې څخه وروسته پیغمبر علیه السلام و فرمایل: که چیري زما سره د حضرت صفیه رضی الله عنها –چي د حضرت حمزه خور وه– خیال نه وای ځکه چي د زنانو زړه ډېر نرم وي ، نو ما به د حضرت حمزه رضی الله عنه دا ټکري ټکري جسم تر خاورو نه وای لاندي کړی.

بلکي د "أحد" په میدان کي به مي بغیر د دفنه پرې ایښی وای، چي د هغه جسم یا مرغانو یا کارغانو او نورو درندګانو خوړلی وای.

(۱)سورة نحل آیت نمبر ۱۲۶
(۲)معارف القرآن ج۵ ص۴۲۲

لیکن چونکي حضرت صفیه رضي الله عنها به یې برداشت نه کړي، نو په دې وجه یې تر خاورو لاندي کوم.

صحابه کرام پوښتنه ځني کوي، چي ای د الله رسوله! دې کي به څه حکمت وای چي تا حضرت حمزه رضي الله عنه په مرغانو او کارغانو باندي خوړلی وای؟ پيغمبر عليه السلام په جواب کي ورته وايي: چي کله د قیامت میدان سي، نو هر انسان د خپلو اعمالو سره د خدای و حضور ته پیشیږي او هر خاندان خپل اعمال د خدای و حضور ته پیشوي، نو زه به هم د خپل خاندانه سره د خپلو اعمالو پیشول د خدای و حضور ته کوم.

چي کله زه د خدای و حضور ته د خپل خاندانه سره پیش سم، نو زما د خاندان یو فرد حضرت حمزه رضي الله عنه چي د هغه به یوه ګوله غوښه د مرغه څخه او یوه ګوله غوښه د بل درنده څخه را جلا کیږي او د حضرت حمزه رضي الله عنه ټکري ټکري جسم به ځني جوړیږي.

او زه به د الله و حضور ته دا پیش کړم چي یا الله! دا زما د خاندان یو فرد وو او ستا د دین د حفاظت په خاطر یې دې حال ته خپل ځان رسولی وو او خپل جسم یې ستا پر دین په دې شکل قربان کړی وو.

دا به زما او زما د خاندان دپاره ډېر لوی فخر او افتخار وي. لیکن چونکي د زنانو زړه نرم دئ، نو په دې وجه زه حضرت حمزه رضي الله عنه تر خاورو لاندي کوم(1).

## قربیانو ته تسلي:

نو زه هم د دې شهید قربیانو ته دا وایم چي نن خو به یقینا غم وي، لیکن چي کله سبا د قیامت په میدان کي ستاسو د خاندان دا نازولی بچی چي په کم شکل شهید سوی دئ، دغسي په خپلو وینو او خاورو کي رنګ د الله تبارك وتعالى و حضور ته

---

(1) دعوات حق لمولانا عبدالحق اکوړوي.

پیش سي، نو مور دي خپل بچي ته لاس ونیسي چي یا الله! دا زما نازولی بچی وو، ستا د دین د حفاظت دپاره یې په داسي شکل خپل ځان قربان کړی دئ.

او پلار دي خپل بچي ته لاس ونیسي او نور قریبان دي خپل قریب ته اشاره و کړي، چي یا الله! دا زموږ د خاندان یو نازولی بچی وو او ستا د دین په خدمت کي یې په داسي شکل د شهادت جام نوش کړئ.

او نن ټکري ټکري بدن د قیامت په میدان کي حاضر دئ. نو یقینا به دا د دې خاندان دپاره ډېر لوی افتخار وي.

د دغه افتخار په عزم سره د نن ورځي غم برداشت کړئ او د خپل بچي پر شهادت باندي صبر و کړئ.

که چیري پر چا باندي غم ډېر زور و کړي، نو زموږ دپاره د تسلی په خاطر د ﴿إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾ سوا بله کلمه نسته. چي انسان دوه رکعته صلوة حاجت و کړي او د الله ﷻ په دربار کي دا خواست و کړي، چي یا الله! چي کم غم او تکلیف راغلی دئ دا تا را استولی دئ.

او یا الله! پر موږ باندي ډېر دروند دئ یا الله! ته دا غم او تکلیف را باندي سپک کړې. او یا الله! موږ ته دا غم اسانه کې. په دې شکل باید یو مسلمان د خپل غم د سپک والي کوشش و کړي.

الله تعالی دې د ده شهادت قبول او مقبول وګرځوي. الله تعالی دې د ده د وینو په برکت د افغانستان پر مځکه د اسلام ګلشن یو ځل بیا تر او تازه ولري.

او الله تعالی دې د ده و قریبانو ته صبرِ جمیل، اجر جزیل او بهترین خلف په دین، دنیا او آخرت کي په نصیب ور کړي.

او د الله تعالی دې د ده اندیوالانو ته د ده بهترین بدل ور کړي. او الله تعالی دې دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ أَصْحَابِهٖ أَجْمَعِيْنَ.

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (۴۱:۳۳)

# د زکوة بیان

(بیان)

مولوي اطيع الله صاحب
استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ٹاؤن) چمن

ترتيب وتخريج:

مفتي حافظ كليم الله صاحب (فاضل دار العلوم كراچی)
استاذ جامعه اسلاميه (علامه ٹاؤن) چمن

مكتبه سلطانيه الهاشميه
كانسی روڈ كوئٹه

| | |
|---|---|
| تقــــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كـليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشــــاعــت | ئخلــــــــــــــورم |
| تــاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تــعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَ نَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللّٰهِ وَاللّٰهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾(١).

﴿وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " بُنِيَ الإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ﴾(٢).

اٰمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا العَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْن وَالشَّاكِرِيْن وَ الحَمدُلله رَبّ الْعَالَمِيْن.

## تمهيد:

محترمو سامعينو ! ستاسو په مخ کي ما د قرآن کريم يو آيت پيش کړئ او بل مي د حضور اقدس ﷺ د يو حديث مبارک پيش کړئ، د دي آيت او حديث تعلق د اسلام د يو اهمي فريضې سره دئ، چي هغه د زکوٰة فريضه ده.

زکوٰة په لغت کي طهارت او پاکيزگۍ او زيادت ته ويل کيږي. لکه "مير سيد سند" چي د خپل کتاب تعريفات پر صفحه (١٠١) باندي ليکلي دي:

﴿الزَّكٰوةُ فِي اللُّغَةِ الزِّيَادَةُ، وَ فِي الشَّرْعِ عِبَارَةٌ عَنْ إِيْجَابِ طَائِفَةٍ مِّنَ الْمَالِ فِيْ مَالٍ مَّخْصُوْصٍ لِمَالِكٍ مَّخْصُوْصٍ﴾ يعني زکوٰة په لغت کي د صفايۍ او د زيادت په معنٰی سره دئ.

(١) التوبه آيت نمبر ٦٠

(٢) بخاري شريف حديث نمبر ٨

او د شریعت په اصطلاح کي د یو خاص مالک په خاص مال کي یو خاصه حصه واجبېدل.

## د زکوة فرضیت:

زکوٰة پر پیغمبر ﷺ په دوهم کال د هجرت په مدینه منوره کي فرض سوی دئ.
په قرآن کریم کي د زکوٰة ذکر د صلوٰة سره یو ځای تقریبًا دو دېرش (۳۲) ځایه راغلی دئ.
د صلوٰة څخه علاوه په ډېرو ځایو کي قرآن کریم د زکوٰة ذکر کړی دئ. د دې څخه د زکوٰة عظمت، فرضیت او رکنیت په ښه طریقه سره معلومیږي.
د کلمه توحید او لمانځه څخه وروسته زکوٰة د اسلام په ارکانو کي دریم عظیم رکن دئ. کچیري یو سړی د زکوٰة څخه منکر سي، هغه زموږ په دین کي مسلمان نسي پاته کېدای.
او چي کم څوک د زکوٰة په ادا کولو کي قصور کوي، هغه په دنیا کي ډېر لوی گنهگاره دئ او الله تعالیٰ به یې په دنیا کي د مال څخه برکت پورته کړي او په آخرت کي به دا مال د ده د پاره وبال جان جوړیږي.
او چي کم سړی زکوٰة په ښه طریقه سره ادا کوي، هغه په دنیا کي مسلمان بلل کیږي او د ده په مال کي به برکت راځي او په آخرت کي به الله تعالیٰ ډېر لوی ثواب او اجر د ده په نصیب کوي.

## د زکوة ادا کولو فضیلت:

د زکوٰة فضائل خو ډېر زیات دي، هغه په دې یو وعظ کي ستاسو و مخته پېشول ډېر مشکل دي.
خو بیا هم یو څو احادیث د "ترغیب وترهیب" څخه ستاسو په مخ کي پېشوم، الله تعالیٰ دي موږ او تاسو ټولو ته د عمل کولو توفیق را کړي.

حضور اقدس ﷺ د یو صحابي د سوال په جواب کي فرمایي: د خپل مال زکوة ادا کوه! ځکه زکوة تا پاکوي او ستا د قریبانو سره ستا صِله رحمي پر ځای کوي.

په یو بل حدیث مبارک کي حضور اقدس ﷺ فرمایي: زکوة د اسلام "پل" دئ. یعني زکوة د "دوزخ" پر سر یو پل جوړیږي او زکوة ور کونکی به پر دې پله باندي تیریږي. او زکوة نه ور کونکی به په دوږخ کي لویږي.

په یو بل حدیث مبارک کي حضور اقدس ﷺ فرمایي: اسلام پر اتو حصو باندي مشتمل دئ.

۱. یوه حصه لمونځ دئ.
۲. دوهمه حصه زکوة دئ.
۳. دریمه حصه روژه ده.
۴. څلورمه حصه حج دئ.
۵. پنځمه حصه امر بالمعروف دئ.
٦. شپږمه حصه نهي عن المنکر دئ.
۷. اوومه حصه جهاد في سبیل الله دئ.
۸. او اتمه حصه ایمان او اسلام دئ، چي د ټولو څخه مخکي دئ.

په یو بل حدیث کي حضور اقدس ﷺ فرمایي: ﴿حَصِّنُوا أَمْوَالَكُم بِالزَّكَاةِ وَدَاوُوا مَرْضَاكُمْ بِالصَّدَقَةِ﴾(۱). د خپلو مالو حفاظت په زکوة سره و کړئ او د خپلو ناجوړو علاج په صدقه سره و کړئ!.

## پر زکوة نه ادا کولو باندي عذاب:

په یو حدیث کي پیغمبر علیه السلام فرمایي: په دوږخ کي د ټولو څخه مخکي درې کسان لویږي:

(۱) الترغیب والترهیب ص۵۱٦ تا ۵۲۵

١. ظالم بادشاه.
٢. مفلس متکبر.
٣. زکوة نه ادا کونکی مالدار.

په يو بل حديث کي حضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ فرمايي: الله تعالى مونږ ته د لمانځه او د زکوة د ادا کولو پر يوه ځای حکم کړی دئ. او د دې سره يې دا حکم هم کړی دئ چي کم سړي زکوة ادا نه کړئ د هغه لمونځ هم قبول نه دئ.

په يو بل حديث مبارک کي پيغمبر ﷺ فرمايي: زکوة نه ادا کونکی د قيامت په ورځ په جهنم کي دئ.

او دغه رنګه پيغمبر ﷺ فرمايي: چي کم سړی د زکوة مال د خپل ماله سره يو ځای کوي، الله تعالى به د ده پر مال هلاکت مسلط کړي.

مطلب دا دئ چي مالداره سړی زکوة نه ادا کوي او د خپل ماله سره د زکوة مال خوندي کوي، نو د زکوة مال به د ده مال هلاک کړي.

دوهم مطلب يې دا دئ: چي په خپله مالداره دئ، د زکوة اخيستلو مستحق نه دئ، او د نورو خلکو څخه زکوة اخلي او په خپل مال يې ګډوي، نو دا زکوة به د ده مال ور هلاک کړي.

په يو بل حديث کي حضور اقدس ﷺ فرمايي: چي کم قوم زکوة بند کړي، الله تعالى به پر دی باندي قحط سالي مسلطه کړي. او چي کم قوم زکوة بند کړي، الله تعالى به پر هغه قوم باندي بارانونه بند کي.

نو يقينًا زکوة د اسلام په ارکانو کي عظيم رکن دئ. او الله تعالى انسانان د زکوة په ادا کولو مکلف کړي دي.

زکوة ادا کول په دنيا کي د برکت زريعه ده او په آخرت کي د انسان دپاره د نجات لار ده. او زکوة نه ادا کول په دنيا کي د بې برکتی سبب دئ او په آخرت کي د عذاب سره د مخامخ کېدلو ذريعه ده.

## زکوٰة و خپل مصرَف ته رسول:

لکه څنګه چي د مالدار دپاره زکوٰة ور کول فرض دي او د اسلام په احکامو کي اهم حکم دئ او د هغه نصاب هر چاته معلوم دئ.

چي په حیوانانو کي زکوٰة څومره دئ او په سرو زرو او سپینو زرو او نقدو کي څومره دئ.

دغه رنګه په کښت او ذراعت کي زکوٰة څومره کیږي. زه د دې متعلق خبره نه کوم، په دې وخت کي د دې پر یوه اړخ باندي څو مختصري خبري کوم، هغه دا چي دغه رنګه اهم حکم دا هم دئ چي زکوٰة خپل مصرف ته و رسول سي.

کچیري یو سړی هر څومره لویه حصه د مال ور کړي، مګر صحیح مصرف ته نه ورسیږي، نو د دې سړي زکوٰة ادا نه دئ. او د دې سړي د زکوٰة ادا کولو فریضه پوره نه سوه.

مګر یو بل سړی که څه هم معمولي مال د زکوٰة په نیت ادا کړي او صحیح مصرف ته یې ورسوي، نو د هغه سړي ذمه هم فارغه سوه او مال ته یې هم الله تعالی قبولیت ور کړی دئ.

نو دا غه وجه ده چي الله تعالی په "سورة البقره" کي دا فرمایلي دي، چي مال څومره او په کم قسم خرڅوئ په هغه کي پابندي نه ده، بلکي د دې څخه اهم سوال دا دئ، چي د مال خرڅولو صحیح مصرف څوک دئ.

صحابه کرامو د مال متعلق سوال و کړئ، نو الله تعالی د دې څخه د اهمي خبري طرفته د دوی توجه را وګرځوله، هغه دا چي مال به په کمو کمو ځایو کي انسان خرڅوي.

د دې څخه دا معلومیږي چي زکوٰة و خپل مصرف ته رسول ضروري دي.

بهر حال په قرآن کریم او احادیثو کي د صحیح مصرف د رسولو ډېر زیات تاکید راغلی دئ.

لکه د یو حدیث شریف مفهوم دئ، چي الله تعالٰی د زکٰوة تقسیم او د هغه بیان خپل نبي ته هم نه پرېښوئ.
بلکي د هغه د مصارفو بیان او تقسیم الله تعالٰی په خپله و کړئ. چنانچي د "سورة التوبه" په یو آیت کي الله تعالٰی ټول مصارف د زکٰوة اته (٨) بیان کړي دي.
او په ډېر تاکید سره یې دا خبره ذکر کړې ده، چي زکٰوة د دې مصارفو حق دئ اوپر دومره حصه د مال د مالک هیڅ ملکیت نسته، بلکي دا د الله تعالٰی حق دئ، چي دغه "اتو" (٨) مصارفو ته ورکول کیږي.

## د زکٰوة اته مصارف:

د ټولو څخه مخکي فقیر او مسکین د زکٰوة مصرف دي. دا دوه لفظه دي، د دواړو په معنٰی کي احتیاج دئ.
خو د یوه په معنٰی کي احتیاج یو څه زیات دئ او د دوهم په معنی کي احتیاج یو څه کم دئ.
مطلب دا دئ چي د زکٰوة اخیستلو مستحق هر هغه مسلمان دئ چيٓ د ده سره د ضروریات اصلیه وو څخه زیات دومره مال نه وي چي یو نصاب ته ورسیږي.
مثلًا دو پنځوس نیمي تولې سپین زر یا د هغه د قیمت سره برابر مال ته نصاب ویل کیږي.
په ضروریاتو اصلیه وو کي هر هغه شی دا خل دئ چي د هغه تعلق د انسان د خپل ځان د حفاظت سره یا د انسان د عزت د حفاظت سره وي.
یعني د استوګني د پاره مکان، د اغوستلو دپاره جامه، د سپرېدلو دپاره سوارلي او د حفاظت دپاره معمولي اسلحه، دا په ضروریاتو اصلیه وو کي داخل دي.

د دې تعریف څخه دا معلومه سوه چې د چا په کور کي "ټي وي، وي سي آر" او نور خُرافات وي دا د ضروریاتو اصلیه وو څخه خارج دي.
نو کم سړی چې صاحب د نصاب وي، هغه ته زکوة ور کول جائز نه دي، که څه هم کونډه زنانه وي او یا هغه سړی د لوږي څخه پرېوزي.
نو د هغوی دپاره مناسب دا دئ چې اول د کور هغه زائد اشیاء او خُرافات خرڅ کي د ځان نفقه په برابره کړي. چې هغه ختم سي، نو بیا دي د زکوة مال واخلي او دی یې مستحق جوړېږي.
دا غه رنګه د هر صاحب پیشه (یعني کاسب) انسان د پیشې او کسب سامان د ده په ضروریاتو اصلیه وو کي داخل دئ.
لکه چي یو عالم وي د هغه دپاره د مطالعې کتابونه، یا یو نجار دئ د هغه د ترکانۍ اسباب د دې سره سره دوی ته زکوة اخیستل جائز دئ. (۱)
نو په فقیر او مسکین کي د ټولو څخه مخکي خپل قریب ته زکوة ور کول د انسان دپاره د زکوة ادا کېدو سره سره د صله رحمی سبب هم ګرځي.
او په قریبانو کي د دوو قِسمو قریبانو څخه علاوه و نورو ټولو ته د انسان زکوة جائز نه، بلکي افضل دئ.
یو د خاوند او د زناني یو بل ته زکوة ور کول جائز نه دئ.
بل د پلار او د اولاد یعني د "اصولو او فروعو" زکوة یو بل ته جائز نه دئ.
کچیري بچی خپل مال د پلار مال بولي او یا یې ګټه د پلار په مال باندي کړې وي، نو هغه مال د پلار بلل کیږي.
یا د دې بچي زکوة و خپله خور ته جائز نه بلل کیږي. لیکن کچیري پلار و بچیانو ته په خپل ژوند کي مال ور تقسیم کړی وي او پلار په خپله لاس ځني

(۱) معارف القرآن ص ۳۹٦

اخیستی وي، یا د دې بچي مال چونکي د ده خپل بلل کیږي، نو د ده زکوة د ده ور خور ته جائز بلل کیږي. (۱)
بهتره خو داده چي هر ښار والا خپل زکوة د خپل ښار و فقراؤ او مسکینانو ته ور کړي. لیکن کچیري د یو بل ښار خلک د زکوة زیات مستحق وي، نو هغه ځای ته په زکوة استولو کې هیڅ حرج نشته.
مثلا د سرې قریبان غریبان په بل ښار کي اوسیږي یا ډیري مدرسې په داسې پس مانده علاقو کي وي چي هلته تعاون کول د دین د بقا دپاره ضروري وي، نو هلته زکوة استول صرف جائز نه، بلکي د زیات ثواب باعث گرځي. (۲)

## دزکوة دریم مصرف:

د زکوة دریم مصرف "عاملین" بلل سوي دي. یعني چي د زکوة او د عُشر را ټولولو دپاره چي د وخت حکومت کم خلک ټاکلي وي، هغوی ته "عاملین" ویل کیږي.
دا خلک چونکي وخت هم ورکوي او محنت هم کوي او د تګ او راتګ خرچه هم برداشتوي، نو شریعتِ مطهره داسي خلکو ته د حق الخدمت په شکل د زکوة د مالو څخه ور کول جائز بللي دي.
عامل چونکي د حکومت د طرفه مقرر سوی دئ، نو دا خلک خود به خوده د فقراؤ وکیلان بلل کیږي.
چي کله د دوی لاس ته مال ورسیدئ، نو گویا هغه مال د فقیر لاس ته ورسیدئ. نو دوی ته چي کم څه د حق الخدمت په شکل ور کول کیږي، دا در حقیقت د زکوة مال نه، بلکي د فقیرانو د طرفه څخه وي.

---

(۱)شعب الایمان للبیهقي
(۲)عالمگیري بحواله اصلاحي خطبات جلد:

د يو تنظيم مشر يا د مدرسې مهتمم پر عاملينو نه سي قياسېدلای او دا خلک د فقيرانو وکيلان نه دي.
بلکي دا د مالدارانو وکيلان دي، چي تر څو پوري دغه حضرات دا مال مستحق ته نه ورسوي، نو د مالداره زکوة ادا سوی نه بلل کيږي. کچيري دا خلک دوه کاله دا مال د ځانه سره وساتي، نو دا زکوة د مالدار پر ذمه اوس هم پاته وي.
داغه رنګه دا خلک خپل حق الخدمت د زکوة څخه نسي اخيستلای، بلکي دوی ته مستقله تنخواه د زکوة د ماله څخه جلا ادا کول ضروري ده.
او چي کم تنظيمونه د زکوة "مد" هر ځای استعمالوي، لکه عام طور په لويو ښارو کي د موسيسو په شکل يا نوري رفاهي اداري چي پر هسپتالو او سړکانو باندي د زکوة پيسې لګوي.
نو هغوی ته زکوة ور کول جائز نه دي؛ ځکه چي د زکوة په پيسو باندي مدرسه او د مسجد تعمير نسي جوړېدلای. نو په هسپتال يا د سړکانو په تعمير کي به د زکوة مال څنګه ولګول سي، چي هلته د غريب او د امير هيڅ امتياز نه وي؟ (۱)

## د زکوة څلورم مصرف:

د زکوة څلورم مصرف قرآن کريم "مؤلفة القلوب" ذکر کړي دي. د اسلام په ابتدايي دور کي و نوو مسلمانانو ته د زکوة د ماله څخه يو څه حصه ور کول کېدله.
چي د دوی زړونه اسلام ته راغب سي. او دوی د اسلامه څخه بېرته نه واوړي. يا کم از کم د اسلام په خلاف يو شرارت و نه کړي.
علامه قرطبي رحمة الله عليه فرمايلي دي: په "مؤلفة القلوب" کي به غير مسلم نه وو، بلکي هغه کمزوري مسلمانان وه چي د هغوی د ارتداد، يا د هغوی د شرارت خطره وه.

(۱) علمي تقريرونه ص ۵۶

لیکن چي الله تعالی کله اسلام ته غلبه ور کړه، نو دا مصرف د احنافو په مذهب کي بلکل ختم سو. اوس د "مؤلفة القلوب" پر نامه باندي هیڅ چا ته مالدار زکوٰة نسي ور کولای.
بعضو نورو علماؤ او فقهاؤ د مؤلفة القلوب دا مصرف عام ګرځولی دئ، چي مسلمانان او غیر مسلمانان یې دواړه پکښي را وستلي دي. (۱)

## د زکوة پنځم مصرف:

قرآن کریم د زکوة پنځم مصرف "في الرقاب" یاد کړی دئ. رقاب دا جمعه د رقبې ده، رقبه ګردن ته وایي.
او په عرف عام کي د دې څخه مراد مریان دي. یعني چي یو سړی خپل مریي ته دا ووایي چي ته ما ته دومره پیسه را که، زه به تا آزاد کړم. او دې ته "بدل کتابت" وایي.
اوس دغه مکاتب مریی د خپل ګردن د خلاصولو دپاره مال نسي پیدا کولای، نو شریعت دی هم د مالِ زکوٰة مستحق ګرځولی دئ، چي خپل ګردن د خپل مالکه څخه خلاص کړي.
په اوسني دور کي چونکي مریان نسته، نو دا مصرف هم نسته. لیکن نن سبا د کافرانو، ظالمانو او منافقانو په جېلو کي پراته انسانان چي د هغوی جرم صرف دا دئ چي ته ولي عالم یې؟ ته ولي حافظ یې؟ او ته ولي مجاهد یې؟ او په دغه جرم په جېلو کي شپې سبا کوي.
او د هغوی پر سرونو باندي د هغوی د قریبانو څخه لوی لوی مال او دولت طلب کېږي او د هغوی د قریبانو سره د دوی د خلاصون توان او طاقت نه وي.
نو کچیري مالداره د زکوة په مال سره د هغوی د قریبانو سره معاونت و کړي، نو د دې مالدار مال به یقینا په یو ډېر بهترین مصرف کي خرځ سي.

(۱) علمي تقریرونه ص ۵۷

الله تعالیٰ دي د مالدارانو توجه دې طرف ته را وګرځوي چي هغه په خپل زکوة کي د دې قیدیانو پوره تعاون او معاونت وکړي.

## د زکوة شپږم مصرف:

قرآن کریم د زکوة شپږم مصرف "غارمین" یاد کړي دي. غارم هغه سړي ته وایي چي تر قرض لاندي راغلی وي.
خواه قرض هغه انسان د خپلي زندګی د ضروریاتو د پوره کولو دپاره اخیستی وي، یا د چا د ضمانت تاوان پر ده راغلی وي، یا د یو ناګهاني حادثې په وجه قرض داره سوی وي.
نو په دې ټولو صورتو کي دا سړی غارم، مقروض او مدیون بلل کیږي. او ده ته د زکوة د ماله څخه یو څه ورکول جائز دي، چي دی د قرض د بوجه څخه خلاص سي.
لیکن که یو سړی د ناجائزو کارو په باره کي قرضونه اخلي، یا د خپل تجارت پر مخ بېولو دپاره د خپل شوق په خاطر مقروض وي، نو هغه سړی د زکوة مستحق نه بلل کیږي. (١)

## د زکوة اووم مصرف:

قرآن کریم د زکوة اوم مصرف "في سبیل الله" یاد کړی دئ. یعني د الله په لار کي مجاهدین او د دینِ اسلام د سربلندۍ دپاره په میدانِ کارو زار کي د کفارو سره جنګېدونکي غازیان مراد دي.
که څه هم د في سبیل الله لفظ عام دئ، خو پیغمبرﷺ عام طور د چاندې را ټولولو اعلان د جهاد په مواقعو باندي کړی دئ.

(١) علمي تقریرونه ص۵۷

يا خاصکر په موجوده دور کي چي مجاهدين د کمو بې سرو او ساماني په حالت کي د کفارو مقابله کوي، چي د خپل بدن په غوښو او وينو سره د اسلام دفاع کوي او د کفر مخ نيسي.
نو په دې حالت کي زما په عقيده کي د ټولو څخه بهترين مصرف د الله په لار کي سربښندونکي مجاهدين دي.

## د زکوة اتم مصرف:

اتم مصرف قرآن کريم "ابن السبيل" ياد کړي دي. د دې څخه مراد هغه مسافرين دي اګر چي په خپل کور او کلي کي جائداد او مال لري.
ليکن په حالت د سفر کي ډې غريب او محتاج دئ. او هغه د خپل وطن و مال او دولت ته يې لاس رسی نه کيږي. دا هم قرآن کريم د زکوة مصرف بللی دئ.
نو دا ټول اته (٨) قسمه مصارف دي، چي قرآن کريم په "سورة التوبه" کي د دوی ذکر کړی دئ.
نو بايد مسلمان لکه څنګه چي د زکوة ورکولو حکم پر ځای کوي، داغه رنګه د زکوة د دې حکم هم خيال و ساتي چي زکوة په ښه طريقه سره و خپل مصرف ته ورسوي.
نو هم به په دنيا کي الله تعالی د زکوة کښلو په ذريعه د ده طهارت او پاکي په نصيب کړي او هم به يې په آخرت کي د ده دپاره د نجات ذريعه و ګرځوي.

## د زکوة يو څو مسائل:

اوله مسئله: د زکوة دپاره نيت کول ضروري دئ، چي کله مالداره و يو مسکين ته زکوة ور کوي، يا يې و کيل ته سپاري.
او يا يې د کل ماله څخه د زکوة مال جلا کوي. په يو د دې درو ځايو کي د زکوة دپاره نيت کول ضروري دئ. (مراقی الفلاح)

دوهمه مسئله: کچیري د زکوة ور کولو په وخت کي نیت نه و کړي او وروسته یې د زکوة نیت سو.
نو اوس به دې ته ګورو چي هغه مال د فقیر په قبضه کي دئ او که فقیر هغه مال خرڅ کړی او ضائع کړی دئ، که د فقیر په قبضه کي مال موجود وو، نو د زکوة نیت صحیح کیږي او که نه، نو نه صحیح کیږي. (مراقی الفلاح)
دریمه مسئله: که یو سړي و چا ته د زکوة ادا کولو حکم ور کړئ او مال یې نه وو ور کړی، بلکي و رته ویلي یې وه چي ته زما د طرفه زکوة ادا که، نو د هغه په ادا کولو د ده زکوة ادا کیږي. (شامي)
څلورمه مسئله: د مال مالک کچیري د زکوة د ادا کولو دپاره وکیل و نیسي او هغه وکیل بیا د مال د مالک د اجازته بغیر بل وکیل و ځان ته و نیسي، نو هم جائز دئ. (شامي)
پنځمه مسئله: کچیري یو سړی د نصاب مالک وي، بیا هغه سړي هغه نصاب بغیر د نیت د زکوة مکمل صدقه کی، نو د ده د ذمې څخه د دغه نصاب د زکوة فریضه ساقطه سول. (عالمګیري)
شپږمه مسئله: د زکوة مال د هبې یا قرض په نامه سره و چا ته ور کړي او نیت یې د زکوة وي، نو زکوة یې ادا کیږي. (مراقی الفلاح)
اوومه مسئله: کچیري د زکوة مستحق فقیران یو ځای کښېنوي او خورکه ور کړي، په دې سره زکوة نه ادا کیږي، بلکي هغه ددې خورکې مالکان جوړول ضروري دي (طحطاوي).
اتمه مسئله: کچیري د زکوة پیسې جلا کښېږدي او هغه غلا سي، یا په یو بله طریقه ضائع سي، نو زکوة نه ادا کیږي، دوباره دي یې ادا کړي. په دې وجه چي مصرف ته نه و رسېدئ او نه تملیک پکښې راغلئ. (تنویر الابصار)

نهمه مسئله: مالداره کچیري فقیر ته مکان د یو څه مدت د استوګنې دپاره ور کړي او د هغه څخه په کرایه کې د زکوة نیت و کړي، نو په دې سره د ده زکوة نه ادا کیږي. (طحطاوي، الدرالمختار مع الشامي)

لسمه مسئله: کچیري صاحب نصاب د څو کلو پېشکي زکوة ادا کړي، نو هم صحیح دئ. (طحطاوي، شامي)

## زکوة په روژه کې ادا کول:

د روژې په میاشته کې چونکې هر نفلي عبادت په فرضي دئ او د هر فرضي عبادت ثواب یو په اویا دئ، نو په دې وجه د روژې مبارکې په میاشته کې د زکوة اداکولو ثواب یو په اویا پیدا کول د الله ﷻ په دربار کې امید دئ.

لیکن د دې دا مطلب نه دئ چې ټوله زکوة به نو سړی په روژه کې کاږي او د روژې څخه علاوه به د مسکینانو خیال نه ساتي، بلکې ښه خبره دا ده چې باید انسان حسب ضرورت و مصلحت د زکوة د خرڅ کولو اهتمام و کړي.(الحدیث للبیهقي)

## زکوة پر کم مال واجب ګرځي:

کچیري یو سړی د تجارت په نیت باندې مال رانیسي بیا یې بیرته اراده بدله سي او هغه مال په خپل ذاتي استعمال کې را ولي، نو زکوة ځنې ساقط ګرځي. (عالمګیري)

کچیري یو سړی یو شئ د استعمال دپاره رانیسي او د دې سره یې دا نیت وي که ګټه پر راغله، نو به یې خرڅوم او که نه نو به یې په خپله استعمالوم، پر دغه مال زکوة واجب نه ګرځي. (طحطاوي)

کچیري یو سړی یو سامان د تجارت په نیت رانیسي لیکن تر اوسه پوري یې قبضه نه وي ورباندي کړې، نو پر دې مال باندي زکوة واجب نه دئ. (الدرالمختار مع الشامي زکریا)

کچیري د یو چا یو شی د قرض په بدله کي په "ګروی" اینبول سوی وي، چي تر څو پوري هغه مال د "مرتهن" په لاس کي وي، پر دغه مال باندي زکوة واجب نه دئ، نه پر "راهن" او نه پر "مرتهن".

راهن کچیري قرض ادا کړي او هغه مال خپل لاس ته راولي هم د تیرو کلو زکوة پر ده واجب نه ګرځي. (عالمګیري)

زنانه چي تر څو پوري پر خپل مهر قبضه نه وکړي، نو د مهر د مال زکوة پر دې واجب نه دئ. (عالمګیري)

کچیري قرض اخیستونکی انسان د قرض څخه منکر وي او د مالک سره څه شرعي ثبوت هم نه وي، نو پر دغه قرض باندي زکوة واجب نه دئ.

البته کچیري دغه قرض دې مالک ته په لاس ورسي، نو اوس د خولان حول څخه وروسته، یا د بل نصاب سره د یو ځای کېدو سره وروسته زکوة پر واجبیږي. او د تیرو کلو زکوة واجب نه دئ. (شامي زکریا)

که د یو چا سره قیمتي ملغلري وي، یا جواهرات وي، یا قیمتي تسبیح وي چي د استعمال په نیت یې رانیولي وي، پر هغه زکوة نسته که هر څومره قیمتي وي.

البته کچیري د دغه شیانو تجارت کوي، نو پر دې مال باندي د تجارت په اعتبار سره د دوی پر قیمت زکوة واجب ګرځي. (مراقی الفلاح)

## پر زکوة نه ورکولو باندي وعید:

چي کم سړي ته الله ﷻ مال او دولت ور کړی وي، نو په کار دا دئ چي په ښه طریقه سره د هغه حقوق پر ځای کړي.

کچیري دَی د مال په حقوقو کي کوتاهي وکړي، نو بیا به د الله تعالیٰ د سخت وعید سره مخامخ کیږي.

الله تعالىٰ په قرآن كريم كي فرمايي: ﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ (٣٤) يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ﴾(١).

چي كم خلك سره زر او سپين زر يعني مال او دولت ذخيره كوي او د الله حقوق نه ادا كوي او مال د الله جل جلاله په لار كي نه صدقه كوي او نه يې په ښه طريقه سره زكوة ادا كوي. نو اى پيغمبره! ته دوى ته د سخت عذاب زيرى او خبر وركه!

د هغي ورځي چي د دوى مال به د جهنم په اور كي گرم سي، په هغه سره به د دوى تندي، اړخونه او شاګاني داغل كيږي. او دوى ته به ويل كيږي چي دا ستاسو ذخيره سوى مال دئ، او س ستاسو د خپل ذخيره سوي مال د عذاب څكه كوئ.

ځكه چي دوى ته به كله مسكين راغلئ، نو د ټولو ځخه مخكي به دوى تندئ تر يو كړئ او بيا به يې اړخ ور وګرځوئ او بيا به ځني روان سو او فقير ته به يې شاه كړه. نو الله تعالىٰ د دوى تندى ور داغي، بيا يې اړخونه ور داغي او بيا يې شاګاني ور داغي.

او دا غه رنګه د پيغمبر ﷺ يو حديث مبارك هم دئ چي كم سړى د خپل مال زكوة نه ادا كوي، نو دا مال به د قيامت په ورځ د يو اژدها مار په شكل راځي چي د هغه پر سترګو به دوه تور ټكي وي او د ده په غاړه كي به لويږي. او دى به په غاښونو چيچي او دا به ورته وايي: زه ستا مال يم، زه ستا مال يم، د كم مال چي تا زكوة نه ادا كوى. الله تعالىٰ دي مو د داسي حالاتو څخه حفاظت وكړي. او الله تعالىٰ دي د مالونو د حقوقو د ادا كولو په ښه طريقه سره توفيق را كړي.

او الله تعالىٰ دي دا څو خبري په خپل دربار كي قبولي او مقبولي وګرځوي. آمين

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَىٰ عَلَىٰ خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ أَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

---

(١) التوبه آيت نمبر ٣٤/٣٥

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآية)

# په دنيا کي زهد کول

(بيان)

مولوي اطيع الله صاحب
استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

ترتيب وتخريج:
مفتي حافظ کليم الله صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانيه الهاشميه
کانسی روڈ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشــــاعـت | ثلـــــــــــــورم. |
| تــاريــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تــعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَنَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُورُ﴾(۱)

وقال رسول الله ﷺ: ﴿حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيئَةٍ﴾(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيمِ، وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمِ، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د دنيا راحت پر دين موقوفه دئ:

محترمو سامعينو! د هر انسان دپاره اخلاق باطنه حاصلول ضروري دي؛ ځکه چي د دې د حاصلولو څخه بغير نه د انسان په دين کي او نه د انسان په دنيا کي درستګي او پوره والی راتلای سي؛

ولي چي په حقيقت کي د دنيا درستګي هم پر دين باندي موقوفه ده.

دا شيطاني دوکه ده چي داسي فکر وسي چي د دينه څخه بغير په دنيا کي هم انسان سکون او راحت پيدا کولای سي.

د دنيا اسباب او وسائل پيدا کول جلا خبره ده، او په دنيا کي سکون او اطمنان د راحت او د ارام زندګي پيدا کول جلا خبره ده.

د دنيا وسائل او اسباب د دين بغير هم انسان پيدا کولای سي، پيسې به ډيري جمع کړي، ښائسته کورونه به ځان ته جوړ کړي او ښائسته سوارلي به ځان ته

(۱)فاطر آيت ۵
(۲)الترغيب والترهيب منذري حديث ۳۵۷۱

پیدا کړي، لیکن کم شی چي حقیقتًا د "زړه سکون" دئ، دا رشتیا خبره ده چي هغه د دین بغیر نسي پیدا کېدای.
په دې وجه سره په دنیا کي حقیقي راحت هم الله تعالیٰ هغه چا ته په نصیب ور کړی دئ، چي خپله زندګي یې د الله تعالیٰ د احکامو تابع جوړه کړې ده.
نو په دې وجه سره چي تر څو پوري د انسان د اخلاقو اصلاح نه وي سوې، نو نه د انسان دین په ښه طریقه کېدای سي او نه د انسان په دنیا کي خوشحالي په نصیب کېدای سي.

## دزُهد حقیقت:

نن هم زه تاسو ته د اخلاقو یو بنیادي بیان کوم چي هغوی ته "زهد" وایي. تاسو به دا لفظ اورېدلی وي چي فلانکی سړی ډېر لوی عابد او زاهد دئ.
زاهد هغه سړي ته ویل کیږي چي په هغه کي ،زُهد، وي، او د زهد معنی ده: د دنیا څخه "بې رغبتي" او د دنیا د محبته څخه خپل زړه خالي کول.

## د ګناهو بنیاد د "دنیا محبت" دئ:

د هر مسلمان دپاره د زهد حاصلول ضروري دي، کچیري د دنیا محبت و زړه ته ولویږي، نو بیا په هغه زړه کي د الله تعالیٰ محبت په صحیح طریقه سره نسي راتلای.
او چي کله د الله ﷻ محبت د انسان په زړه کي نه وي، نو د دنیا محبت انسان پر غلطه لار باندي برابروي، په دې وجه حضور اکرم ﷺ فرمایي:
﴿حُبُّ الدُّنیا رَأسُ کُلِّ خَطِیئَةٍ﴾ د دنیا محبت د هري ګناه او معصیت بنیاد دئ.
چي څومره جرائم او ګناوي کیږي، کچیري انسان د هغه پر حقیقت باندي غور و کړي، نو دا به ور ته ښکاره سي چي د دې ټولو بنیاد د دنیا محبت دئ.

غل ولې غلا کوي؟ ځکه د دنيا محبت دئ. يو سړی ولې بد کاري کوي؟ ځکه چې د ده په زړه کې د دنيا لذتو ځای نيولی دئ. شرابي ولې شراب خوري؟ ځکه چې د دنيا په لذتو پسې روان دئ.

نو چې هره ګناه را واخلې، د هغې تر شاه د دنيا د محبت دخل ضرور معلوميږي.

او چې کله د انسان په زړه کې د دنيا محبت راغلئ، نو بيا به د الله تعالى محبت څنګه راسي؟

## ما به ابو بکر ﷺ خپل محبوب جوړ کړی وای:

دا زړه الله تعالى داسي جوړ کړی دئ چې په دې کې حقيقي محبت صرف يو راتلای سي، د ضرورت په وخت کې خو به د انسان د ډيرو خلکو سره د تعلقات قائم وي، ليکن حقيقي محبت په زړه کې يو راځي.

چې کله په زړه کې يو محبت راغلئ، نو بيا دوهم محبت په هغه اندازه نسي راتلای؛ ځکه حضور اقدس ﷺ فرمايي:

﴿وَلَوْ كُنتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا غَيْرَ رَبِّي لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ﴾(۱).

کچيري ما په دنيا کې د الله تعالى د محبت څخه ماسوا د بل چا محبت زړه ته اچولای، نو د ابو بکر ﷺ محبت به مي و زړه ته اچولی وای.

حالانکي د پيغمبر ﷺ د حضرت ابوبکر صديق ﷺ سره په داسي اندازه کي تعلق وو، چې په دنيا کې يې د بل چا سره په دې اندازه کي تعلق نه دئ راغلی.

تر دې حده پوري چې حضرت مجدد الف ثاني رحمة الله عليه فرمايي: چې د حضرت ابوبکرصديق ﷺ مثال د پيغمبر ﷺ و مخته داسي وو، لکه انسان چې يو هنداره د پيغمبر ﷺ و مخته ونيسي او په هغه هنداره کي د ده مبارک عکس راسي.

(۱)بخاري شريف حديث ۳۶۵۴

نو دا هم انسان نسي ويلای چي دا پيغمبرﷺ نه دئ؛ ځکه چي د پيغمبرﷺ شکل بعينه هغه دئ، چي په هنداره کي پروت دئ او دا هم نسي ويلای چي دا پيغمبرﷺ دئ، ځکه چي پيغمبرﷺ جوهر دئ او دا عکس خو عرض دئ.
نو د ابو بكرؓ په باره کي هم انسان دا نه سوای ويلای چي دا پيغمبرﷺ نه دئ، ځکه چي د پيغمبرﷺ د زندګۍ ټوله نقشه په ابوبکرؓ کي موجوده وه.
او دا هم انسان نسي ويلای چي دا عين پيغمبرﷺ دئ؛ ځکه چي په حقيقت کي ابو بكرؓ جلا انسان دئ او پيغمبرﷺ جلا دئ. ليکن د دې تعلقه باوجود پيغمبرﷺ دا نه ويل، چي زه ابوبکرؓ خپل محبوب جوړوم.
بلکي هغه دا ويل: چي زما په زړه کي د الله تعالى محبت ځای نیولی دئ، کچيري بل محبت د دې محبته سره په زړه کي راتلای سوای، نو ما به په زړه کي د ابوبکرؓ محبت اچولی وای. نو په زړه کي صرف يو محبت را تلای سي، البته تعلقات د ډيرو انسانانو سره کېدای سي.
مثلاً د زنانې سره تعلق، د بچيانو سره تعلق، د مور او پلاره سره تعلق او د ورور او خور سره تعلق، خو دا ټول تعلقات به د هغه محبت تابع وي چي کم محبت په زړه کي ځای نیولی دئ.

## په زړه کي يو محبت راتلل:

لهذا په زړه کي يو محبت يا به د الله تعالى وي يا به د دنيا وي، دواړه محبته په زړه کي نه سي سره جمع کېدای.
مولانا روم رحمۃ اللہ علیہ فرمايي:

ہم خدا خواہی و ہم دنیاۓ دوں .... ایں خیالست و محالست و جنوں

يعني چي د انسان په زړه کي د دنيا محبت هم وي او د الله جل جلاله محبت دي هم راسي، دا صرف خيال دئ او داسي کېدل محال دي او د يو ځای کېدلو فکريې کول جنون دئ.

نو کله چې د دنيا محبت په زړه کې راغلئ او د الله محبت نه وي، نو بيا چې انسان د دين څومره کارونه کوي، هغه ټول به د الله تعالى د محبته څخه بغير، بې روحه، بې حقيقته، بې ثمرې او بې نتيجې وي.
بيا د هغه کارو په ادا کولو کې انسان ته دُشواري او مشقت وي.
نو په دې وجه باندې زمونږ شريعت دا غواړي چې د انسان په زړه کې دې د دنيا محبت نه وي، نو دغه ته ويل کيږي "زهد" او د دغه "زهد" حاصول د ټولو انسانانو د پاره ضروري دي.

## په دنيا کې يم خو د دنيا طلب نه کوم:

ليکن په دې خبره باندې ښه سر خلاصول ضروري دي؛ ځکه چې دا ډېره باريکه خبره ده چې د دنيا بغير د انسان گذاره هم نسته. ځکه په دنيا کې لوږه او تنده راځي، نو انسان خوراکې او نفقې ته مجبوره کيږي او په دنيا کې استوگنه ده، نو انسان کور او جامې ته مجبوره کيږي، دا ټول بغير د دنيا څخه نه سي کېداى.
نو اوس سوال دا دئ، چې دا ټول کارونه د انسان سره مبتني دي، چې انسان به په دنيا کې هم وي او د دنيا ضروريات به هم پوره کوي، ليکن د هغه سره سره به د انسان په زړه کې د دنيا محبت نه وي؟
نو دا دواړې خبرې سره يو ځاى کول ډېر مشکله معلوميږي! ليکن دا هغه کار دئ چې انبياء کرام او د هغو وارثين يې و انسان ته ورزده کوي، چې ته به څنگه په دنيا کې اوسيږې او د دنيا محبت به دې په زړه کې نه وي.
يو حقيقي مسلمان به په دنيا کې هم اوسيږي، د دنيا د انسانانو سره به يې تعلق هم وي او د هغو حقوق به هم ادا کوي، ليکن د دې سره سره به يې د دنيا د محبته څخه پرهېز وي.

## د دنیا مثال:

داغه خبره مولانا روم رحمة الله عليه د يو مثال په شکل پيش کړې ده او ډېر ښائسته مثال يې ويلی دئ، دَی فرمايي:
چي د دنيا بغير د انسان گذاره هم نسته؛ ځکه چي په دنيا کي د انسانه سره ډېر ضرورتونه مبنتي دي او هغه بغير د دنيا څخه نه سي پوره کېدای.
نو په دنيا کي د انسان د ژوند مثال د کښتۍ او د دنيا مثال د اوبو دئ، لکه څنگه چي کښتۍ بغير د اوبو نسي چلېدای داغه رنگه په دنيا کي د انسان ژوند او ضروريات بغير د دنيا څخه نه سي پوره کېدای.
ليکن چي کله اوبه تر کښتۍ لاندي وي او کښتۍ سربېره پر روانه وي، نو هغه اوبه د کښتۍ دپاره فائده مندي وي او کښتۍ پر چليږي.
او کچيري اوبه د کښتۍ نس ته ور داخلي سوې، نو ضرور به کښتۍ ډوبوي او د هلاکت سره به يې مخامخ کوي. داغه رنگه د دنيا اسباب او د دنيا ساز او سامان چي کله د انسان سره يو طرف او بل طرفته وي، نو د انسان ژوند په هغه چليږي.
ليکن په کمه ورځ باندي چي د دنيا ساز او سامان او د هغه محبت د انسان و زړه ته ور ولوېدئ، نو بيا به هغه انسان د هلاکت سره مخامخ کوي.
لکه مولانا روم رحمة الله عليه فرمايي:

آب اندر زیر کشتی پشتی است... آب اندرون کشتی ہلاک کشتی است

يعني چي تر څو پوري اوبه تر کښتۍ لاندي وي، نو د کښتۍ د چلېدلو سبب او ذريعه وي.
ليکن که اوبه په کښتۍ کي دننه راسي، نو بيا به کښتۍ ضرور هلاکه وي.

## دوه محبته نسي جمع کېداى:

لهذا زهد دې ته وايي چي دنيا به ستا پر څلور طرفه او ستا سره شاه و خوا وي، ليکن د دنيا محبت به ستا په زړه کي نه وي؛ ځکه که د دنيا محبت په زړه کي راغلی، نو بيا د الله تعالی د محبت دپاره ځای نه وي.

## د دنيا ژوند دوکه ده:

د دنيا حقيقت څه دئ؟ کم آيت چي ما ستاسو په مخ کي تلاوت کړئ په هغه کي الله تعالی د دنيا حقيقت ښکاره کړی دئ:

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِاللَّهِ الْغَرُورُ﴾(١)

ای خلکو! د الله تعالی وعده پر حق ده، هغه وعده دا ده چي يو ورځ به مرئ او د الله و حضور ته به پېشېږئ، او د دنيا د ټولو اعمالو حساب او کتاب به پېشوئ.
لهذا د دنيا زندګي دي په دوکه کي وانه چوي، او دا دوکه باز يعني شيطان دي پر الله تعالی دوکه نه کړي. نو د شريعت تعليم دا دئ چي په دنيا کي به سړی اوسيږي، مګر د دنيا څخه به نه دوکه کيږي.
ځکه چي دا دنيا "دارالامتحان" دئ، چي په هغه کي ډيري داسي منظرې راځي چي د انسان زړه اخلي او خپل طرفته ته يې متوجه کوي، نو ځکه په دې زړه وړونکو منظرو باندي مه دوکه کېږه او د هغو محبت په زړه کي مه را وله!
کچيري د دنيا ساز او سامان د انسانه سره جمع سي، نو په هغه کي هيڅ "حرج" نسته په دې شرط چي هغو به په زړه کي ځای نه وي پيدا کړی.

## د شيخ فريد الدين عطار رحمة الله عليه واقعه:

بعضي د الله تعالی نېک بندګان داسي وي، چي الله تعالی دوی خپل طرفته د متوجه کوي نو بعضي اوقات د دوی و طرفته يو لطيف قوت را استوي، د هغه

(١) فاطر آيت ٥

مقصد دا وي چې د دې بنده د زړه څخه د دنیا محبت ختم سي او د الله تعالی محبت راسي.

په دې نیکو بندګانو کې یو حضرت شیخ فرید الدین عطار رحمة الله علیه دئ، چې مشهوره بزرګ تېر سوی دئ. په ابتداء کې دی د یونانې دواګانو او د عطرو ډېر لوی تاجر وو، نو په دې وجه ده ته "عطار" وایي.

یوه ورځ پر خپل دوکان ناست دئ او دوکان یې د عطرو او د دواوو د چیښو ډک دئ، په دې دوران کې یو مجذوب او درویش غوندي انسان راغلئ، د دوکان په دروازه کې ودرېدئ او دې چیښو ته په ډېر غور سره ګوري.

کله د یوې چیښې طرفته او کله د بلې چیښې و طرفته متوجه کیږي، یو څه زمانه وروسته شیخ فرید الدین عطار رحمة الله علیه ورته وایي:

- سړیه! څه ته ګورې او د څه شي تلاش کوې؟
- هغه درویش په جواب کې ورته وایي: صرف دې چیښو ته ګورم.
- شیخ رحمة الله علیه ورته وایي: څه را نیسې؟
- نو هغه ورته وایي: را نیسمه یې نه صرف داغسې ورته ګورم.

نو بیا یې پر دې چیښو باندې نظر اچول شروع کړه، چې کله ډېره زمانه تېره سوه، نو حضرت شیخ رحمة الله علیه بیا ورته ووایي:

- سړیه! آخر څه شي ته دومره ډېر پرېشانه یې؟
- هغه درویش ورته وایي: چې دې ته ډېر په تعجب کې یم، چې ای غریبه! چې کله مرې، نو روح به دې په څومره مشکل باندې د بدنه څخه جلا کیږي؛ ځکه دا دومره چیښې دې دلته ایښې دي او په زړه کې دې د دې ټولو چیښو محبت دئ.

نو چې کله ستا روح د بدنه څخه جلا کيږي، نو بيا دې ټولو چيښو به ګرځي او په چيښه به ننوځي او بيا به راوځي، نو پر تا به زنکدن په څومره اوږده زمانه باندې تيريږي.

چونکه ښکاره خبره ده چې شيخ فريد الدين عطار رحمة الله عليه په دې وخت کې يو دنيا دار تاجر وو، چې کله يې د هغه درويش خبره واوريده، نو په غصه سو او ورته وايي:

- ته زما د روح ختلو په فکر کې يې، ستا روح به څنګه خيږي؟
- هغه فقير ورته وايي: زما په روح ختلو کې څه پريشاني ده، زما سره خو نه تجارت سته، نه دوکان سته، نه چيښې سته او نه ساز او سامان سته، نو زما روح به دغه رنګه خيږي.

بس الله فقير دومره خبره وکړه بيا يې د دوکان په دروازه کې پټو هوار کړئ، ورباندې پريوتئ او د شهادت کلمه يې شروع که، وروسته يې روح د بدنه څخه جلا سو او وفات سو.
حضرت شيخ فريد الدين رحمة الله عليه چې کله دا واقعه وليدله، نو پر زړه باندې يې يو قسم حال راغلئ، چې واقعًا زه خو شپه او ورځ په کاروبار کې مشغوله يم او د الله تعالی و طرفته مې هيڅ توجه نسته.
او دا د الله تعالی يو نېک بنده په څومره اسانه طريقه د الله تعالی و طرفته رخصت سو، بس دا د الله ﷻ د طرفه يو غيبي لطيفه وه چې د ده د هدايت دپاره سبب جوړ سو.
نو د دنيا کار و بار او تجارت يې پر هغه ځای پريښوئ او الله تعالی هدايت ورته وکړئ او داسي زندګي يې تېره کړه چې د "تذکيرة الاولياء" مصنف هم دَی سو.

## د حضرت ابراهیم ابن ادهم واقعه:

حضرت ابراهیم بن ادهم رحمة الله علیه د یو علاقې باچا وو، د شپې پر خپل تخت باندي عبادت کوي، نو د بام پر سر باندي یو څه کسان ګرځي، د ده دا خیال سو چي شاید دا به غله وي.

نو دباندي را ووتئ او ورته وایي:

- تاسو څوک یاست او په څه پسي ګرځئ؟
- نو هغوی په جواب کي ورته وایي: زموږ اوښان ورک دي او موږ پر دې بام باندي په خپلو اوښانو پسي ګرځو.
- دی ورته وایي: څومره احمقان یاست تاسو بام و ګورئ او د اوښانو پیدا کول و ګورئ.
- نو هغوی په جواب کي ورته وایي: چي کله موږ پر دې بام باندي اوښان نه سو پیدا کولای، نو ته به د بادشاهۍ په محل کي خدای څنګه پیدا کړې؟

د هغوی په وینا سره د ده پر زړه باندي هم یو جټکه راغله او ټول حکومت او بادشاهي یې پرېښول او د الله تعالی په دین کي لګیا سو. دا هم د ده دپاره یو غیبي لطیفه وه.

## د دې واقعې څخه سبق اخیستل:

زموږ غوندي انسانانو دپاره د دې واقعې څخه داسي سبق اخیستل صحیح نه دي، لکه څنګه چي هغو هرڅه پرېښول د الله تعالی ددین دپاره ووته، نو موږ به هم داغه رنګه هر څه پرېږدو او د الله تعالی د دین دپاره به وځو، زموږ غوندي کم ظرفه انسانانو دپاره دا طریقه اختیارول مناسب نه دي.

ليکن ددې واقعې څخه چي کم سبق اخستل ضروري دي، هغه دا کچيري د انسان په زړه کي د دنيا ساز او سامان او د دنيا آرام او راحت مبنتی وي او د سهاره څخه تر ماښامه پوري د دنيا په حاصلولو کي منډي او ترنډي وهي، نو په داسي زړه کي د الله تعالی محبت نه سي راتلای.
البته چي کله د الله تعالی محبت د انسان په زړه کي راسي، نو د دنيا ساز او سامان به د انسانه سره وي، ليکن د انسان په زړه کي به يې ځای نه وي نيولی.

## دنيا ذليله راځي:

زموږ د اکابرينو په ټوله ژوند کي دا معمول راغلی دئ چي کله به يې د دنيا پر يو شي باندي د چا سره جګړه او ناراضګي راغله، نو هغه شی به يې هغه چا ته ور پرېښوئ، د خپل حق څخه به دست برداره کېدئ او خپل حق به يې پرېښوئ. او د هغو مخته به د پيغمبرﷺ دا حديث مبارک وو چي فرمايي:
﴿أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ وَإِنْ كَانَ مُحِقًّا﴾(١).
يعني زه ضامن يم د جنت په اطرافو کي د کور چي کم سړی د حق سره سره جګړه ختمه کي.
بيا الله تعالی داسي خلکو ته دنيا هم ور کوي او د داسي خلکو وحضور ته دنيا د يو ذليل شي په شکل راځي، لکه په يو حديث شريف کي راځي چي کم سړی د دنيا څخه مخ واړوي نو ﴿أَتَتْهُ الدُّنْيَا وَهِيَ رَاغِمَةٌ﴾(٢).
الله تعالی د ده و حضور ته دنيا ذليله جوړه کړي او بيا يې پېشوي.
هغه دنيا د ده په پښو کي پرته وي، ليکن دده په زړه کي د دنيا محبت نه وي.

---

(١)ابو داؤد حديث ۴۸۰۰
(٢)ابن ماجه حديث ۴۱۰۵

## د بحرین څخه مال راتلل:

پیغمبرﷺ به د دنیا حقیقت صحابه کرامو ﷺ ته ور ښکاره کوئ او پر هر ځای باندې به یې صحابه کرامو ﷺ د دنیا څخه و آخرت ته متوجه کول.
او په دې احادیثو کې پیغمبرﷺ د دنیا حقیقت بیان کړی دئ، چې کله دا حدیث سړی وایي، نو هر انسان باید د زړه څخه د دنیا د محبت د ایستلو فکرو کړي؛
حضرت عمر بن عوف انصاري ﷺ فرمایي: ﴿أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ إِلَى الْبَحْرَيْنِ يَأْتِي بِجِزْيَتِهَا إلخ﴾[1]
چې حضور اقدسﷺ حضرت "ابو عبیدة بن جراح" د "بحرین" والی جوړ کړی وو.
نو د هغه ځای د مشرکانو څخه به یې جزیه را ټوله وله او مدینې منورې ته به یې را وړله او پیغمبرﷺ به په مدینه منوره کې د صحابه وو په مابین کې تقسیموله.
چونکه په مدینه منوره کې ډېره تنګي وه، نو یو ځل یو څه انصارو صحابه کرامو ﷺ ته دا ور معلومه سوې وه، چې "حضرت ابو عبیده" د "بحرین" څخه راغلئ او مال یې را وړئ، نو دوی د سهار لمانځه ته مسجد نبوي ته ځان را ورسوئ.
او د لمانځه څخه بعد به یې د پیغمبرﷺ سره مصافحه کوله دا هغه زمانه وه چې د صحابه کرامو ﷺ تنګ دستي انتها ته رسېدلې وه.
ډېرو ختونه به په هغوی باندې په لوږه کې تېرېدله او د هغوی سره به د اغوستلو جامه نه وه، خو انتهائي د تنګۍ زمانه وه.
چې کله پیغمبرﷺ هغه صحابه ﷺ و لیدل چې د ده سره یې مصافحه کوله، نو ده مبارک به تبسم کوئ او بیا به یې ورته ویل: زما په خیال تاسو ته معلومه

---

[1] بخاري شریف ۶۳۲۵

سوې ده چي "ابو عبیده" د "بحرین" څخه راغلی دئ، نو دوی به ورته ویل: هو، ای د الله رسوله!

پیغمبرﷺ به د ټولو څخه مخکي دا ورته ویل: تاسو دا خوش خبري واورئ چي په کم شي تاسو خوشحاله کېږئ هغه به اوس تاسو ته در تقسیم سي.

## پر تاسو د فقر په سبب اندېښنه نه کوم:

لیکن کله چي صحابه کرامؓ دا رنګه راتلل او دا انتظار به یې کوئ چي اوس به مال را تقسیمېږي، نو پیغمبرﷺ دا محسوسه کړه چي هسې نه د دنیا محبت یې په زړو کي پیدا سي، نو د دې خوش خبرۍ څخه وروسته فوراً ورته فرمایي:

﴿فَوَاللهِ لاَ الفَقْرَ أَخْشٰى عَلَيْكُمْ، وَلَكِنْ أَخْشٰى عَلَيْكُمْ أَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا وَتُهْلِكَكُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُمْ﴾(۱)

په خدای دي مي قسم وي، چي زه پر تاسو باندي د لوږي او د فقر د خطري څخه نه بیرېږم، یعني زما سره دا اندېښنه نسته چي پر تاسو به لوږه او تنده تیرېږي او تاسو به په مشقت او پرېشانۍ کي یاست.

په دې وجه چي اوس خو داسي زمانه را تلونکې ده، چي انشاء الله په مسلمانانو کي به ګشادګي او پراخي وي.

او حقیقت هم دا دئ چي د دې امت د لوږي ټوله زمانه د پیغمبرﷺ په دور کي تېره سوې ده.

چي حضرت "عائشه" مبارکه فرمايي: تر دړو دړو میاشتو پوري به زموږ په کور کي اور نه بلېدئ او زموږ خوراکه به صرف دوه شیان وه، یو خورما او بل اوبه.

او پیغمبرﷺ هیڅ کله دوه وخته په ماړه نس باندي ډوډۍ نه وه خوړله غنم خو نه وه، د اُربشو د ډوډۍ دا حال وو.

---

(۱) بخاري شریف حدیث ۳۱۵۸

نو په دې وجه پيغمبر ﷺ ورته فرمايي: را تلونکې زمانه پر دې امت باندې د لوږې زمانه نه ده.
کچيرې انسان د مسلمانانو پوره تاريخ وګوري، نو پوه به سي چې د پيغمبر ﷺ د زمانې څخه وروسته بيا عامه لوږه پر دې امت نه ده راغلې.
نو پيغمبر ﷺ ورته وايي: کچيرې زما پر امت باندې لوږه هم راسي، نو د هغه لوږې څخه ما ته د نقصان فکر نسته، د زيات څخه زيات به داوې چې د دنيا تکليف به وي.
ليکن د هغه څخه د ګمراهۍ انديښنه او فکر نسته، البته انديښنه د دې خبرې ده چې پر تاسو به دنيا را وغوړيږي، لکه پر مخکينيو امتو چې را وغوړيدله او تاسو به يو د بله سره په دنيا کې مسابقې شروع کړئ او د دنيا په زيادت کې به مقابلې سره کوئ، د هغه نتيجه به دا وي چې دنيا به داغه رنګه تاسو هلاک کړي لکه مخکني قومونه چې يې هلاک کړه.

## دنيا د غوماشي د وزر قدر نه لري:

په دې وجه په يو حديث کې پيغمبر ﷺ فرمايي:
﴿لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللَّهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةَ مَاءٍ﴾(١)
يعني کچيرې د دنيا حقيقت د الله تعالی په حضور کې د يو غوماشي د وزر قدر درلوداى، نو يو کافر ته به الله تعالی د دنيا څخه د اوبو غړپ نه واى ور کړئ.
ليکن تاسو يې وينئ چې د دنيا دولت د هر چا څخه زيات د کافرانو سره دئ او د دنيا د دولت خوندونه اخلي، د دې سره سره د الله تعالی نافرمانۍ هم کوي او د الله تعالی څخه بغاوت هم کوي.
نو دا دنيا د الله تعالی په حضور کې بې حقيقته شی ده، که د دې څه حيثيت و حقيقت واى. نو کافرانو ته به نه واى ور کول سوې.

(١) ترمذي شريف حديث ٢٣٢٠

## د دنيا هيڅ حيثيت نسته:

يو ځل پيغمبرﷺ د صحابه کرامو رضي الله عنهم سره د مدينې منورې په يو لار کې تېرېدې که ګوري د "بزې" يو مردار سوی "مرغومی" او غوږيې پر … وی پر يو امبار باندې پروت دئ او بد بويې ځني ولاړېږي.

پيغمبرﷺ صحابه وو ته وايي:

- په تاسو کې کم يو د غه مردار سوی "مرغومی" په يو درهم سره را نيسئ؟
- صحابه کرام رضي الله عنهم په جواب کې ورته وايي: ای د الله رسوله! دا "مرغومی" که ژوندی وي هم د يو درهم قيمت نه لري او اوس چې د ده غوږونه هم پرې دي، مردار سوی هم دئ او بدبويي هم ځني ولاړېږي، څوک يې داغسې هم نه کوي.
- نو پيغمبرﷺ ورته وايي: چې دا ټوله دنيا او د هغې مال او دولت د الله تعالى په حضور کې د دې مرغومی څخه زيات بې حقيقته او بې حيثيته ده، لکه څنګه چې دا مرغومی ستاسو په ذهنو کې بې حقيقته او بې حيثيته دئ.

## ټوله دنيا د صحابه وو رضي الله عنهم پښو ته راغله:

حضور اقدسﷺ دا خبره د صحابه کرامو په زړو کې ور کښېنولې وه، چې دنيا ته په زړه کې ځای مه ورکوئ او د دنيا و طرفته رغبت مه ښکاره کوئ! صرف د ضرورت په وخت کې دنيا استعمالوئ.

د غه وجه وه چې کله د صحابه کرامو رضي الله عنهم د زړو څخه دنيا ووتله، نو بيا الله تعالى ټوله دنيا د دوی غلامان جوړ کړه.

د "قیصر او کسریٰ" خزانې د دوی په مسجدونو کي تقسیمېدې او د هغوی د کورو زناني د دوی په کورو کي د منځو په شان گرځېدې.
لیکن صحابه کرامو ﷺ د دې مال او دولت و طرفته په رغبت سره نه کتل او نه یې د دنیا و مال او دولت ته په زړه کي ځای و رکوئ.

## د حضرت ابو عبیدة بن جراح ﷺ حالت:

د حضرت عمر ﷺ په زمانه کي حضرت ابو عبیده بن جراح ﷺ د "شام" والی جوړ سو، په دې وجه چي د شام اکثره علاقه ده فتح کړې وه.
په دې وخت کي شام دېره غټه علاقه وه چي په هغه کي نن سبا څلور ملکونه دي، یعني شام، اردن، فلسطین او لبنان او په هغه وخت کي دا څلور سره یو ځای د اسلامي خلافت یو ولایت وو او حضرت ابو عبیده ﷺ د هغه والی وو.
او د شام ولایت ډېر زرخېزه وو او د مال او دولت پکښې کثرت وو، او د روم ښائسته علاقه وه. حضرت عمر ﷺ د مدینې منورې څخه د دې ټولي علاقې قدرت په لاس کي درلودئ.
چنانچه یو ځل د لیدلو دپاره د شام په ګوره راغلئ، چي کله شام ته را ورسېدئ، نو حضرت "ابو عبیده" ته وایي: زما زړه دا غواړي چي زه ستا کور وو ینم چي په دې زرخېزه علاقه کي تا څنګه کور د ځان دپاره برابر کړی دئ.
حضرت عمر ﷺ په ذهن کي دا وه چي "ابو عبیده" خو د ډېر اباد ولایت والی دئ او دلته د مال او دولت کثرت دئ، چي زه د ده کور وو ینم چي ده ځان ته په کور کي څه جمع کړي دي.

## ضرت ابو عبيده ﷺ کور:

رت ابو عبيده ﷺ په جواب کي ورته وايي: اى امير المؤمنينه! ته زما کور کوې؟ کچيري ته زما کور ووينې، نو د سترګو څخه د اوښکو تويولو بغير به هيڅ و نه کړې.

رت عمر ﷺ ډېر اصرار کوئ چي زه ضرور ستا کور وينم.

حضرت ابو عبيده ﷺ حضرت عمر ﷺ تر لاس و نيوئ، روان يې کړئ او د ام وخت دئ په ښار کي سره پسې دي، چي کله د ښار ابادي ختمه سوه او د رڼاګاني ټولي ختمي سوې، نو حضرت عمر ﷺ ورته وايي:

- ته ما چيري بيايې؟
- حضرت "ابو عبيده" په جواب کي ورته وايي: بس اوس زما کور نژدې دئ.

نچه پوره "دمشق" ښار چي د دنيا په مال او اسباب سره او په رڼا او برېښنا ځلېدئ ټول تېر سو، نو آخر يې ځنګله ته ورسوئ.

رماوو د پانو څخه جوړه په زنګله کي يو کوډلۍ ته يې ودروئ او ورته : اى امير المؤمنينه! دغه زما کور دئ او زه په دغه کور کي اوسېږم.

ت عمر ﷺ چي کله په دې کور کي څلور طرفه نظر ورغړوئ او وې کتل، هغه کور کي د يو مصلې بغير بل يو شى په نظر نه ورغلئ.

ښتنه ځني کوي:

- اى ابو عبيده! ته چي په دې کور کي اوسېږې، نو په دې کور کي ساز او سامان او يو لوښى او د خوراک چيښاک او بيدېدلو خو هيڅ انتظام نسته، نو ته دلته څنګه اوسېږې.

- نو هغه په جواب کي ورته وایي: ای امیر المؤمنینه! الحمد لله زما تول د ضرورت سامان په دې کور کي مُیسر دئ، دا مصله ده پر دې لمونځ کوم او د شپې پر دې بیده یږم.

او بیا یې لاس د کوډلي په سر کي د کجرو په پاڼو ننیستئ، د هغه ځایه څخه یې یو پیاله را وکښله چي مخکي نه معلومېدله او د حضرت عمر ﷺ و مخته یې کښېښوله او ورته وایي: ای امیر المؤمنینه! دا زما لوښی دئ.

حضرت فاروق اعظم ﷺ چي کله دې لوښي ته وکتل، نو په هغه کي اوبه پرتې دي او په اوبو کي د وچي ډوډی یو څو ګولې خشتې سوې دي.

نو حضرت ابو عبیده ورته وایي: چي ای امیر المؤمنینه! زه شپه او ورځ د حکومت په کارو کي مصروفه یم او د خوراکې او د نورو ضروریاتو پوره کولو وخت نه لرم.

یو زنانه زما دپاره دوې درې ډوډی پر یو وخت پخې کړي، نو زه یې دلته کښېږدم، چي کله هغه وچي سي بیا یې په دې اوبو کي خشتوم او چي د شپې راسم نو خوراک ځني کوم، دغه مي د کور او د ضرورت سامان او نفقه ده.(۱)

## د فاروق اعظم ﷺ اوښکي تویول:

حضرت فاروق اعظم ﷺ چي کله دا حالت و لیدئ، نو په سترګو کي یې اوښکي راغلې.

حضرت ابو عبیده ﷺ ورته وویل:

- ای امیر المؤمنینه! ما خو مخکي هم دا درته ویلي وه، چي زما د کور لیدلو وروسته به تا ته د اوښکو تویولو څخه ماسوای نور هیڅ په لاس در نه سي.

---

(۱) سیر اعلام النبلاء ج۱ ص۷

- حضرت فاروق اعظم ﷺ ورته وايي: اى ابو عبيده! دې د دنيا کثرت او د دنيا اسبابو موږ ټوله بدل کړو، مګر په خداى قسم ته هغسي پاته يې لکه څنګه چي د رسول اللهﷺ په زمانه کي وې، دنيا پر تا هيڅ اثر نه دئ کړی.

ټوله دنيا و مخته وه او د هغې زړه وړونکي مناظر هم و مخته وه او چي څومره مخلوق د دنيا په راحتو کي وو هغه هم و مخته وه، ليکن پر صحابه کرامو ﷺ باندي يې هيڅ اثر و نه کړئ.
په دې وجه چي د اللهﷻ محبت د هغوی پر زړو باندي داسي غوړېدلی وو، چي د دنيا هيڅ قسم مناظرو و دوی ته دوکه نه سوای ور کولای.
دا هغه صحابه کرام وه چي دنيا به ذليله د دوی پښو ته را تله، ليکن دوی د دنيا و محبت ته په زړه کي ځای نه ور کوئ.
په حقيقت کي دا د نبي اکرمﷺ تربيت وو چي ده مبارک به بار بار صحابه کرام ﷺ د دنيا و حقيقت ته متوجه کول.
او بار بار به يې د دنيا د بې ثباتۍ پر طرف او د آخرت د ابدي او دائمي نعمتو او عذابو و طرف ته متوجه کو ،ل چي د هغه څخه قرآن او حديث ډک پراته دي.

## يوه ورځ مرګ راځي:

انسان دي د ځانه سره دا سوچ او فکر و کړي چي دا دنيا به تر څه وخته پوري وي، يوه ورځ به وي، آيا دوې ورځي به وي، آيا درې ورځي به وي، چا ته دا معلومه ده چي په دې دنيا کي به څو ورځي ژوندی يم. آيا دا يقين د يو چا سره سته چي را روان ساعت، بلکي را روان ګړی به ژوندی يم؟
که هر څومره لوی سائنس دان دئ، هر څومره لوی فلسفي، هر څومره لوی صاحب اقتدار دئ دا نه سي ويلای چي په دنيا کي به زما ژوند څو ورځي وي.

- لیکن د دې باوجود انسان د دنیا په ساز او سامان را جمع کولو کي لګیا وي او شپه و ورځ په دنیا پسي منډې ترنډې وهي او د سهاره څخه تر ماښامه پوري په دنیا پسي سرګردانه وي.
چي کمه ورځ عزرائیل علیه السلام را ورسیږي، بیا به هر څه پرېږدي او دی به تنې تنها رخصتیږي او هیڅ شی به د ځانه سره نسي وړای.

## دنیا دوکه ده:

نو ځکه قرآن کریم فرمايي: ﴿وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ﴾(١).
چي دنیوي زندګي د دوکې سودا ده، د دوکې په سودا کي په داسي شکل مه لګیا کېږه چي د آخرت څخه دي غافل کړي!
په دې دنیا کي اوسېږه! مګر د دې څخه مه دوکه کېږه! کچیري دا خبره د سړي و زړه ته ولوېږي، بیا که د دې سړي سره هر څومره مال او دولت ور سره وي؛ لیکن د هغه محبت د ده په زړه کي نه وي، نو بیا خو زاهد دئ، او "الحمد لله" وده ته د زهد نعمت حاصل دئ.

## زهد به انسان څنګه کوي؟

اوس سوال دا دئ چي زهد به انسان څنګه پیدا کوي؟ د زهد پیدا کولو طریقه دا ده چي انسان د قرآن او حدیث پر احکامو باندي غور و کړي او د خپل مرګ او د الله تعالی په حضور کي د پیښېدلو مراقبه و کړي. او د آخرت د نعمتو او د آخرت د عذابو او د دنیا د بې ثباتۍ مراقبه و کړي، او د هغه دپاره هره ورځ پنځلس دقیقې وخت فارغه کړي. نو د دې څخه به کرار کرار د انسان د زړه څخه د دنیا محبت زائل سي. الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته د دنیا په حقیقت د پوه کېدلو توفیق را کړي. او الله تعالی دي زموږ د زړو څخه د دنیا محبت لري کړي.
الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمین یا رب العالمین)

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَ أَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

---

(١) آل عمران آیت ۱۵۸

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د مال او دنیا حیثیت

(بیان)


مولوي اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن


ترتیب وتخریج:


مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعــت | خلــــــــــورم |
| تــاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تــعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيهِ مُبَارَكاً عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَيْرِالْهُدٰى وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَاءِ.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدنيا وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ. (١)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ﴿اَلدِّيْنُ اَلنَّصِيْحَةُ﴾(٢).

اٰمَنْتُ بِا اللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ وَصَدَقَ رَسُوْ لُهُ النَّبِي الْكَرِيْمِ وَنَحنُ عَلٰى ذٰ لِکَ مِنَ الشّٰاهِدِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰه رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو مشرانو! کوم آيت کريمه چي ما اوس ستاسو په مخ کي تلاوت کړي دي لږ تشريح په دې مختصر وخت کي کوم، الله تعالی دي په صحيح طريقه د خپلي کاملي رضاء مطابق د بيانولو توفيق را نصيب کړي او موږ و تاسو ټولو ته دي د عمل کولو توفيق را نصيب کړي.

## يوه غلط فهمي:

ددې آيت انتخاب مي په دې وجه وکړي چي نن سبا يوه لويه غلط فهمي خاص بيا په ديندار ه خلکو کي په زياته اندازه موجوده ده، او د هغه غلطي ازاله د قرآن کريم په دې آيت مبارک کي موجوده ده.

(١) سورة القصص، آيت نمبر: ٧٧

(٢) بخاري، حديث نمبر ٥٧

غلط فهمي داده: چي کچيري يو سړی ديندار ه زندګي تېرول غواړي، او د اسلام پر احکامو په عمل کولو سره خپله زندګي سر ته رسول غواړي، نو دا سړی به خامخا دنيا پرېږدي او د دنيا عيش او آرام او د دنيا اسايش به دده څخه پاته وي:

او د دنيا د مال او اسبابو پرېښولو بغير، او د هغه څخه د خپل نظر قطع کولو بغير په دې دنيا کي دا سړی د دين مطابق زندګي نه سي تېرولای، دا د انسانانو په دماغو کي يوه لويه غلط فهمي ده.

او ددې غلط فهمۍ منشاء په حقيقت کي داده چي موږ ته دا خبره معلومه نه ده چي اسلام د دنيا په باره کي څه تصور پېش کړی دئ او دا دنيا څيشي ده؟ د دنيا مال او دولت، عيش او آرام ددې حقيقت څه دئ؟ تر کومه حده پوري انسان دا خپلولای سي؟ او تر کومه حده پوري ددې څخه اجتناب ضروري دئ؟ دا خبره د انسانانو په ذهنو کي په پوره طريقه واضحه نه ده.

## په قرآن کريم او په احاديثو کي د دنيا مذمت:

د انسانانو په ذهنو کي يو څه خدشه په دې وجه هم پيدا کيږي چي دا خبره په کثرت سره خلګ اوري چي په قرآن کريم او په احاديثو کي د دنيا مذمت په پوره طريقه سوی دئ.

په يو روايت کي نبي کريمﷺ تر دې حده فرمايلي دي: ﴿اَلدُّنْيَا جِيفَةٌ وَطَالِبُوْهَا كِلَابٌ﴾(1) چي دنيا د يو مردار سوي حيوان په مثل ده او ددې طلب کونکي د مردار خورو حيوانانو په مثل دئ.

دا حديث که څه هم بعض علماؤ لفظًا موضوعي بللی دئ، ليکن د يو مقولې په اعتبار يې صحيح تسليم کړی دئ.

نو دنيا ته مرداره ويل سوې ده او ددې طلب ګار ته په سپي ويل سوي دي.

---

(1) کشف الخفاء للعجلوني، حديث نمبر: ۱۳۱۳

غه رنګه په قرآن کریم کي الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ
ورِ﴾(۱) یعني د دنیا زندګي د دوکې سامان دئ.
غه رنګه قرآن کریم کي یو بل ځای هم الله تعالی فرمایلي د: ﴿إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ
دُكُمْ فِتْنَةٌ﴾(۲) یعني ستاسو مال او اولاد ستاسو دپاره فتنه او ازمایش دئ.
طرف ته د قرآن کریم او احادیثو دا ویناګاني زموږ په مخ کي راځي چي په هغه
د دنیا بدوالی بیانیږي، چي کله دا یو طرف ته صورت حال انسان ویني،
بعض اوقات د انسان په زړه کي دا خیال پیدا سي کچیري یو انسان صفا
لمان جوړېدل غواړي نو باید د دنیا څخه لاس واخلي.

## نیا فضیلت او ښه والی:

طرف ته به تاسو دا هم اورېدلي وي چي قرآن کریم مال او دولت ته په بعضو
و کي الله تعالی فضل ویلی دئ.
تجارت په باره کي الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ﴾ د تجارت په
عه د الله ﷻ فضل تلاښ کړئ!
نچي په "سورة جمعه" کي چي په کوم ځای کي الله تعالی د جمعې د لمانځه
م ورکړی دئ د هغه وروسته الله تعالی دا فرمایلي دي: ﴿فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ
رُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ﴾(۳) یعني چي کله د جمعې لمونځ ختم سي،
مځکه کي سره خواره سئ او د الله ﷻ فضل تلاش کړئ!
ال او تجارت الله ﷻ خپل فضل بللی دئ.
رنګه په بعضو ځایو کي قرآن کریم مال په خیر او نیکۍ سره یاد کړی دئ.

---

رة آل عمران، آیت نمبر: ۱۸۵
رة التغابن، آیت نمبر: ۱۵
رة الجمعة، آیت نمبر: ۱۰

او دا دعا مو ږ او تاسو ټوله وايو: ﴿رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾[1]

اې الله! ته موږ ته په دنیا کې هم نیکي را نصیب کړې او په آخرت کې هم ښېګڼې را په برخه کړې.

نو په بعضو اوقاتو کې د انسان په ذهن کې دا تشویش پیدا سي چې یو طرف ته د دنیا دومره زیاته بدي بیانیږي چې هغه ته په مردار سوی حیوان ویل کیږي، او د هغې طلبګار ته په سپي ویل کیږي او بل طرف ته داغه دنیا د الله ﷻ فضل بلل سوې ده او داغه دنیا خیر او نیکي بلل سوې ده او ددې ښه والی بیانیږي اوس په دې کې کمه خبره صحیح ده؟

## د آخرت د پاره د دنیا د پرېښولو ضرورت نسته:

حقیقت او واقعه داسي ده چې د قرآن او حدیث په ښه طریقه ویلو سره د هغه څخه بعد چې کم صورت حال و مخ ته راځي او واضح کړځي هغه دادئ چې الله ﷻ او د الله ﷻ رسول ﷺ زموږ څخه دا یو ځای هم نه دي غوښتي چې دنیا پرېږده او کښېنه!

په عیسائي مذهب کې تر هغه وخته د الله ﷻ قرب انسان ته نه سو حاصلېدای چې تر څو پوري به انسان کور، بچیان، کاروبار نه واي پرې ایښي، لیکن د پیغمبر ﷺ په تعلیماتو کې یو ځای هم موږ ته دا نه دي ویل سوي چې تاسو دنیا پرېږدئ! کته به نه کوئ! تجارت به نه کوئ! مال به نه پیدا کوئ! کور به نه جوړوئ! د کور د انسانانو سره به نه خاندئ! او نه به خبري کوئ! او خوراک به نه کوئ!

---

[1] سورة البقرة، آیت نمبر: ۲۰۱

په داسي انداز هیڅ حکم په شریعت محمدي کي موجود نه دئ. ها، صرف دومره خبره سته چي دا دنیا به د زندګی آخرنی منزل نه بولي او دا به د زندګی آخري مقصد نه بولي، که مو داسي دنیا وبلله دا مو یوه لویه غلطي ده.
چي زموږ څه کاروايي او کوشش دئ هغه به نو صرف ددې دنیا دپاره وي، ددې دنیا څخه مخ ته به زموږ هیڅ په سوچ او فکر کي نه وې، بلکه موږ ته په قرآن کریم او په احادیثو مبارکو کي دا ویل سوي دي.
چي دا دنیا په حقیقت کي ددې دپاره ده چي تاسو به په دې دنیا کي اوسیږئ او د خپل آخرت د زندګی دپاره به تیاري کوئ او د آخرت هېرولو بغیر به دا دنیا دارنګه استعمالوي چي په دې کي به ستاسو دنیوي ضروریات هم پوره وي او ددې سره سره به د آخرت او د راتلونکي زندګی بنیګڼي ګټل هم ستاسو په نظر کي وي.

## دنیا د آخرت دپاره یوه ځینه ده:

در حقیقت د مسلمان دپاره یو پیغام دئ چي په دنیا کي اوسیږه! د دنیا ګټه کوه! او دنیا استعمالوه! لیکن صرف د خپل نظر "زاویه" بدله کړه! کچیري دنیا ته په دې نیت سره استعمالوې چي دا د آخرت دپاره یو ځینه ده او د آخرت د زندګی برابرولو دپاره یو میدان دئ.
یا دا دنیا ستا دپاره خیر ده او د الله تعالیٰ فضل دئ او پر دې باندي د الله تعالیٰ شکر ادا که او که دنیا په دې نیت باندي استعمالوې چي دا ستا اخیرنی منزل او مقصد دئ او ددې ګټه ګټه ده او ددې نفع نفعه ده او ددې څخه بغیر ها خوا ته هیڅ شی نسته، نو بیا دا دنیا ستا دپاره د هلاکت سامان او سبب دئ.

## دنيا دين جوړېدلاي سي:

دا دواړي خبري پر خپل ځاى باندي صحيح دي چي دا دنيا مرداره ده، چي کله د هغې محبت او خيال پر دماغ باندي داسي سپور سي چي د سهار څخه تر ماښام پوري د دنيا د کټي بغير بل خيال د انسان په دماغ کي نه راځي.
ليکن کچيري دنيا د الله تعالى د رضا پيدا کولو دپاره استعمال سي، نو بيا دا دنيا د انسان دپاره دنيا نه وي، بلکه دين جوړه سي او د الله ﷻ د رضا سبب جوړه سي او د اجر او ثواب ذريعه سي.

## قارون ته نصيحت:

او دا دنيا به څنګه دين جوړ سي؟ د دې طريقه قرآن کريم په دې آيت کي بيان کړې ده چي ما ستاسو په مخ کي اوس تلاوت کړئ، دا د "سورة قصص" آيت دئ او په دې کي د "قارون" ذکر دئ.
قارون د حضرت موسىٰ عليه السلام په زمانه کي لوى سرمايه دار وو او قرآن کريم دا فرمايلي دي چي دده دومره خزانې وې او په هغه زمانه کي دولت په خزانو کي خوندي کېدئ او د هغه خزانو به ډيري غټې "کيلى" وې چي د هغو د وړلو دپاره به يو لوى جماعت په کار وو، يوه سړي به دده خزانو "کيلياني" نه سوې پورته کولاى، نو "قارون" د خپل وقت لوى مالدار وو.
د الله تعالى د طرفه څخه چي و ده ته د نصيحت کوم پيغام ورکول سوى دئ هغه په دې آيت مبارک کي بيان سوى دئ، په دې نصيحت کي "قارون" ته دا نه دي ويل سوي چي ته خپل ټول مال او دولت پرېږده يا خپل مال او دولت په اور کي واچوه، بلکه په هغه نصيحت کي و ده ته دا ويل سوي دي: ﴿وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا﴾(1) يعني چي الله ﷻ و تا ته کم مال او دولت درکړى دئ، عزت، شهرت، مکان، سواريان، او نوکران چي تا ته درکول سوي

(1) سورة القصص، آيت نمبر ۷۷

دي ددې په وجه د خپل آخرت د کور ښيګڼې طلب که! ددې په وجه د خپل آخرت کور آباد که!

او دا خبره چي الله تعالىٰ ور ته وايي چي کم شی تا ته الله تعالىٰ درکړی دئ، ددې څخه و دې طرف ته اشاره ده چي انسان چي څومره ماهر او ذهين سي او هر څومره تجربه کار سي چي کم شی ګټي دا د الله تعالىٰ عطا ده؛ ځکه هغه قارون به ويل: ﴿إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِي﴾(١) زما سره چي کم علم او ذهانت دئ د هغه په وجه ما ته الله دا دنيا راکړې ده.

الله تعالىٰ ددي په جواب کي وفرمايل: اي قارونه! چي کم شی تا ته در کول سوی دئ دا د الله تعالىٰ عطا ده، په دې دنيا کي به څومره ذهين کسان وي مګر په بازارو کي د بل چوټي ور ګندي او هيڅوک د پوښتني والا نه لري.

الله تعالىٰ په دې آيت شريف کي و دې طرف ته اشاره کړې ده، چي يو خو ددې خبري استحضار کوه چي کم مال دئ خواه د پيسو په شکل دئ يا د سامان او تجارت په شکل دئ يا د مکان په شکل دئ دا ټوله د الله تعالىٰ عطاء ده.

## آيا انسان به ټوله مال صدقه کوي؟

اوس سوال دا پيدا کيږي چي زموږ سره چي کم مال دئ ايا دا به ټوله انسان صدقه کوي؟ په دې وجه د بعضو خلقو دا خيال دئ چي کم مال د آخرت دپاره استعماليږي ددې معنٰی داده چي څومره مال انسان لري دا به ټول صدقه کوي، ليکن قرآن کريم په را روانه جمله کي ددې ترديد کوي او وايي: ﴿وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا﴾ په دنيا کي چي څومره حصه تا ته ميلاويږي او ستا حق دئ هغه مه هېروه! د هغه څخه مه دست برداره کيږه! بلکه هغه د خپل ځان سره خوندي کړه.

(١) سورة القصص، آيت نمبر: ٧٨

لیکن ددې مال سره دا معامله کوه ﴿وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ﴾ لکه څنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ ستا سره احسان کړی دئ او تا ته يې دا مال او دولت درکړی دئ داغه رنګه ته هم د نورو سره احسان کوه! او د نورو سره حسن سلوک کوه!
او بيا الله جَلَّ جَلَالُهُ ورته فرمايي: ﴿وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ﴾(١) او دا مال په مځکه کې د فساد او فتنو جوړولو دپاره مه استعمالوه!

## په مځکه کې د فساد سبب:

ددې مطلب دا دئ چې الله جَلَّ جَلَالُهُ چې کم کارونه حرام او ناجائز بللي دي د هغه کارو څخه د قرآن کريم په اصطلاح باندې په مځکه کې فساد غوړېږي. د مال د حاصلولو دپاره چې کومې طريقې الله تعالىٰ ناجائز بللي دي کچيرې انسان هغه طريقې اختيار کړي نو يقينا په مځکه کې فساد ځنې غوړېږي، مثلاً غلا کول او مال حاصلول، او داکه اچول مال حاصلول دا حرام دي.
يو سړی کچيرې دا طريقه خپله کړي په مځکه کې به خامخا فساد جوړېږي. يو انسان بل ته دوکه ورکول او مال ځنې پورته کول خامخا د فساد سبب جوړېږي.
د "سود" په طريقه د "خمار" په طريقه يا په نورو حرامو طريقو مال حاصلول دا په فساد في الارض کې داخل دي.
زموږ د ټولو څخه د قرآن دا مطالبه ده چې مال خو ضرور حاصل که، ليکن د مال ګټلو په وقت کې دا فکر خپل که چې د مال ګټلو دا طريقه حلاله ده او که حرامه ده؛ کچيرې حرامه وي چې هر څومره لوی دولت وي بيا يې پر شا و غورځوه! او کچيرې حلاله وي نو بيا يې خپله که!

(١) سورة القصص، آيت نمبر: ٧٧

## په دولت راحت پيدا کول:

خو دا يوه خبره په ياد ولرئ! مال په خپل ذات کي نفع ورکونکى شى نه دئ، د لوږي په وخت کي دا پيسې هيڅوک نه سي خوړلای، که انسان تږی ي په دې مال باندي تنده نه سي ماتولاي، ليکن د انسان دپاره دولت پيدا کول يو شى دئ او راحت بل شى دئ.

راحت په حقيقت کي د الله ﷻ عطا کرده شى دئ. په حرامه طريقه سره چي ته گټه وکړې مال او دولت هر څومره زيات کړې او ډيري خزانې خپل ځان لره ډکي کړې ليکن په دې سره راحت حاصلول څه ضروري خبره نه ده.

ډېر ځله داسي سوي دي چي حرام دولت د انسان بې انتها وي ليکن راحت ور ته حاصل نه سي، د شپې هغه انسان لره خوب تر هغه وخته نه ورځي چي د خوب گولۍ و نه خوري.

مال او دولت، ميلان او کارخانې، سامان او تجارت، نوکر او چاکر هر څه موجود وي، ليکن چي د خوراک دپاره پر دسترخوان کښيني هر څه نعمتونه موجود دي ليکن صاحب بهادر لره د خوراک اشتها نه راځي.

ليکن بل طرف ته يو مزدور چي اته گهنټې بېلچه په لاس روزانه کوي چي پر دسترخوان کښيني په شوق خپله نفقه خوري او د شپې چي خپله څنګله تر سر لاندي کي اته گهنټې د خوب مزې اخلي. اوس تاسو دا را ته ووايئ چي دې مزدور راحت پيدا کړئ او که هغه مالدار چي پر عاليشان فلنګ پروت دئ او د خوب نه ورتلو په وجه ټوله شپه اړخ پر اړخ پرله اوړي.

نو په حقيقت کي راحت د الله ﷻ عطا کرده شى دئ.

د الله ﷻ د مسلمان سره دا اصول دي کچيري په حلاله طريقه مال او دولت پيدا کړي د هغه مال او دولت په وجه الله ﷻ ده ته راحت او سکون ورنصيب کوي او کچيري په حرامه طريقه مال او دولت پيدا کړي.

نو شايد د مال او دولت غونډې به جمع کړي، ليکن د کوم شي نوم چي سکون او راحت دئ هغه ددې حرامې دنيا په جمع کولو نه سي پيدا کولاي.

## مال او دولت عين دين دئ:

خلاصه د کلام داده چي مال کچيري د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رضا دپاره انسان را جمع کړي بيا دا مال او دولت حسنه دي، او د الله تعالىٰ رحمت او خير او د الله تعالىٰ فضل دئ.

او کچيري د الله تعالىٰ د رضا په مقابل کي د خپل نفس د خواهشاتو پوره کولو دپاره د حلالو او حرامو د تميز کولو بغير مال او دولت را جمع کړي، نو بيا دا فتنه ده او دوکه ده او دا مال او دولت د مردار سوي حيوان په شکل دئ او دغه مال او دولت گټونکي د مردار خوړ حيوان په شکل پکښي لگيا دئ.

## د صحابه کرامو رضي الله عنهم مال او دولت:

په صحابه کرامو رضي الله عنهم کي ډېر صحابه زيات دولتمند وه او لوي مالداران وه، مثلا عبدالرحمن ابن عوف، عثمان بن عفان، او زبير رضي الله عنهم ليکن د پيغمبر عليه السلام د تربيت په برکت سره د دوی زړونه د دنيا د محبت څخه خالي وه د هغوي زړونه صرف د الله جَلَّ جَلَالُهُ او د الله جَلَّ جَلَالُهُ د نبي صلى الله عليه وسلم د محبت څخه اباد وه، د دوی دولت د آخرت دپاره وو او د دين د عظمت دپاره وو او د مسلمانانو د خدمت دپاره وو په دې رنگه به هغوي د مال او دولت په ذريعه سره خپل آخرت ښائسته کوئ.

## د غزوه أحد په واقعه باندي يو شبهه او د هغې جواب:

د احاديثو او سيرت په کتابو کي ليکلي دي چي پيغمبر عليه السلام په غزوه أحد کي پنځوس (٥٠) تېر اندازان (غشي وشتونکي) صحابه کرام رضي الله عنهم د "جبل رماة"

پر مغزي باندي د لشکر یعني د احد په میدان کي شریکو صحابه کرامو ﷺ د پښت د حفاظت یعني د شا د مضبوطه کولو دپاره مقرر کړل.

د جنګ په ابتداء کي مسلمانانو ته الله تعالی غلبه ور حاصله کړه چي کله دغه ټر اندازانو صحابه کرامو ﷺ د جنګ په میدان کي غلبه ولیدله.

نو د دوی زړو دا وغوښتل چي اوس ددې غره څخه ور ښوه سي او په فتح کي شریک سي او مال غنیمت حاصل کړي ددې ټر اندازانو امیر دوی د ښوه کېدو څخه منع کړل، لیکن دوی د هغه خبره نه و منله.

چنانچي دوی میدان جنګ ته ورښوه سول او پر غره باندي صرف چند کسان پاته سول کافرانو چي کله غر خالي ولیدئ، نو د دوی لشکر د غره د شاه د خوا څخه راغلئ او پر مسلمانانو باندي یې یو دم حمله وکړه.

د دې حملې په وجه په مسلمانانو کي ګډوډي، افرادفري واقع سوه او مسلمانانو ماتي وخوړه، زیات صحابه کرام شهیدان سول.

د صحابه کرامو دا خطا د الله تعالی د معصیت او د رسول الله ﷺ د حکم څخه د رو ګرداني په وجه نه وه، بلکه دا د هغوي اجتهادي غلطي وه یعني دغه ټر اندازانو صحابه کرامو ﷺ پر غره د درېدلو حکم تر هغه وخته پوري محدود وبالی چي تر څو پوري مؤمنانو غلبه نه وي پیدا کړې.

لیکن چي دوی کله د مسلمانانو غلبه ولیدله، نو د هغه غره څخه په دې وجه راښوه سول؛ ځکه دوی ولیدله چي اوس خو پر کفارو د مسلمانانو غلبه راغله، لهذا اوس دلته د درېدو څه ضرورت دئ، دا د دوی اجتهادي غلطي وه.

الله تعالی دا واقعه په قرآن کریم کي بیان کړې ده او داسي یې فرمایلي دي:

﴿حَتَّى إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُم مِّن بَعْدِ مَا أَرَاكُم مَّا تُحِبُّونَ مِنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ الْآخِرَةَ﴾(١).

---

(١) سورة آل عمران، آیت نمبر: ١٥٢

الله تعالیٰ فرمايي: ددې څخه وروسته تاسو خپل همت وبايلئ او د پيغمبرﷺ په حکم کي تاسو جګړې کولې او د هغه نافرماني مو وکړه، بعضې په تاسو کي د دنيا طلبګاره وه او بعضې د آخرت غوښتونکي وه.
دا د قرآن مجيد بيان دئ.
د قرآن کريم ددې بيان څخه دا شبه کيږي چي بعض صحابه کرامؓ د دنيا طلبګاره وه او دا د دنيا طلب د صحابه وو د شان څخه خلاف دئ، بظاهر دا ډېره قوي شبهه ده.
د دې په وجه بعض عوام په لويه غلط فهمي کي مبتلا دي.
علماء کرامو ددې شبهې ډېر جوابونه پيش کړي دي، مګر د ټولو څخه ښه او بهترين جواب مشهور صوفي ابن عطاء اسکندري رحمة الله عليه پيش کړی دئ.
د ابن عطاء اسکندري د جواب حاصل دا دئ: کچيرې مونږ دا ومنو چي بعض صحابه کرامؓ د دنيا طلبګاره وه، د دې جواب دا دئ چي اراده او طلب د دنيا مطلقا مذموم او قبيح نه دئ.

## طلب د دنيا دوه قسمه دئ:

بلکه اراده او طلب د دنيا دوه قسمه دئ:

١. يو قسم دا دئ: ﴿إِرَادَةُ الدُّنْيَا وَ طَلَبُ الدُّنْيَا لِلدُّنْيَا﴾ يعني صرف د دنيوي لذاتو او راحتو حاصلولو لپاره د مال او دولت سره محبت او د هغه د حصول اراده او طلب.
٢. او دوهم قسم دا دئ: ﴿إِرَادَةُ الدُّنْيَا وَطَلَبُ الدُّنْيَا لِلْآخِرَةِ﴾ يعني د آخرت د ابادولو او د آخرت د خوشحاليو او راحتونو حاصلولو په خاطر د مال او دولت حاصلولو اراده.

او له اراده مذمومه او قبيحه ده او دوهمه مذمومه او قبيحه نه ده، بلکه هغه قسم د کمال ايمان علامه ده.([1])

## د علامه جامي رحمة الله عليه او خواجه عبيد الله احرار رحمة الله عليه واقعه:

ددې جواب د تائيد په سلسله کې د مولنا عبدالرحمن جامي رحمة الله عليه يوه ايمان افروزه واقعه واورئ:

حضرت جامي رحمة الله عليه د "خواجه عبيدالله احرار" و حضور ته د بيعت کولو دپاره ورغلئ، خواجه عبيد الله احرار رحمة الله عليه ډېر لوي ولي الله، صاحب کشف او صاحب کرامت وو، د خواجه سره د مال او دولت ډېر کثرت وو يعني هغه د خپل وخت ډېر لوي مالدار او دولتمند وو.

او د خواجه صاحب طرز زندګي شاهانه وه، دده سره د دولت او ثروت زيات کثرت وو، ليکن دده دولت به زيات پر مسکينانو، غريبانو او علماؤ باندې خرڅېدئ يعني د خواجه صاحب اراده او حصول دنيا د دنيا لپاره نه وو، بلکه د آخرت لپاره وو.

مولانا جامي رحمة الله عليه چونکه په دې وقت کې طالب او د ظاهري علومو عالم وو، طالب او د ظاهري علومو عالم عموما بې باکه وي او د اعتراضاتو و طرف ته دده ذهن ژر انتقال کوي، په دې وجه يې خوند ور نه کړئ او پټ يې د ځانه سره يا په خپل زړه کې دا مصرع وويله:

*نه مرد است آنکه دنيا دوست دارد*

يعني د دنيا سره محبت درلودونکی انسان کامل انسان نه سي جوړېداى.

چي کله يې دا مصرع وويله، نو مولنا جامي د خواجه عبيد الله رحمة الله عليه د مجلس ځخه ولاړ سو او د کلي مسجد لره راغلئ، غرمه ده بيده سو په خوب کې ويني چي ميدان د حشر جوړ دئ.

---

([1]) ګلستان قناعت، صفحه نمبر: ٥١٦

په میدان محشر کي د مولنا جامي رحمة الله علیه د یو سړي سره معامله راغله هغه سړي مولنا جامي رحمة الله علیه ونیوئ د خپل حق طلب ځني کوي چي زما حق راوره چي په فلانی معامله کي ستا پر ذمه باندي پاته سوی دئ، مولنا جامي رحمة الله علیه چي هر څومره ځان ځني خلاصوي ځان نه سي خلاصولای او هغه سړی یې نه پرېږدي.

حضرت جامي رحمة الله علیه ډېر پرېشانه دئ او ژاړي د جهنم اور خپل مخ ته ویني.

دې وخت کي حضرت جامي رحمة الله علیه چي وکتل و یې لیدل چي د خواجه عبید الله احرار رحمة الله علیه سوارلي را روانه ده، خواجه رحمة الله علیه چي کله دا کش مکش ولیدئ.

نو خواجه رحمة الله علیه هغه سړي ته وویل: جامي فقیر ولي تنګوې؟ دی پرېږده! ما چي کومي د مال او دولت خزانې دلته جمع کړي دي دا د څه لپاره دي، او و خپلو خادمانو ته یې وویل: ددې سړي چي د مولنا جامي رحمة الله علیه پر ذمه څومره حق دئ او څونه مطالبه یې ده هغه مال زما د خزانو څخه ور ادا کړئ! چنانچي د خواجه رحمة الله علیه په وینا سره او د هغه د مالي اعانت په برکت مولنا جامي رحمة الله علیه ته د هغه قرض غوښتونکي څخه نجات میلاو سو.

ددې خوبه وروسته چي کله د مولنا جامي رحمة الله علیه سترګي خلاصي سوې او د خوبه را بیداره سو او د مسجد څخه دباندي راووتئ که ګوري واقعتا هم هلته د خواجه سوارلي را روانه ده او خواجه رحمة الله علیه پر سپور دئ.

حضرت جامي رحمة الله علیه د هغه ځای څخه ور ولاړ سو او په ډېر ندامت او پښېماني سره د خواجه صاحب سره میلاؤ سو او مصافحه یې ورسره وکړه. خواجه رحمة الله علیه چونکه صاحب کشف او کرامت وو د کشف په ذریعه سره الله تعالی ده ته دا ټوله ماجرا ښکاره کړله او په ټوله ماجرا یې خبر کړئ، په دې وجه و مولنا جامي رحمة الله علیه ته په ډېره محبت امیزه لهجه باندي وایي: ای جامي! هغه مصرع یو وار تکرار که چي کومه تا ویلې وه! اوس مولنا جامي رحمة الله علیه یې د شرم او

حیا په وجه نه سي ویلای، لیکن آخر یې د خواجه په اصرار باندي هغه مصرع وویله "نه مرد است آنکه دنیا دوست دارد"
خواجه ورته وایي: ستا کلام تر اوسه لا ناقص دئ پوره شعر نه دئ باید ته ددې سره دا هم یو ځای کړې: "اگر دارد برای دوست دارد" یعني که چیري د دنیا او ثروت فراواني وي هم باید د خپل ځان په خاطر نه وي، بلکه د دوست په خاطر یعني د الله تعالی د ذات په خاطر وي، نو بیا به په دې دنیا کي څه قباحت نه وي(۱).
د مخلصانو او کاملانو خلکو سره چي کله دنیا وي هغه د الله تعالی د ذات په خاطر وي او د الله تعالی په حکم یې د خپل ځان سره خوندي کوي، چنانچي هغوي په هغه دنیا کي مالکانه تصرف نه کوي، بلکه چي په کوم ځای کي د الله جل جلاله حکم وي هلته یې خرڅوي.

## مال او دولت د الله د خزانې څخه وي:

تاسو نه ګوري چي د سرکاري خزانچي په لاس د خزانې حفاظت وي هغه د خزانې مالک نه وي په دې وجه هغه د خزانې څخه بلا اجازت یو شی هم نه سي اخیستئ؟ داغه رنګه کچیري دی خزانې ته قلف نه واچوي او په خزانه کي غلا وسي هم پر دې خزانچي مقدمه دائره کیږي.
نو د مخلصینو او د نیکانو خلکو سره کچیري د مال او دولت فراواني وي هغه مال او دولت د الله تعالی امانت بولي او د الله تعالی د حکم مطابق او د آخرت د راحت او خوشحالی پیدا کولو په نیت سره هغه مال او دولت د الله جل جلاله په لار کي خرڅوي.
نو هغه مال او دولت په حقیقت کي دنیا نه بلل کیږي، بلکه دا د دوی د پاره دین بلل کیږي، که څه هم په ظاهر کي دنیا ده؛ ځکه چي دوی ددې دنیا استعمال د دین د پاره کوي او دوی ددې دنیا څخه په حقیقت کي دین جوړ کړی دئ.

---

(۱) ګلستان قناعت، صفحه نمبر: ۵۱۸

## د دنیا څخه د دین جوړولو طریقه:

نو پیغام صرف دومره دئ چي په مال ګټلو کي د حرامو طریقو څخه ځان ساته او ستا پر دې حاصل سوي دولت چي څومره ذمه واري او فرائض دئ خواه هغه د زکوة په شکل وي یا د خیرات او صدقات په شکل وي هغه پر ځای کوه! لکه څنګه چي الله تعالی ستا سره احسان کړی دئ داغه رنګه ته هم د نورو سره احسان کوه!

کچیري انسان دغه طریقه د مال او دولت سره اختیار کړي او چي کم نعمت الله تعالی و ده ته ورکړی دئ پر هغه د الله تعالی شکر ادا کړي، نو د دنیا ټوله دولتونه او نعمتونه چي الله تعالی ده ته ورکړي دي هغه به دده دپاره دین جوړ سي او ټول به دده دپاره اجر او ثواب جوړ سي.

بیا چي انسان ددې مال څخه خوراک کوي هم به اجر او ثواب وي او چي ددې مال څخه چینبل کوي هم به ثواب وي او چي تجارت کوي هم به اجر او ثواب وي او چي د دنیا راحتونه خپلوي هم به اجر او ثواب وي.

ځکه چي دنیا ده خپل مقصد نه ده جوړه کړې، بلکه دنیا یې د خپل مقصد دپاره چي آخرت دئ یو لار او ذریعه جوړه کړې ده او د هغې په ذریعه دی خپل د آخرت درستګي تلاشوي.

د حرامو کارو څخه خپل ځان بچاووي او خپل واجبات ادا کوي، نو به ټوله دنیا دده دپاره دین جوړه سي او هغه دنیا به دده دپاره د الله جل جلاله فضل جوړ سي.

الله تعالی دي ددې خبرو صحیح فهم را نصیب کړي. او د هغه مطابق دي د عمل کولو توفیق را نصیب کړي. آمین

وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ





مكتبة الهاشمية